
Family | Private | Property | State



# دکورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء

لیکوال: فریدریک انګلس

د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشأ

لیکوال: فریدریک انګلس




COA

The Origin of the Family,
Private Property and the state

Frederick Engels

# د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء

لیکوال: فریدریک انگلس

ژباړه: م. انور نومیالی

# کتاب پیژندنه:


د کتاب عنوان:

**د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء**

لیکوال:

**فریدریک انګلس**

ژباړن:

**م. انور نومیالی**

بیا ټایپ:

**کریم مهر**

د پښتو ژباړې د خپرېدلو نېټه:


**۲۰۲۴ ز.**

خپرونکی:

**«سور ستوری» خپرندویه ارګان**




F. Engels


Der Ursprung der Familie,

des

Privateigenthums

und des Staats.

Im Anschluss

an

Lewis H. Morgan's Forschungen

von

Friedrich Engels.

Hottingen-Zürich.
Verlag der Schweizerischen Volksbuchhandlung.
1884.

دا کتاب انګلس د ۱۸۸۴م. کال په مارچ- مې میاشتو کي په جرمني ژبه کښلی دی او وار د واره د یو علیحده کتاب په ډول په ۱۸۸۴م. کال کي په زوریخ کي خپور سوی دی.

# د افغانستان کمونیست سازمان یادښت

د «کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء» د مارکسیستي ادبیاتو له خورا مهمو او اغېزناکو آثارو څخه دی. دا کتاب چې په بشري تاریخ کې د کورنۍ د بنسټ، خصوصي ملکیت او دولتي سازمان د را څرګندېدلو، د هغو په بدلونونو او د بدلونونو په عواملو باندې بحث کوي؛ د ځانګړي تاریخي، علمي، تیوریکي او میتودولوژیک ارزښت څخه برخمن دی. که څه هم د کتاب تر لومړي چاپ شاوخوا یو سل او پنځوس کاله وروسته، د ټولنیزو علومو د بیلابېلو څانګو پوهانو په دغو مواردو کې نوي موندنې هم لرلې دي، خو دغو نویو موندنو د لویس مورګان څېړنې او د انګلس اخیستنې نه یوازې دا چې منسوخې کړې نه دي، بلکې د هغو لا زیات کره والی یې اثبات کړی دی. دا کتاب چې په مارکسیستي میتود باندې د څېړنې او پایلې اخیستنې یوه غوره بېلګه ده؛ زموږ سره د نورو مارکسیستي حکمونو په پېژندلو کې هم مرسته کوي او د مارکسیستي تیورۍ د پوهاوي کچه مو را لوړوي. د دې کتاب تر مطالعې وروسته، لوستونکې د خصوصي ملکیت په ماهیت، د کورنۍ د بیلابېلو ډولونو (له هغې ډلې بورژوازۍ کورنۍ) په پیدایښت او زوال او د حاکمو طبقاتو په ګټه د دولتي سازمان د جوړېدلو په څرنګوالي باندې په ښه توګه سره خبرېږي.

د کتاب پښتو ژباړه چې نیمه پېړۍ وړاندې د انور نومیالي لخوا ترسره شوې وه؛ د زمانې تاړاکونو او د ارتجاعي غورځنګونو او ذهنیتونو واکمنېدلو د خلکو له یاده ایستلې وه، آن دا چې ډېر کېڼ اړخي مبارزین هم د دې کتاب د پښتو ژباړې په موجودیت نه ول خبر. د افغانستان کمونیست سازمان دا ویاړ لري چې د دې کتاب

د پښتو ژباړې وروستۍ نسخه يې پيدا کړل او تر بيا ټايپ او ډيزاين وروسته يې د ژباړن د ژباړې د سبک د پوره امانتدارۍ په ساتلو سره په ښه کيفيت باندې خپروي.
د ا.ک.س له لورې د دې کتاب بيا تکثير که له يوې خوا د هيواد او سيمې د مترقي او انقلابي غورځنګونو د سياسي، تاريخي او تيوريکي پوهاوي په لوړېدلو کې اغېزمن تمامېږي؛ له بلې خوا د پښتو ژبې او ادب ودې ته هم د ا.ک س ځانګړی خدمت دی.
سازمان هيله من دی چې د دې کتاب محتويات به د سازماني صفوفو، پلويانو او علم او فرهنګ د ټولو مينوالو لپاره د انقلابي ګټې اخيستنې وړ وګرځېږي.

## لړلیک


**د مترجم له خوا یو څو مقدماتي خبرني** ۱
**د لومړي چاپ لپاره سریزه** ۲۳
**د څلورم چاپ لپاره سریزه** ۲۷

**لومړی څپرکی**
د کلتور ماقبل التاریخي مرحلې ۳۰
**دویم څپرکی**
کورنۍ ۴۳
**دریم څپرکی**
د ایروکوایسیانو بهیر ۱۵۳
**څلورم څپرکی**
یوناني بهیر ۱۸۳
**پنځم څپرکی**
په آتن کي د دولت ظهور ۲۰۲
**شپږم څپرکی**
په روم کي بهیر او دولت ۲۲٤
**اووم څپرکی**
د سیلتیانو او جرمنیانو تر منځ بهیر ۲٤۵
**اتم څپرکی**
د جرمنیانو ترمنځ د دولت تکوین ۲۷٤
**نهم څپرکی**
بربریت او مدنیت ۲۹۷

# د مترجم له خوا یو څو مقدماتي څېړني

د دې دپاره چې لوستونکي د دې کتاب د دقیقي مطالعې له پار ښه چمتو سي او بیا د ځینو کلماتو او مفاهیمو د گرانۍ له کبله د لوستلو په وخت کي له مشکله سره مخامخ نه سي، نو مي دا ښه وبلله، چې یو څو ټکي دلته دمخه په لنډه توگه وڅېړم:

**الف:** دا اثر چې انگلس د مورگان د پلټنو په رڼا کي کښلی دی، نو ځیني هغه اصطلاحات پکښې لیدل کیږي، چې مورگان د خپلو مطالبو د افادې له پاره وضع کړي دي، مثلاً: مورگان د انسان د ژوند هغه سلسله چې د ماقبل التاریخ په نامه یادیږي، په دې ډول تصنیف کړې ده، چې لومړۍ د وحشت دوره وه، بیا تر هغه وروسته د بربریت دوره راغله او په هغه پسې نو د مدنیت تاریخي دوره را شروع سوه. که څه هم د وحشت او بربریت کلمې موږ ته په لومړۍ کتنه کي ډارونکی مفهوم افاده کوي، خو دلته صرف د ژوند د وسایلو د انکشاف د درجې له پاره دغه نومونه استعمال سوي دي. دغه مطلب انگلس داسي خلاصه کړی دی:

وحشت: یعني هغه دوره، چې انسان دا قدرت پکښې پیدا کړی، چې د استفادې له پاره تیار طبیعي پیداوار په ځان پوري اختصاص کړي. کوم شیان چې انسان په دې دوره کي جوړ کړه، زیاتره یې هغه آلات وه، چې دغه د طبیعي پیداوارو د اختصاصولو کار ځان ته آسانه کړي.

بربریت: یعني هغه دوره چې په هغې کې د څارویو د نسل د روزلو او د مځکې د کرنې پوهنه لاس ته راوړل سوه او د بشري فعالیت په وسیله د طبیعت د تولیدي ظرفیت د زیاتولو لارې چارې زده سوې.
مدنیت: یعني هغه دوره چې په هغه کې له طبیعي پیداوارو څخه د زیاتې استفادې او په اصلي مفهوم د صنایعو او فنونو پوهنه لاس ته راوړل سوه. د وحشت او بربریت هره دوره بیا مورګان پر درو مرحلو وېشلې ده، چې د کښتنۍ، منځنۍ او پورتنۍ مرحلې په نومونو یې یادې کړې دي. دا مرحلې یې د هغه پرمختګ او انکشاف له مخې ټاکلې دي، چې د ژوندون د وسایلو د تولید په برخه کې سر ته رسېدلې دي.
**ب:** زیاتره چې یو ذهنیت له سرسري کتنې څخه را پیدا سي او هغه ته بیا علمي حیثیت ور کول سي، نو دغه جریان د یوې موضوع له واقعي کشفه څخه انسان لیرې ساتي او هم یې د علمي پلټنې په لار کې خنډونه ور اچوي. د مثال له پاره پر مځکه باندې د لمر د را ګرځېدو ذهنیت، چې له سرسري کتنې څخه وار د واره را پیدا سوی وو، په سوو کلونه یې انسان د موضوع له واقعي کشفه څخه لیرې وساتئ او د حقیقت د کشف په لار کې یې هم خورا زیات خنډونه واچول. د علم په نړۍ کې د دې راز پېښې مثالونه خورا زیات دي.
د کورنۍ د تاریخي جوړښت موضوع هم یوه دغسې پرله پېچلې او کړکیچنه موضوع ده، چې د سرسري کتنو او کلتوري ذهنیتونو په پس‌منظر کې د هغې علمي واقعیت له سترګو څخه پټیږي؛ په دې سبب چې د کورنۍ په جوړښت کې د ښځې او نر تر منځ رابطه د بحث موضوع ده او د دې رابطې یو اړخ جنسي

او بل يې اقتصادي دی، نو ځکه د تاریخي تشریح په برخه کې يې د هر چا موجود ذهنیتونه د کلتوري حساسیت له پلوه مشکلات منځ ته راولي. انګلس په خپل دغه کتاب کې همدې مشکل ته یو ځای داسي اشاره کړې ده، چې: «ما ته دونه را مالومیږي، چې د ابتدایي حالاتو په باره کې درسته پوهنه تر هغه وخته ناممکنه ده، څو چې دغو حالاتو ته د رندي خانې په عینکو کې کتل کیږي».

په هر صورت تر څو چې د کورنۍ د جوړښت تاریخي جریان د واقعیت په اساس و نه لیدل سي، نو د تاریخ د حرکت ډېر مظاهر له سترګو څخه پټ پاتیږي. ځیني کسان چې د اوس وخت هغه کورنۍ ویني، چې له یوه نر او یوې ښځې څخه جوړیږي، نو داسي فکر کوي، چې کورنۍ د تاریخ په هر وخت کې دغه راز کوچنۍ اقتصادي واحد وو، چې هیڅ مراحل يې نه دي تېر کړي. خو کله چې بیا د نړۍ د ځینو اولسونو د نر او ښځې د کورنۍ رابطې په باب کې د خپل کلتور خلاف بل راز خبري واوري، نو هغه تش عجیب رسومات ورته ایسي او یا يې د بد اخلاقۍ آثار بولي. له ټولو هغو اخلاقي افکارو سره چې په موضوع کې سته، د کورنۍ د تاریخ یوه سلسله حقایق د علمي پلټنو په نتیجه کې داسي تصنیف سوي دي.

**له حیوانه څخه تر انسانه انتقالي مرحله**

دغه مرحله چې د هغې په دوران کې د کومي حیواني نوعي فیزیولوجیکي مشخصات په انساني شکل اوښته، البته د خورا لیري زمانې خبره ده، چې زیاتره

مسایل یې د علمي حدسیاتو او فرضیاتو په اساس څېړل کیږي. خو د هغو پدیدو په جمله کې، چې د انکشاف وروستني مراحل یې ایجابوي، یوه هم دا خبره ده، چې دغه د انتقالي مرحلې حیواني انسان داسي یوځایي ژوند کاوه، چې د ټولني، ګډې او یا فزیکي جمعیت اطلاق ور باندي کېدلای سوای. دغه زمانه ژوند انفرادي نه وو، بلکي ټوله نر او ښځي د ټولنیز ژوند خوا ته په هڅه کي وه. د نر او ښځي جنسي رابطې جمعیتي ماهیت درلودی او هغه بندیزونه، چې وروسته یې ورو ورو انکشاف وکړ، په دغه مرحله کي نه وه. خو دا خبره هم په هیڅ توګه له امکانه نه وه وتلې، چې د یو محدود وخت له پاره بېلي بېلي جوړې په هغه حال کي منځ ته راتلې. مورږ کولای سو د دغسي مرحلې پر جنسي جریاناتو باندي د اوسني ذهنیت په اساس د ایله جنسي معاملې نوم کښیږدو. ایله معامله په دې معنی، چې تر اوسه لا هغه بندیزونه نه وه را پیدا سوي، چې وروسته د دود او جال په سلسله منځ ته راغله او ټینګ سوه. د دې مرحلې خبري له هغه حالته سره سمون خوري، چې مورګان د وحشت د دورې کښتنۍ مرحله بللې ده.

## لومړنی انسان

اوس نو انسان په بدني لحاظ سم دم انسان دی. د ماهیانو په خوراک یې شروع وکړه او د اوبو نور ژوي یې هم په غذا کي شامل سوه. اور یې اختراع کړ، د نباتي ریښو خوړل یې هم زده کړه. د ناتوږلي ډبري له آلاتو څخه یې کار واخیستی. وروسته یې سوټې او د ډبري نېزه هم د کار په اوزار کي شامله سوه او د ښکار

غوښې يې په غذا کې اضافه سوې. د همدې زمان په دوران کې د انسان لومړنۍ اشتراکي ټولنه يا لومړی کمون منځ ته راغی، چې د مورګان د وحشت د دورې له منځنۍ مرحلې سره سمون خوري. د مورګان په تاريخي پلټنو سره سم د کورنۍ د جوړښت په برخه کې نو د ايله جنسي معاملاتو له ابتدايي حالته څخه دا لاندې شکلونه يو په بل پسې منځ ته راغله:

۱- لومړۍ (کانسنګويني) کورنۍ را پيدا سوه. دمخه تر هغه چې د دې کورنۍ پر مشخصاتو وږغېږم، وار د واره لازمه بولم، چې د کانسنګويني (Consanguine) او کانسنګوينيټي (Consanguinity) پر الفاظو باندې يو څه ووايم. دغه الفاظ چې لومړی يې صفتي او دوهم يې اسمي شکل لري، د نسبي او نسب يا د ګډې وينې د خپلوۍ او قرابت په مفهوم استعمالېږي. د دې له پاره چې د دغو الفاظو په مفهوم کې ګډوډې پېښه نه سي، نو ما يې د صفت په شکل دغه انګرېزي لفظ استعمال کړی دی او د اسم پر ځای مې د کتاب په متن کې د «صلبي قرابت» له ترکيبي لفظه څخه کار اخيستی دی.

د دې کورنۍ جوړښت داسې وو، چې د نيکه‌ګانو پښت د اناګانو له پښته سره د ازدواج په حالت کې وو. د دوی اولادونه چې د پلرونو پښت وو، د مېندو له پښته سره يې ازدواج درلودی. همداسې بيا د دوی لمسيان او لمسياني يو د بله سره واده وې. په همدې ترتيب کړوسيان او کړوسياني د کورنۍ په ځلرمه کړۍ کې راتلې. خبره دا ده، چې کورنۍ جمعيتي شکل درلودی، يعنې يوې کورنۍ په اشتراکي توګه يو پښت جوړاوه، چې د هغه ټوله نر او ښځې د يوې وينې ګډ قريبان وه. د دې کورنۍ اساس د لومړي پلا دپاره پر دا بنديز او ممانعت منځ

ته راغلی وو، چې د یوه دمخني پښت ازدواج له وروستني پښته سره نه سوای کېدلای؛ یعنې مور و پلار له خپل اولاده سره کورنۍ نه سوای جوړولای. د دې راز کورنۍ د تشکیل په باره کي مورګان ته د هاوایي د خلګو له یو قرابتي سیستېمه څخه، چې هلته یې رواج درلودی، څرک په لاس ورغلی. په هر صورت، په دغه وخت کي کورنۍ څه په اقتصادي لحاظ او څه له جنسي پلوه د یوه لوی جمعیت نوم وو، چې ټولو په ګډه د ژوند په کاروبار کي برخه اخیسته.

۲- د کورنۍ دوهم شکل چي ور پسې منځ ته راغی، مورګان د (پونالوان) کورنۍ په نامه بللې ده. په دې شکل هم ډېرو نرو او ښځو په ګډه یوه لویه اشتراکي کورنۍ جوړوله. د نرو د جمعیت غړو او هم د ښځو د جمعیت غړو خپل پر منځ د (پونالوان) په نامه سره بلله، چې معنی یې شریک او صمیمي ملګری دی. لکه د کورنۍ په لومړي شکل کي چې مور و پلار او اولاد د ازدواج په یوه دایره کي نه راتله، په دې کورنۍ کي دا انکشاف هم منځ ته راغی، چې نور نو وروڼه او خویندې نه سوای کېدلای، چې د ازدواج په یوه جمعیت کي را سي. دغو ازدواجي ممانعتونو په یوه کانسنوګویني پښت کي دننه دا هم ایجاب کړه، چې جلا جلا نسبي واحدونه منځ ته را سي، نو هغه وو، چې د جنز (Gens) نسبي واحد انکشاف را وکړی. دا نسبي واحد، چې ما سر تر پایه په دې کتاب کي د «بهیر» په نامه افاده کړی دی، د پخواني اجتماعي تشکیل هم نسبي او هم اقتصادي واحد ګڼل کېدی (د بهیر په باره کي نوري څېړني به وروسته بیان سي).

هم کانسنگويني کورنۍ او هم پونالوان کورنۍ د جمعيتي ازدواج پخواني شکلونه وه، چې يو شمېر نارينه‌وو له يو شمېر ښځو سره په گډه منځ ته را وستلي وه. ځيني نور شکلونه هم د دې دوو تر منځ پيدا سوي دي، خو د نتيجې په لحاظ د زياترو مظاهرو يو راز دی.

د جمعيتي ازدواج هر راز شکلونه چې د وحشت د دورې تر آخره يې ادامه درلوده، يو خاصيت يې دا وو، چې په هغه کي دا نه معلومېده، چې د کوچني پلار څوک دی. خو دا خبره بيا پکښې معلومه وه، چې د کوچني مور څوک ده. که څه هم دا د کوچني مور د گډې کورنۍ ټوله اولادونه خپل اولاد بلله او د همدې په نسبت د مور وظايف ور په غاړه وه، خو سره له دې يې خپل سکه اولادونه له نورو څخه پېژندله. نو دغه دليل ووو چې په هغه زمانه کي د نسب ليکه صرف د مور له خوا څخه تعقيب کېدای سوه، نو ځکه يوازي ښځنۍ شجره چلېدله. د ښځني نسب سلسله حتی په هغو خلگو کي لا هم ليدل کيږي، چې د بربريت په کښتنۍ مرحله اړه لري.

هغو ښځو چې د نسب له حيثه به يې په يوه بهير اړه درلوده، يو کهول[1] جوړاوه. په دې کهول کي د دوی مړونه چې له نورو بېلا بيلو بهيرو څخه به وه، هم ور سره وه او اقتصادي فعاليتونه يې په گډه سر ته رسوله. په دې اشتراکي کهول کي ښځو لوړ حيثيت درلودی، په دې سبب چې يوازي واقعي مور پکښې

---

۱- گران لوستونکي بايد د دې کتاب د مطالعې په دوران کي هر کله دا خبره په پام کي وساتي، چې د «کهول» په اجتماعي تشکيل کي اقتصادي عناصر تر نسبي اړيکو لوړه درجه اهميت لري او نو ځکه دغه لفظ زياتره په همدغه اقتصادي مفهوم استعمال سوی دی.

پېژندل کېده او واقعي پلار په یقین سره نه وو معلومو نو ښځو ته د مندو په توګه په درنه سترګه کتل کېدله. همدغه اشتراکي کهول وو، چي د ښځو د هغه تسلط او اقتدار مادي بنسټ یې تشکیلاوه، چي عموماً یې په ابتدایي زمانو کي درلودی.

۳- دریم شکل چي د وحشت او بربریت تر منځ پر سرحدي لیکه منځ ته راغی، هغه د جوړه‌یي کورنۍ په نامه یادېږي. په اشتراکي کهول کي دننه یو سړی له یوې ښځي سره د اوږدې یا لنډې مودې له پاره جوړه پاتېدی. دغه جوړه‌توب چي ځینو کلتوري عواملو به منځ ته را وستی، دا هم ور سره وه، چي نر ته به د نورو ماینو امتیاز هم ور پاته وو، خو ښځي نه سوای کولای، چي له نورو مړو څخه استفاده وکړي. د جوړه‌توب په موده کي ټینګه پاکي له مېرمني څخه غوښتل کېدله، خو د جوړه‌یي ازدواج رابطه په آسانۍ سره منحله کېدلای سوه او په دې صورت کي اولاد د پخوا په شان په مور اړه درلوده او هغې ته پاتېدله.

د ګډې ویني د قریبانو تر منځ د ازدواج ممانعتونه چي په ورځ زیاتېده، نو دغه د جوړه‌توب دود نور هم پسي ټینګېدی. څه رنګه چي د کورنۍ په مخنیو اشکالو کي پر نارینه‌وو ښځي ډېري وې، نو په ښځو پسي چنداني تلاښ نه کېدی. خو اوس چي د ښځو کمی محسوس سو، نو د دې جریان په نتیجه کي د جوړه‌یي ازدواجه سره د ښځو تښتول او رانیول هم منځ ته راغله.

داسي معلومیږي، چي جوړه‌یي کورنۍ په امریکا کي د اروپایي تسلط تر وخته پوري نور انکشاف و نه کړی، خو په شرقي دنیا کي چي مادي شرایط بل راز وه، نو یې په دې لاندي ترتیب نوره وده هم وکړه.

دلته د حيواناتو د اهلي کولو او د رمو د ډېرولو کار د ثروت يوې داسي منبع ته انکشاف ور کړی، چې چا يې تصور نه وو کړی. آريايانو او ساميانو ډېره هستي لاس ته راوړه، د غذا د برابرولو پخواني وسايل نابابه سوه. د مالونو رمې، گلې ډېرېده په لړ او معمولي نظارت سر ته رسېده. له دې مالونو څخه د شيدو او غوښو زياته گټوره غذا په پرېمانه توگه لاس ته راتله.

دې نوي ثروت په لومړي سر کي په ټوله بهير اړه درلوده، خو په يوه ډېره پخوانۍ مرحله کي رمې او گلې د کورنۍ په خصوصي ملکيت کي راغلې. د غلامۍ دوره هم را شروع سوې وه او مريان چې د کورنۍ تر تصرف لاندي وه، د مالو د روزلو په کار کي استفاده ځني کېده. دا ټوله ثروتونه چې د کورنيو په خصوصي ملکيت کي راغله او خورا ډېرښت يې وکړی، نو يې هغې ټولني ته زوروره ډِکه ور کړه، چې د جوړه‌يي کورنۍ او مورني بهير په اساس جوړه سوې وه. له جوړه‌يي ازدواجه څخه يو نوی عنصر هم را پيدا سوی وو او هغه دا، چې د واقعي مور په اړخ کي يې مستند واقعي پلار هم مخ ته را وستلی وو. د کار د وېش سره سم، چې هغه زمانه په جوړه‌يي کورنۍ کي رواج وو، د غذا برابرېده او د دغه کار له پاره لازمو سامانو په نر اړه درلوده، ځکه نو د هغو ملکيت د ده په واک کي وو. کله چې به نر او ښځه سره جلا کېده، نو په دې صورت کي، لکه ښځې چې به د کور شيان ځان ته را گرځوله، نر بيا دغه سامانونه د ځان سره وړله. نو د دې زمانې د دود په اساس نر د غذايي موادو د نوو منابعو، يعني مالونو او وروسته بيا د کار د نوو سامانونو، يعني مريانو مالک هم گڼل کېدی. په همدې وخت کي د هغې ټولني رواج د ميراث په برخه کي داسي وو، چې اولاد ته له پلاره

څخه میراث نه ور رسېدی، ځکه هغوی د مور په بهیر اړه درلوده او میراث باید وو، چې په خپل بهیر کې دننه پاته سي. نو کله چې به د رمو او ګلو خاوند مړ سو، میراث به یې تر هر چا دمخه وروڼو، خویندو، د خویندو اولادو او یا د ده د مور د خویندو اولادو ته ور رسېدی؛ خو خپل اولاد یې څه نه سوای وړلای. څه رنګه چې د ثروت له زیاتېدو سره په کور کې د نر تسلط زیاتېدی، نو نر له دې موقفه څخه داسې استفاده وکړه، چې د خپلو کوچنیانو په ګټه د وراثت پخوانی عنعنوي نظام له منځه واخلي. خو تر هغه وخته چې نسبي سلسله د مور له خوا را تعقیبېده، دغه تحول امکان نه درلودی، نو ځکه لازمه وه، چې د نسب دغه نظام له منځه اخیستل سوی وای.

هغه وو، چې دغه ستر انقلاب د خلګو په دې ساده فیصله سر ته ورسېدی، چې په آینده کې باید د بهیر د نارینه غړو اولادونه د ده په بهیر کې دننه وګڼل سي او د ښځینه غړو اولادونه د دې له بهیره وتلي دي. په دې ډول نو د ښځې له خوا د نسبي سلسلې تثبیت او د مور په ارتباط د وراثت حق ایسته سو او پر ځای یې د نارینه له خوا د نسبي سلسلې تثبیت او له پلاره څخه د وراثت حق منځ ته راغی. مورنی بهیر ولاړی او ځای یې پلارني بهیر ونیوی.

له دې تحوله سره نو نر په کور کې د چارو واګې په لاس کې ونیولې، ښځې تنزل وکړی، تر اسارت لاندې سوه، د نر د شهواتو وسیله وګرځېده او تش د کوچنیانو د زېږولو یوه آله سوه. د نارینه د مطلق تسلط په نتیجه کې د کورنۍ یو داسې وسطي او انتقالي شکل منځ ته راغی، چې د بابایي کورنۍ په نامه

يادېږي. د دې کورنۍ يو لوی خصوصيت دا وو، چې مشر به يې ډېري ماينې درلودې او هم يې کهول له يو شمېر آزادو او مريانو څخه جوړ سوی وو.
د دې کهول د ټوله تشکيل اقتصادي هدف دا وو، چې په يوه ټاکلې سيمه کي د رمو او گلو پاملرنه او ساتنه وکړي. د بابايي کورنۍ له راتلو سره نو موږ د ماقبل التاريخ له ساحې څخه را وځو او د ليکلي تاريخ مرحلې ته را داخلېږو.
۴- څلورم شکل کورنۍ مونوگامي ده، چې ما د کتاب په متن کي زياتره د وحدتي ازدواج په نامه ښوولې ده. دا کورنۍ چې له يوه نر او يوې ښځي څخه جوړيږي، هغه وخت د جوړېدو کورنۍ په ادامه کي منځ ته راغله، چې د بربريت منځنۍ مرحله پورتنۍ مرحلې ته اوښته او د مدنيت په ابتداء کي پوره اوج ته ورسېده. دا کورنۍ چې د نر تسلط ځرگندوي او اقتصادي هدف يې دا دی، چې د پلار ميراث د ده کوچنيانو ته ور پاته سي، هيڅ کله له داسي ميني منځ ته نه راغلې، چې ځيني کسان يې د ظاهري شکل له مخي فکر کوي. انگلس د دې کتاب په متن کي وايي، چې مونوکامي د کورنۍ هغه لومړنی شکل وو، چې نه د طبيعي، بلکي خاص د اقتصادي شرايطو په ملحوظ منځ ته راغی؛ يعني پر اشتراکي ملکيت باندي د خصوصي ملکيت د کاملي غلبې په اثر را پيدا سو. «باخوفين» يو ځای ليکلي دي، چې له جمعيتي ازدواجه څخه تر انفرادي ازدواجه پوري ټول تحول د ښځو له خوا څخه سر ته رسېدلی دی. دا ښځي وې چې د زاړه کمون له ړنگېدو او د نفوسو د ډېرېدو سره، د جمعيتي ازدواج روابط دوی ته ظالمانه او د سپکاوي باعث وگرځېده او دوی ته دا ارزو ور پيدا سوه، چې د عفت او پاکۍ حق لاس ته راوړي او هم له پخواني جمعيتي

روابطو څخه د يو نجات په توګه دا حق پيدا کړي، چي په موقتي يا دايمي ډول له يوه سړي سره په ازدواج کي پاته سي. دی وايي، نارينه‌وو حتی تر نن ورځي هم د عملي جمعيتي روابطو له مزو څخه د ځان ګواښلو خوب نه دی ليدلی.
کله چي تر جوړه‌يي ازدواجه انتقال خاص د ښځو له خوا په سر ورسېدی، نو صرف تر دې انتقال وروسته نارينه‌وو وکړای سوه، چي ټينګ وحدتي ازدواج را وباسي او هغه هم البته يوازي د ځان په ګټه پر ښځو تحميل کړي.
پورته خبري چي د کورنۍ د جوړښت په باره کي بيان سوې، ټوله پر دې نتيجه را ټوليږي، چي جمعيتي کورنۍ د وحشت د دورې هغه اختصاصي شکل وو، لکه جوړه‌يي کورنۍ چي د بربريت د دورې او وحدتي کورنۍ چي د مدنيت د دورې اختصاصي شکل ګڼل کيږي.
هغه ټوله تحول چي کورنۍ له ابتدايي حالته څخه بيا تر نن ورځي پوري کړی دی، نوعيت يې داسي دی، چي ښځي پخوا په ابتداء کي د خلګو حلقه د مشترک ازدواج رابطې په غېږ کي نيولې وه او دا حلقه چي په لومړي سر کي ډېره پراخه وه، ورو ورو را تنګېده، څو چي په آخر کي يوازي مفرده جوړه پاته سوه، چي نن ورځ معمول ده.

## يادونه

د موضوع په ارتباط غواړم دا يادونه وکړم، چي افغاني کورني، که څه هم په سطحي لحاظ د مذهبي اصولو تر تاثير لاندي خپل طبيعي شکل له لاسه ور کړی دی، خو د پلټني له پاره «د بابايي کورنۍ» داسي معياري شکلونه هم

پکښې ډېر پيدا کيږي، چې زياترو يې په کلتوري لحاظ تر اوسه لا هم خپل ځان ته خصوصيتونه ساتلي دي. په دې کورنيو کې ښځو ته د ميراث د ور کړې جنجالي مسئله او د کونډې موضوع په دې ارزي، چې زياتې پلټنې پکښې وسي. مونوګامي يا د وحدتي ازدواج شکل چې زموږ په هيواد کې سته، هغه هم عميقې ريښې نه لري او هر کله «د بابايي کورنۍ» د تعدد زوجات له خاصيته څخه تر تهديد لاندي دی. په هر صورت زموږ د نوو تاريخي اوښتونو سره، چې د ثور د انقلاب په نتيجه کې يې انتظار کيږي، دا په کار ده، چې زموږ په هيواد کې د کورنۍ جوړښت او د هغې پرابلمونه تر تاريخي او عيني پلټنې لاندي را سي، څو چې د هغې تاريخي تسلسل د يوې نوي او آزادي کورنۍ خوا ته رهنمايي سي، چې په هغې کې د ښځې مقام له نره سره په ټولو حقوقي، اجتماعي، اقتصادي او سياسي ساحو کې د برابرۍ لوري ته انکشاف وکړي.

**ج:** «جنز» چې د مورګان د پلټنو سره سم د «پونالوان» کورنۍ په دوران کې منځ ته راغی، د نسبي واحد هغه مهمه موسسه ده، چې د لومړنۍ ټولنې په تشکيل کې يې ډېر اهميت درلودی. د «جنز» پر لغت باندي د دې کتاب په هغه برخه کې، چې د ايروکوايسيانو د بهير تر عنوان لاندي کښل سوې ده، پوره تفصيلات راغلي دي. د مفهوم په لحاظ دا هغه نسبي واحد دی، چې موږ يې په «خېل»، «عشيره»، «قومي پښه»، «پدر»، «طايفه» او داسې نورو سره ترجمه کولای سو. څه رنګه چې د «خېل» کلمه ځای ځای کوچنی واحد ښيي، لکه «بټه‌خېل» او

ځای ځای بیا لویه قبیله افاده کوي، لکه «سلیمان‌خېل»، نو ما صرف نظر ځني وکړ.
دا نور کلمات هم دغسي د مفهوم په افاده کي له اشکالاتو څخه خالي نه وه، خو تر یو څه تتبع وروسته ما د کندهار په اطرافو کي دا پیدا کړه، چي «بهیر» هم البته هغي ډلي او ټولۍ ته ویل کېدلای سي، چي مشترک نسب ولري. د مثال له پاره که موږ ووایو، چي هغه خلګ د «حاجي توانو» په بهیر اړه لري یا دا د «حاجي سلام» بهیر دی، نو هر څوک پوهیږي، چي دلته بهیر څه راز نسبت افاده کوي. همداسي د یوې قبیلې ډېري پښې په دې لفظ په خورا آسانۍ افاده کولای سو. د مثال له پاره ویلای سو: د کاکړو بهیرونه، د اڅکو بهیرونه او داسي نور. د دغو لفظي او مفهومي ښېګڼو له پلوه ما د بهیر لفظ د «جنز» له پاره وټاکی او په دې متیقین یم، چي حتی په خپله د «جنز» د واحد له پاره د استعمال موارد هم لري، خو تر څو چي بل تر دې ښه لغت پیدا کیږي، هیله لرم، تر هغو به ملګري دغه لفظ را سره ومني.

مورګان دا کشف کړه، چي وار د واره بهیر مورنی وو، یعني د هغه نسبي ارتباط د مور له خوا وو، خو وروسته همدا جمعیت په هغه پلارني بهیر واوښتی، چي اشکال یې د لرغوني زمانې په مدني خلګو کي لیدل کیږي. انګلس وایي، چي دغه کشف د لومړنۍ ټولني د تاریخ دپاره کټ مټ هغسي اهمیت لري، لکه د ډاروین د «تکامل نظریه» چي یې د بیالوجۍ دپاره او د مارکس د «اضافي ارزښت» نظریه چي یې د سیاسي اقتصاد له پاره لري.

د دې کتاب په هغه برخه کې چې د ايروکوايسيانو بهير څېړي، يو شمېر مطالب په دې ترتيب بيان سوي دي:

لومړی د همدې بهير تشکيلات، کارونه، مکلفيتونه او نوري چاري په لسو فقرو کې تر څېړنې لاندي نيسي. په دې پسې نو بيا د يوه داسې جمعيت په وظايفو باندي په اوو فقرو کې ږغيږي، چې په هغه کې متعدد بهيرونه يو ځای سوي وي او دغه جمعيت د «فريټري» په نامه سره بولي.

تر هغه وروسته نو بيا له يو شمېر فريټريو څخه د جوړي سوي قبيلې کارونه، صلاحيتونه، تشکيلات او مشخصات په اوو فقرو کې بيانوي. په آخره کې له متعددو قبيلو څخه د هغې جوړي سوي اتحاديې خصوصيات په لسو مادو کې خلاصه کوي، چې د «کانفدريسۍ» په نامه ياده سوې ده.

د قوميت اساس د جوړي سوي ټولنې د انکشاف دغه کلاسيک مثال چې معيار ونيسو، نو دا نتيجه په لاس را کوي، چې:

لومړی بهير دی (چې وار د واره له پونالوان کورنۍ څخه جوړېدی او بيا وروسته متعددې جوړه‌يي کورنۍ پکښې را پيدا سوې او بيا نو بابايي کورنۍ په هغه کې ځای سوې او د مونوگامې له راتلو سره له منځه ولاړې).

دوهم فريټري ده (چې هغه د بهيرو د ډېرېدو سره د بېلابيلو بهيرو له اتحاده څخه منځ ته راغله).

دريم قبيله ده (چې هغه د فريټريو د ډېرېدو سره د بېلابيلو فريټريو له يو ځای کېدو څخه جوړه سوه).

څلورم کانفدريسي ده (چي هغه د قبيلو له زياتېدو سره د بېلابيلو قبيلو له اتحاديې څخه را پيدا سوه).

**د:** «د قهرمانی عصر» چي په دې کتاب کي څو ځايه ذکر سوی دی، د يونان د تاريخ د هغي افسانوي دورې نوم دی، چي د مذهبي اساطيرو په اساس دا عقيده موجوده وه، چي په دغه دوره کي قهرمانانو يعني هغو کسانو، چي نيم وجود يې خدايي او نيم وجود يې بشري ووو د انسانانو په منځ کي ژوند کاوه.

**هـ:** د «هيټايريزم» لفظ په يونان کي د هغو آزادو جنسي چارو له پاره استعمالېدی، چي د نامړونبو او نارينه‌وو تر منځ به پېښېدلې. کېدلای سي، چي د دې لفظ مفهوم د اوس وخت په فحشا سره افاده سي. هيټايرا د هغي ښځي نوم وو، چي په خصوصي او يا عمومي محافلو کي به د ساتېري له پاره استخدامېدله.

**و:** «مورنی حق[1]» د هغي نسبي سلسلې نوم دئو چي د مور له خوا څخه رانيول کيږي او هم هغه ميراثي روابط کنبېباسي، چي له دغي سلسلې څخه را پيدا سوي وي؛ دا نوم «باخوفين» را ايستلی دی.

انګلس ليکي: که څه هم په هغه زمانه کي چي د مور نسب چلېدی، داسي خبري نه وې، چي په قانوني معنی د حق اطلاق باندي وسي، خو څه رنګه چي دا نوم اختصار لري، نو په دغه دليل يې پر خپل حال پرېږدم او بل عوض نه ورته پيدا کوم. له همدې بيانه څخه پوهېدلای سو، چي «پلارنی حق» نو ضرور

---

۱- دغه اصطلاح زياتره ليکوال په «مورواکی» سره افاده کوي، چي د فارسي معادل يې «مادرشاهي» ده.

دا مفهوم لري، چې نسب د پلار له خوا وي او ميراثي روابط هم په پلارنۍ سلسله پالل کيږي.

**ز:** ميتولوجي يا اساطير يا مذهبي افسانې د هغو رواياتو نوم دی، چې له يوې خولې څخه تر بلې را رسېدلي وي او د خلکو د پخواني ژوند ستري کارنامې او د عقايدو جريانات څرګندوي. دغه راز افسانې که څه هم واقعيت نه لري، خو د خلګو له پاره د يوې فلسفې کار ور کوي او خپل عقايد له هغو سره عياروي. هر څوک خپل ځان ته اساطير لري، چې د اولسو په کلتوري ميراث کي ډېره توجه ور اوړي. د دې کتاب په هغو برخو کي چې يوناني اساطيرو ته مراجعه سوې ده، نو هلته ډېر اساطيري نومونه راغلي دي، چې د هغو څېړنه د اساطيري نومو په فهرست کي وګورئ.

**ح:** سپارټا په پخواني يونان کي يو خورا مهم ښاري دولت وو، چې خلګو يې په زړه‌ورتوب، نظامي پياوړتوب او سپورټي لوبو کي نوم درلودی.

**ط:** د دې کتاب د ليکني په زمانه کي «د ډموکراټيک جمهوريت» اصطلاح چې په متن کي ذکر سوې ده، د هغه دولتي شکل له پاره استعمالېده، چې د بورژوازي ډموکراسۍ په اساس به جوړ سوی وو او د شاهي يا مطلقه حکومتو مقابل ګڼل کېدی، خو نن ورځ دغه نوم په زياترو هيوادو کي د خواريکښو پر دولت باندي ايښودل سوی دی. بايد د کتاب د ويلو په وخت کي د مفهوم دغه تغير په نظر کي ونيول سي.

**ي:** «ايلياډ» يوه اوږده شعري حماسه ده، چې وايي «هومر» ليکلې ده. په دې حماسه کي يې د «تروا» د ښار د ورانېدو ګذارشات بيان کړي دي.

**ک:** «اوديسه» يوه اوږده شعري حماسه ده، چي «هومر» ته نسبت کيږي او د «اوديس» يا «يوليسيز» هغه سرګذشت پکښي بيانيږي، چي هغه د «تروا» تر جنګ وروسته لس کاله سرګردانه ګرځېدی او بالآخره خپل هيواد ته را ستون سو.

**ل:** «اوريستيا» د يوې تراژيدۍ نوم دی، چي ليکنه يې «اسخيلوس» ته منسوبه ده.

**م:** «نيبه‌لونګين‌ليډ» يوه جرمنۍ حماسه ده، چي د ديارلسمي پېړۍ په لومړۍ نيمايي کي د يو شاعر له خوا څخه ويل سوې ده، چي د هغه نوم نه دی مالوم. په دې حماسه کي د «نيبه‌لونګ» د اولس په مځکه کي د «زيګ‌فريډ» کارنامې بيانوي، «نيبه‌لونګ» د يوه داسي افسانوي نژاد د نامه له پاره استعمال سوی دی، چي قدونه يې ډېر ټيټ وي.

**ن:** په دې کتاب کي هغه توضيحي يادوني چي ما کښلي دي، د مترجم حواله مي ور کړې ده، خو کومي حاشيې چي د شوروي خپروونکو مقامانو په انګليسي نسخه کي زياتي کړي دي، هلته د بيان په پای کي د (ت. هـ.) کلمه ليکل سوې ده.

**س:** دلته بده نه ده، چي د پخواني ازدواج په ارتباط د اسلامي رواياتو له مخي هم يو څه وويل سي. زما ښه په ياد دي، چي کله به مور ته د آدم او حواء قصه بيانېدله، نو به مور دستي په خورا هيجان سره دا سوال کاوه، چي د دوی د اولادو تر منځ يو له بله ازدواج څنګه کېدی؟ په ځواب کي به زياتره مور ته ويل کېدل، چي په پخوا زمانو کي د ورور او خور تر منځ ازدواج روا وو او يوازي په

همدې خبره به زمونږ کلتوري هيجانات را کښته سوه. د دې موضوع په باب کي اسلامي روايات يوه سلسله مهم مطالب لري، چي د تاريخي نتايجو په لحاظ د زيات اهميت وړ دي:

د «لا يحب الله» د ٦مي پارې د «المائده» په سورة کي د «هابيل» او «قابيل» قصه په دې ډول شروع سوې ده: «وأتل عليهم نبا ابني آدم بالحق. اذقربا قرباناً فتقبل من احدهما و لم يتقبل من الآخر. قال لا قتلتک...» آيت تر پايه. د دې آيتونو په تشريح کي د قصې بيان په زياترو تفاسيرو کي په تفصيل راغلی دی. د دې قصې اساسي ټکي داسي دي:

کله چي آدم او حواء له جنته را وايستل سوه او د ځمکي پر مخ يې په ژوند شروع وکړه، نو يې د اولادو و زېږولو ته مخه سوه. د لومړي پلا دپاره يې دوه غبرگوليان وزېږول، چي يو هلک او بله يې نجلۍ وه. هلک يې قابيل نومېدی. څو موده وروسته يې بيا دوه نور اولادونه وسوه، چي يو هلک او بله نجلۍ وه؛ د دې هلک نوم بيا هابيل وو.

قابيل او هابيل دواړه غټان او ځوانان سوه. پلار يې دوی ته کارونه ور ووېشل؛ قابيل مځکه کرله، په زراعت اخته سو او هابيل بيا پسونه پوول او د مالدارۍ دنده يې په مخه واخيسته.

هابيل خورا مهربانه وو او د خپلي مالدارۍ ټوله نعمتونه يې پلار، مور، ورونو او خويندو ته په سخاوت ور کوله. د ده مالداري هم ډېره سوه او زيات برکت يې وکړی. دی پر ټولو خورا ډېر گران وو، خو قابيل بيا بخيل او د سخت زړه خاوند

وو؛ ښه يې يوازې پر ځان پېرزو وه، د مځکې حاصل به يې هيچا ته نه ور کاوه او په پټه به يې تر خپله ځايه رساوه.
قابيل په دې پوه سو، چې هابيل پر پلار، مور او نورو ټولو باندې خورا ډېر گران دی، خو له ده څخه د چا ښه نه را ځي؛ له هابيل سره يې په زړه کې دښمني پيدا سوه. شيطان يې زړه ته لار وکړه او د هغه په خوله يې کوله. له پلار او مور څخه يې سر غړاوه او د هغو نصيحت ته يې غوږ نه نيوی.
خدای آدم ته وحې وکړه، چې د قابيل سره د هابيل خور او د هابيل سره د قابيل خور په نکاح کړي. هابيل د پلار خبره ومنله او د خدای امر ته يې غاړه کښېښووله، خو قابيل د خدای له امره غاړه وپېچله او د پلار خبره يې و نه منله. ده ويل، موږ هر يو بايد خپله هغه خور په نکاح کړو، چې يو ځای را سره زېږېدلې ده، ځکه زما غبرگولې خور د هابيل تر خور زياته ښکلې ده.
پلار يې ورته وويل: زويه تا ته خپله خور، چې له يوه نسه زېږېدلې ياست، نه ده روا. همدا رنگه پر هابيل خپله غبرگولې خور نه روا کيږي. قابيل پر پلار مخ را واړاوه او ورته و يې ويل: پلاره! ته هر وخت ظلم کوې، خو عدالت نه کوې. زما خور چې ښکلې ده، له ازدواجه څخه يې ما را گرځوې. پلار يې ډېر غمجن سو. وروسته يې زامنو ته وويل، چې هر يو خدای ته خيرات وکړئ، که خدای د قابيل خيرات قبول کړ، د خپلې ښکلې خور سره دې ازدواج وکړي او که د هابيل دا قبول سو، هغه به ور سره په نکاح سي. قابيل پلار ته وويل: موږ به څنگه پوه سو، چې زما او يا د هابيل خيرات قبول سو؟ پلار يې ورته وويل: د قبولۍ علامه

يې داسي ده، چي اور به له آسمانه را کښته سي او کوم خيرات چي قبول سوی وي، هغه به وخوري. قابيل په دې خبره راضي سو.

هابيل د پلار امر ومانه او يو ډېر ښه پسه يې د خيرات دپاره وړاندي کړی، خو قابيل خورا ناکاره زراعتي پيداوار، چي د استفادې وړ نه وه، د خيرات دپاره وټاکل. دا خيراتونه يې د غره پر څوکه کښېښوول. آدم او خپل اولادونه يې هلته را ټول سول. دوی ورته کتله، چي له آسمانه اور را کښته سو او د هابيل خيرات يې وخوړی.

هابيل خوشاله سو، چي خدای يې خيرات قبول کړ او قابيل خوابدی سو، چي خدای څني ناراضه دی او د ده خيرات يې و نه مانه. شيطان د ده زړه ته بيا لار وکړه او ورته و يې ويل: ورور دي ووژنه! قابيل هابيل ته په قهر سو او ورته و يې ويل: زه دي وژنم، چي له تا څخه خلاص سم او د خپلي خور سره ازدواج وکړم. قابيل هابيل وواژه او د لومړي پلار دپاره يې د انسانويني د ځمکي پر مخ توی کړې.

اوس نو قابيل حيران سو، چي د مړي جسد څه په وکړي. دوه کارګران يې وليدل، چي يوه دا بل وواژه. ژوندي کارګه د مړه دپاره ځای وکيندی او مړ کارګه يې هلته ښخ کړ. قابيل هم دغسي له کارګه څخه ښخېده زده کړه او د خپل ورور مړی يې په خاورو کي پټ کړ.

د همدې قصې پر بناء که د آدم د پيدايښت نظريې ته د کلالۍ له دورې سره ارتباط ور کړه سي، چي د بربريت له کښتنۍ مرحلې سره اړه لري، نو د هابيل او قابيل قصه موږ ته دا را ښيي، چي په دغه وخت کي د خور او ورور تر منځ په

ازدواجي رابطه کي هم دا انکشاف راغلی وو، چي د يوه نس اولادونه، چي غبرگوليان وه، هم يې يو له بله ازدواج نه سوای کولای، بلکي تر له اوښته. یا خو يې په تاريخي ډول سړی داسي تفسيرولای سي، چي سکڼې ورونه او خويندي يو له بله په ازدواجي رابطه کي نه سوای راتللای. باید وویل سي، چي د هابیل او قابیل له قصې څخه د علمي نړۍلید په اساس، خورا په زړه پوري تاريخي حقايق استنباط کېدای سي.

## د لومړي چاپ لپاره سريزه

دا لاندي فصلونه په يوه اعتبار د يو وصيت پوره کول ګڼل کيږي، ځکه چي د کارل مارکس په خپله په نظر کي وه، چي د مورګان د څيړنو نتايج د هغو نتايجو سره مربوط وښيي، چي دی په خپله (يا تر يو حده زه ويلای سم موږ دواړه) د تاريخ د ماترياليستي پلټني پر لار ورته را رسېدلی وو او په دې ډول نو د مورګان د نتايجو کامل اهميت د لومړي ځل دپاره روښانه کړي. مورګان په امريکا کي د ده په خپل ترتيب د تاريخ هغه ماترياليستي نظريه بيا کشف کړه، چي مارکس څلوېښت کاله دمخه کشف کړې وه او خپل د بربريت او مدنيت په مقايسه کي د دغي نظريې په وسيله په مهمو او غټو نقاطو کي کټ مټ هغو نتايجو ته ورسېدی، لکه مارکس چي ور رسېدلی وو. هغه ډول لکه د «کاپيټال» کتاب چي په جرمني رسمي اقتصاد پوهانو پرله پسې ګرمي تروښوني (سرقت) ځني کولې او هم دې کسانو په ټينګار سره خوله پر پټه کړې وه او د کتاب نوم يې نه اخيستی، دغه راز وضعيت په انګلستان کي د «ما قبل التاريخي» علم د نمايندهګانو له خوا څخه د مورګان د «پخوانۍ ټولني[1]» له کتاب سره هم

---

1- Ancient Society, or Researches in the Lines of Human Progress, from Savagery through Barbarism to Civilization. By Lewis H. Morgan. London, MacMillan and Co., 1877.

(لېويس مورګان. «پخوانۍ ټولنه يا له وحشته څخه د بربريت پر لار مدنيت ته د انساني ترقۍ په سلسلو کي تحقيقات». لندن، ماکميلان او شريکان، ۱۸۷۷م. کال). دا کتاب په امريکا کي چاپ سوی وو او په لندن کي په ډېر تکليف پيدا کيږي. مؤلف يې څو کاله دمخه مړ سوی دی.

کېدی. زما دغه اثر خورا لږ د هغسي اثر ځای ډکولای سي، چي زما تللي او فقيد ملګري مارکس ته نه سوه ور برابره، چي سر ته يې ورسوي، خو بيا هم په هغو اوږدو اقتباسونو کي، چي مارکس د مورګان له کتابه را ايستلي دي[1] او تنقيدي يادداښتونه يې پر کښلي دي، هغه يادداښتونه زما په مخ کي پراته دي او هر چيري چي امکان يې وي، په دې کتاب کي يې بيا هم را نقلومه.

له ماترياليستي نظر سره هم هغه اساسي عامل، چي د تاريخ چاري ټاکي، په نهايي حد کي د شيانو توليد او په خپله د روان ژوند په سلسله کي توليد مثل دی، خو دا جريان په خپله دوه اړخيزه بڼه لري؛ له يوې خوا څخه د ژوند د بقا دپاره د وسايلو، يعني ډوډۍ، جامې، سرپناه او د دغو شيانو د برابرولو دپاره د لازمو افزارو توليد دی او له بلي خوا څخه په خپله د بشري موجوداتو زوکړه او د نسل ډېرښت دی. هغه اجتماعي موسسات چي تر دوی لاندي د يوې ټاکلي تاريخي دورې او د يوه ټاکلي هيواد انسانان ژوندون کوي، د دوی په نوعيت او جوړښت کي د توليده دغه دواړه خواوي، يعني له يوه پلوه د کار د انکشاف مرحله او له بله پلوه د کورنۍ د انکشاف مرحله پوره اغېزه لري. څونه چي د کار انکشاف لږ وو او د توليد حجم يې محدوديت درلودی او په همدې سبب د

---

۱- مطلب څني د کارل مارکس هغه اثر دئ، چي «د مورګان د پخوانۍ ټولني خلاصه» نوميږي او په ۱۹۴۵م. کال کي په روسي ژبه چاپ سوی دی. د ک. مارکس او ف. انګلس د آثارو د مجموعې ۹ ټوک وګورئ. – ت. هـ.

ټولنې ثروت کم وو، نو هغونه د اجتماعي نظام چاري د نسبي تعلقاتو سلطې لاندي وې. خو د ټولني په دغه راز ساختمان کي، چي د نسبي تعلقاتو په اساس جوړه سوې وه، د کار تولیدي ظرفیت ډېر انکشاف وکړ او له دې سره سم نو خصوصي ملکیت او مبادله، په ثروت کي فرقونه، د نورو د کار له قوت څخه د استفادې امکانات او په همدې نسبت د طبقاتي خصومت اساس وده وکړه او له دې سره نو نوي اجتماعي عناصر منځ ته راغلل، چي پښت پر پښت یې دې ته هڅه وه، چي د ټولني زاړه ساختمان ته د نوو ایجاباتو سره توافق ور کړي، څو چي بالآخره د دې دوو، یعنې زاړه ساختمان او نوو ایجاباتو عدم توافق و یو بشپړ انقلاب ته مخه ونیوله. هغه زړه ټولنه چي د نسبي ټولیو پر اساس جوړه سوې وه، د نوو را پیدا سوو اجتماعي طبقاتو د ټکر به نتیجه کي ټوټه ټوټه سوه، پر ځای یې نوې ټولنه منځ ته راغله، چي ي، دولتي شکل یې واخیستی او نور نو د هغې لاندني یونټونه نسبي ټولۍ نه وې، بلکي منطقوي ټولۍ وې. په دې نوې ټولنه کي کورنۍ نظام له یوه مخه د ملکیتي مناسباتو تر سلطې او نفوذ لاندي سو. هغه طبقاتي خصومتونه او طبقاتي مبارزې چي تر ننه د ټوله لیکلي تاریخ موضوع تشکیلوي، اوس یې نو په دې ټولنه کي په آزادانه ډول وده وکړه.

د مورګان لوی کمال دا وو، چي زموږ د لیکلي تاریخ دغه ماقبل التاریخي اساس یې د هغه له غټو خصوصیاتو سره کشف او بیرته له نوي سره ترتیب کړ. ده د شمالي امریکې د سور پوستانو په نسبي تعلقاتو کي د هغو ډېرو مهمو معماوو

د حل کیلي پیدا کړه، چي د قدیم یونان، روم او جرمني په تاریخ کي تر اوسه لا ینحله پاته وې. د ده کتاب د یوې ورځي کار نه وو، بلکي نژدې څلوېښت کاله یې د موادو په برابرولو پسي زیار وکېښ، څو چي په بشپړه توګه یې لاس ته راوړه. په همدې دلیل د ده کتاب زموږ د زمانې له هغه لږ شمېر کتابو څخه دی، چي تاریخي عصر په ټاکل کیږي.

په دې وروستنیو بیانو کي ښایي چي لوستونکي په آساني وکړای سي، هغه خبري، چي له مورګان څخه را اخیستل سوي دي، له هغو خبرو څخه یې بېلي کړي، چي ما په خپله پر زیاتي کړي دي. د هغو تاریخي برخو په باب چي له یونان او روم سره اړه لري، ما د مورګان په معلوماتو اکتفاء نه ده کړې، بلکي هغه څه مي پر زیات کړي دي، چي په لاس کي مي درلوده. کومي برخي چي د سیلټیانو (Celts) او جرمنیانو سره اړه لري، هغه زیاتره زما خپلي دي. دلته د مورګان په لاس کي تقریباً ټوله مأخذونه بابېز او ناکاره وه. تر کومه ځایه چي خبره د جرمنیانو په حالاتو اړه لري، پرته د تاقیطس (Tacitus) له معلوماتو څخه، نور نو ټوله یې یوازي د ښاغلي فریمن (Mr. Freeman) چټې لیبرالي دروغ دي. هغه اقتصادي دلایل چي د مورګان د مطلب دپاره کافي وه، خو زما دپاره بېخي غیرکافي ګڼل کېده، ټوله مي له سره څخه دوباره تنظیم کړه. وروستۍ خبره دا ده، چي البته د هغو ګردو نتایجو مسؤلیت په ما اړه لري، چي واضحه توګه له مورګان څخه نه دي را اقتباس سوي.

# د څلورم چاپ لپاره سریزه

د دې اثر د مخنۍ غټې نسخې اوس نژدې شپږ میاشتې کیږي، چې نه پیدا کیږي او خپروونکي څه وخت پخوا لا له ما څخه غوښتي وه، چې د بل چاپ دپاره یې یوه نوې نسخه تیاره کړم، خو زما ضروري چارو تر اوسه له دې کاره څخه را گرځولی وم. د لومړي چاپ د را وتلو له وخته څخه اوس اووه کاله تېر سوي دي او د دې مودې په دوران کي د کورنۍ د لومړنیو اشکالو په باب زموږ پوهنه خورا ډېره مخ ته تللې ده، نو ځکه لازمه وه، چې په زیار سره د دې کتاب د ښه سمولو او تفصیل ور کولو په کار لاس پوري سي؛ په زیاته چې بیا دې خبري ته وکتل سي، چې د دې موجوده متن د چاپ د کلیشو سریښته په نظر کي ده او بیا په راتلونکي لنډ وخت کي چې کلیشې تیاري وي، ما ته نه ده ممکنه، چې بیا نور تغیرات په کتاب کي راولم.

نو ځکه ټوله متن مي په دقت سره تر دوهم نظر تېر کړ او یو شمېر زیاتوني مي پکښې وکړې. په دې زیاتونو کي زما هیله دا ده، چې د ساینس موجوده حالت مي په پام کي ساتلی دی. سربېره پر دغه د دې مقدمې په ترڅ کي د کورنۍ د تاریخ پر انکشاف باندي، چې له باخوفین څخه تر مورگان پوري یې کړی دی، دلته یوه لنډه تبصره لیکم. دا هم خاص په دې سبب چې د انگلیسي ما قبل التاریخي مکتب، چې پرته له ځانه بل څوک نهویني، دې کار ته په ټینگه ادامه ور کوي، چې د مورگان د اثر نوم پر خوله نه راوړي او غواړي، په دې چم هغه انقلاب مړ کړي، چې د مورگان کشفیاتو د لومړنۍ ټولني د تاریخ د نظریاتو په

باب را وستلی دی. ضمناً دغه مکتب په بې‌شرمۍ سره د مورګان د کار نتایج ځان ته منسوبوي. باید وویل سي، چي دغه انګرېزي چم بل چیري هم ډېر ځله تقلید سوی دی.

زما اثر په بېلو بېلو ژبو اوښتی دی؛ لومړی په ایټالیایي ژبه کي ترجمه سو، چي دا يې نوم دی: (L'origine della famiglia, della proprieta private e dello stato. Versione riveduta dall'autore, di Pasqualle Martignetti Benevento, 1885)

بیا په روماني ژبه واوښتی، چي نوم يې دا دی: (Origina Familei, proprietatei private si a statului. Traducere de joan Nadejde)

په هغه مجله کي چي د «Contemporanul» په نامه د یاسي په ښار کي خپرېږي، د ۱۸۸۵م. کال د سیپټمبر له میاشتي راهیسي د ۱۸۸٦م. کال د مې تر میاشتي پوري خپور سوی دی. بیا په ډنمارکي ژبه ترجمه سوی دی، چي دا يې نوم دی: (Familjens, Privatejendommens og Statens Oprindelse, Dansk, al Forfattere gennegaaet Udgave. Beserget af Gerson Trier, Kobenhavn, 1888

او فرانسوي نسخه يې چي د هِنري راوي له خوا د موجوده جرمني نسخې له مخي څخه ترجمه سوې ده، اوس همدا ګړی تر چاپ لاندي ده.

# لومړی څپرکی

# د کلتور ماقبل التاریخي مرحلې

# د کلتور ماقبل التاریخي مرحلې

مورګان لومړنی سړی وو، چې په موضوع باندي په پوهه سره دې ته وجوغېدی، چې د انسان د ماقبل التاریخ دپاره یو ټاکلی ترتیب را وباسي؛ یو خو به دا وي، چې نور مهم مواد را پیدا سي او دا ایجاب کړي، چې په دغه ترتیب کي تغیرات را سي، پرته له هغه امید کیږي، چې د ده ترتیب او تصنیف به پر خپل قوت پاته وي.

نوموړی عالم د وحشت، بربریت او مدنیت د درو لویو تاریخي دورو له جملې څخه په طبیعي ډول یوازي دوې لومړۍ دورې او دریمي دورې ته انتقال په ځان پوري مشغولوي. دی د وحشت او بربریت له دواړو دورو څخه هره یوه بیا د کښتنۍ، منځنۍ او پورتنۍ پر درو مرحلو وېشي او دا مرحلې د هغه پرمختګ له مخي ټاکي، چې د ژوندون د وسایلو په تولید کي وجود ته راغلي دي، لکه دی چې وایي:

> «پر کائناتو باندي بشري فضلیت او تسلط ټوله د انسانانو پر هغه مهارت او قابلیت ولاړ دی، چې د ژوندون د وسایلو د تولید په برخه کي یې په کار اچولي دي. انسانان هغه یوازني موجودات دي، چې د دوی په باب ویل کېدلای سي، چې د غذا پر تولید باندي یې یو مطلق تسلط حاصل کړی دی. د بشري پرمختګ ټولي لوبي تاریخي دورې لږ یا ډېر په مستقیم ډول د هستۍ د منابعو د پراختیا له دورو سره مصادفي دي».

د کورنۍ تکامل له همدې جريانه سره سم مخ په وړاندي رهي دی، خو د ژوندون د منابعو د انکشاف په ډول داسي قطعي معيارونه نه لري، چي د هغو له مخي يې د مختلفو دورو حدود وټاکل سي.

**۱- وحشت**

الف. کښتنۍ مرحله: بشري ذات د وړکتوب په حالت کي دی. انسان تر اوسه لا په خپل ابتدايي ټاټوبي کي ژوند کاوه، چي هغه په استوايي (تودو) يا استوايي سيمو ته په نژدې نيمو تودو) ځنګلو کي واقع وو. دوی لږ تر لږه قسماً په ونو کي ژوند کاوه. دغه دليل وو، چي د لويو څېرونکو حيواناتو په مقابل کي يې هم خپل پايښت ته ادامه ور کولای سوای. مېوو، مندکو او رېښو ده ته د غذايي موادو کار ور کاوه. د دې دورې ستر موفقيت دا وو، چي د ملفوظو خبرو ترتيب را ووتی. هغه خلګ چي په تاريخي دوره کي دننه پېژندل سوي دي، د دوی له جملې څخه هيڅوک په دغه شاني ابتدايي حالت کي نه دي ليدل سوي. که څه هم دغي ابتدايي دورې به ښايي په زرو کلونه دوام کړی وي، خو د ثبوت دپاره يې مستقيم شاهد نه لرو. اما که دا خبره ومنو، چي انسان له حيوانۍ کورنۍ څخه را وتلی دی، نو بيا د دغي انتقالي مرحلې منل ارو مرو حتمي دي.

ب. منځنۍ مرحله: دا مرحله په دې ټکي شروع کيږي، چي انسان د غذا دپاره له ماهي څخه (چي تر دې نامه باندي چونګاښان، صدفي ماهيان او د اوبو نور ژوي هم شامل‌وو) کار واخيستی او اور يې د خپل ژوند دپاره استخدام کړی. ماهي او اور دواړه يو او بل سره پوره کوي، ځکه يوازي د اور په استعمال سره د ماهي غذا پوره د استفادې وړ ګرځي. دغي نوي غذا نو البته انسان د محل او

موسم له قیده څخه آزاد کړی، چې رودونه او سواحل یې پسې را واخیسته، نو انسان وکړای سوه، چې حتی په خپل وحشي حالت کي د ځمکي د مخ پر ډېره برخه باندي سره تیت سي. د ډېري د پخواني عصر (چې په پالیولیتیک Palaeolithic نامه ورته وایي) هغه زیږه او ناتوږلي ډېرین آلات، چې په کلي یا غالب ډول په دغه دوره پوري اړه لري او په ټولو قارو کي پاشلي دي، د دغو مهاجرتونو نخښه ده. دا چې انسانانو نوي سیمي اشغال کړې او د اکتشاف دپاره یو نه ختمېدونکی فعال حرکت هم پکښي غونځېدی او دا خبره ور سره وه، چې د اصطکاک په وسیله یې د اور د پیدا کولو پر صنعت باندي بری پیدا کړی وو، نو دې عواملو د غذا نوي مواد دوی ته مهیا کړه، لکه نشایسته‌لرونکي ریښې او پوڅکۍ (Tuber)، چې یا به په پوړندو کي پخېدلې او یا د پخلنګ په غارو (یعني ځمکني تنورانو) کي او تر هغه وروسته چې لومړۍ وسله، یعني سوټی او نیزه یې اختراع کړه، نو په غذا کي یې کله کله د ښکار غوښي هم اضافه سوې. خو صرف ښکاري خلګ (لکه څنګه چې په کتابو کي یې بیان راغلی دی) یعني داسي څوک چې خاص په ښکار پایي، هیڅ کله یې موجودیت نه دی کړی، ځکه د ښکار حاصلات بېخي بې‌دوامه دي او د دې قابلیت نه لري، چې دغسي موجودیت ممکن کړي. د غذایي موادو منابع چې هر کله یې ثابت او یقیني حالت نه درلودی، نتیجه یې داسي ښکاري، چې په دې مرحله کي آدم‌خوري منځ ته راغله او د ډېر وخت دپاره پاته سوه. تر نن ورځي پوري اسټرالیایان او پولینیشیایان د وحشت په دغه منځنۍ مرحله کي پاته دي.

ج. پورتنۍ مرحله: دا مرحله د غشي او لېندۍ په را وتلو سره شروع کیږي. د دې آلاتو په وسیله نو د وحشي حیواناتو د ښکار غوښې په غذايي موادو کې په منظم ډول شاملې سوې او ښکار يو عادي شغل وګرځېدی. لېندۍ، د هغې تناو او غشی؛ یوه ډېره پرله پېچلې او مرکبه آله ده. د دې آلې اختراع دا غوښته، چې باید تر منځ ته راتلو دمخه یې اوږدې تجربې یو ځای سوي وي، ذهني قواوو تېزي موندلې وي او په همدې وخت کې له یوې سلسلې نورو اختراعاتو سره هم شناخت پیدا سوی وي. که موږ هغه اولسونه د مقایسې په توګه وګورو، چې که څه هم د غشي او لېندۍ سره آشنا دي، خو د کلالۍ په فن (چې مورګان یې د راتلو له وخته د بربریت دورې ته د انتقال تاریخ ټاکي) لا نه پوهیږي، نو وینو چې حتی په دغه وختنۍ مرحله کې د کلو اوسېده شروع سوي دي او د ژوندون د وسایلو په تولید کې پوره مهارت منځ ته راغلی دی. د دې وسایلو په لړ کې نو له لرګي څخه لوښي او سامانونه جوړېده، (بې له دستګاه څخه) یوازې په ګوتو له مزرو څخه داودني کېدلې، له نلانو یا بوریایي موادو څخه ټوکرۍ تیارېدلې او د توږلي (نیولیتیک Neolithic) ډبري اوزارونه تهیه کېدله. تر ډېره حده د ډبري تبر او اور دا امکانات برابر کړي وه، چې د ونې د تنې نس وکاږي او کښتۍ ځني تیاره کړي. په ځینو ځایونو کې د لرګي د تیرانو او تختو څخه هم د کورو په جوړولو کې کار اخیستل کېدی؛ د مثال په توګه، دغه ټول پرمختګونه د شمال غربي امریکې د هغو سورپوستانو په منځ کې پیدا کیږي، چې که څه هم دوی د غشي او لېندۍ سره آشنا دي، لاکن په کلالۍ کورټ نه پوهیږي. د وحشت په دوره کې غشي او لېنده داسې مهمه وسله وه، لکه د

بربریت په دوره کې چې د اوسپنې توره او لکه د مدنیت په دوره کې چې توده وسله ګڼل کېږي.

## ۲- بربریت

الف. کښتنۍ مرحله: دا مرحله له هغې نېټې څخه را پیل کیږي، چې کلالي را ووتله. د کلالۍ مبداء یقیناً په زیاترو ځایو کې او غالباً هر چیري په دې ډول وه، چې ټوکریو یا د لرګي لوښو ته به د دې دپاره د خټو استر ور کول کېدی، چې د اور په مقابل کې وساتل سي او له دې لارې نو دا ژر کشف سوه، چې په قالب کې شکل سوي خټې بې‌له دې څخه چې بل لوښی دننه پکښې وي، یوازې هم د اورنې لوښي کار ور کولای سي.

موږ ویلای سو، چې تر دغه ټکي پوري لا د تکامل جریان په عام ډول د ټولو اولسونو دپاره په هره سیمه کې چې وي، د یوې ټاکلې مودې په دوران کې یو راز تطبیق کېدای سي، خو د بربریت له راتلو سره نو موږ یوې داسې مرحلې ته رسیږو، چې په هغې کې د دوو لویو قارو د طبیعي منابعو تفاوت په دې شروع کوي، چې خپلې اغېزې ښکاره کړي. د بربریت د دورې هغه بارز خصوصیت دا دی، چې په دې زمانه کې د حیواناتو اهلي کول او د هغو د نسل ډېرول او د نباتاتو کرل رواج سوه. اوس نو په ختیځه نیمه کره کې (چې د «زړې دنیا» په نامه بلل سوې ده) تقریباً ټوله هغه حیوانات پیدا کېده، چې د اهلي کېدو وړ وه او هم یې له یوه شي پرته نوري ګرده هغه غلې درلودې، چې کرهڼه یې کېدلای سوای، لاکن په لوېدیځه نیمه کره، یعني امریکا کې بیا د اهلي کېدونکو حیواناتو له جملې څخه یوازې یو تې لرونکی حیوان پیدا کېدی، چې

لاما (Lama) (امريکايي اوښ) نومېدی او دا هم د جنوب په يوه سيمه کې. د کرلو دپاره يې صرف يو شی درلودی او هغه هم ډېر ښه شی، چې جواري (Maize) وه. د دغو مختلفو طبيعي شرايطو اثر دا وو، چې سر له اوسه څخه نو د هري نيمي کرې وګړو خپله خاصه لار واخيسته او هغه نښې، چې د انکشاف بېلي بېلي مرحلې په ټاکل کيږي، په دې دوو برخو کې تفاوت سره لري.

ب. منځنۍ مرحله: دا مرحله په شرق کې د حيواناتو په اهلي کولو را نښلي، خو په غرب کې يې بيا شروع له دې ځايه وه، چې د آبيارۍ په وسيله د خوراکي نباتاتو کرهڼه پيدا سوه او د ټاټوبو په جوړولو کې د ډبري او اومو خښتو استعمال منځ ته راغی.

موږ به وار د واره په غرب کې وړغيږو، ځکه هلته دغه مرحله د اروپايي تسلط (European Conquest) تر وخته پوري پر يوه خيال پاته وه او هيڅ چيري يې نوره وده و نه کړه.

امريکايي سور پوستانو ته چې د بربريت په کښتنۍ مرحله کې وه (د ميسيسپي Mississippi) د سيند د ختيځې غاړي ها خوا، چې هر څه وګړي مونده سوي دي، هم يې په دوی پوري اړه درلوده)، آن لا د دوی د کشفېدو تر وخته پوري په پالېزونو کې د جوارو او ممکنه ده، چې هم د کدوانو، هندوانو او نورو پاليزي سبو، چې د هغو د خوراک يوه ډېره برخه يې تشکيلوله، د کرلو او پاللو کوم يو طرز معلوم وو. دوی د لرګو په کورو کې اوسېدل او هغه په داسي کلو کې واقع وه، چې پر شاوخوا يې د لرګو احاطه را ګرځېدلې وه. د غربي شمال د خوا قبيلې په تېره بيا هغه چې د کولمبيا د رود په سيمه کې يې ژوند کاوه، تر اوسه

لا د وحشت په پورتنۍ مرحله کي پاته وې. دوی نه کلالي پېژنده او نه يې د کوم ډول نباتي کرهڼي سره آشنايي درلوده. له بله پلوه بيا د نوي مېکسيکو وګړي، چي پويبلو سور پوستان (Pueblo Indian) يې بولي او هم په خپله د مېکسيکو خلګ او مرکزي امريکايان او د پيرو اوسېدونکي ټوله د اروپايي تسلط په زمانه کي د بربريت په منځنۍ مرحله کي وه. دوی په کلا وزمه کورو کي اوسېده، چي له اومو خښتو يا ډبرو څخه جوړ سوي وه. دوی جواري او نور خوراکي نباتات چي د محل او موسم په لحاظ يې فرق کاوه، په هغو پټيو کي کرله، چي په مصنوعي آبيارۍ يې اوبوله او د غذا اساسي منبع يې هم دغه کرهڼه وه. دوی حتی یو څه حیوانات هم اهلي کړي وه، چي د مېکسيکو د خلګو هغې فيل مرغ او نور مرغان وه او د پيرو د خلګو هغې لاما وه. دوی همدا رنګه د فلزي شيانو له تيارولو سره آشنا وه، اما د اوسپني په استعمال نه پوهېدل. همدغه دليل وو، چي دوی تر اوسه لا د ډبري له وسلو او د ډبري له آلاتو څخه کار اخيستی. هسپانوي تسلط نو د دوی د خپل ځانګړي انکشاف سلسله ور وشلوله.

په شرق کي بيا د بربريت منځنۍ مرحله د هغو حيواناتو په اهلي کېدو را شروع سوه، چي هم يې شيدې کولې او هم يې غوښي د خوراک وې. خو نباتي کرهڼه بيا داسي ښرګنديږي، چي په دې دوره کي تر خورا ډېري وروستۍ زمانې پوري چا نه پېژنده. د حيواناتو اهلي کېده او د نسلي روزني له لاري د دوی ډېرېده او د لويو رمو او ګلو جوړول د هغه توپير علت معلوميږي، چي (آريايي) او (سامي) اولسونه يې له نورو بربري اقوامو سره لري. اوس لا هم د اروپايي او

آسیایي آریایانو په منځ کي د څارویو نومونه مشترک دي، خو د کرهڼي وړ نباتاتو نومونه یې بیا دغسي نه دي.
د رمو او ګلو له را پیدا کېدلو سره په مناسبو ځایونو کي د ژوندانه پوونده طرز هم منځ ته راغی. سامیانو دغه ژوند د فرات (Euphrates) او دجلې (Tigris) په واښه لرونکو ورشوګانو کي را شروع کړی او آریایانو د هند په څړځایو او د اکسوس (Oxus) (چي اوس یې امو بولي- م.)، یکسرت (Jaxartes) (چي اوس یې سیردریا بولي- م.)، دون (Don) او دنیپر (Dnieper) په ناوو کي. د حیواناتو د اهلي کولو کار ښایي وار د واره د دغسي څړځایونو په سرحدو کي را شروع سوی وي، ځکه همدا وجه ده، چي وروستني نسلونو ته داسي برېښي، چي چوپانوي اولسونه په هغو ځکو کي منځ ته راغلي دي، چي نه یوازي د بشر لومړنی ټاټوبی خو په هیڅ توګه نه سوای کېدلای، بلکي د دې په عکس دا ځمکي تقریباً د دوی د وحشي اجدادو د اوسېدني دپاره هم مساعدي نه وې او نه هم حتی د بربریت د کښتنۍ مرحلې خلګو استوګنه پکښي کولای سوای. له بله پلوه بیا دا د منځنۍ مرحلې بربریان، چي یو پلا پر چوپاني ژوند واوښته، نو بیا یې په خوا او خاطر کي لا هم ور و نه ګرځېده، چي په خپله خوښه دا اوبه لرونکي شنه څړ ځایونه پرېږدي او هغو ځنګلي سیمو ته ور ستانه سي، چي د دوی د اجدادو ټاټوبی وو. حتی کله چي آریایان او سامیان مجبوره سول، چي د سمال او غرب په خوا کي نور هم وړاندي ولاړ سي، نو دوی نه سوای کولای، چي د غربي آسیا او اروپا په ځنګلي سیمو کي؛ مخکي تر دې چي د حبوباتو کرلو او پاللو هغو ته امکان ور کړ، چي پر دغه لږ حاصلخېزه ځمکه باندي خپل

څاروي، خاص د ژمي په موسم کي تغذیه کړي؛ واړوي. دا خبره تر احتمال قوي ده، چي د غلو کرهڼه دلته وار د واره د دې اړتیا له مخي را شروع سوه، چي د مالو (څارویو) دپاره خوراکه په لاس ځني راوړه سي او صرف په وروسته کي یې د انساني تغذیې دپاره هم اهمیت پیدا کړی.

دا چي آریایانو او سامیانو ته د غذا دپاره غوښي او شیدې وې او په زیاته بیا دا چي دغه غذاوي د بچیانو په وده کي گټور تاثیرات لري، نو ښایي دغه سببونه وه، چي د دغو دوو نژادونو انکشاف تر نورو واوښتی او ډېره ارتقاء یې په برخه سوه. رښتیا هم د نوي مېکسیکو (پویبلو سور پوستان) چي تقریباً یوازي سابه خوري، د دوی دماغ تر هغو سور پوستانو ډېر کوچنی دی، چي د بربریت په کښتنۍ مرحله کي وه او د غوښو او کبانو له غذاوو څخه یې پوره استفاده کوله.

په هر حال کي، په دغه مرحله کي آدمخوري ورو ورو کمېږي او صرف د یوه دیني رسم یا جادویي رسم (چي په دغه زمانه کي یې تقریباً له دینه سره یو برابر حیثیت درلودی) په شاني پاتېږي.

ج. پورتنۍ مرحله: دا مرحله د اومې اوسپني په ویلي کېدو پیل کیږي او د الفبایي لیکني د اختراع او له دې لیکني څخه د ادبي تخلیق د آثارو د ثبتولو دپاره د کار اخیستني په سلسله د مدنیت مرحلې ته را کښېوزي. دغه مرحله لکه دمخه چي مو یاده کړه، یوازي په ختیځه نیمهکره کي په ازادانه صورت طی سوه. د دې مرحلې په دوران کي تولیدات دونه زیات سوه، چي د ټولو مرحلو تر مجموعي تولیداتو یې اندازه ډېره وه. د قهرمانۍ د عصر یونانیان، د روم تر تاسیس لږ څه دمخه دورې ایټالوي قبیلې، د (تاقیطس) د زمانې جرمنیان او د

سمندري داړه‌مارانو (Vikings) د وختونو نورمانیان (Normans) له دغې مرحلې سره تعلق لري.
تر ټولو غټه خبره دا ده، چې په دې مرحله کې موږ ته د لومړۍ پلا دپاره داسې هُل په دمخه را ځي، چې د اوسپنې سپاره ور لوېدلي وي او د حیواناتو په ذریعه کشیږي او په پراخه پیمانه د مځکې د کرهڼې یعنې کرونده‌ګرۍ امکان برابروي او د هغې زمانې د شرایطو په حساب د ژوندون په وسایلو کې یو عملي نامحدود زیاتوب منځ ته را ځي. په دغه لړ کې دا هم وینو، چې ځنګلونه وهل کیږي، د کرهڼې او څر دپاره مځکه ځنې تیاریږي. دغه کار هم په پراخه پیمانه د اوسپنې بې کهۍ (تبشه) او بې له یوم څخه امکان نه درلودی، خو له دې سره مل د وګړو په ډېربښت کې چټکې راغله او په کوچنیو ځایو کې ګڼ نفوس را پیدا سوه.
تر کرنې دمخه صرف بېخي استثنایي حالاتو کولای سوای، چې نیم میلیون خلګ تر یوه مرکزي مشرتوب لاندې سره را غونډ کړي او ډېر احتمال کیږي، چې دغسې غونډېده هم هیڅ کله نه وي پېښ سوي.
د هومر (Homer) په اشعارو؛ په زیاته بیا په ایلیاډ (Iliad) کې موږ وینو، چې هلته د بربریت پورتنۍ مرحله په خپل اوج کې ده. له اوسپنې څخه ښه جوړ سوي آلات، د پښ بنۍ، مېچن، د کلالۍ څرخ، د شرابو او روغنیاتو جوړول، فلزي کارونه چې د آرټ درجې ته یې ځان رساوه، ګاډیانې او دوه اربه‌ایزه جنګي عرادې، له الوارو او تختو څخه د کښتیو جوړول، د یو فن په حیث د معمارۍ ابتداء، د برجانو او کلاوو سره دېوال لرونکې ښارونه، هومري حماسیات او ګرده اساطیر (میتولوجي – Mythology)؛ دغه ټول شیان هغه مهم میراثونه دي،

چي يونانيانو له بربريت څخه و مدنيت ته د انتقال په حالت کي له ځانه سره يووړه. که موږ له دغه جريانه سره د جرمنيانو هغه حالت مقايسه کړو، چي (قيصر) او حتی (تاقيطس) يې بيان کړی دی او دوی د کلتو د هغي مرحلې په خوله کي وه، چي د هومر د وختو يونانيانو له هغې څخه د وتلو او بلي عالي مرحلې ته د داخلېدلو تياري نيوله، نو له دې مقايسې څخه به موږ ته څرگنده سي، چي د بربريت په پورتنۍ مرحله کي د توليد انکشاف خورا ډېر پر مخ تللی وو.

د بشري تکامل تصوير د وحشت او بربريت په سلسله د مدنيت تر مباديو پوري، چي د مورگان د ترتيب مطابق دلته ما طرح کړی دی، البته د نوو او مستندو منظرو له پلوه ډېر غني دی. دا منظرې مستندي دي، ځکه په مستقيم ډول د توليد له مخي څخه را اخيسته سوي دي، خو سره له دې به دا تصوير کمزوری او پيکه ښکاره سي، چي د هغه تصويره سره مقايسه سي، چي زموږ د دې سلسلې په آخر کي به ځان په خپله څرگند کړي. صرف هغه وخت به نو ممکنه سي، چي له بربريت څخه تر مدنيت پوري انتقال او هم د دوی تر منځ د اساسي مغايرت او فرق يوه پوره منظره تصوير سي. د اوس دستي دپاره موږ کولای سو، چي د مورگان دورې په عمومي توگه په لاندي ترتيب وښيو:

وحشت: يعني هغه دوره چي انسان دا قدرت پکښي پيدا کړی، چي د استفادې دپاره تيار طبيعي پيداوار په ځان پوري اختصاص کړي. کوم شيان چي انسان په دې دوره کي جوړ کړه، زياتره يې هغه آلات وه، چي دغه د اختصاصولو کار ځان ته آسانه کړي.

بربریت: یعنې هغه دوره، چې په دې کې د ځارویو د نسل د روزلو او د مځکې د کرهنې پوهنه لاس ته راوړه سوه او د بشري فعالیت په وسیله د طبیعت د تولیدي ظرفیت د زیاتولو لارې او چارې زده سوې.
مدنیت: یعنې هغه دوره چې په دې کې له طبیعي پیداوارو څخه د زیاتې استفادې او په اصلي مفهوم د صنایعو او فنونو پوهنه لاس ته راوړل سوه.

# دویم څپرکی

# کورنی

# کورنۍ

مورګان چي د خپل ژوند غټه برخه يې د ايروکوايسيانو په منځ کي تېره کړې ده، چي دا وګړي اوس هم د نيويارک په ايالت کي مېشه دي او دی په خپله د دوی د يوې قبيلې (يعني سينيکائيانو- Senecas) له خوا په ځان ګډ سوی وو، نو ده د صلبي قرابت يو سيستم وموندی، چي د دغو وګړو تر منځ معمول وو، خو په تطبيقي لحاظ يې د دوی د جاري کورني تعلقاتو سره تضاد درلودی. د دوی تر منځ جال داسي وو، چي ځانګړو جوړو واده سره کاوه، چي جلا کېده يې له دواړو خواوو څخه په آسانۍ هم کولای سوای او مورګان پر دې ازدواج باندي د «جوړه‌يي کورنۍ» نوم ايښی دی. د دغسي يوې ازدواجي جوړې اولاد ټولو ته معلوم وو او پېژندی يې او د هغه چا په باره کي هيڅ اشتباه نه را پيدا کېده، چي د پلار، مور، زوی، لور، ورور او خور په نومونو به ورته ويل کېدله. خو د دغو نومونو د ويلو ځای يې سر نه خوري، ځکه ايروکوايسي سړي نه يوازي خپل اولاد زامن او لوڼې بولي، بلکي د خپلو ورونړو دا هم په دغو نومونو يادوي او دوی هم ده ته د پلار په نامه خطاب کوي. له بلي خوا بيا دی د خپلو خويندو اولاد خپل خوريان او خورزېګاني بولي او دوی بيا ده ته د ماما په نامه سره وايي. له بله پلوه بيا ايروکوايسي ښځه د خپلو خويندو اولاد له خپلو هغو سره خپل زامن او لوڼې بولي او دوی هم دې ته د مور په نامه خطاب کوي. له بلي خوا دا د خپل ورور اولاد خپل وربرونه او وربرېګاني بولي او دا د دوی عمه بلل کيږي. همداسي د ورونړو

اولاد خپل تر منځ د وروڼو او خویندو په نومونو سره بولي او همدرنګه د خویندو اولاد یو تر بله د وروڼو  او خویندو په نومونو خطاب کوي. بالعکس بیا د یوې ښځې اولاد او د هغې د ورور دا یو له بله د تربرو په نامه سره بولي. دا نومونه د استعمال په دغه ترتیب صرف تش الفاظ نه دي، بلکي د هغو خیالاتو اظهارات دي، چې د ویني د تعلق پر اساس د خپلوۍ او ناخپلوۍ، د یو رنګۍ او اختلاف په باب کې په عملي توګه نافذ دي. دغه خیالات د صلبي قرابت د یو بشپړ تیار سوي سیسټم د بنسټ په شان کار ور کوي، چې هغه د یوه ځانګړي فرد په سلګونو مختلف قرابتي تعلقات ښوولای سي. سربېره پر دې دا سیسټم نه یوازې په ټولو امریکایي سور پوستانو کې (چې تر اوسه استثناء نه ده پکښې لیدل سوې) په کامل صورت نافذ دی، بلکي همدا رنګه تقریباً په دغه شکل بې‌له تغیره د هند د اصلي اوسېدونکو تر منځ معمول دی، چې د دوی له جملې څخه د دکن (Deccan) ډراویډي (Dravidians) قبیلې او د شمالي هندوستان د ګاوړا (Gaura) قبیلې دي. تر دوو سوو لا بالا د بېلو بېلو قرابتي او قومي تعلقاتو دپاره چې کوم اصطلاحات د جنوبي هند د تامیلانو (Tamils) او د نیویارک د ایالت د سینیکایي ایروکوایسیانو تر منځ استعمالیږي، حتی تر نن ورځې پوري سره یو شی دي. د هند د دغو قبیلو تر منځ هم، لکه د ټولو امریکایي سور پوستانو تر منځ، هغه تعلقات چې د کورنۍ له مروجه شکله څخه یې را وځي، د صلبي قرابت له سیسټمه سره یې تضاد لري.

دا خبره چې د کورنۍ له معموله شکله څخه را وتلې تعلقات د صلبي قرابت له سيسټمه سره سر نه خوري، نو څه رنګه بايد تفسير او توضيح سي؟ چې هغه اساسي او قاطل رول په نظر کې ونيول سي، چې قرابت (کينشيپ) يې د وحشت او بربريت د مرحلې د ټولو خلګو په اجتماعي نظام کې لوبوي، نو د داسې يو وسيع سيسټم اهميت نه سي کېدلای، چې د تشو الفاظو په ذريعه له پامه وغورځول سي. داسې سيسټم چې په عمومي ډول سر تر پايه په ټوله امريکا کې موجود دی او همدا شاني د ايشيا د خلګو په منځ کې، چې نژاد يې ببېخي بېل دی، رواج لري او په ډېر يا لږ تغير سوي اشکالو کې د ټولې افريقا او اسټراليا په هر ځای کې په ډېربښت سره خپور دی، دا غواړي چې په تاريخي ډول تفسير او توضيح سي. په بل ډول لکه ماکلينن چې ورته جوغېدلی وو، نه سي کېدلای چې د دې سيسټم تفسير او توضيح په سر ورسيږي. د پلار، زوی، ورور او خور نومونه تش اعزازي القاب نه دي، بلکې له دوی سره په مطلق ډول ټاکلي او خورا مهم بااهمه مکلفيتونه تړلي دي، چې د هغو مجموعه د دغو خلګو د اجتماعي نظام يوه اصلي او اساسي برخه تشکيلوي. د دې سيسټم توضيح او تشريح بالآخره پيدا سوه. د سيندويچ (هاوايي) په جزيرو کې هلته په دې اوس وختونو کې، يعنې د رواني پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې د کورنۍ يو شکل موجود وو، چې هغه راز پلرونه، مېندي، وروڼه او خويندي، زامن او لوڼي، اکاګان او عمه‌ګاني (ماماګان او خاله‌ګاني)، خوريان او خورزېګاني (ورېرونه او ورېرېګاني) پکښې منځ ته راتلې، لکه د امريکايانو او پخوانيو هنديانو د صلبي قرابت

سیستم چي ایجابوله. خو عجیبه خبره دا ده، چي د صلبي قرابت هغه سیستم، بیا چي په خپله په هاوایي کي معمول وو، د هغه ځای د کورنۍ له موجود شکله سره یې سمون نه خوړی. هلته ټوله لومړي تربرونه او ترلي‌ګاني (Cousins) بې‌له استثناء څخه یو له بله داسي ګڼل کیږي، لکه وروڼه او خویندي. دوی ګردو ته نه یوازي د دوی د مور یا د هغې د خویندو له خوا او نه یوازي د دوی د پلار یا د هغه د وروڼو له خوا، بلکي د دوی د مور او پلار د ټولو وروڼو او خویندو له خوا څخه بې‌له فرقه د مشترک اولاد په سترګه کتل کیږي. په دې اساس نو که د صلبي قرابت امریکایي سیستم د کورنۍ یو ډېر ابتدایي شکل ایجابوي، چي اوس په امریکا کي نه سته، خو تر اوسه لا عملاً په هاوایي کي پاته دی، خو له بلي خوا بیا د هاوایي د صلبي قرابت سیستم د کورنۍ لا ډېر ابتدایي شکل ته پام ور اړوي، چي هغه که څه هم نه سي ثابتېدلای، چي یو چیري به لا اوس پاته وي، اما ارو مرو یې باید وجود موندلی وي، ځکه که یې وجود نه وای موندلی، نو له هغه سره برابر د صلبي قرابت سیستم منځ ته نه سوای راتللای.

مورګان وایي:

> «کورنۍ یوه متحرکه مؤسسه ده. دا مؤسسه هیڅ کله په ساکن او ولاړ حالت کي نه پاتیږي. لکه ټولنه چي له کښته مرحلې څخه پورته مرحلې ته مخ په وړاندي ځي، دغه رنګه کورنۍ له کښته شکله پورته شکل ته حرکت کوي، خو د صلبي قرابت سیستمونه بیا بالعکس ولاړ او انفعالي حالت لري او د هغې ترقۍ ثبت (ریکارډ) خوندي ساتي،

چې کورنۍ ځان ته د اوږدو فاصلو په ترځ کې کړی وي. دا سیستمونه صرف هغه وخت بېخکي تغیر خوري، چې کورنۍ په اساسي او بېخکي ډول سره تغیر وخوري».

مارکس دلته دا خبره هم ور سره زیاتوي، چې: «کټ مټ همدغه حکم د سیاسي، حقوقي، مذهبي او فلسفي سیستمونو په باب کې په عام ډول صادقیږي». کله چې کورنۍ خپل ژوند ته ادامه ور کوي، نو په دې حال کې د صلبي قرابت سیستم کلک او ټینګیږي او کله چې د صلبي قرابت سیستم په مرسوم شکل ادامه لري، نو د کورنۍ وده د ده تر حدودو اوړي، خو فقط لکه کوفیه (Cuvier) چې وکړای سوه، له هغو کیسه‌شکله هډوکو څخه چې د حیوان په سکلیټ یې اړه درلوده او نژدې پاریس ته پیدا سوه، په یقیني صورت دا نتیجه واخیسته، چې دغه هډوکي په ي، کیسه لرونکي حیوان اړه لري او دا راز حیوانات چې اوس له منځه تللي دي، یو وخت یې هلته ژوند کړی دی. دغه ډول موږ په هغسي یقیني صورت کولای سو، چې د صلبي قرابت له یو سیستمه څخه چې په تاریخي ډول را رسېدلی دی، دا نتیجه واخلو، چې د کورنۍ له منځه تللي یو شکل، چې د صلبي قرابت له دغه سیستم سره یې سر خوري، یو وخت یې وجود درلودلی دی.

د صلبي قرابت سیستمونه او د کورنۍ شکلونه چې همدا اوس بیان پکښې وسو، د نن ورځې له معمولو او مروجو اقسامو څخه په دې خبره کې فرق کوي، چې په هغو کې هر بچوړی څو متعدد پلرونه او مېندې لري. د صلبي قرابت د هغه امریکایي سیستمه سره سم، چې د هاوایي د خلګو د کورنۍ

شکل ور سره مطابق دی، ورور او خور نه سي کېدای، چي د یوه بچوړي مور او پلار ځني جوړ سي. خو بالعکس بیا د هاوایي د خلګو د صلبي قرابت له سیستېمه څخه داسي کورنۍ استنباط کیږي، چي په هغې کي بیا دا شی جال وو.

په دې ډول نو موږ د کورنۍ له یو شمېر اشکالو سره مخامخ کیږو، چي سم دم د کورنۍ له هغو اشکالو سره تضاد لري، چي په عام ډول تر اوسه پوري د کورنۍ مروج اشکال منل سوي دي. د کورنۍ په باره کي عنعنوي فکر یوازي وحدتي ازدواج (مونوګامي) پېژني، چي د هغه په څنګ کي د یوه نر په نسبت د زوجاتو تعدد (پولیګامي) او لا هم اقلاً د یوې ښځي په نسبت د ازدواجو تعدد (پولي انډري) هم ور سره ملګرې وي. خو لکه څنګه چي د اخلاقي متعصبینو عادت دی، پر دې حقیقت خوله پټوي، چي په دغه باب کي د رسمي ټولني له خوا ایښوول سوي قیدونه او بندیزونه هر کله په عمل کي په پټه خوله په بې شرمانه ډول نقضیږي. بالعکس بیا د لومړنۍ ټولني د تاریخ مطالعه موږ ته هغه حالات او اوضاع را څرګندوي، چي په هغو کي سړیان د زوجاتو د تعدد (پولیګامي) او په همدې وخت کي د دوی ماینې د ازدواجو د تعدد (پولي انډري) په حالت کي ژوند کوي، نو ځکه د دوی مشترکو اولادو ته په داسي سترګه کتل کیږي، چي د دوی د ټولو تر منځ مشترک دي. دا اوضاع نو په خپل وار د تحولاتو تر یوې بشپړي سلسلې را تېریږي، څو چي په آخر کي یې وحدتي ازدواج (مونوګامي) ځای نیسي. د دې تحولاتو نوعیت داسي دی، چي ښځي پخوا په ابتداء کي د خلګو حلقه

د مشترک ازدواج رابطې په غېږ کي نيولې وه او دا حلقه چي په لومړي سر کي ډېره پراخه وه، ورو ورو تنګېده، څو چي په آخر کي يوازي هغه مفرده جوړه پاته سوه، چي نن ورځ معمول ده.

د کورنۍ د تاريخ د جوړولو په برخه کي چي مورګان تېرې زمانې ته تر شا وکتل، نو د ده نظر د خپلو هم‌مسلکانو د اکثريت سره موافق يوې داسي ابتدايي مرحلې ته ورسېدی، چي هلته ايله جنسي روابط د يوې قبيلې په دننه کي معمول وه او په دې توګه نو هري ښځي په مساوي ډول له هر سړي سره او همدا رنګه هر سړي له هري ښځي سره ارتباط درلودی. د تېري پېړۍ راهيسته د يو دغسي لومړني حالت په باره کي خبري کېدلې، اما په بېخي عامو الفاظو کي، باخوفين لومړی سړی وو (او دا کار هم د ده له سترو خدمتو څخه وو) چي دغه حالت ته يې په غور وکتل او په تاريخي او مذهبي رواياتو کي يې د هغه نخښي وپلټلې. نن ورځ موږ پوهيږو، چي هغه نخښي چي ده کشف کړې، کورټ د ايله جنسي روابطو يوې پخوانۍ اجتماعي مرحلې ته موږ نه رسوي، بلکي يو ډېر وروستنی شکل را ښيي، چي هغه جمعيتي ازدواج دی. دغه ابتدايي اجتماعي مرحله، که په رښتيا موجوده سوې وي، نو د تاريخ په خورا ليري زمانه پوري اړه لري او موږ دا اميد نه سو کولای، چي په اجتماعي فوسيلونو (Fossils) کي، يعني د بيرته پاته وحشيانو تر منځ يې د پخواني موجوديت د اثبات دپاره مستقيم شواهد لاس ته راولو. دا

افتخار يوازي باخوفين ته منسوب دی، چې دغې مسئلې ته يې د خپلو پلټنو په سر کې ځای ور کړی.(۵)

دا نو په دې وروسته وختو کې فيشن سو، چې د بشر په جنسي ژوند کې د دغې لومړنۍ مرحلې د موجوديت له منلو څخه انکار وسي. په دې انکار کې هدف دا دی، چې غواړي بشريت ته له دغې شرمندګۍ څخه نجات ور کړي. يو دا دليل وايي، چې د دغې مرحلې د اثبات دپاره هيڅ مستقيم شاهد نه سته او بل د خپلې مدعا د ثبوت دپاره د نورې حيواني نړۍ مثال ته هم په خاصه توګه مراجعه کوي. ليټورنو (Letourneau) چې («د ازدواج او د کورنۍ تکامل» ۱۸۸۸م. کال په کتاب کې) د حيواني نړۍ څخه يو شمېر حقايق را ټول کړي دي، مطلب يې د دې خبرې اثبات دی، چې دلته هم

۵- دا چې باخوفين دغه ابتدايي حالت هيټايريزم بللی دی، ښيي چې په دې باندې ښه نه دی پوهېدلی، چې ده څه شی کشف کړي او چې په کره توګه وويل سي؛ اټکل يې کړی دی. دغه لفظ د يونانيانو له خوا څخه د دې مطلب دپاره استعمالېدی، چې د غيرمتاهلو نارينه‌وو يا هغه چې په وحدتي ازدواج کې ژوند کاوه او د نامړو ښځو تر منځ جنسي معامله په افاده کړي. د دغه لفظ له مخې څخه نو البته دا استنباط کيږي، چې په دغه وخت کې چې يونانيانو دغه لفظ په دغه معنی استعمالاوه، د ازدواج يو معين شکل موجود وو، چې د هغه تر دايرې دباندې هغې جنسي معاملې صورت پيدا کاوه، چې هيټايريزم يې بلله. له دغه لفظ څخه مطلب لږ تر لږه د فحشاء د امکان شته‌والی هم دی (نو ځکه هيټايريزم د ايله جنسي روابطو ابتدايي حالت نه معرفي کوي او نه دا ډول جنسي معامله چې هيټايريزم نوميږي، دونه ډېره پخوانۍ ده، چې د ازدواج تر شکلونو هاخوا ته وي.- مترجم) دا لفظ په بله معنی هيڅ کله نه دی استعمال سوی او ما په دې معنی د مورګان مطابق استعمال کړی دی. د باخوفين لوړ کشفيات هر ځای د ده د هغې خيالي عقيدې په سبب پر صوفيانه او مرموزانه خوا باندې تللي دي، چې د نر او ښځې تر منځ په تاريخي ډول را پاڅېدلي روابط داسي ګڼي، چې د هري دورې د انسانانو له مذهبي افکارو څخه په وجود راغلی دی، نه دا چې د انسانانو د ژوند له عملي شرايطو څخه يې نشئت را کړی دی.

بشپړ ایله جنسي روابط له یوې کښتنۍ مرحلې سره اړه لري. خو هغه یوازنۍ نتیجه چې زه یې له دغو ګردو حقایقو څخه را ایستلای سم، دا ده، چې د دوی له مخې هیڅ داسي یو شی نه ثابتیږي، چې د انسان او د ده د ژوند د لومړنیو حالاتو سره اړه ولري. د ډېري زمانې دپاره جوړه پاته کېدل د فقاریه حیواناتو په منځ کې د فزیولوجیکي اساساتو له مخې پوره تشریح کېدلای سي، مثلاً د مرغانو تر منځ جوړه پاته کېدل په دې سبب دي، چې د هګۍ د شاربلو په وخت کې د نر مرغه مرستې ته ضرورت سته او د مرغانو تر منځ د وفادارانه (مونوګامي) مثالونه د بشري موجوداتو دپاره هیڅ قسم یو شی نه ثابتوي، ځکه بشري موجودات د مرغاتو له ذاته څخه نه دي. که ټینګ وحدتي ازدواج (مونوګامي) د ټوله فضیلت او عفت معراج وګڼل سي، نو د بري سمبول باید (د ګډو دانې چنجي) (Tapeworm) ته ور کول سي، ځکه چې هغه د وجود په هر بند کې (چې له پنځوسو نیولې تر دوه سوه لا بالا وي) د نر او مادې پوره جنسي ادوات لري او ټوله ژوند یې په دې ډول تېریږي، چې د دغو بندو په هر یوه کې یې جوړه اوسېده چالان وي. که موږ یوازي تې لرونکي حیوانات تر کتنې لاندې ونیسو، نو د جنسي ژوند ټوله اشکال؛ که ایله روابط دي، که د جمعیتي ازدواج مظاهر دي، که د زوجاتو تعدد دی او که وحدتي ازدواج دی، ګرده د دوی په منځ کې پیدا کیږي. یوازي د ازدواجو تعدد (پولي‌انډري) پکښې نه سته. دا شکل یوازي په انسانانو کې سر ته رسېدای سي. حتی زموږ له ښخې نژدې چارپایو خپلوانو څخه کوادرومانا (Quadrumana) د نر او مادې په جوړه کېدونکي تر خورا

زیاتي اندازې بېل بېل ممکن شکلونه ابرازوي او که موږ وغواړو، چې انسان ته ښه نژدې لیکه (کربښه) را کش کړو او یوازي هغه څلور ډوله بیزوګاني چي انسان ته ورته دی، تر کتنې لاندي راولو، نو په دې خصوص کي لیټورنو دونه قدر موږ ته ویلای سي، چې دغه بیزوګاني کله کله وحدتي ازدواج والا او کله کله د زوجاتو تعددوالا دی، اما ساوسور (Saussure) بیا چي جیرا ټیولن یې بیان را نقل کړی دی، داسي وایي چي دوی خاص وحدتي ازدواج والا دي. د انسان ته ورته بیزوګانو تر منځ د وحدتي ازدواج په باره کي د ویسټرمارک (Westermarck) اظهارات چي د ده په هغه کتاب کي راوړي، چي («د بشري ازدواج تاریخ»، لندن، ۱۸۹۱م. کال) نومیږي، همدا رنګه داسي اظهارات دي، چي ثبوت ته نه دي رسېدلي. لنډه دا چي په دې باره کي ټوله بیانونه داسي خبري دي، چي سپېڅلي لیټورنو په آخره کي دې منلو ته اړ باسي، چي:

«نور نو په تي لرونکو حیواناتو کي د ذهني انکشاف د درجې او د جنسي ارتباط د شکل تر منځ کوم خاص او ټینګ نسبت کورټ وجود نه لري.»

اسپیناس (Espinas) بیا («د حیواني ټولنو په باره کي»، ۱۸۷۷م. کال) په کتاب کي په ډاګه وایي:

«ګدۍ هغه لوړ اجتماعي ګروپ دی، چي د حیواناتو تر منځ لیدل کیږي. ظاهراً خو داسي ښکاري، چي ګدۍ باید له کورنیو څخه جوړه

سي، اما له لومړي سره څخه کورنۍ او ګدۍ یو له بله تضاد لري او په معکوس تناسب انکشاف کوي.»

له پورته خبرو څخه څرګنده ده، چي موږ د انسان ته ورته بیزوګانو د کورنۍ او نورو اجتماعي دسته‌بندیو په باب کي په قطعي او یقیني صورت تقریباً په څه نه پوهیږو. په دې باره کي بیانونه سر نه سره خوري او یو له بله متناقض دي، خو دا د تعجب خبره هم نه ده، ځکه زموږ په لاس کي بیانونه حتی هغه چي د بشر د وحشي قبایلو په باب کي دي، هم خورا متناقض دي او دې ته ډېر ضرورت لري، چي تر تنقیدي ازمویني ووځي او وچوڼل سي. د بیزوګانو د ټولنو مطالعه خو لا د بشري ټولنو په نسبت ښځي سخته او ډېره مشکله ده، نو ځکه د اوس دپاره موږ باید هره هغه نتیجه تردید کړو، چي له داسي مطلقاً ناموثقو اطلاعاتو څخه را ایستلي سوي وي.

خو د اسپیناس بیان چي پورته ذکر سو، په ښه توګه موږ ته د کلاوې سر په لاس را کوي. د عالي حیواناتو تر منځ ګدۍ او کورنۍ خپل تر منځ نه سره تکمیلوي، بلکي یو له بله تضاد لري. اسپیناس په ډېر وضاحت دا خبره څیړي، چي د جوړه کېدو په موسم کي د نرانو تر منځ رخه (Jealousy) هره اجتماعي ګدۍ د ګډو روابطو له پلوه سستوي او یا یې په موقتي توګه ښځي له منځه اخلي.

«چیري چي د کورنۍ ارتباطات په خپل ځان کي ټینګ وي، هلته د ګدۍ موجودیت له نادرو استثناآتو څخه دی، خو بالعکس چیري چي بیا ایله جنسي روابط او یا پولیګامي جال دی، هلته ګدۍ تقریباً په طبیعي ډول

منځ ته راځي. د دې دپاره چې ګدۍ منځ ته را سي، نو لازمه ده چې د کورنۍ ارتباطات سست سي او غړي يې بيا آزادۍ لاس ته راوړي. دغه سبب دی چې په نادر ډول د مرغانو له منظمو اجتماعي ډلو سره مخامخ کيږو.
خو د تي لرونکو حيواناتو تر منځ چې بيا لږ يا ډېري منظمي ټولني پيدا کيږي، خاص يې علت دا دی، چې دلته فرد په کورنۍ کي محصور نه دی. په دې ډول نو په لومړي وخت کي د ګدۍ ډله ييز احساس (ډله‌ييز وجدان – Collective Conscience) د کورنۍ تر معاشرتي احساس بل لوی دښمن نه درلودی. را سئ بې‌له تردده دا خبره وکړو، چې: که تر کورنۍ لوړ اجتماعي شکل تکامل را کړی وي، نو داسي پېښه يوازي دې حقيقت ته منسوبېدای سي، چې دغه شکل په خپل ځان کي هغه کورنۍ سره يو ځای کړي او متحدي کړي دي، چې تر اساسي تحول لاندي راغلي دي او نو خاص په همدې دليل دا امکان نه ختميږي، چې دغه کورنۍ وروسته کولای سي، چې تر بې‌شمېره مساعدو شرايطو لاندي خپل ځانونه بيرته له نوي سره تشکيل کړي.» (دا عبارت هم د اسپيناس د کتاب په لومړي فصل کي راغلی دی، چې جيرا ټيولن د خپل کتاب «د ازدواج او د کورنۍ منشاء»، ۱۸۸۴م. کال، په ۵۱۸- ۵۲۰ مخونو کي را نقل کړی دی).
له دغه څخه نو دا څرګنديږي، چې حيواني ټولني په يقيني توګه د بشري ټولنو مربطو د نتايجو په را ايستلو کي يو ثابت ارزښت لري، اما صرف په منفي معنی. تر کومه ځايه چې موږ ته معلومه ده، عالي فقاريه حيوانات صرف د کورنۍ دوه شکله پېژني، چې يو يې پوليګامي او بل يې د منفردي

جوړې رقم دی. په دواړو صورتو کې صرف یو بالغ نر، صرف یو مېړه مجاز دی. د نر رخه چې د کورنۍ له ارتباطاتو څخه او هم د کورنۍ له حدودو څخه نمایندګي کوي، حیواني کورنۍ د ګدۍ سره په شخړه کې اچوي؛ نو ګدۍ چې ډېر لوړ اجتماعي شکل دی، د جوړه کېدو پر ټاپي ځای ځای بېخي ناممکن ګرځي، چیري بیا سستیږي او یو بل چیري بیا پر یوه مخ ورک کیږي، خو کوم ځای که پاته سي، نو هغه ښه حالت به یې داسي وي، چې د نر د رخي په سبب به یې د پرله پسې انکشاف مخه نیول سوې وي. یوازي خبري د دې مطلب د ثبوت دپاره کافي دي، چې حیواني کورنۍ او لومړنۍ بشري ټولنه یو له بله نه تطبیق کیږي او لومړی انسان چې له حیواني مرحلې څخه یې ځان را ایستی یا خو یې هیڅ قسم کورنۍ نه پېژنده او یا منتها که یې پېژنده، نو یوه داسي کورنۍ وه، چې د حیواناتو تر منځ وجود نه لري. نو داسي په تش لاس یو حیوان د انسان په حیث د تکوین په حال کې د واقع موجود په شاني کولای سوای، چې حتی د انزوایي ژوندانه په شرایطو کې کله چې د معاشرت لوړ شکل د ځانګړو جوړو ګډ ژوند دی، په لږ شمېرېزه ډله کې هم د خپل ژوند بقاء ته ادامه ور کړي، خو دا هغه ادعاء ده، چې ویسټرمارک د ښکاریانو د بیانو له مخې د ګوریلا (Gorilla) او چمپانزي (chimpanzee) په قیاس منځ ته راوړې ده.

د تکامل په پروسه کې له حیواني حالت څخه د را وتلو او یوازي طبیعت ته د معلوم عظیم پرمختګ د انجامولو دپاره یو بل عنصر هم ضروري وو او هغه دا، چې باید د فرد د بې کفایته دفاعي قدرت ځای د ګدۍ متحد قوت او

ګډ ژيار ونيسي، خو له داسي شرايطو څخه بشري حالت ته انتقال لکه نن چي انسان ته ورته بيزوګاني تر هغو لاندي ژوند کوي، بېخي يو محال امر ګڼل کيږي. د دې بيزوګانو له کتني څخه خو لا داسي معلوميږي، چي دوی له خپلي لاري څخه اوښتي دي او ورو ورو ورکېدو ته ور نژدې کيږي او يا په هر حال مخ پر زوال دي، يوازي همدغه خبره د هغو ګردو نتايجو د ترديدولو دپاره پوره دليل دی، چي د بيزوګانو د کورنۍ د اشکالو او د ابتدايي انسان د هغې تر منځ د موازنې او مقايسې پر اساس را ايستل سوي دي. آخر د بالغو نرانو تر منځ يو له بله زغمنه او له رخي څخه آزادي د هغو لويو دوامداره ډلو د جوړېدو دپاره لومړی شرط وو، چي يوازي د همداسي ډلو په منځ کي له حيوانه څخه انسان ته انتقال په سر رسېدلای سوای. رښتيا هم پوښتنه اوس دا ده، چي موږ د کورنۍ څه ډول شکل د بېخي قديم او ابتدايي شکل په حيث پيدا کولای سو او دا شکل په تاريخ کي د کوم پاخه ثبوت له مخي پيدا کېدلای سي او حتی نن ورځ په څه رنګ کي دلته او هلته ليدل کيدلای سي؟ ځواب دا دی، چي موږ جمعيتي ازدواج پيدا کوو او دا هغه شکل دی، چي د ده په دايره کي د نرو بسته جمعيتونه او د ښځو بسته جمعيتونه يو له بله ارتباط لري او رخي ته چنداني موقع نه ور کوي. نور نو بيا د انکشاف په يوره وروستنۍ مرحله کي موږ د پولي‌انډري يو استثنايي شکل پيدا کوو، چي هغه هم د رخي له هر راز احساسه سره منافي دي او نو ځکه په همدې وجه په حيواناتو کي نه سته. د جمعيتي ازدواج هغه اشکال چي موږ ته معلوم دي، له داسي عجيبو پرله پېچلو شرايطو سره ملګري دي، چي په

لازمي توګه د جنسي روابطو پر خورا قديمي او ساده اشکالو دلالت کوي او نو همداسي په نهايي تحليل کي د ايله جنسي معاملاتو يوه داسي دوره را ښيي، چي له حيوانيته څخه انسانيت ته د انتقال له دورې سره سمون خوري، اما د حيواناتو تر منځ د ازدواج اشکالو ته مراجعه بيرته موږ هغه ټکي ته را ولي، چي لازمه وه له هغه څخه مو په يوه پلا د تل دپاره را تېر کړي.
خبره اوس دا ده، چي د ايله جنسي معاملاتو معنی څهشي ده او څه مطلب ځني مراد دی؟ له دې څخه مراد دا دی، چي پر جنسي روابطو د اوس وخت بنديزونه يا هغه چي په پخوا وختونو کي نافذ وه، د ايله جنسي معاملاتو په زمانه کي يې وجود نه درلودی. رخه چي د ايلهوالي مخ نيسي، دمخه مو لا وليده، چي هلته نه وه. يوه خبره که يقيني وي، نو هغه دا ده، چي رخه نسبتاً د وروستني انکشاف مربوط په هيجان دي. دا حکم «د محرماتو سره د جنسي رابطې» (Incest) د فکر په باره کي هم صادقيږي (يعني د محرماتو سره د جنسي رابطې چاري ته په نفرت کتل او بد خيال يې کول هم د انکشاف د وروستنۍ زمانې يو محصول دی. – مترجم). يوازي دا خبره نه ده، چي په ابتداء کي ورور او خور د مېړه او ماينې په شان اوسېدله، بلکي تر دا نن ورځي پوري د ډېرو وګړو تر منځ دا سته، چي د مور و پلار او اولاد په منځ کي يې جنسي روابط روا دي. بينکروفټ (Bancroft) په خپل کتاب کي («د شمالي امريکا د بحرالکاهل د ولاياتو بومي نژادونه»، ۱۸۷۵م. کال، لومړی ټوک) وايي، چي د بيرنګ د آبنا په سواحلو کي د کاويټانو (Kavits) تر منځ او الاسکا (Alaska) ته نژدې د کادياکانو (Kadiaks) تر منځ او د

برتانوي شمالي امریکا په دننه کي د تینهانو (Tinnehs) تر منځ دا کار موجود دی.

لیټورنو د «چیپیوا سور پوستانو» (Chippewa Indians) او په چِلي کي د کوکوسانو (Cucus) او په هند و چین کي د کاریبیانو (Caribbean) او کارینانو (Karens) تر منځ د همدې خبري د وجود په باب کي بیانونه را غونډ کړي دي. هغه خو لا پرېږده، چي د پارتیانو (Parthians)، پارسیانو (Persians)، سکیتیانو (Scythians)، هونانو (Huns) او نورو په باب کي چي پخوانیو یونانیانو او رومیانو څه روایتونه کړي دي، په هغو کي د دې خبري ذکر راغلی دی. د محرماتو سره د جنسي رابطې د نفرت تر اختراع دمخه (چي دا رښتیا هم یوه اختراع ده او نهایتي زیات ارزښت لري) د مور او پلار او اولاد په مابین کي جنسي معاملات تر دې بالا منفور نه ایسېده، لکه څونه چي د دوو پښتونو د افرادو په منځ کي منفور ایسي او داسي کار خو نن ورځ په بېخي متعصبو هیوادونو کي بې‌له دې څخه چي ډېر بد په یوسي، و سر ته رسیږي، ځکه رښتیا هم حتی تر شپېتو اوښتي زړې «پېغلاني» که دوی ډېره پیسه ولري، کله کله له دېرش کلنو زلمیانو سره واده کوي. که موږ د کورنۍ له هغو بېخي ابتدایي اشکالو څخه، چي موږ ته معلوم دي، د محرماتو سره د جنسي رابطې افکار (چي د دې اشکالو سره تړلي دي او دا هغه افکار دي، چي یو مخیزه زموږ له هغې څخه فرق لري، بلکي سم دم ور سره ضد دي) حذف کړو او نالیدلي یې وبولو، نو موږ د جنسي روابطو یوه داسي شکل ته رسیږو، چي هغه یوازي د ایله معاملې په نامه

تعریف کېدلای سي او ایله معامله له دې کبله چي تر دې آنه هغه بندیزونه پکښې نه وه، چي په را وروسته کي د دود او جال په سلسله منځ ته راغله او ټینګ سوه. دا خبره په هیڅ توګه دا نتیجه نه لازموي، چي یو بېسره او بېښکره ایله‌والی نو په هره ورځ او هره ګړۍ کي جاري وو. دا خبره په هیڅ توګه له امکانه نه وه وتلې، چي د یو محدود وخت دپاره بېلي بېلي جوړې په هغه حال کي هم منځ ته راتلې. رښتیا هم دا ده چي حتی په جمعیتي ازدواج کي زیاتره دغسي جوړې تشکیلېدلې. ویستر مارک هغه آخر سړی دی، چي دغه ابتدایي حالت نه مني، نو که د ده د تعریف مطابق هر داسي حالت ازدواج وبلل سي، چي په هغه کي دوه جنسه د اولاد د زوکړې تر وخته جوړه سره پاتیږي، نو بیا دا ویل کېدلای سي، چي دغه ډول ازدواج د ایله جنسي معاملاتو په شرایطو کي بېله دې څخه چي د ایله‌والي، یعني په جنسي معاملاتو کي د بندیزونو د نشته‌والي سره تضاد پیدا کړي، هم ډېر ښه په سر رسېدلای سوای. په دې کي شک نه سته، چي ویستر مارک له دې پلوه موضوع ته ګوري، چي:

«ایله‌والی پر فردي تمایلاتو باندي یو فشار ګڼي او نو ځکه فحشاء د ایله‌والي هغه اصلي شکل بولي».

د دې په عکس، ما ته دونه را معلومیږي، چي د ابتدایي حالاتو په باره کي ټوله پوهنه تر هغه وخته ناممکنه ده، څو چي دغو حالاتو ته د رندي‌خانې په عینکو کي کتل کیږي. کله چي د جمعیتي ازدواج په باب کي ږغیږو، نو دغه ټکي ته به بیا را وګرځو او بیان به پکښې وکړو.

د مورګان په عقیده د ایله جنسي معاملاتو له دغه ابتدایي حالته څخه چي غالباً په یوه ډېره پخوانۍ مرحله کي یې وجود درلودی، دا لاندي اشکال را وتلي او انکشاف یې ځنې را کړی دی:

۱- لومړی کانسنګویني (Consanguine) کورنۍ را وتلې ده، چي دا د کورنۍ لومړۍ مرحله ده. دلته ازدواجي ډلي د پښتونو سره مطابق ترتیب سوي دي: د کورنۍ په حدودو کي دننه ټوله نیکه‌ګان او اناګاني له یوه مخه یو له بله سره مړونه او ماینې دي. عیناً دغه صورت د دوی د اولادو یعني پلرونو او مېندو تر منځ روان دی او د دغو پلرونو او مېندو اولاد بیا، چي لمسیان او لمسیاني دي د اشتراکي زوجو دریمه کړۍ جوړوي او د دوی اولاد بیا چي کړوسیان او کړوسیاني دي، په خپل وار څلورمه کړۍ جوړوي. دغه راز نو د کورنۍ په نوموړي شکل کي یوازي اسلاف او اخلاف - مور و پلار او اولاد د زادواج له حقوقو او مکلفیتو څخه (زموږ د اوس وخت په اصطلاح) یو له بله محروم دي. نور نو ورونه او خویندوي- د لومړۍ، دوهمي و نوري لیري درجې تربرونه او ترلي‌ګاني ټوله یو له بله ورونه او خویندي دي او خاص په دغه سبب یو له بله سره مړونه او ماینې هم دي. په دې مرحله کي د ورور او خور نسبت دا خبره کښېباسي، چي دوی یو له بله طبعاً جنسي روابط هم پالي[٦]. داسي یوه کورنۍ په خپل مثالي (ټیپیکل) شکل کي د

---

٦ - د نیبه‌لونګ (Nibeleung) په هغه متن کي، چي واګنر (Wagner) کښلی دی، د ابتدایي زمانو په باب یو بېخي غلط بیان راغلی دی او د دغه غلط بیان په نسبت مارکس په یوه لیک کي، چي د ۱۸۸۲م. کال په پسرلي کي یې لیکلی دی، په ډېرو سختو الفاظو کي خپله رایه اظهار کړې ده. په هغه بیان کي

يوې جوړې له اولادو څخه جوړېده، چې د هغو د هر پښت اولادونه ټوله سره وروڼه او خويندي وه او خاص په همدغه دليل گرده يو له بله مړونه او مايني هم وه.

داسي راغلي دي: «چا اوربدلي دي، يو ورور دي خپله خور د خپلي ناوي په حيث ور سره پرې ايستلې وي؟» د واگنر د دغو شهوت‌پرستو خدايانو په هکله چي د خپلي شهوت‌رانۍ چارو ته د اوسنۍ زمانې په توگه د محرماتو سره د جنسي رابطې رنگ ور کوي، مارکس خپله رايه داسي څرگندوي: «په ابتدايي زمانه کي خور ارتبينه وه او دغه کار اخلاقي هم گڼل کېدی.» (د ۱۸۸۴م. کال د چاپ دپاره، د انگلس يادداښت.)

د واگنر يو فرانسوي آشنا او ستايونکی د مارکس دغه عقيده نه مني او دې خبري ته گوته نيسي، چي پخوا لا په اگيسدريکا (Ogisdrcka) يعني هغه قديمه اډا کي، چي واگنر د هغې پر اساس خپل متن ترتيب کړی دئ، لوکي (Loke)، فريا (Feria) داسي رټي: «تا خپل ورور د خدايانو په مخ کي له ځانه سره پرې ايستی.» ده ادعاء کړې ده، چي د ورور او خور تر منځ ازدواج په هغه وخت کي لا ممنوع وو. زه وايم چي اگيسدريکا د هغې زمانې ترجماني کوي، چي قديمو اساطيرو ته د خلگو عقيده بالکل ختمه سوې وه او دغه خبره په حقيقت کي د لوکيان (Lucian) په روحيه د خدايانو په باب يوه هجو ده. که لوکي د ميفيستېو (Mephistopheles) په حيث فريا رټي، نو دا خبره خو د واگنر په خلاف مضمون افاده کوي. څو ټوټې وروسته لوکي همدارنگه نيورډ (Njord) ته وايي: «تا له خپلي خوره څخه داسي يو زوی پيدا کړی!» ( vidh sustur thinni gaztu slikan mog). ربښتيا ده، نيورډ د اسا (Asa) له ډلي نه وو، بلکي د وانا (Vana) له ډلي څخه وو او اينگلنگ ساگا (Ynglinga Saga) په رزمي نکل کي وايي، چي د وروڼو او خويندو په منځ کي ازدواج په وانالند (Vanaland) کي جال دی، خو د اسايانو تر منځ دا جال نه سته. له دې څخه دا څرگندېږي، چي وانايان تر اسايانو زاړه خدايان وه. په هر حال نيورډ د اسايانو په منځ کي د دوی سره يو رقم او برابر ژوند کاوه او د اگيسدريکا له مخي ثابتيږي، چي په هغه زمانه کي چي د خدايانو په باب د نارويژيانو رزمي داستان را شروع کيږي، د وروڼو او خويندو تر منځ ازدواج لږ تر لږه د خدايانو تر منځ بد نه بلل کيږي. که څوک وغواړي چي واگنر معاف کړي، نو سړی بايد د اډا په عوض کي گويته (Goethe) ميدان ته راولي، ځکه گويته د خدای او حوري په قصيده کي د ښځو د مذهبي تسليمۍ په باب عيناً يوه دغسي غلطي کړې ده او دغه تسليمي يې اوسنۍ فحشاء ته ښخي ورته بللې ده. (د ۱۸۹۱م. کال د چاپ دپاره د انگلس زياتونه)

کانسنگویني کورنۍ له منځه ولاړه. حتی بېځي بیرته پاته اولسونه چي تاریخ ته معلوم دي، په هغو کي لا د کورنۍ د دغه شکل قابل اثبات مثالونه نه موندل کېږي، لاکن د هاوایي د خلگو د صلبي قرابت سیستم، چي اوس هم دغه سیستم په گرده پولینیشیا کي سر تر پایه معمول دی، دا خبره په موږ جبراً منلې ده، چي دغه شکل کورنۍ باید ارو مرو منځ ته راغلې وي، ځکه له دې سیستمه څخه د قومي قرابت داسي مراتب په وضاحت معلومېږي، چي هغه صرف د کورنۍ د یوه دغسي شکل پر اساس وجود ته راتلای سي. همدا رنگه د کورنۍ نور ټوله وروستي انکشافات چي گورو، د دغي نتیجې را ایستلو ته مو اړ باسي، ځکه دغه انکشافات دا ایجابوي، چي د کورنۍ دغه شکل د یوې حتمي مقدماتي مرحلې په حیث باید تر مخ وجود درلودلی وي.

۲- دوهمه پونالوان (Punaluan) کورنۍ ده. که د کورنۍ په جوړښت کي لومړی پرمختگ دا وو، چي مور و پلار او اولاد خپل تر منځ له جنسي ارتباطاتو څخه محروم سي، نو دوهم پرمختگ بیا دا وو، چي وروڼه او خویندي هم یو له بله محروم سي. کله چي دا خبره په نظر کي ونیول سي، چي وروڼه او خویندي په سن کي نژدې شباهت سره لري، نو دغه پرمختگ تر لومړي پرمختگ بې‌حده ډېر مهم، بلکي همدا رنگه ډېر مشکل وو. دا پرمختگ ورو ورو په سر رسېدلی دی او ډېر غالب گمان دا دی، چي وار د واره په دې ترتیب را شروع سوه، چي سکه وروڼه او خویندي (یعني هغه چي له یوه موره وه) خپل تر منځ له جنسي ارتباطاتو څخه محروم سول او په

لومړي سر کې دا محروميت خال خال وو، خو بيا ورو ورو عام دود وګرځېدی (په هاوايي کې له دغه جاله څخه استثناءاتو په دې روانه پېړۍ کې لا وجود درلودی). دا حرکت نو په آخر کې دې ټکي ته را ورسېدی، چې حتی د اجدادي ورونو او خويندو (يا چې موږ يې د لومړۍ، دوهمې او دريمې مرتبې تربرونه او ترلې ګانو بولو) تر منځ لا يو له بله ازدواج سره منع سوه. د مورګان له بيانه سره سم، دا «د طبيعي انتخاب پر قانون برابر د يوې عمليې خورا ښه مثال دی.»

په دې کې شک نه سته، چې هغه قبيلې چې د دوی تر منځ توالد او تناسل د دغه پرمختګ په نسبت محدود سوی وو، دې ته آماده او مساعدې وې، چې نسبت تر هغو قبيلو، چې په منځ کې يې د ورونو او خويندو يو له بله مزاوجت هم جال پاته وو او هم يې لازمي وظيفه وه، ډېر چټک او بشپړ انکشاف وکړي. دا خبره، چې دغه پرمختګ ډېر زورور اثر ونښندی، د ټبير د تاسيس له مخې ثابته ده، ځکه ټبير په مستقيم ډول له دغه پرمختګ څخه نشئت را وکړی او خورا ډېر مخ ته ولاړی. ټبير که د نړۍ د ټولو وګړو نه وي، خو د زياترو بربري اولسونو د اجتماعي نظام بنسټ وو او په يونان او روم کې موږ مستقيماً د ټبير له لاري د مدنيت دورې ته داخلېږو.

هره ابتدايي کورنۍ تر څو پښته وروسته لازمه وه، چې څانګې ځنې جلا سي او انشعاب وکړي. لومړنۍ کمونيستې کهول، چې بې له استثناء څخه د بربريت د منځنۍ مرحلې تر رونق پوري معمول وو، د کورني جمعيت اکثر حد اندازه ټاکله، خو دې اندازې چې له محلي شرايطو سره سم تغير کاوه،

په هر ځای او محل کې یې بالکل یو معین او ټاکلی شکل درلودی. کله چې د یوې مور د اولادونو تر منځ د جنسي معاملاتو د بندیز او کرکې احساس را پیدا سو، نو دا ور سره تړلې وه، چې د زاړه کهول د جمعیتونو پر انشعابې څانګو او د نوي کهول د جمعیتونو پر بنسټ باندې یو اثر واچوي (خو دغو نوي کهولي جمعیتونو نو ضرور د کورنۍ له جمعیتونو سره مطابقت نه درلودی). د خویندو یوه یا ډېرو ګروپونو د یوه کهول او د دوی سکه ورونړو بیا د بل کهول مرکزي هسته جوړوله. له دغې لارې او یا دې ته ورته لارې په وسیله د کورنۍ هغه شکل چې مورګان یې پونالوان کورنۍ بولي، له کانسنګویني کورنۍ څخه انکشاف را کړی دی. د هاوایي د خلګو له جاله سره سم، یو شمېر خویندې که به سکه خویندې وې که اجدادي (چې هغه د لومړۍ، دوهمې او یا ډېرې لیرې درجې ترلې‌ګانې دې)، د خپلو اشتراکي مړونو مشترکې ماینې وې، خو له دې ارتباط څخه یې البته ورونړه وتلې وه. دغو مړونو یو له بله د ورونړو په نامه نه سره بلل او رښتیا هم دا ضروري نه وه، چې دوی سره ورونړه وې، بلکې یو له بله یې پونالوا سره بلل، چې له دې څخه مطلب صمیمي ملګری او شریک وو. همدغسې د سکه یا اجدادي ورونړو یوه ګروپ بیا یو شمېر ښځې د مشترک ازدواج په شکل په خپل اختیار کې درلودې، چې دا ښځې د دی خویندې نه وې او خپل تر منځ یې یو له بله د پونالوا په نامه سره بلله.

دا د کورنۍ د ساختمان هغه کلاسیک شکل وو، چې وروسته یوه سلسله تحولات پکښې راغله. د دې کلاسیک شکل اساسي مشخصه ښه داسې وه،

چې: «د کورنۍ په یوه ټاکلې دایره کې دننه مېرونه او مایندې مشترک او ګډ جمعیت لري، خو له دې دایرې څخه د مایندې وروڼه -په وار د واره کې سکه او بیا په وروسته کې اجدادي وروڼه هم- وتلي دي او همدا طریقه په معکوس صورت د مېرونو د خویندو په نسبت جریان لري.

د صلبي قرابت هغه مراتب چې په امریکایي سیستم کې څرګندیږي، د کورنۍ په دغه شکل کې په ډېر صحیح صورت لاس ته را ځي. زما د مور د خویندو اولادونه تر اوسه لا هم د دې اولادونه دي او زما د پلار د وروڼو اولادونه همداسې د ده اولادونه دي. دوی ټوله بیا زما وروڼه او خویندې دي، لاکن زما د مور د وروڼو اولادونه اوس د دې وریرونه او وریریګانې دي او زما د پلار د خویندو اولادونه د ده خوریان او خوریګانې دي او دوی ټوله بیا زما تربرونه او ترلې‌ګانې دي. څه رنګه چې د حقوقي اصولو له مخې (که څه هم هر کله یې عملي بڼه نه ده موندلې) زما د مور د خویندو مېرونه تر اوسه لا د دې مېرونه دي او زما د پلار د وروڼو مایندې همدارنګه لا د ده مایندې دي، خو د سکه وروڼو او خویندو تر منځ د جنسي معاملاتو اجتماعي ممانعت اوس د دې سبب سو، چې لومړي تربرونه او ترلې‌ګانې، چې تر دې وخته بې‌له امتیازه یو د بل سره وروڼه او خویندې ګڼل کیږي، و دوو طبقو وویشي: ځینې یې د پخوا په شان (اجدادي) وروڼه او خویندې پاته سوه او نور یې، چې یوې خوا ته د وروڼو اولاد وه او بل پلو ته د خویندو اولاد وه، نه سوای کېدلای، چې سره وروڼه او خویندې سي او هم نه سوای کېدلای، چې دوی مشترکه مور، مشترک پلار او یا مشترک والدین ولري. له دې جهته نو د

لومړي پلار دپاره دا ضروري سوه، چې د ورېرونو او ورېرېگانو، د خوريانو او خورزېگانو، د تربرونو او ترلي‌گانو داسي طبقه منځ ته را سي، چې د کورنۍ په پخواني سيستم کي يې مفهوم نه درلودی. د صلبي قرابت امريکايي سيستم، د هري هغي کورنۍ د شکل له مخي، چې پر يو قسم فردي ازدواج را بنا سوی وي، بېخي بې‌معنی معلومېږي، خو د پونالوان کورنۍ پر اساس ټکي په ټکي په معقول صورت تطبيقېږي او په طبيعي ډول ثابتېږي. تر کومه حده چې د صلبي قرابت دغه سيستم رواج درلودی، لږ تر لږه هغونه بايد د پونالوان کورنۍ او يا دې ته ورته يو شکل ضرور وجود کړی وي.
دا خبره ثابته سوه، چې د کورنۍ دغه شکل په هاوايي کي عملاً موجود وو، که پولينيشيا ته ورغلي ديندار مبلغين (هغسي لکه په امريکا کي پخواني هسپانوي زاهدان) دې ته مستعد وای، چې په دغو غيرعيسوي روابطو (پونالواني جنسي روابطو) کي د «بدکارۍ[۷]» له احساسه پرته نور حقايق هم درک کړي، نو دغه شکل به په گرده پولينيشيا کي په ثبوت رسېدلی وای؛ هغه څه چې قيصر يې د بربريت د منځنۍ مرحلې د برتانويانو په باب کي وايي، چې «د لسو او دوولسو کسانو په گډه يې مشترکي ماينې درلودې

---

۷ - په دې کي شک نه سته، چې د بې توپيره جنسي معاملاتو نخښې، چې د باخوفين په اصطلاح يې غيرمشروع حمل (Sumpfzeugung) بولي او عقيده لري، چې کشف يې هم ده کړی دی، د جمعيتي ازدواج ځرک په لاس را کوي. «که باخوفين دغه پونالواني ازدواجونه نامشروع گڼي، نو د هغي لرغوني زمانې يو سړی به هم دغه شاني د اوس وختو هغه ازدواجونه، چې د پلار د خوا او يا د مور د خوا د نژدې او ليري تربرونو او ترلي‌گانو په منځ کي واقع کيږي، په دې دليل ناروا او د محرماتو سره جماع وگڼي، چې دا د سکه ورونو او خويندو تر منځ ازدواجونه دي.» (مارکس)

او په دې اشتراکي حوزه کي اکثره ورونه وه له ورونو سره او مور و پلار وه له خپلو اولادو سره» د جمعيتي ازدواج په شکل ډېر ښه تفسير کېدلای سي. بربري مندي د پاخه عمر لس يا دوولس زامن نه سي درلودلای، چي دوی وکړای سي په ګډه مشترکي ماينې ولري، خو د صلبي قرابت امريکايي سيسټم، چي د پونالوان کورنۍ سره سر خوري، ډېر ورونه تهيه کوي، ځکه د دې سيسټم په اساس د سړي نژدې او ليري تربرونه ټوله د ده ورونه دي. خو د قيصر دا خبره بيا، چي «مور و پلار وه له خپلو اولادو سره» ښايي د ده د يوې غلطفهمۍ نتيجه وي. لاکن سره له دې دا سيسټم په مطلق ډول د دې خبري موجوديت نه منفي کوي، چي پلار او زوی يا مور او لور دي په يوه اشتراکي جمعيت کي سره را سي. اما دا خبره بيا منفي کوي، چي پلار او لور يا مور او زوی دي د يوه جمعيت ازدواجي غړي سي. همدا راز د جمعيتي ازدواج دغه يا دې ته ورته يو شکل د هغو بيانو سره په آسانه سمون خوري، چي هيروډوټس (Herodotus) او نورو پخوانيو ليکوالو د وحشي او بربري اولسونو تر منځ د ماينو د اشتراکيت په باره کي کړي دي. دغه خبري همدا رنګه د هغه بيان په باب صادقيږي، چي واټسن (Watson) او کي (Kaye) په خپل کتاب کي، چي «د هند خلګ» نوميږي، د اوډ (Oudh) (د ګنګا شمال) د ټيکورانو (Tikurs) په باره کي کړي دي او وايي:

«دوی تقريباً بې‌له فرقه او امتيازه په غټو جمعيتونو کي (په جنسي معنی ګډ) ژوند کوي او کله چي په دوی کي کوم دوه نفره يو له بله سره واده ګڼل کيږي، نو داسي ارتباط يې تش په نامه وي.»

په زياترو مواردو کي خبره داسي معلوميږي، چي د بهير تشکيل سيده له پونالوان کورنۍ څخه نشئت کړی دی، خو په دې کي شک نه سته، چي د ازدواجي طبقو استراليايي سيستم همدا رنګه د بهير مبداء تهيه کولای سوای[^8]. د استراليا وګړي بهيرونه لري، خو تر اوسه لا پونالوان کورنۍ نه پکښې ليدل کيږي، په دوی کي د جمعيتي ازدواج يو ناقص او زيږ شکل موندل کيږي.

د جمعيتي کورنۍ په ګردو شکالو کي دا نه ده معلومه، چي د کوچني پلار څوک دی، خو دا بيا پکښې معلومه ده، چي د کوچني مور څوک ده. که څه هم دا د کوچني مور د ګډې کورنۍ ټوله اولادونه خپل اولاد بولي او د همدې په نسبت د مور وظايف په غاړه دي، خو سره له دې خپل سکه اولاد له نورو څخه پېژني. نو له دې څخه دا څرګنده ده، چي هر چيري چي جمعيتي ازدواج موجود وي، هلته د نسب ليکه صرف د مور له خوا څخه تعقيب کېدلای سي او نو هم ځکه يوازي ښځنۍ شجره چليږي. ربښتيا هم دغه خبره (ښځنۍ شجره) د ټولو وحشي اولسونو او هم هغو خلګو په منځ کي سته، چي د بربريت له کښتنۍ مرحلې سره اړه لري او دا د باخوفين دوهم ستر شهکار وو، چي وار د واره يې دغه حقيقت کشف کړ. باخوفين د نسبي شجرې دغه سلسله چي خاص د مور له خوا را نيول کيږي او هغه ميراثي روابط، چي د زمانې په دوران کي له دغي سلسلې څخه را پيدا سوي دي،

[^8]: ۸ - دلته او تر دې پسې د کتاب ليکونکی د استراليا د اصلي خلګو د غټو ازدواجي جمعيتونو په باره کي ږغيږي. –ت.هـ.

د مورني حق په نامه يې بولي. زه دغه نوم د اختصار په خاطر پر دغه حال پرېږدم، که څه هم دا نوم خو چنداني موزون نه دی، ځکه د ټولني د انکشاف په دغه مرحله کي لا داسي شی نه سته، چي په قانوني معنی د حق اطلاق ور باندي وسي.

اوس که موږ د پونالوان کورنۍ له هغو دوو مثالي جمعیتونو څخه یو را واخلو، مثلاً هغه جمعیت را واخلو، چي له یو شمېر سکه او اجدادي خویندو څخه جوړیږي (اجدادي خویندي، یعني هغه چي په لومړي، دوهم او یا ډېر لیري پښت کي د سکه خویندو اولاده وي) او په دې جمعیت کي د دوی کوچنیان او همدا رنګه د مور له خوا د دوی سکه او اجدادي وروڼه (چي زموږ د قیاس مطابق د دغو خویندو مړونه نه سي کېدلای) هم شمولیت لري، نو موږ په واقعي ډول د وګړو هغه کړۍ په لاس راوړو، چي په را وروسته کي د بهیر د موسسې د ابتدایي شکل غړي معلومیږي. دوی ټوله په سر کي یوه انا لري، چي د هغې ښځني اولادونه (په دې نسبت چي نسب يې له دې څخه را نیول کیږي) پښت پر پښت سره خویندي دي. د دغو خویندو مړونه نو البته د دوی وروڼه نه سي کېدلای (یعني هغه څوک نه دي، چي د سر له انا څخه را پیدا سوي وي) او له همدې جهته نو د خویندو د صلبي قریبانو په جمعیت، یعني کانسنګویني ګروپ پوري، چي په وروسته کي بهیر ځني جوړیږي، هم اړه نه لري. خو د دوی اولاد بیا په دغه جمعیت پوري مربوط دی، ځکه نسب یوازي د مور له خوا څخه معتبر دی، ولي چي یوازي له همدې پلوه یقیني بڼه لري. کله چي د ټولو وروڼو او خویندو تر منځ (آن د

هغو اجدادي ورونو او خویندو په شمول، چي د مور په خوا کي ښځي ليري انايي رګي لري) يو پلا دا د جنسي تعلقاتو ممانعت قايميږي، نو دا پورتنی جمعيت په بهير اوړي، يعني د ښځنۍ شجرې په اساس د ګډي ويني د قريبانو د يوې ښځي محدودي کړۍ په شان ځان تشکيلوي، چي هغه قريبان خپل تر منځ يو له بله اجازه نه لري، چي ازدواج وکړي. سر له اوسه نو دا بهير د نورو اجتماعي او مذهبي غوندي مشترکو موسساتو په مرسته په زياتېدونکې توګه ځان ټينګوي او د همدغي قبيلې له نورو بهيرونو څخه ځان را بېلوي. وروسته به په دې باب کي په زيات تفصيل سره وږغيږو، خو څه رنګه چي موږ دا خبره وينو، چي بهير نه يوازي د استلزام په صورت، بلکي حتی په طبيعي ډول له پونالوان کورنۍ څخه را وتلی دی، نو ځکه تقريباً په يقيني توګه د دې فرضيې دپاره اساس موجود دی، چي د کورنۍ دغه شکل د هغو ټولو اولسونو تر منځ پخوا وجود درلودلی دی، چي د بهير تشکيلاتو څرک يې ايستل کېدلای سي؛ يعني تقريباً د ټولو بربري او مدني اولسونو تر منځ يې وجود پيدا کړی دی.

په هغه وخت کي چي مورګان خپل کتاب وليکی، د جمعيتي ازدواج په باره کي لا زموږ پوهنه ډېره محدوده وه. يوازي د استرالیا د خلګو تر منځ، چي هغو د طبقاتو په ډول تشکيلات درلوده، د مروجو جمعيتي ازدواجونو په باره کي يو لږ څه خبري معلومي وې او تر دې اضافه نور نو د مورګان هغه معلومات وه، چي د هاوايي د پونالوان کورنۍ په باب کي د ده لاس ته رسېدلي وه او په ۱۸۷۱م. کال کي يې خپاره کړي وه. د پونالوان کورنۍ نو

له يوې خوا د صلبي قرابت د هغه سيستم سره پوره سر خوري، چې د امريکايي سور پوستانو تر منځ جال وو او دا هغه سيستم وو، چې د مورګان ګرده تحقيقات له هغه ځخه را شروع کيږي او له بلې خوا يې هغه مبداء روښانه کړ، چې د مورني حق پر اساس د بهير د تشکيل دپاره لازمه وه. بالآخره يې د انکشاف يوه داسي مرحله هم وښودله، چې د استراليايي طبقاتو تر مرحلې ډېره لوړه ده. له دې جهته نو سړی پوهيږي، چې مورګان په څه سبب د پونالوان کورنۍ د انکشاف يوه داسي مرحله ګڼله، چې ارو مرو بايد تر جوړه‌يي کورنۍ دمخه وي او هم يې دا فرضيه منځ ته راوړله، چې دې کورنۍ بايد په پخوانيو زمانو کي په عام ډول وجود درلودلی وي. په را وروسته کي چې موږ ته د جمعيتي ازدواج يو لړ نور اشکال هم را معلوم سوه، نو اوس موږ پوهيږو، چې مورګان په دې باره کي خورا ډېر ليري تللی دی، خو سره له دې هم مورګان نېکمرغه وو، چې د خپلي پونالواني کورنۍ په سلسله کي د جمعيتي ازدواج پر هغه عالي او کلاسيک شکل باندي پېښ سي، چې له هغه ځخه يوې لوړي مرحلې ته انتقال په ډېره اسانۍ تشريح کېدلای سي.

موږ انګرېزي مبلغ لاريمر فيسون (Lorimer Fison) مننه کوو، چې د جمعيتي ازدواج په باره کي يې زموږ پوهنه ډېره غني کړه، ځکه د کورنۍ دغه شکل يې د هغې په کلاسيک کور استراليا کي ډېر کلونه تر مطالعې لاندي وو. ده د جنوبي استراليا د مونټ ګمبير (Mount Gambier) په علاقه کي د استراليايي زنګيانو نيګرويانو – Negroes) تر منځ د انکشاف

کښتنۍ مرحله پیدا کړه. دلته درسته قبیله پر دوو غټو طبقاتو وېشلې ده، چې یوه طبقه یې کروکي (Kroki) او بله یې کومیته (Kumite) ده. د هري طبقې په خپل منځ کي دننه جنسي معاملات سخت منعه دي، خو د یوې طبقې هر سړی بیا د هغې بلي طبقې د هري ښځې فطري مېړه دی او دا یې هم فطري ماینه ګڼل کېږي. په دې صورت نو ځانګړي افراد نه، بلکي درست جمعیتونه یو په بل واده دي، یعني یوه طبقه د بلي طبقې سره ازدواجي ارتباط لري. دا خبره هم باید وسي، چې نور نو دلته ګردسره د سن د فرق یا د ویني د کوم خاص اړیکي په اساس څه بندیزونه نه سته، بلکي بندیز صرف دا دی، چې د هري طبقې افراد به په خپله طبقه کي دننه د چا سره جنسي روابط نه قایموي. د کومیته د طبقې هره ښځه په مشروع صورت د یو کروکي ماینه ده، خو څنګه چې له کومیته ښځې څخه د ده لور د مورني حق په اساس همدارنګه د کومیته له طبقې څخه ده، نو ځکه دا د هر کروکي؛ د دې د پلار په شمول، فطري ماینه ګڼل کېږي. په هر حال، دا طبقاتي تشکیل څونه چې موږ پوهېږو، د پلار او اولاد تر منځ پر ازدواجي رابطه باندي بندیز نه ایږدي، نو ځکه دا تشکیل یا په داسي زمانه کي منځ ته راغلی دی، چې د هغو مبهمو عواملو باوجود (چې په خپلوانو کي دننه یې پر توالد او تناسل بندیزونه ایښوول) د مور و پلار او اولاد تر منځ جنسي معاملات لا ډېر منفور نه ګڼل کېدل. په دې صورت کي به نو دا طبقاتي سیستم مستقیماً د ایله جنسي معاملاتو له یوه حالته څخه نشئت را کړی وو یا خو به داسي وي، چې کله دا طبقې منځ ته راتلې، نو هغه وخت د مور

و پلار او اولاد تر منځ جنسي معاملات له وختي څخه لا د رسم او رواج په سلسله منع سوي وه. په دې صورت کي نو د همدغه تشکيل موجوده حالت پر دې ټکي دلالت کوي، چي تر ده پخوا کانسنگويني کورنۍ تېره سوې ده او تر هغې را په هيسته همدا تشکيل لومړی پرمختگ گڼل کيږي. غالبه دا ده، چي وروستۍ فرضيه به صحت لري. تر کومه ځايه چي زه معلومات لرم، په استراليا کي د مور و پلار او اولاد تر منځ د زوجي روابطو په باب څه نه دي ويل سوي او دباندي‌واده (ايکزوگامي) وروستنۍ شکل؛ يعني د مورني حق په اساس د بهير تشکيل هم اصولاً دا ايجابوي، چي پر دغه راز روابطو، چي د بهير تر تاسيس دمخه يې وجود درلودی، بنديزونه ولگوي.

پرته د جنوبي استراليا د مونټ گمبير له علاقې څخه، دغه دوې طبقې‌والا سيسټم همدا راز د ختيځ خوا ته، د دارلينگ د رود په غاړو کي او د شمال شرق د کوينسلند (Queensland) په سيمو کي هم سته او په همدې دليل نو يو عام سيسټم گڼل کيږي. دغه سيسټم يوازي د ورونو او خويندو تر منځ او هم د هغو ورونو د اولادو تر منځ، چي له يوې موره وي او هم د هغو خويندو د اولادو تر منځ، چي په مور کي شريکي وي، د ازدواج ممانعت کوي، ځکه دوی ټوله له يوې طبقې سره اړه لري، اما دا بيا روا ده، چي د ورور او خور اولادونه واده سره وکړي.

په خپلوانو کي دننه د تناسل د مخنيوي و خوا ته يو بل گام د نيو سوت ويلس (New South Wales) د دارلينگ د رود په غاړو کي د کاميلاروي (Kamilaroi) د قبيلې تر منځ پيدا کيږي، هلته دا دوې لومړنۍ طبقې و

څلورو ته وېشل سوي دي او له دې څلورو طبقو څخه هره يوه د هغې بلې ټاکلي طبقې سره د ازدواج په حال کي ګډل کيږي. لومړۍ دوې طبقې يو له بله سره فطري جوړي دي او له اولاده څخه يې په دې اساس، چي آيا مور يې په لومړۍ طبقه اړه لري او که په دوهمه، د دريمي يا څلورمي طبقې غړي جوړيږي. دريمه او څلورمه طبقه چي همدا شان خپل تر منځ ازدواجي حالت لري، اولادونه يې بيا بيرته په لومړۍ او دوهمه طبقه اړه پيدا کوي. په دې ترتيب نو يو پښت چي هر کله په لومړۍ او دوهمه طبقه اړه لري، تر هغه پسې پښت په دريمه او څلورمه طبقه اړه لري او تر هغه پسې پښت بيا بيرته په لومړۍ او دوهمه طبقه اړه لري. له دې سيستمه سره سم نو د مور د خوا د وروڼو او خويندو اولادونه يو د بله سره مېړه او ماينه کېدلای نه سي، خو البته د دوی لمسيان او لمسياني بيا سره کېدلای سي. کله چي له دې عجيب، پرله‌پېچلي او مرکب سيستم سره وروسته د مورني حق په اساس بهيرونه هم پيوند سوه، نو يې پيچېدګي نوره هم پسي وخېږو. لنډه دا چي په خپلوانو کي دننه پر تناسل باندي د بنديز خوا ته هڅه موږ وينو، چي ډېر ځله ځان ښرګندوي، اما په داسي توګه، لکه يو کورکورانه او خودبخوده هڅه چي د هدف په نسبت هيڅ ښکاره شعوري احساس نه لري.

جمعيتي ازدواج چي په استراليا کي لا طبقاتي شکل لري، يعني داسي ازدواج دی، چي د هغه په ساحه کي د نرو درسته طبقه، چي اکثره پر ګرده قاره پاشلي اوسي، د ښځو د طبقې سره، چي کټ مټ همدغه شاني تيته ده، يو له بله ازواجي اړيکي لري. که دا جمعيتي ازدواج له ډېر نژدې څخه

وکتل سي، نو دونه منفور نه ایسي، لکه څونه چي د یو متعصب په هغه دماغ کي یې تصور کیږي، چي د رنديخاني په کرکجنو خیالاتو لړلي دي. ډېر کلونه تېر سول، خو جمعیتي ازدواج ته حتی د یو مظنون شي په سترگه نه کتل کېده او دا خبره رښتیا هم بالکل په دې تازه وختو کي منځ ته راغلې ده، چي د جمعیتي ازدواج پر موجودیت باندي د انکار شخړي را شروع سوي دي. جمعیتي ازدواج سرسري کتونکي ته د سست وحدتي ازدواج یو ډول ور مالومیږي او ځای ځای بیا هغسي یو پولیگامي ورته ایسي، چي کله ناکل بېوفایي هم ور سره ملگرې وي. خو د دې دپاره چي چا ته حقیقت معلوم سي، نو باید لکه فیسون او هوویټ (Howitt) غوندي ډېر کلونه د هغه قانون د کشفولو په لار کي زیار وکاږي، چي د ازدواج په چوکاټ کي د دغو مناسباتو په عمل کي هغه څه ته ورته یو شی ووینی، چي د ده په خپل هیواد کي موجود دی، یعني قانون او دا هغه قانون دی، چي له ده سره سم یو اسټرالیایي زنگي (نیگرو) چي حتی له خپله کوره په زرو میله لیري د یو بېگانه په حیث د هغو خلگو په منځ کي، چي دی یې په اصلي ژبه هم نه پوهیږي او د دې سره سره ډېر ځله له یوې کړدۍ څخه بلي ته او له یوې قبیلې څخه بلي قبیلې ته تلونکي وي، کولای سي چي د ځان دپاره ښځي پیدا کړي، چي بې د بد کارۍ له احساسه او بې له کومه مقاومته ده ته ځان وسپاري او د همدې قانون مطابق کوم څوک چي ډېري ماینې لري، له دوی څخه یوه د شپې دپاره خپل مېلمه ته وړاندي کوي. هغه څه چي اروپایي ته صرف بداخلاقي او بې قانوني ایسي، هلته ټینگ قانون سته، چي په عملي

توګه چليږي، ځکه دا ښځې د بېګانه سړي په ازدواجي طبقه اړه لري او نو په همدې وجه د ده فطري ماينې دي او هم دا اخلاقي قانون، چې دوی يو د بل دپاره ټاکي، د دې خبري ممانعت کوي، چې تر مربوطو ازدواجي طبقو دباندې جنسي معاملات اجراء سي او که څوک خلاف رفتاري وکړي، نو د تشهير ايداد ور کول کيږي. حتی کوم ځای چې ښځه وتښتول سي او زياتره دا تښتوني هم پيښيږي او په ځينو ځايونو کې لا دود دی، نو د ازدواجي طبقو قانون په ټينګه سره پالل کيږي.

د ښځو د تښتولو له مخې څخه دا څرګ ايستل کيږي، چې لږ تر لږه د جوړه‌يي ازواج په شکل کې لا فردي ازدواج ته د انتقال هڅه په وجود راغلې وه. تر هغه وروسته چې يو ځوان سړي به د خپلو ملګرو په مرسته نجلۍ وتښتوله يا به ور سره وتښتېدله، نو دوی ټولو به يو په بل پسې له دې سره جنسي روابط قائموله. خو دا به نو د هغه ځوان ماينه ګڼل کېده، چا چې به يې د تېښتې بند و بست وار د واره کړی وو، خو که به بيا دا تښتول سوې ښځه له ده څخه ولاړه او د بل يوه په لاس به کښېوته، نو دا د وروستني سړي ماينه ګڼل کېده او د لومړي سړي امتياز له منځه تلی. په دې ډول نو د جمعيتي ازدواج په سيستم کې، چې په عمومي توګه يې خپل موجوديت ته ادامه ور کوله، له هغه سره اړخ پر اړخ او هم د هغه په ساحه کې دننه انفرادي روابط، د اوږدې يا لنډې مودې جوړه‌توب او همدا رنګه پوليګامي منځ ته راتله او ټينګېدله. څو چې نو جمعيتي ازدواج هم ورو ورو له منځه تلی او نابابه کېدی. خو دلته اوس يوازنی سوال دا دی، چې آيا د اروپايي نفوذ په

نتیجه کي وار د واره جمعیتي ازدواج له منځه ولاړی او که په خپله هغه استرالیایي زنګیان، چي دا ازدواج پکښي جال وو.

په هر حال، د بسته بسته طبقاتو ازدواج لکه په استرالیا کي چي رواج لري، د جمعیتي ازدواج یو ښخي کښته او ابتایي شکل دی، خو پونالوان کورنۍ بیا تر کومه ځایه چي موږ پوهیږو، د جمعیتي ازدواج د انکشاف ښخي پورتنۍ مرحله ده. معلومیږي، چي دا د طبقاتو ازدواج د جمعیتي ازدواج هغه شکل وي، چي د کوچي وحشیانو د اجتماعي پرمختګ له معیار سره مطابقت کوي، خو دا وروستنی شکل (یعني پونالوان کورنۍ) دا ایجابوي، چي د اشتراکي جمعیتونو دپاره نسبتاً ثابت هستوګنځایونه موجود وي او مستقیماً له همدې شکله څخه د انکشاف وروستنۍ او پورتنۍ مرحله را پیدا کیږي. ځیني مابیني مرحلې په یقیني توګه د دغو دوو شکلو تر منځ پیدا کېدلای سي. په دې باب کي د څېړني او پلټني ساحه همدا اوس پیل سوې ده.

۳- دریمه جوړه‌یي کورنۍ ده. د اوږدې یا لنډې مودې دپاره د جوړه پاته کېدو رواج د جمعیتي ازدواج په وخت کي یا حتی تر هغه دمخه وجود پیدا کړی دی. د یو شمېر ماندینو په جمله کي به سړي یوه اصلي ماندینه درلوده (نه په دې معنی چي د هغه ګرانه ماینه وبلل سي) او دی به د هغې د نورو مړونو په جمله کي اصلي مېړه ګڼل کېدی. دغه وضعیت د مبلغینو په ماغزو کي خورا زیات اختلال پېښ کړی دی، ځکه دوی جمعیتي ازدواج ته کله د ماینو د ایله جمعیت په حیث او کله د ایله زناکارۍ په سترګه ورته ګوري.

کله چې بهیر انکشاف کاوه او د هغو وروښو او خویندو د طبقاتو شمېر زیاتېدی، چې اوس یې یو له بله سره ازدواج نه سوای کولای، نو لزوما د جوړه‌توب دغه دود نور هم خورا ډېر پسي ټینګېدی. بهیر چې د ګډي ویني د قریبانو تر منځ د ازدواج مخه ونیوله، نو دغسي خبري نوري هم مخي ته ولاړې، ځکه نو د ایروکوایسیانو او د بربریت د کښتنۍ مرحلې د زیاترو نورو سور پوستو قبیلو تر منځ موږ دا خبره وینو، چې په دوی کي د ګردو قریبانو تر منځ، چې د دوی سیستم یې ټاکي او څو سوه ډولو ته رسیږي، یو د بل سره ازدواج ممنوع دی. د ازدواجي ممانعتونو پېچومي چې زیاتېده، نو د جمعیتي ازدواجو امکانات یې هم نور او نور له منځه ایستله، څو چې جوړه‌یي کورنۍ یې ځای ونیوی. په دې مرحله کي یو سړي له یوې ښځي سره په داسي ډول ژوند کوئ، چې د نر له خوا پولیګامي او کله کله بې‌وفایي هم د ده د امتیازاتو په توګه ور سره پاتیږي. که څه هم پولیګامي د اقتصادي دلایلو په نسبت خورا لږ عملي کیږي. په همدې دوران کي تر څو چې دوی سره جوړه وي، نو د جوړه‌توب په موده کي ټینګه پاکي له مېرمني څخه غوښتل کیږي او که د دې له خوا زناکاري وسي، ډېره سخته سزا ور کول کیږي. خو د ازدواج رابطه په آسانۍ سره له دواړو خواوو څخه خلاصېدلای سي او اولاد د پخوا په شان بالکل په مور اړه لري.

څه رنګه چې د ګډي ویني د قریبانو تر منځ د ازدواج ممانعت هر کله پسي پراخېدی، نو په دې سلسله کي د طبیعي انتخاب قانون همدا رنګه پرله پسې خپل اثرات اچول. د مورګان د خولې خبره ده، چې وایي:

«د بهیرونو د هغو غړیو تر منځ ازدواج، چې د وینو رګی (اړیکي) یې نه سره درلودی، د دې موجب سو، چې په جسماني او فکري لحاظ یو ډېر غښتلی نسل منځ ته راولي. کله چې دوې پر مخ تلونکي قبیلې سره ګډې سي او یو اولس ځني جوړ سي، نو د سر نوې کوپړه او دماغ د دواړو قبیلو د استعدادونو او قابلیتونو له اندازې سره برابر لویوالی او غټوالی کوي».

په دې ډول بایده وه، هغه قبیلې چې د بهیرونو په اساس تشکیل سوي وې، پر بېخي بیرته پاته قبیلو مسلطي سي او یا یې په زور وګمارلې، چې د دوی لار واخلي.

په دې اساس نو په ماقبل التاریخي زمانو کي د کورنۍ د تکامل جریان داسي وو، چې هغه لویه کړۍ چې وار د واره یې ټوله قبیله په غېږ کي نیولې وه او په هغې کي دننه د نرو او ښځو تر منځ د ازدواج جمعیتي حالت جال وو، پرله پسې په دایمي توګه را کوچنۍ کېدله؛ په دې سبب چې د قریبانو تر منځ ازدواجي ممانعت پرله پسې جریان درلودی او دا ممانعت چې لومړی د نژدې او بیا وروسته د لیري خپلوانو او په آخر کي حتی د هغو تر منځ لا راغی، چې صرف د خېښۍ په سلسله یې قرابت سره درلودی، نو په پای کي د جمعیتي ازدواج هر قسم په عملي توګه ناممکن سو. په آخر کي نو یوازي هغه جوړه پاته سوه، چې په دا اوس ګړۍ کي یې لا هم اتحاد ټینګ نه دی او دا هغه مالیکیول دی، چې د ده د انحلاله سره ازدواج په خپله پر یوه مخ پای ته رسیږي. حتی لا له دغه خبري ځخه څرګندیږي، چې په اوسني مفهوم سره انفرادي جنسي میني د وحدتي ازدواج له پیدایښت سره څومره

لړه مشترکه وجه درلوده. د انکشاف د دې مرحلې د ګردو خلګو عمل چې لیدل کیږي، نو دا خبره نوره هم اثبات ته رسوي. څه رنګه چې د کورنۍ په دمخنیو اشکالو کې نارینه‌وو د ښځو کمی نه درلودی، بلکې لا پر ډېرې وې، خو اوس بیا ښځې پر لږ سوې او تلاښ پسې کیږي. همدا وجه ده، چې د جوړه‌یي ازدواج له پیدایښت سره سم د ښځو تښتول او رانیول شروع کیږي، یعنې په کورنۍ کې د هغه راغلې تحول، چې په زیاتره ژور تل کې یې خپلې ریښې ځغلولې وې، خپرې سوې بېلګې دي، که څه هم پرته له دې بل شی نه ګڼل کیږي. دا بېلګې چې تش د ښځو د لاس ته راوړو طریقې دي، خو سکاټلنډې کتابې ملا ماکلینن یې د دې سره سره ماهیت ور اړولی دی او د کورنۍ مخصوص ډولونه یې ګڼې، چې «د تښتولو په وسیله ازدواج» او «د رانیولو په وسیله ازدواج» نومونه یې پر ایښې دي. علاوه پر دې د امریکایي سور پوستانو او همدا رنګه (د انکشاف د دې مرحلې) د نورو قبیلو تر منځ د ازدواج سرښته په خپله د طرفینو (نر او ښځې) کار نه دی، بلکې زیاتره یې لا خوله هم نه پوښتل کیږي. دا سرښته یې په خپلو مېندو پورې اړه لري. په دې توګه نو اکثره دوه بېځې بېګانه یو له بله سره نامزد کیږي او د کار نتیجه هغه وخت ور معلومیږي، چې د واده ورځ یې را نژدې سي. تر واده دمخه د زوم له خوا سوغاتونه د ناوې بهیرې خپلوانو ته (چې یوازې د دې د مور د خوا خپلوان دي، ځکه پلار او یا د هغه د خوا خپلوان پکښې شامل نه دي) ور لیږل کیږي او دا سوغاتونه د ور کړه سوې نجلۍ د رانیوونکو سوغاتونو په حیث کار کوي. دا ازدواج کېدلای سي، چې د هرې خوا په خوښه منحل

سي، خو د دې باوجود په ډېرو قبيلو کې مثلاً د ايروکوايسيانو تر منځ ورو ورو دې عمومي احساس وده وکړه، چې دغسي طلاق ته په ښه سترگه و نه گوري. کله چې د مېړه او ماينې په منځ کې شخړه پيدا سي، نو د دواړو خواوو بهيري خپلوان په دې خبره کې مداخله کوي او زيار باسي، چې روغه جوړه يې وکړي. خلاصېده صرف هغه وخت منځ ته را ځي، چې دغسي تلاښونه ناکامه سي او په دې صورت کې نو اولاد د موره سره پاتيږي او هره خوا آزاده ده، چې بيا واده وکړي.

جوړه‌يي کورنۍ چې په خپله واک نه درلودی او نه هم دونه ټينگه وه، چې يو نوی مستقل او ځان ته کهول ايجاب کړي او يا يې حتی آرزو منځ ته راولي، نو يې ځکه هغه اشتراکي کهول په هيڅ توگه له منځه وا نه خيست، چې له پخوانيو زمانو څخه را رسېدلی وو. خو اشتراکي کهول دا خبره ايجابوله، چې ښځو په کور کې لوړ حيثيت درلودی او خاص په دې سبب، چې په دغه کهول کې يوازې واقعي مور پکښې پېژندل کېدلای سوه او واقعي پلار په يقين سره پکښې معلوم نه وو، نو دا دلالت هم ځني را وځي، چې ښځو (يعني مېندو ته) هلته په درنه سترگه کتل کېدله. دا نظر چې گويا د ټولنې د پرمختگ په سر کې ښځه د سړي مېنځه وه، يو له هغو پوچو تصوراتو څخه دی، چې د اتلسمې پېړۍ د روشنفکرۍ (Enlightenment) له دورې څخه موږ ته را پاته سوي دي. د بربريت د کښتنۍ، منځنۍ او يو څه لا هم حتی د پورتنۍ مرحلې د ټولو وحشيانو او ټولو بربريانو په منځ کې ښځې نه يوازې د يو آزاد حيثيت مېرمنې وې، بلکې يو لوړ او درونډ مقام يې

درلودی. ارتور رایټ (Arthur Wright) چي کلونه د سینیکا د قبیلې د ایروکوایسیانو په منځ کي مبلغ وو، دا خبره تصدیقوي، چي د جوړه‌یي کورنۍ په حالت کي لا هم ښځي یو عالي مقام درلودی:

«تر کومه ځایه چي خبره د دوی په کورني سیستم اړه لري، نو په هغو وختونو کي کله چي دوی لا په لرغونو اوږدو کورونو کي مېشت سوي وه (دا هغه اشتراکي کهولونه وه، چي یو شمېر کورنۍ یې احاطه کولې)، هلته به همېشه یوې طایفې (بهیر) سلطه درلوده او ښځو یې له نورو طایفو څخه مېړونه کول. په کور کي عموماً ښځي حکومت کاوه، گدامونه یې مشترک وه، خو د هغه بدبخته مېړه او یا عاشق به نو ورځ گرځېدلې وه، چي د آذوقې د خپلي ونډې په برابرولو کي به ډېر له پښو پاته وو. دې ته نو نه کتل کېده، چي دی په کور کي څونه اولاد لري او یا څومره مال لري، خو په هر وخت کي دا کېدلای سوای، چي ده ته امر وسي، چي خپلي توري (شړۍ او پوست) په شا واړوي او تر دغسي اوامرو وروسته یې حتی د مقاومت د هڅي جرئت هم نه سو کولای. اوس نو کور د ده دپاره سر په دنیا دوزخ وو او دی نو مجبور وو، چي بیرته خپلي طایفې (بهیر) ته ولاړ سي یا خو به لکه زیاتره چي هم دغسي کېده، بل کور ته تلی او هلته به یې د یوې نوي مېړوښي د ارتباط سلسله قایموله. د دې طایفو (بهیرونو) تر منځ لکه بل هر ځای ښځو ستر اقتدار درلودی. کله چي به لازمه سوه، نو ښځو بې له ځنډه داسي کوله، چي سرلښکر له کاره ایسته کړي یا د هغې زمانې په اصطلاح ښکران یې له سره وکاږي او د عادي لښکریانو درجې ته یې راولي.»

اشتراکي کهول چې په هغه کې زياترو يا حتی ټولو ښځو په يوه بهير اړه درلوده، اما نارينه يې بيا له نورو بېلابيلو بهيرونو څخه وه؛ د ښځو د هغه تسلط او اقتدار واقعي بنسټ وو، چې عموماً يې په ابتدايي زمانو کې رواج درلودی. د همدې خبري کشف د باخوفين هغه دريم غټ خدمت دی، چې سر ته يې ورساوه. علاوه پر دې زه بايد دا خبره زياته کړم، چې د سياحانو او مبلغينو هغه بيانونه، چې د وحشيانو او بربريانو د ښځو په باب کې يې کړي دي او وايي چې خورا سخت کارونه يې د ښځو پر غاړه پراته وه، دا بيانونه په هيڅ توګه له پورتنيو خبرو سره تناقض نه پيدا کوي. هغه عوامل چې د دوو جنسو تر منځ کار تقسيموي، بالکل له هغو عواملو څخه فرق لري، چې په ټولنه کې د ښځو مقام ټاکي. هغه وګړي چې ښځې يې تر هغې اندازې ډېر سخت کار کوي، چې موږ يې ورته مناسب بولو، زياتره نسبت تر موږ اروپايانو ښځو ته په حقيقي احترام قايل دي. د مدنيت د دورې مېرمن، چې کاذب احترام احاطه کړې ده او له هر ډول واقعي کار څخه بېګانه ده، په اجتماعي لحاظ د بربريت د هغې خواريکښې ښځې تر مقام بېحده کښتنی مقام اشغالوي، چې د خپلو وګړو په مخ کې د يوې واقعي مېرمنې (Lady, Frowa, Frau) په سترګه ورته کتل کېده او دا يې د خپل اجتماعي موقف طبيعي نتيجه هم وه.

دا خبره؛ چې په امريکا کې د جمعيتي ازدواج ځای له يوه مخه جوړه‌يي کورنۍ ونيوی او يا يې و نه نيوی، بايد نن ورځ د شمال غربي او په تېره بيا د جنوبي امريکا د وګړو، چې دا اوس لا هم د وحشت په پورتنۍ مرحلې کې

دي، د هغو جنسي اړیکو په باب د دقیقي پلټني له لاري فیصله سي، چي د دوی په منځ کي رواج لري. د دوی د جنسي آزادۍ په باره کي داسي ډېري خبري سته، چي د هغو په استناد سړی دا نه سي ویلای، چي زوړ جمعیتي ازدواج به پر یوه مخ پکښي ختم سوی وي. په هر صورت، خبره داسي ده، چي د جمعیتي ازدواج ټوله نخښي لا تر اوسه نه دي ورکي سوي. د شمالي امریکا لږ تر لږه د څلوېښتو قبیلو په منځ کي دا جال دی، چي سړی په یوه کورنۍ کي مشره خور وغواړي، نو د هغې د ګردو خویندو په نسبت، چي د ښځي ځای ته رسیږي، د زوجیت حق پیدا کوي. دا جال د هغه جریان له بقایاوو څخه دی، چي د ټولو خویندو د بسته جمعیت مړونه به مشترک وه. بینکروفټ بیان کوي، چي د کالیفورنیا د شبه جزیرې قبیلې (چي د وحشت په پورتنۍ مرحله کي دي) یو ډول خاص اخترونه لري، چي په هغو کي یو شمېر قبیلې د ایله او بېامتیازه جنسي معاملې د مقصد دپاره سره را ټولیږي. ښکاره ده، چي دغه قبیلې نو هغه بهیرونه دي، چي د دوی دپاره دغه اخترونه د هغو زمانو د هېرو خاطراتو یاد تازه کوي، چي د یوه بهیر د ښځو مشترک مړونه به د هغه بل بهیر نارینه وه او همدا شان بالعکس. کټ مټ همدغه جال لا دا اوس په استرالیا کي باب دی. د دوی د یو شمېر زیاتو وګړو تر منځ دا دود سته، چي سپین ږیري یې، چي سرخیلان او پیران دي، د خپلو مقاصدو دپاره د ماینو له اشتراکیت څخه استفاده کوي او زیاتره ښځي یې د خپلو ځانو دپاره انحصار کړي وي. خو دوی بیا په خپل وار سره د ځینو خاصو اخترونو او غټو اولسي مېلو په اثناء کي دې خبري ته اجازه

کوي، چې پخوانۍ اشتراکي تصاحب را ژوندی سي او خپلي ماينې پريږدي، چې له زلميانو سره ساعت‌تېرې وکړي. ويسټر مارک د خپل کتاب په ۲۸ او ۲۹ مخ کي د دغسي آزادو موسمي مېلو (Saturnalian Feasts) يوه بشپړه سلسله مثالونه را وړاندي کوي، چې د هغو په اثناء کي پخوانۍ آزاده جنسي معامله د يوې لنډې مودې دپاره بيرته را ژوندۍ کيږي؛ مثلاً لکه د هند د هويانو (Hos)، سنټاليانو (Santals)، پنجايانو (Panjas) او کوتاريانو (Kotars) تر منځ او همدا رنگه د ځينو افريقايانو او نورو تر منځ. خو کافي د تعجب خبره دا ده، چې ويسټر مارک له دې مثالو څخه دا نتيجه اخلي، چې دا د جمعيتي ازدواج (هغه چې دی يې ترديد کوي) پاته نخښې نه دي، بلکي د جوړه کېدو د ټاپې، چې «د ابتدايي انسان او نورو حيواناتو تر منځ يو شان مشترکه خاصه ده، پاته علايم گڼل کيږي».

اوس موږ د باخوفين د څلورم ستر کشف په باب کي خبري کوو، چې عبارت له جمعيتي ازدواجه و جوړه‌يي ازدواج ته د انتقال هغه عام شکل دی، چې په هر ځای کي ليدل کيږي. هغه چې باخوفين يې د خدايانو له قديمو اوامرو څخه د نافرمانۍ د کفارې په حيث تعبيروي او دا هغه کفاره ده، چې ښځه د ځان دپاره د عفت حق په رانيسي. دا په حقيقت کي د هغې کفارې يو تصوفي تفسير دی، چې له دې لاري به ښځو د مړونو له هغه اشتراکيت څخه، چې د پخواني دود سره سم پر تحميل سوی وو، خپل خلاصون رانيوی او دا حق يې په لاس راوړی، چې ځان صرف يو سړي ته ور کړي. دغه کفاره نو د محدودي تسليمۍ په شکل ادا کېدله: بابلي (Babylonian) ښځو په

کال کي يو پلا د ميلټا (Mylitta) په معبد کي سړو ته ځانونه تسليموله. د منځني شرق نورو وګړو بيا خپلي نجوني تر ازدواج دمخه د څو کلونو دپاره د انايتيس (Anaitis) معبد ته لېږلې. دوی ته په کار وه، چي هلته د خپلي خوښي له کسانو سره د آزادي ميني چاري اجراء کړي او تر دې وروسته نو بيا دوی ته د واده کولو اجازه ور حاصلېدله. کټ مټ دغه راز رسومات، چي يو مذهبي رنګ يې اخيستی دی، له مديترانې (Mediterranean) څخه تر ګنګا پوري تقريباً د ټولو آسيايي وګړو تر منځ رواج لري. د زمانې په دوران کي (له جمعيتي زوجيته څخه د آزادۍ د حاصلولو دپاره) د کفارې قرباني ورو ورو سپکه سوه، لکه باخوفين چي وايي:

«هغه کفارې چي په تکرار به هر کال اجراء کېدې، اوس يې په يوه پلا اجراء کېدو سره غاړه وځي. د مېرمنو «هيټايريزم» د پېغلو په هغې عوض کيږي. دمخه به چي هيټايريزم د ازدواج په اثنا کي کېدی، اوس يوازي تر ازدواج دمخه کېدلای سي او ګردو ته بلافرقه تسليمي و څو خاصو خلګو ته په امتيازي تسليمۍ اليشيږي.» (مورنی حق، ۱۹ مخ)

دا رسومات بيا په ځينو نورو اولسونو کي مذهبي رنګ نه لري: مثلاً د لرغوني زمانې د تراقيانو (Thracians)، سيلټيانو او نورو او هم د هند د ډېرو بومي خلګو، د ملايا د وګړو، د بحر الکاهل د جزايرو اوسېدونکو او د زياتو امريکايي سور پوستانو په منځ کي حتی تر نن ورځي پوري جال داسي دی، چي نجوني يې د ازدواج تر وخته له بشپړي جنسي آزادۍ څخه مزې اخلي. دغه جال بيا خصوصاً سر تر پايه په ګرده جنوبي امريکا کي معمول دی او که يو

چا د دې لويي وچې عمق ته څه ناڅه نفوذ کړی وي، نو کولای سي چې دغه خبره تصديق کړي. د مثال په توګه اګاسيز (Agassiz) په هغه کتناب کې، چې «په برازيل کې يو سفر» (بوسټن او نيويارک، ۱۸۸٦م. کال، ۲٦٦ مخ) نوميږي، د يوې بډايي کورنۍ په باب، چې د سور پوستانو له نسله څخه ده، داسي نکل کوي: کله چې يې دی لور ته ور معرفي سو او ده د هغې په پلار پسي پوښتنه وکړه او د ده په خيال د دې نجلۍ د مور مېړه هغه څوک وو، چې د پراګوای خلاف د جګړې په جريان کې يې د يو صاحب‌منصب په توګه مهمه وظيفه اجراء کوله، نو مور يې په خندا سره په ځواب کې وويل: «nao tem pai, e lilha da fortuna- دا پلار نه لري، دا د تصادف لور ده!» «په دې توګه نو تل سور پوستاني او يا دورګه ښځې د خپلو غيرمشروعي کوچنيانو په باب ږغيږي، بې له دې څخه چې د کوم شرم يا کومي بدکارۍ احساس وکړي. دا ډول خبري يوه استثناء نه ده، په قوي احتمال سره د دې په عکس خبري استثناء ده. کوچنيان زياتره يوازي خپله مور پېژني، ځکه د دوی ټوله مراقبت او مسؤليت د هغې پر غاړه دی، خو د خپل پلار په باره کې بيا په څه نه پوهيږي او ښځې ته په زړه کې هم نه ور ګرځي، چې دا يا د هغې اولاد پر پلار باندي د کومي ذمه‌وارۍ ادعاء ولري».

هغه څه چې اوس دلته مدني سړي ته عجيب غوندي کارونه ايسي، صرف هغه اصول دي، چې د مورني حق په اساس، د جمعيتي ازدواج په دوران کې رواج لري.

د ځینو نورو وګړو تر منځ بیا دود دی، چې د زوم ملګري او خپلوان یا د واده مېلمانه په خپله د واده په موقع کې د دوی زوړ عنعنوي حق د ناوي سره پر ځای کوي او زوم ته د ټولو په پای کې نوبت ور رسیږي، مثلاً لکه په لرغونو زمانو کې په بلیاري جزیرو (Balearic Islands) کې او د افریقایي اوګیلانو (Augilas) تر منځ او حتی په اوس کې د حبشي (Abyssinia) د باریانو (Bareas) تر منځ چې دا جال موجود دی. په ځینو نورو خلګو کې بیا رواج داسي دی، چې یو کارداره سړی، یعني د قبیلې یا بهیر سرخېل، کاسیک (Casique)، جادوګر (Shaman)، ملا، شهزاده یا بل هر نوم چې ولري، د اشتراکي جمعیت نمایندهګي کوي او د ناوي سره د زفاف د شپې حق پر ځای کوي. د دغه حقیقت د نرم ښودلو دپاره د نیو-رومانتیستانو د ټولو هلو ځلو په خلاف دغه (jus primae noctis) (یعني د زفاف د شپې حق) د الاسکا د سیمي د اکثرو بومي اوسېدونکو تر منځ (لکه بینکروفټ چې یې د «بومي نژادونو» په لومړۍ برخه او ۸۱ مخ کې بیان راوړی دی) او همدا رنګه د شمالي مکسیکو د ټاهویانو (Tahus) (لکه د هم هغه کتاب په ۵۸۴ مخ کې) او نورو خلګو تر منځ له جمعیتي ازدواجه څخه د یو پاته نخښې په توګه حتی تر دې ورځې پوري دوام لري او سر تر پایه په ګرده منځنیو پېړیو کې یې لږ تر لږه په هغو هیوادو کې وجود کړی دی، چې په لومړي سر کې سیلیټیان پکښې اوسېدله او هلته یې سیده له جمعیتي ازدواجه څخه انتقال را کړی دی. د مثال دپاره د اراګون (Aragon) علاقه د یادولو وړ ده. هغه وخت چې په کاستیل (Castille) کې بزګر په هیڅ توګه مملوک (زرعي

غلام- سرف) (Serf) نه ګڼل کېدی، خو په اراګون کي ډېر ناوړه مملوکيت (سرفډم- Serfdom) رواج درلودی، څو چي په ۱۴۸٦م. کال کي د هغه فرمان په اثر پای ته ورسېدی، چي د کاتوليک فرډيناند (Ferinand) له خوا خپور سو. دا عمومي فرمان داسي امر کوي:

«موږ فيصله کوو او اعلاموو چي نوموړي باداران (Senyors, barons) به همدا رنګه د بزګر له ښځي سره د واده په لومړۍ شپه نه بيديږي او نه به دا رسم پر ځای کوي، چي د واده په شپه، کله چي ناوې ځای ته ولاړه سي او دوی د خپلي باداري او اقتدار د علامې په حيث د ناوي پر ځای او خپله پر ناوي باندي قدمونه ايږدي او پر تېريږي او نه به نوموړي باداران د بزګر د زامنو او لوڼو له کاره څخه په پيسه يا وړيا، د دوی د خوښي او رضا نه مخالفه استفاده کوي». (دا عبارت چي وار د واره په کاټالوني ژبه کښل سوی دی، په همدې ژبه زوګن هايم د خپل هغه کتاب په ۳۵۵ مخ کي را نقل کړی دی، چي «سرفډم» نوميږي او په ۱۸٦۱م. کال کي په پتربورګ کي خپور سوی دی.[۹]

باخوفين نو په دې مورد کي بالکل برحقه دی، چي سر تر پايه پر دې خبره ولاړ دی، چي له هغه حالته څخه، چي دی يې «هيټايريزم» يا

9 - S. Sugenheim. Geschichte der aulhebung der Leibeigenschaft und Horigkeit in Europa bis an die mitte des neunzehnten Jahrhunderts, St. Petersburg, 1861.

(«د نونسمي پېړۍ تر نيمايي پوري په اروپا کي د مملوکيت (سرفډم) او غلامانه چوپړ د ختمېدو تاريخ»، سانت پتربورګ، ۱۸٦۱م. کال. –ت.هـ.)

سمپفڅويگونګ (Sumpfzeugung) بولي، تر وحدتي ازدواجه پوري انتقال اساساً د ښځو له فيضه په سر رسېدلی دی. څونه چي زړو عنعنوي جنسي روابطو خپل سپېڅلی ابتدايي ځنګلي حالت د ژوند د اقتصادي اوضاعو د انکشاف، يعني د زاړه کمونيزم د ړنګېدو او د نفوسو د تکاثف د زياتېدو په نتيجه کي بايلوي؛ نو هغونه دا زاړه روابط ښځو ته د سپکاوي باعث او ظالمانه وايسېده او هغونه په شدت او حرارت سره دا آرزو ور پيدا سوه، چي د عفت او پاکۍ حق لاس ته را ولي، هم د يو نجات په توګه دا حق پيدا کړي، چي په موقتي يا دايمي ډول له يوه سړي سره په ازدواج کي پاته سي. دا پرمختګ نه سوای کېدلای، چي د نرو له خوا دي را وموښلي، ځکه يوازي دا دليل کافي دی، چي نرو هيڅکله؛ حتی تر نن ورځي هم د عملي جمعيتي ازدواج له مزدو څخه د ځان ګوابنلو او لاس اخيستلو خوب نه دی ليدلی. کله چي تر جوړه‌يي ازدواجه انتقال د ښځو له خوا په سر ورسېدی، نو صرف تر دې انتقال وروسته نرو وکړای سول، چي ټينګ وحدتي ازدواج را وباسي او هغه هم البته يوازي د ښځو دپاره.

د جوړه‌يي کورنۍ شکل د وحشت او بربريت تر منځ پر سرحدي ليکه او اساساً د وحشت په پورتنۍ مرحله کي او دلته هلته بيا صرف د بربريت په کښتنۍ مرحله کي منځ ته راغلی دی. داشکل د بربريت د کورنۍ هغه شاني اختصاصي شکل دی، لکه جمعيتي ازدواج چي د وحشت او وحدتي ازدواج چي د مدنيت اختصاصي شکل ګڼل کيږي. د دې دپاره چي جوړه‌يي کورنۍ زيات انکشاف وکړي او ټينګ وحدتي ازدواج ته ورسيږي، نو له هغو عواملو

په پرته چې موږ ولیده، تر دې وخته یې کار کاوه، نور بېل عوامل هم په کار وه، چې دا انتقال سر ته ورسوي. په جوړه‌یي کورنۍ کي جمعیت وختي لا خپل آخرني یونټ (خپل دوه اټومي مالیکیول) یعني یوه نر او یوې ښځي ته را کوچنۍ سوی وو. د جمعیتي ازدواج د دایرې په پرله پسې را کوچني کېدو سره نو طبیعي انتخاب خپل کار پای ته ورساوه او په دې خوا کي نور څه نه وه پاته، چې پسي اجراء یې کړي. که نوي اجتماعي سائق قوتونه په کار نه وای لوېدلي، نو د دې دپاره هیڅ دلیل نه پیدا کېدی، چې ولې د کورنۍ یو نوی شکل باید له جوړه‌یي کورنۍ څخه را ووځي. لاکن خبره خو دا ده، چې دې سائقو قوتونو او عواملو په کار شروع کړې وه.

امریکا چې د جوړه‌یي کورنۍ کلاسیکه مځکه ده، پر دغه ځای یې پرېښودو. هلته داسي نخښه نه سته، چې موږ ته د دې نتیجې په را ایستلو کي توان را کړي، چې د کورنۍ یو لوړ شکل دي هلته انکشاف را کړی وي او یا دا چې د امریکا تر کشف او فتح دمخه دي ټینګ وحدتي ازدواج هلته په کومه برخه او کوم وخت کي وجود درلودلی وي؛ مګر په «زړه دنیا» کي بیا خبره بالعکس وه.

دلته د حیواناتو د اهلي کولو او د رمو د ډېرولو کار د ثروت یوې داسي منبع ته انکشاف ور کړی وو، چې تر اوسه یې چا تصور نه وو کړی او په همدې سبب یې بالکل نوي اجتماعي تعلقات او روابط منځ ته را وستلي وه. د بربریت تر کښتنۍ مرحلې پوري ثابت او پر ځای ثروت تقریباً له دې شیانو څخه جوړېدی، لکه سرای، جامه، بدجوله ګېڼې، د غذاوو د سرښته کولو او

تيارولو اوزار؛ لکه کښتياني، وسلې او د کور خورا ساده رقم لوښي. په دې وخت کي د هري ورځي غذا په هغه ورځ کي په لاس راوړل کېدله. لاکن اوس نو د آسانو، اوښانو، خرو، غويو، پسو، وزګړو او خوګانو د ګلو او رمو له ناحيې څخه پر مخ تلونکي پوونده اولسونو، يعني د هند د خاوري د پنځو رودونو او د ګنګا د سيمي د آريايانو او د هغه وخت د آمو او سير دريا د آبادو او بوسو جلګو (آريايانو) او هم د فرات او دجلې ساميانو خورا ډېره شتمني لاس ته راوړه او دې کار معمولي نظارت او ساده مراقبت ځني غوښتی، چي د مالونو هر کله زياتېدونکی شمېر ډېر کړي او د شيدو او غوښو زياته ګټوره غذا ځني حاصله کړي. د غذا د برابرولو ټوله دمخني وسايل نو اوس له استعماله ولوېده. ښکار چي يو وخت د ضرورت له مخي کېدی، اوس يو د ساعتتېري شی وګرځېدی.

خو دې نوي ثروت نو په چا اړه درلوده؟ په لومړي سر کي خو يې بې له شکه څخه په بهير اړه درلوده، مګر په رمو او ګلو باندي خصوصي ملکيت ښايي چي په يوه ښځي پخوانۍ مرحله کي منځ ته راغلی وي. دا څوک نه سي ويلای، چي ابراهيم بابا (Father Abrahim) به د هغه کتاب ليکونکي ته، چي «د موسی د لومړي کتاب» په نامه ياديږي، آيا د کورني جمعيت د مشر په حيث له حقوقي پلوه د خپلو رمو او ګلو مالک ايسېدلی وي او که به د خپل دې مقام په حيث، چي د يو بهير موروثي سرخېل وو. البته يوه خبره چي په يقين سره ويل کېدلای سي، دا ده، چي موږ بايد (ابراهيم بابا) د اوسنۍ زمانې په مفهوم د ملکيت څښتن و نه ګڼو. همدا رنګه يقيني خبره

ده، چې د مستند تاریخ په سر کې موږ هر چیرې وینو، چې رمې او گلې وختي لا د کورنۍ د مشرانو هغه شان بېل ملکیت دی، لکه د بربریت د دورې هنري پیداوار، فلزي لوښي، د عیاشۍ سامانونه او بالآخره بشري گلې، یعني مریان، چې د کورنۍ د مشرانو بېل ملکیت گڼل کېدله.
اوس نو د مرئیتوب سلسله همدا رنگه اختراع سوې وه. د بربریت په کښتنۍ مرحله کې مریی د گټې شی نه وو. دغه دلیل وو، چې امریکایي سور پوستانو په دغه مرحله کې د خپل مغلوب دښمن سره داسې سلوک کاوه، چې د بربریت د پورتنۍ مرحلې له سلوکه سره یې خورا ډېر فرق درلودی. پخوا داسې وه، چې نارینه به یا ووژل سوه او یا به لکه ورونه غوندې د فاتحو خلگو قبیلې په ځان گډ کړه. ښځې به هم یا په نکاح سوې او یا به هم هغه راز د دوی د ور پاته اولادو سره فاتحې قبیلې په ځان گډې کړې. په دغه مرحله کې تر دې آنه لا د بشر د کار قوې دونه حاصل نه ور کاوه، چې د ده د ساتنې تر مخارجو اضافه سي، خو د روزنې په سلسله د څارویو د ډېرولو، له فلزاتو څخه د شیانو د جوړولو، اودلو او بالآخره د مځکې د کرهڼې د را وتلو سره نو په دغه وضعیت کې بدلون راغی. فقط لکه څنگه چې ماینې گانې یو وخت ښځې په آسانۍ سره پیدا کېدلای سوای او اوس یې یو مبادلوي ارزښت پیدا کړی او خرڅیږي، دغه شانې عارضه په تېره بیا تر هغه وروسته، چې بالآخره رمې په کورني ملکیت کې راغلې وې، د کار قوې ته ور پېښه سوه. کورنۍ د څارویو په شان ژر ژر زیاتوب نه کاوه. د روزنې دپاره یې ډېر وگړي په کار وه. په جگړه کې نیول سوي بندیان نو خاص د دغه مقصد دپاره

خورا مناسب وه او سربېره پر دې کار يې د څارويو په ډول په خپله اولادونه هم زېږول.

داسي ثروتونه چي د کورنيو په خصوصي تصرف کي راغلل او هم يې په چټکۍ سره ډېرښت وکړ، نو يې هغي ټولني ته يوه زوروره ډکه ور کړه، چي د جوړهيي کورنۍ او مورني حق د بهير په اساس جوړه سوې وه. جوړهيي ازدواج خو په کورنۍ کي يو نوی عنصر هم را پيدا کړی وو او هغه دا، چي د واقعي مور په اړخ کي يې مستند واقعي پلار هم په وجود را وستلی وو، چي غالباً د اوس وختو تر يو پلار ډېر ځله مستند وو. د کار د وېش سره سم، چي هغه زمانه په کورنۍ کي معمول وو، د غذا برابرېده او د دغه کار دپاره د لازمو سامانو سربښته کېده او نو ځکه همدا رنگه د دې سامانو تمليک په نر پوري اړه درلوده. د نر او ښځي د بېلېدو په صورت کي، لکه څنگه چي ښځي د کور شيان د ځان دپاره را گرځوله، نر همدغسي سامانونه له ځانه سره اخيستله. نو د هغي زمانې د ټولني له دوده سره سم نر همدا رنگه د غذايي موادو د نوو منابعو (يعني څارويو) او وروسته بيا د کار د نوو سامانونو (يعني غلامانو) مالک گڼل کېدی. خو د همدې ټولني د جال په اساس، د سړي اولادو له ده څخه ميراث نه سوای وړلای، ځکه په دې مورد کي يې حيثيت داسي وو:

د مورني حق سره سم، يعني تر هغه وخته چي نسب يوازي د ښځي له خوا څخه را حسابېدی او هم په بهير کي د وراثت د ابتدايي رواجه سره سم د ميراث سلسله داسي وه، چي د بهير د مړه غړي ترکه وار د واره بهير خپلوانو

ته ور رسېدله. په دې اساس نو لازمه ده، چې مال او جایداد باید په بهیر کې دننه پات سي. په لومړي سر کي چې دغه مالونه لږ وه او څه خاص اهمیت یې نه درلودی، ممکنه وه، چې عملاً نژدې بهیري خپلوانو، یعنې د مور له خوا د ګډې ویني قریبانو ته ورسیږي. خو د مړي اولادونه د ده له بهیره څخه نه ګڼل کېدل، بلکې د خپلې مور په بهیر یې اړه درلوده. په وار د واره کي اولاد ته له خپلې موره څخه میراث ورسېدی او په دې میراث کې هغه څوک ور سره شریک وه، چې د مور له خوا یې د ګډې ویني قریبان وه. خو البته وروسته بیا دا خبره داسې واوښته، چې د مور په جایداد کي یې د اولیت حق پیدا کړی. لاکن دوی له خپله پلاره څخه میراث نه سوای وړلای، ځکه د هغه له بهیر څخه نه وه او د رواج له مخې لازمه ده، چې د ده جایداد په خپله د ده په بهیر کي دننه پاته سي. نو ځکه د رمې او ګلې د څښتن د مړیني په وخت کي د ده رمې او ګلې تر ټولو لومړی د ده وروڼو، خویندو، د خویندو اولادو یا د ده د مور د خویندو اولادو ته په میراث کې ور رسېدلې، خو خپلو اولادو ته یې په میراث کې کوم شی نه ور رسېدی.
څه رنګه چې ثروت زیات سو، نو له یوې خوا یې په کورنۍ کي نر ته تر ښځې یو خورا مهم مقام ور په برخه کړ او له بلې خوا یې نر ولمساوه، چې له دغه مستحکم حیثیته څخه د دې مقصد دپاره استفاده وکړي، چې د خپلو کوچنیانو په ګټه د وراثت پخوانی عنعنوي نظام له منځه واخلي. لاکن تر څو چې د نسب سلسله د مورني حق په اساس پالل کېده، نو دغه تحول ناممکن وو؛ نو ځکه لازمه وه، چې دغه د مورني حق نظام له منځه واخیستل

سي او له منځه هم واخيستل سو. دا کار دونه زور نه غوښتی، لکه څونه چې نن ورځ مونږ ته مشکل ايسي، ځکه دې انقلاب، چې د بشر د سترو انقلابو له جملې څخه ګڼل کيږي، دا نه غوښتله، چې د ښهير يوه غړي ته لا هم کوم تاوان ورسيږي. ټوله غړي لکه دمخه چې وه، هغه شاني پاته سول. دې ساده فيصلې کفايت وکړی، چې په آينده کي بايد د ښهير د نارينه غړو اولادونه د ده په ښهير کي دننه وګڼل سي، خو د ښځينه غړو اولادونه د دې له ښهيره وتلي دي او د خپل پلار په ښهير پوري اړه لري. په دې ډول نو د ښځي له خوا د نسبي سلسلې حساب او د مور په ارتباط د وراثت د حق منځ ته راغی. دا چې دغه انقلاب کله او څنګه په متمدنو اولسونو کي سر ته ورسېدی، په دې باب کي مونږ معلومات نه لرو. دا خبره بالکل د ماقبل التاريخي زمانو خبره ده او هلته په سر رسېدلې ده. خو دا خبره چې دغه انقلاب عملاً انجام سوی دی، د هغو نخښو او علايمو له مخي پوره ثابته ده، چې د مورني حق په باب را ټولي سوي دي، خصوصاً بيا هغه د يادوني وړ دي، چې باخوفين را غونډي کړي دي. دا حقيقت چې دغه انقلاب څه رنګه په آسانۍ سر ته رسېدلی دی، د امريکايي سور پوستانو د زيات شمېر قبيلو له حاله څخه پوره معلومېدلای سي، ځکه دا انقلاب هلته د دوی تر منځ يو څه د زياتېدونکي ثروت په نسبت او د ژوند په لارو چارو کي د تحول په سبب (چې مطلب ځني له ځنګلو څخه مرغه‌زارونو ته کډه کېدل دي) او يو څه هم د تمدن او مبلغينو د اخلاقي نفوذ په اثر په دې اوس وختو کي سر ته رسېدلی دی او لا هم د سر ته رسېدو په مرحله کي روان دی. د ميسوري (Missouri)

د رود د حوزې د اتو قبیلو له جملې څخه شپږ یې داسي دي، چي د نسب او میراث سلسله یې د نر له خوا څخه پالل کیږي. خو دوې قبیلې یې لا اوس هم داسي چاري د ښځي له خوا څخه پالي. د شونیانو (Shawnees)، مایامیانو (Miamis) او ډیلاوریانو (Delawares) د قبیلو تر منځ دا جال گرځېدلی دی، چي کوچنیان په دې ډول د پلار و بهیر ته را اړوي، چي پر دوی باندي یو داسي بهیر نوم ایږدي، چي پلار یې هغه ته منسوب وي او دا د دې دپاره، چي دوی نو له خپله پلاره څخه میراث یووړای سي. «دا د بشر غریزي او فطري سفسطایت (Casuistry) دی، چي تلاښ کوي، د نومو په تغیر سره د شیانو په ذات کي تغیر راولي او د دې دپاره لاره ومومي، چي د عنعنې په چوکاټ کي په خپله عنعنه ماته کړي؛ کله چي مستقیمي علاقه‌مندۍ سرې د دې کار دپاره په کافي اندازه تحریک کړی وي!» (مارکس)

د دې بدلون په نتیجه کي نو چاري خورا پرله گډې وډې سوې او دا گډې وډې چاري یوازي له دې لاري سمبېدای سوای او یو څه هم سمي سوي دي، چي د پلارني حق اساس ته انتقال په سر ورسیږي. «دا نو یو مخیزه بېخي طبیعي انتقال معلومیږي» (مارکس). دا چي د «زړې دنیا» د متمدنو خلگو په منځ کي د دغه انتقال د سر ته رسېدلو د څرنگوالي په باره کي له مقایسوي مېتود څخه استفاده کوونکي حقوق‌پوهان موږ ته څه ویلای سي، البته دا ټول یوازي وچ کلک فرضیات دي؛ د مثال دپاره د (م. کوالیوسکي)

«د کورنۍ او ملکيت د منشاء او تکامل اجمال» کتاب وګورئ، چي په ۱۸۹۰م. کال کي په سټاکهولم کي خپور سوی دی[۱۰].

د مورني حق ايسته کېده، د ښځينه جنس نړيواله تاريخي ماتي وه. په کور کي د چارو واګي هم نر په لاس کي ونيولې. ښځي تنزل وکړی، تر اسارت لاندي سوه، د نر د شهواتو مينځه وګرځېده او تش د کوچنيانو د زوکړي يوه آله سوه. د ښځو دغه کښته حيثيت او مقام چي مخصوصاً د قهرمانۍ د عصر او همدا رنګه لا د کلاسيکي عصر په زمانه کي د يونانيانو تر منځ را ښکار سو، په وروسته کي ورو ورو رنګ او روغن ور کول سو او تر يو حده يې لا يو ملايم شکل واخيستی؛ اما په هيڅ توګه پر يوه مخ ورک نه سو.

د نارينه‌وو مطلق تسلط چي قايم سو، نو لومړۍ نتيجه يې دا وه، چي د کورنۍ په سلسله کي يو منځنی انتقالي شکل، يعني د بابايي کورنۍ شکل منځ ته راغی. د دې کورنۍ لوی خصوصيت دا نه وو، چي پوليګامي پکښې وه، چي دا اوس به ژر بيان پکښې وسي، بلکي خصوصيت يې دا وو، چي: «دا د يو شمېر خلګو هغه تشکيل وو، چي هم به آزاد او هم به مريان پکښي وه او د کورنۍ د مشر تر بابايي اقتدار لاندي يې يوه کورنۍ جوړوله. د دغسي کورنۍ په سامي شکل کي د کورنۍ مشر د پوليګامي په حالت کي ژوند کاوه، لاکن مريي يوازي يوه ماينه او اولاد درلوده او د دې ټوله تشکيل مقصد دا وو، چي په يوه ټاکلې سيمه کي د رمو او ګلو پاملرنه او ساتنه وکړي».

---

10- Maxim Kovalevsky. Tableau des origins et de levolution de la famille et de la propriete. Stockholm, 1890.

د کورنۍ د دې شکل اساسي خصوصیتونه دا دي، چې مریان په کورنۍ کې شامل دي او بابایي اقتدار پکښې مسلط دی او نو ځکه د دغه شکل کورنۍ یوه بشپړه نمونه رومي فامیلي (کورنۍ) ګڼله کیږي. د فامیلیا (Familia) لغت په لومړي سر کې پر هغسي مفهوم باندي دلالت نه کاوه، لکه د اوس وخت یو متعصب سړی چې یې په زړه کې فکر کوي او هغه له احساساتي جذباتو او کورني جنجالو څخه یو ترکیبي معجون ګڼل کیږي. په ابتدا کې د رومیانو تر منځ د دې لفظ له مفهومه څخه مقصد متأهله جوړه او د هغې اولاده نه وه، بلکې یوازي مریان ځني مرادېدله. فامولوس (Famulus) د یو کورني مریي معنی ور کوي او Familia د هغو مریانو ډلي ته ویل کیږي، چې په یوه فرد اړه لري. حتی د ګایوس (Gaius) په زمانه کې Familia id est patrimonium لا د ترْکې په توګه په میراث پرېښوول کېده. دا لفظ د یوه نوي اجتماعي تشکیل د افاده کولو دپاره د رومیانو له خوا څخه را ووتی، چې د هغه تشکیل د مشر تر واک لاندي ماینه، اولاد او یو شمېر مریان واقع وه او د روم د بابایي اقتدار په اساس یې د دوی د مرګ او ژوند اختیار په لاس کې درلودی.

«نو ځکه دا لفظ د لاتیني قبیلو د کورنۍ تر هغه فولادي سیستم لرغونی نه دی، چې د ځمکي د کرهڼي د جاري کېدو او د مرئیتوب د قانوني کېدو او همدا رنګه له یونانیانو څخه د آریایي لاتینیانو تر بېلېدو وروسته وجود ته راغلی دی».

په دې خبره پسې مارکس زیاتوي: «د کورنۍ د اوسني شکل په نطفه کې نه یوازې مرئیتوب (Servitus)، بلکې مملوکیت (سرفډم) هم اخښلی دی، څکه دا کورنۍ په کوچنې میناتوري (Miniature) شکل په ځان کې هغه ټوله تضادونه لري، چې وروسته دننه په ټولنه او د هغې په دولت کې په غټه پیمانه انکشاف کوي».

د کورنۍ دغسې یو شکل دا خبره ښیي، چې جوړه‌یي کورنۍ په مونوگامي تبدیل سوې ده. د دې دپاره چې د ماینې پاکي او په دې وسیله هم له ټاکلې پلاره د اولاد زوکېدنه تضمین سي، نو ښځه په مطلق ډول د نارینه تر واک لاندې راغله او که یې دی وژني، نو دا وژل یې داسې کار گڼل کیږي، چې دی له خپل حق څخه استفاده کوي.

د بابایي کورنۍ له پیدایښت سره نو موږ د لیکلې تاریخ ساحې ته را داخلیږو او دا یوه داسې ساحه ده، چې مقایسوي حقوق‌پوهنه پکښې زموږ سره غټه مرسته کولای سي. رښتیا هم په دې باب کې یې خورا ډېر پرمختګ زموږ په برخه کړی دی. موږ د کوالیسوکې مرهون یو، چې په («د کورنۍ او ملکیت د منشاء او تکامل اجمال»، ستاکهولم، ۱۸۹۰م.، ٦۰-۱۰۰ مخونه) کتاب کې یې دا په ثبوت رسولې ده، چې د بابایي کهول جمعیت (Hausgenossenschaft)، لکه دا نن ورځ چې لا مثالونه د سربیانو او بلغاریانو تر منځ د زادروگا (Zadruga) په نامه (چې معنی یې وروری غوندې ده) یا د براتستوا (Bratstvo) په نامه (چې معنی یې وروروالی دی) پیدا کوو او هم یې په لږ څه اوښتي شکل د شرقي اولسونو تر منځ وینو، له هغې

کورنۍ شخه چې له جمعيتي ازدواجه شخه را وتلې ده او پر مورني حق باندي را بناء سوې ده، د اوسنۍ زمانې د انفرادي کورنۍ په لور انتقالي مرحله تشکيل کړې ده. خو دا خبره چې تر کومه ځايه د «زړې دنيا» د متمدنو اولسونو، يعنې آريايانو او ساميانو سره اړه لري، نو داسي مالوميږي، چې ثبوت يې ښرگند دی.

د دغسي يو کورني جمعيت خورا ښه ژوندی مثال هغه دی، چي جنوبي سلاويان يې «زادروگا» بولي. د زادروگا په جمعيت کي د يوه پلار د اولادونو يو شمېر پښتونه د دوی ماينو سره شامل وي، چي ټوله په يوه کهول کي يو ځای اوسي او خپلي کردوندې په گډه کري او د ځانونو دپاره غذا او جامه له مشترکه گدامه شخه اخلي او د گرده اضافي او زياتو محصولاتو مالکان وي. دا جمعيت د کهول د ښښتن (Domacin) تر عالي اداري لاندي وي او دی په خارجي چارو کي د کهول له خوا نماينده‌گي کوي او د کوچنوټو شيانو د پلورلو حق لري؛ د دخل او خرڅ سرښته‌داري او هم د هغو، هم په سم توگه د اقتصادي چارو د پر مخ بېولو ذمه‌واري ور په غاړه ده. دی په انتخابي ډول منځ ته را ځي او په هيڅ توگه دا لازمه نه ده، چي دغه ښښتن به نو تر ټولو مشر سپين ږيری وي. ښځي او د ښځو چاري د کهول د مېرمني (Domacica)، چي زياتره د ښښتن مانيه وي، تر هدايت لاندي اداره کيږي. د دې جمعيت د نجونو دپاره د مېړونو د ټاکلو په خبره کي د دې رايه مهمه ده، بلکي داسي چاري اکثره د دې په سلا فيصله کيږي. خو تر ټولو لوړ صلاحيت د کورنۍ جرگه لري او دا جرگه له هغي غونډې شخه عبارت ده،

چي د جمعيت د بالغو نرو او ښځو له ګردو غړو څخه جوړيږي. د کهول ځښتن دې جرګې ته خپل حساب وړاندي کوي. ټولي مهمي فيصلې همدغه جرګه را باسي او د غړو تر منځ عدالت اداره کوي او د يوه مهم شي په زياته بيا د ځمکني جايداد او نورو شيانو د رانيولو او خرڅولو د چارو په باب کي فيصلې صادروي. په دې اوس وختو کي صرف لس کاله دمخه دا ثابته سوه، چي دغه راز لويو کورني جمعيتونو په روسيه کي هم وجود درلودلی دی. اوس په عمومي ډول منل سوې ده، چي دا جمعيتونه لکه ابشينه (Obschina) يا کليوالي جمعيت غوندي د روسيانو په اولسي دودونو کي يې ټينګي ريښې ځغلولي دي. د پخوانيو روسي اصولنامو په کتاب، يعني د ياروسلاو په «پراودا» کي هغه راز لکه په دالمشي (Dalmatian) قوانينو کي د دې جمعيتونو بيان د ورف (Vervj) تر نامه لاندي راغلی دی او همدا رنګه په پولنډي او چکسلواکيايي تاريخي منابعو کي دغه ډول بيانونه پيدا کېدلای سي.

«د جرمني د حقوقي اصولو» د کتاب د مؤلف هويسلر (Heusler) له بيانه سره سم په لومړي سر کي د جرمنيانو اقتصادي يونټ دا د اوس په مفهوم انفرادي کورنۍ نه تشکيلاوه، بلکي اقتصادي يونټ يې «کورنی جمعيت» (Hausgenossenschaft) وو، چي له څو پښته وګړو يا انفرادي کورنيو څخه جوړېدی او په اکثرو کي به يې يو زيات شمېر مريان هم شامل وه. د رومي کورنۍ ځرک چي ور واخيستل سي، نو همدغه ډول جمعيت ته خبره رسيږي او په همدې دليل نو دا موضوع نن ورځ په خورا شدت تر بحث لاندي نيول

کیږي، چې په رومي کورنۍ کې په څه سبب د کور مشر مطلق اقتدار درلودی او ولې د ده په مقابل کې د کورنۍ نور غړي له حقوقو څخه محروم وه. گمان کیږي، چې کټ مټ همدغه راز کورني جمعیتونو د آیرلېنډ د سیلټیانو تر منځ وجود موندلی دی او د فرانسې د نیورنای (Nivernaies) په سیمه کې یې د (Parconneries) تر نامه لاندې د فرانسې د انقلاب تر وخته موجودیت درلودلی دی. خو په فرانش کومټ (Franche Comte) کې حتی تر نن ورځې پورې هم پر یوه مخ نه دی ورک سوی. د لوهان (Louhans) په ناحیه کې د سون‌ای‌لوار (Saone et Loire) په ولایت کې غټ غټ دهقاني کورونه لیدل کېدلای سي، چې یو لوړ مشترک مرکزي سالون لري، چې دېوالونه یې تر چته رسېدلي ي او گرداورده د خوب خوني پر را گرځېدلي وي او هغو ته د ور ننوتولو لاري له شپږو څخه تر اتو پورې زینې خوري او د یوې کورنۍ یو زیات شمېر پښتونه پکښې اوسي.

پخوا لا د لوی سکندر په زمانه کې نیارخ (Nearchus) د انډیا د هغسې کهولي جمعیتونو په باب کې ږغېدلی دی، چې مځکه یې په گډه کرله او حتی تر نن ورځې هم په هغه سیمه کې، یعني پنجاب او د هند په ټوله شمال غربي برخه کې دغه راز جمعیتونه موجودیت لري. کوالیوسکي د خپل سر په سترگو د دغو جمعیتونو موجودیت په قفقاز کې لیدلی دی. داسې جمعیتونه همدا رنگه په الجزایر کې د کابیلانو (Kabules) تر منځ لا دا اوس هم وجود لري. ویل سوي دي، چې حتی په امریکا کې یې لا هم موجودیت درلودلی دی او د دې دپاره کوښښ جاري دی، چې دا خبره په

هغه (Calpullis) تائيد او تصديق کړي، چي په پخواني مکسيکو کي رواج و او زوريټا (Zurita) بيان پکښي کړی دی. له بله پلوه بيا کونوف (Cunow) (د Ausland د اخبار د ۱۸۹۰م. کال په ۴۲-۴۴ ګڼو کي) په بشپړ وضاحت دا ثابته کړې ده، چي په هغه وخت کي اروپائيانو «پيرو» فتحه کوله، په «پيرو» کي د قديمو جرمنيانو غوندي مارکي کليوالي نظام چلېدی (او ښځي عجبه خو دا ده، چي د پيرو اوسېدونکو هم دغه کليوالي نظام ته لکه جرمنيانو چي مارکا وايه، دوی هم د marca په نامه ويله) او د دې نظام مطابق يې وخت په وخت د کښت مځکه له نوې سره وېشله؛ يعني افرادو ته يې د کرهڼي دپاره ور جلا کوله.

په هر حال د بابايي کهول جمعيت چي په مشترک ډول يې مځکه په ملکيت کي وه او کرهڼه يې په ګډه کوله، نسبت و پخوا ته يې اوس بالکل يو بل اهميت هم پيدا کړی دی. هغه دا چي بې له شکه د زړې دنيا د متمدنو او زياترو نورو اولسونو تر منځ د مورني حق له کورنۍ څخه و مونوګامي کورنۍ ته د انتقال په سلسله کي دغه کهولي جمعيت ستر انتقال رول لوبولی دی. هغي بلي نتيجې ته به وروسته خبره را غبرګه کړو، چي کواليوسکي له دغه جمعيته څخه ايستلې ده او هغه دا چي دغه جمعيت همدا رنګه هغه انتقالي مرحله وه، چي کليوالي يا مارکي جمعيت ور څني په وجود راغی. په مارکي جمعيت کي بيا کرهڼه په انفرادي ډول وه، خو په ابتداء کي د کښت او څړ مځکه وخت په وخت له نوي سره د دې جمعيت د افرادو تر منځ وېشل کېدله

او په وروسته کي بيا ترتيب داسي سو، چي هر چا ته يې د خپلي مځکي دايمي ټک ور مالوماوه او بيا يې له سره وېش نه په ور کښې ايستی.
په دغو کهولي جمعيتونو کي چي تر کومه ځايه خبره په کورني ژوند پوري اړه لري، نو دا بايد ياده سي، چي لږ تر لږه په روسيه کي د کور په مشر پوري دا ويل سوي دي، چي ده د ځوانو ښځو په تېره بيا د خپلو مړندو په نسبت له خپله مقامه څخه خورا ناجايزه استفاده کوله او اکثره به يې له دوی څخه يو حرم (Harem) جوړاوه، چي دغه حالات نسبتاً په صراحت سره په روسي عوامي غزلو کي بيان سوي دي.
تر هغه دمخه چي د مونوگامي بيان ته را سو، چي د مورني حق تر زوال وروسته يې په چټکۍ سره انکشاف وکړی، بايد يو څو خبري لا د پوليگامي او پولي‌اندري په باب کي وکړو. د ازدواج دغه دوه شکلونه تر څو چي په کوم هيواد کي څنگ پر څنگ و نه ليدل سي او لکه چي هر چا ته معلومه ده، دغه راز هم نه ليدل کيږي، نو صرف استثناآت او د تجمل تاريخي محصولات گڼل کيږي. که اجتماعي موسسات په نظر کي و نه نيول سي، نو د شمېر له مخي خو نر او ښځي هر کله سره برابر وه او په دې صورت کي نو هغه نر چي له پوليگامي څخه وتلی وو، په هغو ښځو يې خوا نه سړېده او نه بسېدې، چي له پولي‌اندري څخه ور پاتېدلې، نو ځکه په همدې دليل څرگنده ده، چي په دغه اساس نو له دې دوو اشکالو څخه يو شکل لا هم په عام ډول نه سوای رواج کېدلای. ښکاره خبره خو دا ده، چي د نر له خوا پوليگامي د مرئيتوب د نظام پيداواره وه او يوازي د هغو کسانو دپاره ميسره وه، چي خاص

ممتاز مقام يې اشغالاوه. د ساميانو په بابايي کورنۍ کي يوازي په خپله بابا او منتها نو د ده يو شمېر زامنو د پوليگامي په حالت کي ژوند کاوه، خو د کورنۍ نور خلگ مجبوره وه، چي يوازي په يوه ماينه غاړه وباسي. کټ مټ همدغه صورت تر نن ورځي پوري په ټولو شرقي هيوادونو کي پاته دی. پوليگامي د بډايانو او غټانو يو امتياز دی، چي مينځي رانيسي او ماينې کوي يې، خو عام اولس د مونوگامي په حالت کي ژوند کوي. په هندوستان او تبت کي د پولي انډري يو نادر شکل سته او رښتيا هم دا په زړه پوري پوښتنه، چي دغه شکل څه رنگه له جمعيتي ازدواجه څخه را وتلی دی، يو ژوره او دقيقه پلټنه غواړي. په هر صورت دغه شکل په خپل عملي جريان کي د مسلمانانو تر هغو حرامسرايو چي رخي به احاطه کړی وو، خورا ډېر د زغملو او تحمل وړ معلوميږي. لږ تر لږه دا خبره يقيني ده، چي په هند کي هغه خلک، چي نايريان (Nairs) نوميږي، حال يې داسي دی، چي نارينه يې د درو، څلورو او يا ډېرو کسانو په ډله يوه مشترکه ماينه لري، خو په عين حال کي بيا هر يو له دوی څخه له نورو درو يا ډېرو کسانو په ډله کي يوه بله دوهمه مشترکه ماينه هم لري او په همدې ډول د دريمي، څلورمي او نورو داسي اشتراکي ماينو څښتن هم وي. دا د تعجب خبره ده، چي ماکلينن سره له هغه چي په دې باب کي ږغېدلی دی، چي د ازدواج په کلبونو کي به نارينه‌وو پر يوه وخت د يو شمېر کلبونو غړيتوب کولای سوای، خو دا ادعاء يې نه ده کړې، چي ده نو يوه نوې طبقه، يعني د کلب ازدواج هم کشف کړی دی.

دغه د ازدواجي کلبونو رسم په هیڅ توګه واقعي پولي‌اندري نه دی، بلکې لکه جیرا ټیولن چې ویلي دي، د جمعیتي ازدواج یو مخصوص شکل دی، چې نران یې په پولیګامي کې ژوند کوي او ښځې یې په پولي اندري کې.

۴- څلورمه مونوګامي کورنۍ ده. لکه دمخه چې ذکر سو، دغه کورنۍ په هغه زمانه کې له جوړه‌یي کورنۍ څخه را ووتله، چې د بربریت منځنۍ مرحله پورتنۍ مرحلې ته اوښته او پوره رواج یې د مدنیت د ابتداء له علایمو څخه ګڼل کیږي. دا کورنۍ د نر پر تفوق ولاړه ده او څرګند هدف یې د کوچنیانو داسي زېږونه ده، چې پلاروالی یې له شبهې څخه وتلی معلوم دی او دا پلاروالی هم له دې جهته لازم دی، چې دې کوچنیانو ته پر خپله موقع بیا د پلار د صلبي او سکه وارثانو په حیث د ده ثروت په میراث ور ورسیږي.

مونوګامي کورنۍ له جوړه‌یي کورنۍ څخه دا فرق لري، چې په مونوګامي کې د ازدواج ارتباط خورا ټینګ دی او نور نو اوس د دواړو خواوو په خوښه نه سي سره خلاصېدلای. اوس نو د یو عام رواج په توګه یوازې نر کولای سي، چې دا رابطه خلاصه کړي او خپله ماینه ایله کړي. د نارینه دا حق چې د مړوښې به حالت کې ناپاکي کولای سي او حتی تر اوسه یې لا هم دا حق ژوندی پاتي دی، د دود له لاري څخه ټینګیږي «Code Napoleon[11]» په واضحه توګه مېړه ته د دغې خبرې حق ور کوي، خو په دې شرط چې خپله یاره (آشنایه) به کور ته نه راولي). د ټولني له زیاتېدونکي انکشافه سره نو

---

۱۱ - د ناپلیون اصولنامه. –ت. هـ.

نارينه له دې حق څخه ډېره زياته استفاده کوي، خو ماينه که د لرغوني جنسي تعامل چاري په زړه کي ور وګرځوي او وغواړي، چي هغه ترتيب بيا را ژوندی کړي، نو تر بل هر وخت په زيات شدت سره مجازات کيږي.
موږ وينو چي د يونانيانو تر منځ د کورنۍ دغه نوی شکل په خپل ټول شدت سره عملي سوی دی. د مارکس په عقيده، په داسي حال کي چي په اساطيرو کي د ارباب الانواعو وضع موږ ته زياتره لرغونې زمانه ترسيموي، چي هلته لا ښځو يو ازاد او ډېر محترم مقام درلودی، خو د قهرمانۍ په عصر کي بيا موږ دا خبره وينو، چي د نرو د واکمنۍ او د مينځو د رقابت په اثر ښځي له خپله عالي مقامه څخه را لوېدلي دي. په اوديسه (Odyssey) کي دا بيان راغلی دی، چي تيلي ماک (Telemachus) څه رنګه د خپلي مور په خوله کي ور لويږي او مجبوره کوي يې، چي پټه خوله سي. د هومر په اشعارو کي راغلي دي، چي په جګړه کي نيول سوي ځواني ښځي د فاتحينو د شهوترانۍ وسايل دي او لښکري منصبداران يو په بل پسي له رتبې سره سم را ځي او له دوی څخه هغه ښځي چي ببخي ښايستې دي، د ځانو دپاره يې انتخابوي. تر کومه ځايه چي موږ پوهيږو، د ايلياډ ټوله کيسه د هغي شخړي په شاوخوا کي ده، چي د اشيل (Achilles) او اګاميمنون تر منځ د دغه شان يوې مينځي په سر پېښه سوې ده. د هومر د اشعارو د هر غټ هيرو په بيان کي دا خبره راغلې ده، چي هغه په جګړه کي د يوې نيول سوي پېغلي سره په يوه خيمه کي يو ځای پرېوزي. دغه پېغلاني بيا خپل کور؛ يعني د مړوښي سرای ته استوي، لکه د اسخيلوس (Aeschylus) په

تراژیدۍ کې چې اګامیمنون، کسنډرا (Cassandra) خپل کور ته واستوله. له دغو مینځیانو څخه زېږېدلي زامن د خپل پلار په جایداد کې لږ ونډه اخلي، اما د ساهو (آزادو) خلګو په سترګه ورته کتل کیږي. تیوکر (Teukres) د تیلامون (Telamon) دغه شاني یو نامشروع زوی وو او د دې اجازه ور کول سوې وه، چې د خپل پلار نوم واخلي او ځان د هغه زوی وبولي. له واده کړې ماینې څخه نو دا توقع کېده، چې داسي ټوله خبري وزغمي، لاکن په خپله ټینګه پاکي او په مړوښي کې ناموس‌داري وپالي. که څه هم د قهرمانۍ په عصر کې یوناني ماینه د مدنیت د عصر تر هغې ډېره محترمه وه، خو بیا هم د مېړه په نظر کې په نهایي تحلیل کې یوازې د ده د مشروعو وارثانو مور د ده د کور لویه مېرمن او پر هغو مینځیانو ولاړه وه، چې ده په خپله خوښه آشنایاني ځني جوړولای سوای او هم یې ځني جوړولې. د مونوګامي سره څنګ پر څنګ چې د مرئیتوب سلسله موجوده وه او ځواني ښایسته مینځیاني د هر څه سره سره د نر په اختیار کې وې او په ده یې اړه درلوده، نو دغو عواملو له لومړي سره څخه پر مونوګامي باندي خپل دغه مخصوص اثر واچاوه، چې مونوګامي یوازې د ښځې دپاره وي او نر په مکلف نه وي. مونوګامي تر نن ورځې دغه خاصیت د ځان سره ساتلی دی.

تر کومه ځایه چې خبره د وروستنیو زمانو په یونانیانو پوري اړه لري، نو موږ باید ډوریان (Dorians) او ایونیان (Ionians) یو د بله سره بېل کړو. ډوریان چې سپارټا (Sparta) یې هغه کلاسیک مثال وو، په زیاتو وجوهاتو یې تر هغه څه ډېر پخواني ازدواجي تعلقات درلوده، چې بیان کړې دي. په سپارټا

کي موږ د جوړه‌يي ازدواج یو شکل پیدا کوو، چي د دولت په باب د هغه ځای د مروجو خیالاتو سره سم یو څه تبدیلي پکښي راغلې ده او دا هغه شکل دی، چي د جمعیتي ازدواج آثار يې لا په ځان کي ساتلي دي. دلته هغه ازدواجونه منحل کېده، چي اولاد به يې نه کېدی: اناکساندریداس (Anaxandridas) پاچا چي تقریباً ٥٦٠ کاله تر میلاد دمخه يې ژوند کاوه، له لومړۍ ماینې څخه يې اولاد نه کېدی، نو يې دوهمه ماینه وکړه او دوه کهوله يې ساتله. ارستون (Aristones) چي هم د هغې زمانې پاچا وو او دوې ماینې يې درلودې او دواړي وچي وې، نو له دې وچو څخه يې یوه ایله کړه او دریمه ماینه يې وکړه. له بله پلوه بیا یو شمېر وروڼو کولای سوای، چي په ګډه یوه ماینه ولري. د یو چا چي به د خپل ملګري له ماینې سره لګېده (مینه درلوده)، نو کولای يې سوای، چي په هغې کي ور سره شریک سي. دا مناسب کار ګڼل کېدی، چي یو څو خپله ماینه لکه بیسمارک (Bismark) چي به ویله، د یو شهوتي مینده په اختیار کي کښېږدي، که به څه هم دا سړی د دغه ځای نه وو. د پلوټارک (Plytarch) په لیکنو کي یو ځای راغلي دي، چي یوې سپارټي ښځي خپل یو مین، چي په دې پسي يې سترګه وړله، خپله مېړه ته واستاوه، چي په دې موضوع کي له هغه سره ورږغیږي او دا کیسه نو د شومان (Schomann) په رایه پر دې دلالت کوي، چي په دغه وخت کي لا جنسي آزادي ډېره وه، ځکه خو واقعي زناکاري؛ یعني په پټه کي مېړه ته خیانت په هغو زمانو کي یوه بې‌ساري چاره وه. له بلي خوا بیا په سپارټا کي او یا لږ تر لږه د سپارټا د برم په وخت کي کورنی مرئیتوب چا نه

پېژندی. هغه د کرهڼې د کار مریان چې هیلوټ (Helot) نومېده، لیري لیري په پاشلي صورت پر جایدادو باندي اوسېدله او نو ځکه سپارټیان (Spartiates[12]) چنداني نه تحریک کېدل، چې د دوی ښځو ته را سي. دا چې په ټولو دغو شرایطو کي د سپارټا ښځي تر ټولو نورو یوناني ښځو له یو بېخي زیات محترم مقام څخه مستفیدي وې، بالکل یو طبیعي امر وو. د سپارټا ښځي او د آتن د هیټایرا (Hetaerae) پیاوړي ښځي (elite) یوازي هغه یوناني ښځي دي، چې پخواني لیکوال یې په احترام بیان کوي او خبري یې په خپلو کتابو کي په ثبتولو ارزوي.

دا ایونیانو په منځ کي (چې مشخص کسان یې د آتن خلگ دي) دا ټوله چاري بیا بېخي بل راز وې؛ هلته نجونو صرف ورېښل، اودل او گنډل زده کول او منتها یې لږ څه لوستل او لیکل هم زده کوله. دوی عملاً گوښه ساتل کېدې او یوازي یې له نورو ښځو سره ناسته ولاړه کولای سوای. په کور کي د ښځو ټاټوبی په دوهم پوړ کي یا د شا په تعمیر کي یو بېل او مخصوص ځای وو، چې نارینه په اسانۍ سره په تېره بیا بېگانه څوک هلته نه سوای ور تللای. کله چې به د نارینهوو مېلمانه راغلل، نو ښځي به هغه خپل مخصوص ځای ته تللې. ښځي چې کومه مینځه به نه وه ور سره ملگرې، نو دباندي نه را وتلې او په کور کي غاوچي پیره پر کوله. ارستوفانس (Aristophanes) د هغه مولوسیني (Molossian) سپیانو بیان کوي، چې د زناکارانو د ډارولو

12 - سپارټیان د قدیمي سپارټا د ښاریانو یوه طبقه وه، چې له ټولو مدني حقوقو څخه یې استفاده کوله. د دوی مقابل د کرهڼې د کار مریان هیلوټان گڼل کېدل، چې هغو بیا دا حقوق نه درلودل. –ت. هـ.

دپاره به ساتل کېدله. خو په آسيايي ښارو کي بيا له خصي غاوچيانو څخه دا کار اخيستل کېدی، چي پر ښځو باندي پيره وکړي. پخوا د هيروډټس په زمانه کي د تجارت دپاره خصي مريان د خيوس په جزيره کي جوړېدله او واکسموت (Wachsmuth) وايي، چي دا مريان خاص د بربريانو دپاره نه وه. د يوريپيدس (Euripides) په ډرامو کي ماينه د «Oikurema» په نامه ښوول سوې ده، چي معنی يې د کور د ساتني دپاره وسيله ګڼل کيږي. «Oikurema» (چي لغت يې د ګرامري جنس په لحاظ مخنث دی) د اولادو له زېږولو پرته د آتن يو سړي ته يوازي د کور مشره چوپړي ايسېدله. مېړه خپل ورزشونه کول او تر کور دباندي په عامه او ښاري چارو کي يې برخه اخيسته، خو ماينه يې په داسي چارو کي له برخي اخيستلو څخه محرومه وه. سربېره پر دې يې زياتره په خپل اختيار کي مينځياني درلودې او د آتن د برم په ورځو کي هغه عامه فحشاء ور ايله وه، چي د دولت له خوا څخه په ښه سترګه ورته کتل کېدله. اساساً د دغسي فحشاء له لاري د يونان هغه مشهوري ښځي منځ ته راغلې، چي د خپل بشاشت (esprit) او هنري سليقې په وسيله يې د لرغوني ښځيتوب تر هغې عمومې درجې ته ځانونه پورته کړل، چي د سپارټا ښځو د خپل شخصيت په نسبت درلوده. خو دغه حالت چي بايده وه، د دې دپاره چي ښځه واقعي ښځه سي، په لومړي سر کي هيټايرا سي، د آتني کورنۍ د سختي غندني سبب دي.

د زمانې په دوران کي دغه آتني کورنۍ يوه داسي نمونه وګرځېده، چي له هغې سره سم نه يوازي پاته ايونيانو، بلکي همدا رنګه د خپلي خاوري او

مستعمراتو ټولو یونانیانو په زیاتېدونکي ډول خپل کورني مقررات وضع کړل. سره له هغه چي یوناني ښځي هر ډول ګوښه ساتل کېدې او پام پر کېدی، خو دوی د خپلو مېړونو د غولولو دپاره زیاتره کافي موقعیتونه پیدا کولای سوای. هغه مېړونه چي له دې کاره څخه به شرمېده، چي د خپلو ماینو سره یو خاص قسم محبت څرګند او عملي کړي، نو یې د عشقبازۍ ټوله اقسام د هیټایرا سره تطبیقوله. خو د ښځو دغه تنزل په خپله پر نرو هم اثر پرې ایستی او دوی ته یې تنزل ور کړی، څو چي په آخر کي د بچهبازۍ په فساد کي غوټه سوه او د ګاني‌مید (Ganymede) په کیسه یې خپل ځانونه او خپل خدایان سپک سپاند کړل.

د مونوګامۍ منشاء تر هغه ځایه چي موږ یې د لرغوني زمانې په ښېخي متمدنو او زیاتو پر مخ تللو اولسونو کي څرک ایستلای سو، دغه راز وه. مونوګامي په هیڅ توګه د انفرادي جنسي میني ثمره نه وه او هم یې ګردسره له هغې سره کومه مشترکه وجه نه لرله، ځکه د مونوګامۍ په دوران کي ازدواجونه اوس هم لکه دمخه غوندي د مصلحت په اساس سره کیږي. مونوګامي د کورنۍ هغه لومړی شکل وو، چي نه د طبیعي، بلکي د اقتصادي شرایطو په اساس منځ ته راغی؛ یعني پر ابتدایي اشتراکي ملکیت باندي، چي په طبیعي ډول یې انکشاف را کړی وو، د خصوصي ملکیت د غلبې او بري په اثر منځ ته راغی. یونانیانو په ډاګه دا اعتراف کړی دی، چي د مونوګامي یوازني هدفونه دا دي، چي نر په کورنۍ کي حکومت کوي او داسي کوچنیان به زېږوي، چي هغه صرف د ده له ملا څخه وي او د ثروت

وارثان یې سي. نور نو ازدواج یو بار وو، چې د خدایانو، دولت او پلار و نیکه په باید دوی یې پر ځای کړي. د آتن په قانون کې نه یوازې دا چې ازدواج اجباري وو، بلکې هغه څه چې په نامه د مړوښي وظایف بلل کیږي، د هغو یو لړ څه اندازه پر ځای کېده یې هم اجباري گرځولي وه.

نو ځکه په تاریخ کې چې مونوگامي ظهور کړی دی، له هیڅ پلوه یو داسې جریان نه دی، چې د نر او ښځې تر منځ د روغې جوړې نتیجه یا د داسې روغې جوړې یو عالي شکل وبلل سي، بلکې مونوگامي د یوه تابعیت په شان ظهور کړی دی، چې دلته یو جنس د بل جنس تر لاس لاندې کیږي او هم د دوو جنسونو تر منځ د یوې داسې شخړې د اعلان حیثیت لري، چې په ماقبل التاریخي زمانو کې چا داسې شخړه کورټ نه پېژنده. په هغه یوه پخوانۍ لیکنه کې، چې نه ده چاپ سوې او ما او مارکس په ۱۸۴٦م. کال کې کښلې ده[۱۳]، زه دا وروستنۍ خبره وینم، چې «د کار لومړی تقسیم هغه دی، چې د نر او ښځې په منځ کې د کوچني د روزنې په نسبت راغلی دی» او نن دا خبره ور زیاتولای سم، چې: لومړی طبقاتي خصومت چې په تاریخ کې یې ظهور کړی دی، د هغه خصومت له را پیدا کېدو سره مصادف دی، چې په مونوگامي ازدواج کې یې د نر او ښځې تر منځ وده را کړې ده او لومړی طبقاتي ظلم له هغه ظلمه سره مصادف دی، چې ښځینه جنس د

---

۱۳- له دې لیکنې څخه مقصد د «Die Deutsche Ideologe» لیکنه ده، چې «د جرمني ایډیالوجي» په نامه ده او د انگلیسي ترجمې لومړۍ او دریمه برخه یې په ۱۹۳۹م. کال په نیویارک کې خپره سوې ده. –ت. هـ.

نارينه جنس له خوا څخه لوېدلی دی. مونوگامي يو ستر تاريخي پرمختګ وو، خو په عين حال کي د مرئيتوب او خصوصي ثروت په ملتيا سره هغه دوره افتتاح کړه، چي تر نن ورځي دوام لري او دا هغه دوره ده، چي په دې کي هر پرمختګ همدا راز يو نستبي پر شا تګ دی او په دې دوره کي د يوې ډلي مرېده او لوړېده د بلي ډلي په خوارېدو او ځوړېدو تامينيږي. مونوگامي د مدني ټولني هغه سلولي شکل دی، چي موږ اوس نو د هغه په اساس د ټولني په دننه کي د پوره انکشاف موندلو اختلافاتو او تضادونو طبيعت مطالعه کولای سو.

د جوړه‌يي کورنۍ يا حتی مونوگامي له غلبې سره د جنسي معاملې پخوانۍ نسبتي آزادي په هيڅ توګه ورکه نه سوه.

«د مړوښي زوړ سيستم چي د پونالواني ټوليو د تدريجي ورکېدو په سبب يې دايره ډېره محدوده سوې وه، خو بيا يې هم د مخ ته تلونکي کورنۍ شاوخوا يې نيولې وه او د مدنيت د دورې تر ابتداء پوري يې دا کورنۍ تعقيبوله... څو چي دا زوړ سيستم نو بالآخره د هيټايريزم په هغه نوي شکل کي ورک سو، چي پر کورنۍ باندي د يوې تاريکي سايې په شان د مدنيت په دوره کي بشريت استربل (ببخ) پسي دی».

له هيټايريزم څخه د مورګان مطلب د نارينه او نامړوښو ښځو په منځ کي هغه غيرازدواجي جنسي روابط دي، چي د مونوگامي په څنګ کي وجود لري او لکه دا چي ښه معلومه ده، همدې کار د مدنيت په ټوله دوره کي په خورا بېلا بيلو اشکالو رشد کړی دی او سم سيده د څرګندي فحشاء پر خوا

انکشاف کوي. د دې هیټایریزم سلسله تر جمعیتي ازدواجه او هم د ښځو تر خیراتي تسلیمۍ پوري، چې په هغه وسیله یې د عفت خپل حق رانیوی، سمه سیده رسېدلای سي. د پیسو په مقابل کي د ښځو ځان سپارنه په لومړي سر کي یو مذهبي کار وو، چې د «میني د رب النوع» په معبد کي په سر رسېدی او له دې لاري راغلي پیسې په ابتداء کي د معبد خزانې ته اچول کېدلې. په ارمینیا کي د انایتیس د معبد او په کورینټ (Corinth) کي د افرودیټ (Aphrodite) د معبد چوپړیاني چي هایروډول (Herodules)[١٤] نومېدې او همدا راز په هند کي د معابدو مربوط مذهبي رقاصي نجوني، چي بیادیر (Bayaders) یې بولي (دا لفظ د پرتګالي ژبي د «bailadeira» لفظ مسخه شکل دی او معنی یې رقاصه ده) لومړنۍ فاحشې ګڼل کیږي. دا خیراتي تسلیمي، چي په وار د واره کي یې د ټولو ښځو دپاره اجباري حکم درلودی، په وروسته کي د نورو ګردو ښځو پر ځای یوازي دې خادمانو ښځو اجراء کوله. په ځینو نورو اولسونو کي بیا هیټایریزم لومړی سر له هغې جنسي آزادۍ څخه را وتلی دی، چي نجونو ته تر ازدواج دمخه روا وه. نو ځکه دلته هم د جمعیتي ازدواج یوه پاته نخښه ګڼل کیږي، چي صرف د یوې بلي لاري څخه تر موږه را رسېدلې ده. په ملکیت کي د فرق او تفاوت له راتلو سره؛ یعني د بربریت د پورتنۍ مرحلې په زمانه کي د غلامانه کار له اړخه سره خال خال د مزدورۍ کار هم را پیدا سو او په همدې وخت کي د

---

١٤ هایروډول: په معبد کي خدمتګاراني مېنځې بولي. –ت. هـ.

یوې حتمي نتیجې په حیث د مینځي د اجباري تسلیمۍ سره څنګ پر څنګ د آزادو ښځو کسبي فحشاء هم منځ ته راغله. په دې ډول نو لکه څنګه چې د مدنیت د وختو هر شی دوه اړخه لري او دوه مخه لري او په خپل ځان کي یې تضاد او تخاصم اخښلي دي، نو له جمعیتي ازدواجه څخه مدنیت ته پاته سوي میراث هم دوه اړخه پیدا کړه، چې: یوې خوا ته مونوګامي او بل پلو ته یې هیټایریزم د خپل ډېر افراطي شکل؛ یعني فحشاء په شمول منځ ته راغی.

هیټایریزم هم لکه نوري مؤسسې غوندي یوه اجتماعي مؤسسه ده او د زړې جنسي آزادۍ یوه پاته سلسله ګڼل کیږي، چې د نر په ګټه ادامه لري. واقعیت خو داسي دی، چې هیټایریزم نه یوازي دا چې زغمل سوی دی، بلکي حتی په ډېر حرارت سره، په تېره بیا د حاکمو طبقاتو له خوا څخه عملي کیږي. رښتیا هم پر هیټایریزم چې بد ویل کیږي، دا بدردي او غندنه یې یوازي د خولې په خبرو ده. همدا غندنه په حقیقت کي هغه نارینه‌وو ته نه وي منسوبه، چې دوی هیټایریزم ته په خلاصه پښه ور ایله وي، بلکي یوازي یې هغو ښځو ته منسوبیږي، چې په دې کار اخته وي؛ نو ځکه یوازي ښځي د هیټایریزم په نسبت په ټولنه کي نتلي کیږي او د معاشرې له حقوقو څخه ایستل کیږي او دا د دې دپاره، چې پر ښځه باندي د نارینه تسلط د ټولني د بنیادي قانون په توګه یو پلا بیا اعلام سي.

خو له دې جریان څخه په خپله په مونوګامۍ کي دننه هم یو دوهم تضاد منځ ته را ځي. د هغه مېړه په څنګ کي، چې ژوند یې په هیټایریزم آراسته

وي، هغه سیکنۍ او نتلې ماینه دریږي، چې توجه نه ورته کیږي. فقط لکه دا چې امکان نه لري، چې د یو چا په لاس کې نیم خوړل سوی سېب تر کپ لګولو وروسته بیا هم یو روغ سېب پاته وي، دغه راز دا خبره امکان نه لري، چې د کوم تضاد یو اړخ دې بې له هغه بله څخه موجود وي. خو د دې سره سره دا څرګنده ده، چې نارینه تر هغه وخته بل ډول فکر کوي، تر څو چې ماینې یې دوی ته ښه سبق ور کوي. د مونوګامي په څنګ کې نو دوه نوي دایمي شخصیتونه، چې پخوا چا نه پېژندل، د ټولنې په صحنه کې منځ ته راغله، چې یو د ماینې (لونډه) او بل هم (دیوس) مېړه دی. نارینه‌وو د ښځو په مقابل کې غلبه لاس ته راوړه، خو د غالب پر سر باندې د بري جوغه د مغلوب له خوا څخه په ډېر لوی زړه کښېښوول سوه. زناکاري منع سوه او په ډېر شدت مجازات سوه، خو مخ یې و نه نیول سو، بلکې د وحدتي ازدواج او هیټایریزم په اړخ کې د ټولنې یوه لازمي مؤسسه وګرځېده. د اولاد د یقیني پلاروالي خبره نو اوس بالکل لکه پخوا غوندې منتها پر اخلاقي اعتماد ودرېده. د دې دپاره چې دغه لاینحله تضاد حل کړي، نو د ناپلیون د اصولنامې ۳۱۲ مادې داسې امر صادر کړ:

(Lenfant concu pendant le mariage a pour pere le mari)

- «د ازدواج په دوران کې چې کوچنی په نس سوی وي، د ښځې مېړه د هغه پلار ګڼل کیږي.»

دا وه د وحدتي ازدواج د درو زرو کالو آخرینه نتیجه.

په دې ډول نو په هغو مواردو کې، کله چې مونوګامي کورنۍ خپلې تاريخي منشاء ته وفاداره پاته کيږي او د نر او ښځې په منځ کې شديده شخړه، چې د نر د مطلق تسلط په نتيجه کې منځ ته راغلې ده، ځرګنده بڼه ځان ته غوره کوي، موږ په ميناتوري شکل د هغو تخاصماتو او تضادونو يو تصوير وينو، چې په هغه کې د مدنيت د دورې له سره څخه طبقاتو ته جلا سوې ټولنه حرکت کوي، بې له دې څخه چې دا تضادونه حل کړلای سي او له منځه يې واخلي.

طبيعي ده چې په دې ځای کې زما خبره يوازې د وحدتي ازدواج هغو مواردو ته متوجه ده، چې په هغو کې ازدواجي ژوند په واقعي توګه له هغو اصولو سره برابر وي، چې د ازدواج د ګردې مؤسسې ابتدايي نوعيت ور ټاکي، خو په دې صورت کې مابنه د مېړه د حاکميت په مقابل کې هم سر اخلي. په دې خبره چې د وحدتي ازدواج ټوله اشکال پر يوه راز نه دي، تر هر چا هغه جرمنی متعصب ښه پوهيږي، چې نه په کور کې او نه په ملک کې د حکومت لياقت لري او نو ځکه مابنه يې په پوره استحقاق د هغو چارو کالخوايي په لاس کې اخلي، چې په ده پوره نه وي. ليکن دی ځان ته ډاډ ور کوي او خيال کوي، چې په بدبختۍ کې تر خپل هغه فرانسوي ملګري ډېر ښه دی، چې نسبت ده ته زياتره بد ژوند باندې تېريږي.

خو مونوګامي کورنۍ په هغسې سخت او کلاسيک شکل، لکه د يونانيانو تر منځ چې يې درلودی، ګردسره همېشه هم او په هر وخت کې ظهور نه دی کړی. د روميانو تر منځ چې د نړۍ د راتلونکو فاتحانو په حيث که څه هم په

تهذیب کي تر یونانیانو شا ته پاته وه، خو عاقبت‌اندیشي یې تر هغو زیاته وه، ښځه ډېره آزاده وه او په لا زیات احترام ورته کتل کېدله. رومي سړي عقیده درلوده، چي د خپلي ماینې پاکوالی یې د همدې صلاحیت په وسیله پوره خوندي دی، چي د هغې د مرگ او ژوند پوره اختیارداره دی. سربېره پر دې، ماینې کټ مټ د مېړه په شاني کولای سواى، چي د ازدواج رابطه په خپله خوښه منحل کړي. خو د وحدتي ازدواج په انکشاف کي خورا ستر پرمختگ یقیناً هغه وخت منځ ته راغی، چي جرمنیان د تاریخ پر صحنه باندي را ښکاره سول او دغه پرمختگ ځکه تر لاسه کړای سو، چي په دوی کي مونوگامي به، په غالب احتمال د دوی د مسکینۍ په سبب په کامل صورت له جوړه‌یي ازدواجه څخه را وتلې نه وي. دا نتیجه موږ له هغو درو خبرو څخه را باسو، چي تاقیطس پکښې رغېدلی دی: لومړۍ دا خبره، چي د جرمنیانو له هغي ټینگي عقیدې سره سره چي د ازدواج تقدس ته یې درلوده –«هر سړی په یوه ماینه قانع دی او ښځې د عفت او پاکۍ په دایره کي ژوند کوي»- خو د لوړي رتبې کسانو او قبیلوي سرخېلانو یې د پولیگامي په حالت کي ژوند کاوه او دا وضعیت یې د هغو امریکایانو له حاله سره شباهت درلودی، چي جوړه‌یي ازدواج پکښې جال وو. دوهمه دا خبره ده، چي د جرمنیانو تر منځ له مورني حق څخه پلارني حق ته انتقال یوازي د مورد نظر دورې څخه ښځي لږه وده دمخه په سر رسېدلای سو، ځکه د مور ورور (چي د مورني حق سره سم خورا نژدې نارینه قریب دی) هم دلته اوس لا یو چا ته تر خپل پلار ور نژدې قریب گڼل کېدی او دا خبره کټ مټ د هغو امریکایي سور

پوستانو له موقفه سره سمون خوري، چې د دوی تر منځ مارکس، لکه ده چې به په خپله زیاتره ویله، په خپله زموږ د تېري ماقبل التاریخي زمانې د حالاتو د پوهېدلو دپاره کیلي پیدا کړه. دریمه خبره دا ده، چې د جرمنیانو تر منځ ښځو ته به په ډېره لوړه سترګه کتل کېدله او په عامو اولسي چارو کې یې همدا رنګه نفوذ چلېده او دا هغه کار دی، چې د نر د سلطې سره چې د وحدتي ازدواج خاصیت ګڼل کیږي، مستقیم منافات لري. دا ټوله خبري تقریباً هغه ټکي دي، چې جرمنیان او سپارټیان، چې د دوی تر منځ هم لکه دمخه چې مو ولیدل، جوړه‌یي ازدواج لا پر یوه مخ له منځه نه وو تللی، یو د بله سره بشپړ شباهت لري. په دې ډول نو د جرمنیانو له عروجه سره د وحدتي ازدواج په ساحه کې بالکل یو نوي عنصر نړیواله غلبه پیدا کړه. هغه نوې مونوګامي، چې د رومي نړۍ پر کنډوالو باندې د ګډېدونکو نژادو له جریانه څخه را ووتله، د نر سلطې ته یې نرمه جامه ور واغوسته او ښځو ته یې اجازه ور کړه، چې لږ تر لږه د ظاهر له پلوه تر هغه علاوه یو ډېر آزاد او محترم مقام ونیسي، چې د کلاسیکي لرغوني زمانې په دوران کې یې درلودی. دغه کار نو د لومړي پلا دپاره د هغه ستر اخلاقي پرمختګ امکانات برابر کړل، چې موږ یې له مونوګامي څخه را وتلي او هغې ته منسوب ګڼو او دا هغه انکشاف دی، چې کله په مونوګامي کې دننه، کله ور سره اړخ پر اړخ او کله د حالاتو د په نظر کې نیولو سره د هغې پر ضد منځ ته راغلی دی او په نامه سره هغه اوسنۍ انفرادي جنسي مینه ده، چې پخوا په ټوله دنیا کې چا نه پېژنده.

خو دې پرمختګ په يقيني توګه له دې خبري څخه نشئت را وکړی، چي جرمنيانو تر هغه وخته پوري لا د جوړه‌يي کورنۍ په حالت کي ژوند کاوه او د ښځي هغه حيثيت، چي په جوړه‌يي کورنۍ کي يې درلودی، تر ممکني اندازې يې په مونوګامي پوري پيوند کړی. دغه پرمختګ د اخلاقو د پاکۍ په لور د جرمنيانو د کوم افسانوي، معجزه‌آسا او داسي فطري تمايل مولود کوربۍ نه دی، چي په اصل کي په دې باندي تماميږي، چي جوړه‌يي ازدواج حقيقتاً له هغو تندو اخلاقي تضادونو څخه آزاد دی، چي د مونوګامۍ خاصه ده. د دې په عکس، دغه جرمنيان چي کله د خپلو مهاجرتونو په سلسله، په تېره بيا د جنوب شرق خوا ته د تور بحر په سيمه کي دښتي کوچيانو ته ور څېرمه سوه، نو ډېر اخلاقي تنزل يې وکړ او د آس د سپرلۍ په پرته، نور يې نو خورا شديد غيرطبيعي شرارتونه له دوی څخه کسب کړه. دا وضعيت د ټايفاليانو (Taifali) په باره کي د اميانس (Ammianus) له خوا او د هېرولي (Heroli) په باره کي د پروکوپيوس (Procopius) له خوا په ډاګه تصديق سوی دی.

که څيري مونوګامي د کورنۍ د ټولو معروفو اشکالو له جملې څخه هغه يوازنی شکل وو، چي له هغې څخه اوسنۍ جنسي ميني انکشاف را کولای سوای، خو له دغي خبري څخه نو دا نتيجه نه را وځي، چي دې ميني په مونوګامۍ کي دننه په مطلق يا اقلاً په غاوره توګه د مېړه او ماينې د خپل‌منځۍ ميني په توګه انکشاف را کړی دی، د نر تر سلطې لاندي د ټينګ وحدتي ازدواج په خپله طبيعت لا دغه مينه له رشده څخه را ګرځولې

ده. د هغو ټولو طبقاتو تر منځ، چې په تاريخي لحاظ مؤثر دي، يعني د حاکمو طبقاتو تر منځ د ازدواج خبره د جوړه‌يي ازدواج له وختو راهيسي پر يوه خيال پاته ده، يعني ازدواج يوه مصلحت موضوع ده، چې د مور او پلار له خوا څخه سرښته کيږي. د جنسي ميني لومړنی شکل (چې په تاريخي لحاظ د عشق په توګه ظهور کوي او دا هم يو داسي عشق چې «لږ تر لږه د حاکمو طبقاتو» هر سړی په هغه د اخته کېدو حق لري او د جنسي هڅي عالي شکل ګڼل کيږي او رښتيا هم د هغه اصلي کړه وړه څرګندوي) په خپل ابتدايي حالت کي د منځنيو پېړيو يو هغه (اتلواله مينه- Chivalrous Love) وه، چې په هيڅ توګه ازدواجي مينه نه بلل کېده. همدا عاشقانه مينه وه، چې په خپل کلاسيک شکل کي يې د پرووںسالیانو (Provencals) تر منځ په ډېر دقت سره د زناکارۍ شکل واخيستی او په غزلو کي يې د دوی د شاعرانو له خوا څخه ستايني سوي دي. د پرووںسالیانو د البا (alba) غزلي، چې په جرمني يې تاګيليدر (Tagelieder) يعني د ګهيځ غزلي بولي، د عشقي شاعرۍ شهکارونه دي. دا غزلي په خورا رنګينۍ دا نکل کوي، چې اتل نايټ (Knight) څه رنګه د خپلي معشوقې سره، چې د يو بل چا مانيه وي، پرېوځي، خو پيره‌دار دباندي ولاړ وي، څار کوي او د سپېدو له لومړي څرک سره البا (alba) پر ده باندي ږغ کوي، څو چې دی په خړه ځان وکاږي او څوک يې و نه ويني. د بېلتون منظره د نکل هغه زوروره برخه تشکيلوي. شمالي فرانسويانو او هم د قدر وړ جرمنيانو د شاعرۍ همدغه سبک د اتلوالي ميني له هغو چارو سره يو ځای، چې دا سبک يې منځ ته

راوړی وو، په ټولو معناوو تقليد کړ او کټ مټ پر دې نازکه موضوع باندي زموږ زوړ شاعر والفرام فن اشن باخ (Volfram von Eschnbach) د ګهيځ درې نفيسي غزلي را پرې ايښي دي، چي زه يې د ده تر هغو درو اوږدو اشعارو ډېري ښې بولم، چي په حماسي موضوع کي يې ويلي دي.
زموږ د خپلي زمانې بورژوازي ازدواج دوه ډوله دی؛ په کاتوليکي هيوادو کي مور و پلار لا اوس هم لکه پخوا غوندي د خپل ځوان بورژوازي زوی دپاره يوه مناسبه ماينه ور پيدا کوي او نتيجه يې طبعاً دا ده، چي هغه تضاد چي په مونوګامۍ کي اخښلی دی، پوره ظهور کوي، يعني د نر په خوا کي هيټايريزم او د ښځي په خوا کي زناکاري زور اخلي. کاتوليکي کليسا بې له شکه يوازي په دې دليل طلاق پای ته ورساوه، چي د کليسا په عقيده زناکاري لکه مرګ غوندي يوه داسي خبره ده، چي چاره يې نه کيږي، خو له بله پلوه بيا په پروټيسټاني هيوادو کي دا قاعده ده، چي بورژوازي زوی په لږ يا ډېر آزادانه صورت دې ته ايله دی، چي د خپل ځان دپاره په خپله طبقه کي په يوه ماينه پسي وګوري. په نتيجه کي نو ازدواج تر يوه ټاکلي حده پوري د مينې په اساس بناء کېدلای سي او د پروټيسټاني رياکارۍ سره سم هر کله د ښه شګون په خاطر داسي ګمان کيږي، چي دغه مينه د مبړه او ماينې په منځ کي موجوده ده. په دې حالت کي د نر له خوا هيټايريزم په لږ حرارت پالل کيږي او د ښځي له خوا زناکاري هم چنداني عام رواج نه لري. خو څه رنګه چي د ازدواج په هر ډول شکل کي خلګ هغه شان پاتيږي، لکه تر ازدواج دمخه چي وه او څه رنګه چي د پروټيسټاني هيوادو خلګ ببخي متعصب

دي، نو که موږ د ازدواجي قضیو له ډېرو ښو مثالو څخه یې یو منځنی حد معیار ونیسو، یوازي مو دې نتیجې ته رسوي، چي پروټیسټاني مونوګامي د درانه تکلیف یو ازدواجي ژوند دی، چي خوشي بې‌له کومه اساسه د کورني نعمت او سعادت په توګه تعبیر سوی دی. د ازدواج د دغه دوو طریقو د انعکاس ډېره ښه هینداره ناولونه دي. په فرانسوي ناولو کي کاتولیکي طرز او په جرمني ناولو کي پروټیسټاني طرز معرفي کیږي. په دواړو اشکالو کي «نر ښځینه جنس لاس ته ور وړي»: په جرمني ناولو کي ځوان نجلۍ لاس ته ور وړي او په فرانسوي ناولو کي مېړه د دیوسۍ جوغه لاس ته ور وړي. دا چي له دوی دوو څخه کوم یو په بد حالت کي دی، د دې پوښتني ځواب هر کله په آسانۍ سره نه سي ویل کېدلای. همدا وجه ده، چي د جرمني ناولو بې‌خوندي په فرانسوي بورژوازیانو کي کټ مټ هغسي نفرت را پیدا کوي، لکه د فرانسوي ناولو بد اخلاقي چي یې په جرمني متعصبو کي را پاڅوي. خو د یادوني وړ دي، چي په دې آواخرو کي چي د برلین له ښاره څخه یو ستر ښار متروپولیس (Metropolis) جوړیږي، نو جرمني ناولو په دې شروع کړې ده، چي د هیټایریزم او زناکارۍ په باب کي، چي له ډېره وخته ټوله پوهېده، چي هلته موجودیت لري، په خلاصه خوله او بې‌له شرمېدو څخه وږغیږي.

خو په دواړو صورتو کي ازدواج د طرفینو په طبقاتي حیثیت اړه لري او هر کله تر دغه طبقاتي حده پوري د مصلحت او خوښۍ ازدواج ګڼل کیږي. په

دواړو صورتو کي دغه د مصلحت ازدواج زياتره په ناوړه فحشاء تبديليږي. دا فحشاء کله له دواړو خواوو، اما په عمومي توګه ډېر ځله د مايني له خوا وي. داسي ماينه له عادي فاحشې ښځه په دې خبره کي فرق لري، چي دا لکه يو مزدور غوندي داسي نه ده، چي د کار د يوې برخي د پوره کولو دپاره کله ناکله خپل وجود مزدورۍ ته وړاندي کوي، بلکي لکه مينځه د ګرده عمر دپاره ځان خرڅوي. د فوريه خبري د مصلحت د دې ټولو ازدواجو په باره کي خورا ښه صادقيږي، چي وايي:

«لکه په ګرامر کي چي دوه منفي يو مثبت جوړوي، دغه رنګه د ازدواج په اخلاقو کي دوه فحشاءوالا يو عفت جوړوي!»

د مېړه او مايني په ارتباط کي جنسي مينه يوازي د مظلومو طبقاتو؛ يعني د نن ورځي د خواريکښو پرولتاريانو (Proletariat) تر منځ هم جاري ده او هم جاري کېدلای سي، خو دا باک نه لري، چي دغه ارتباط يې په رسمي لحاظ تصديق سوی وي او که نه. خو دلته (يعني په پرولتاري ازدواج کي) د کلاسيکي مونوګامۍ ټوله اساسات ايسته سوي دي؛ دلته هغه ګرده جايداد پر يوه مخ نه سته، چي د ساتني او وراثت دپاره يې مونوګامي او د نر سلطه قايمه سوه. نو ځکه دلته داسي هيڅ عامل نه سته، چي د نر سلطه وغواړي او نه هم هغه څه وجود لري، چي د دغه تسلط د قايمېدو وسايل دي. خو بورژوازي حقوق چي دغه تسلط ټينګ ساتي، يوازي د جايداد لرونکو طبقاتو دپاره موجود دي او په هغو معاملاتو اړه لري، چي د دغو طبقاتو او خواريکښو

تر منځ واقع کيږي. له دې حقوقو څخه ګټه اخيستل پيسې غواړي، نو ځکه د کارګر د خوارۍ په وجه د ده د هغه سلوک په نسبت، چې له خپلې مايندې سره يې لري، دا حقوق هيڅ نه چليږي، دلته ښځي يو بل راز شخصي او اجتماعي روابط اساسي عوامل ګڼل کيږي. سربېره پر دې د پراخې پيمانې صنعت، چې ښځه له کوره څخه د مزدورۍ اډې او کارخانې ته را وايسته او زياتره لا د کور د ډوډۍ د پيدا کېدو ذمه‌واري هم د دې پر غاړه ور اچوي، نو په پرولتاري کور کې د نر د سلطې د آخرينو بقاياوو ټوله بنسټ له منځه څخه ولاړی، خو البته يوازې هغه حيواني شدت لا يو څه پاته دی، چې د ښځو په نسبت عملي کيږي او د مونوګامۍ د پيدايښت له زمانې څخه يې ريښې ټينګې کړې دي.

**په دې ډول نو پرولتاري کورنۍ په خپله دقيقه معنی مونوګامي کورنۍ پاته نه ده او دا خبره حتی په هغو مواردو کې لا هم صادقه ده، چې دواړه خواوې ډېره عشقي مينه سره ولري او يو له بله ټينګه وفاداره وي او د واده ګرده ديني او دنيوي رسومات يې هم سره کړې وي. نو ځکه د مونوګامۍ دوې ابدي ضميمې؛ يعنې هيټايريزم او زناکاري دلته تقريباً چنداني رول نه لوبوي او ښځې په رښتيا هم د جلاوالي حق لاس ته راوړي او که نر او ښځه نه سي سره چلېدلای، نو دوی جلاوالي ته ترجيح ور کوي. لنډه دا چې د خواريکښو ازدواج د لفظ په لغوي**

**معنی مونوګامي ازدواج دی، خو په تاریخي لحاظ هیڅ کله مونوګامي ازدواج نه ګڼل کیږي.**

په دې کې شک نه سته، چې زموږ قانون‌پوهان عقیده لري، چې د قانون د جوړولو په کار کې چې زیات پرمختګ وسي، نو د هغو شکایاتو ټوله عوامل به له منځه ولاړ سي، چې د ښځو له خوا څخه وړاندي کیږي. د اوسنیو متمدنو هیوادو قانونګذاري خو لومړۍ دا خبره ډېره په رسمیت پېژني، چې ازدواج د دې دپاره چې په ښه موفقانه توګه منځ ته را سي، نو باید د یوه داسي تړون شکل ولري، چې دواړو خواوو په خوښه ګډون پکښي کړی وي. دوهمه خبره یې دا ده، چې د ازدواج په دوران کې هم دواړه خواوي باید د حقوقو او مکلفیتونو له پلوه مساوي مقام ولري. که چیري دغه دواړي خبري په پرله پسې توګه عملي کېدلای، نو په دې صورت کې به ښځو ته ټول هغه څه میلاو وای، چې غوښتلای یې سوای.

دغه محض حقوقي استدلال کټ مټ له هماغسي استدلال سره سر خوري، لکه راډیکال جمهوري غوښتونکی بورژوا چې یې په وخت نظم ته د پرولتاریا د را بللو په ترخ کې کاروي. د کار تړون داسي فرض سوی دی، چې دواړو خواوو په خوښه ګډون پکښي کړی دی. د دواړو ګډون له دې کبله په خوښه بلل سوی دی، چې قانون د کاغذ پر مخ باندي دواړوو خواوو ته مساوات ور کړي دي، اما په دې خبرو نو قانون غرض نه لري، چې دا یوه خوا د خپل بېل طبقاتي حیثیت له پلوه قدرت لري او هم په هغه بله خوا

باندي فشار اچوي؛ يعني هغه څه چي د دواړو خواوو واقعي اقتصادي حالت ګڼل کيږي، په نظر کي يې نه نيسي. پر دې خبرو سربېره نو بيا هم دواړي خواوي داسي ګڼل سوي، چي د کار د تړون د دوام دپاره تر هغه وخته چي يوه يا بله خوا يې په ښکاره فسخ کوي، يو له بله برابر حقوق لري. خو هغه ټينګ اقتصادي حالت، چي کارګر دې ته اړ باسي، چي حتی له هغي خبري څخه لا صرف نظر وکړي، چي د برابرو حقوقو سره تش شباهت ولري، نو بيا نه د قانون موضوع ده او نه قانون مرسته پکښي کولای سي.

تر کومه ځايه چي خبره په ازدواج پوري اړه لري، نو حتی ښېخي مترقي قانون هغه وخت پوري عملي تصور کيږي، چي دواړه خواوي په رسمي صورت دا خبره ثبت کړي، چي دوی په خپله خوښه غواړي يو له بله ازدواج سره وکړي. دا چي تر قانوني پردو په ها خوا کي، چي هلته واقعي ژوند عملي کيږي، څه پېښيږي او څه رنګه دغه د خوښۍ موافقې ته رسيده سوي دي، دا نو هغه خبري دي، چي نه د قانون او نه د قانوندان سره اړه لري. لاکن که د بېلا بيلو هيوادو قوانين تش يو له بله سره پرتله او مقايسه سي، نو قانوندان ته دا خبره ښکاره کوي، چي دغه د خوښۍ موافقه په حقيقت کي کوم شي ته ويل کيږي. په هغو هيوادو کي چي اولاد په قانوني صورت د مور و پلار په جايداد کي يوه حتمي برخه لري او له دوی څخه بې‌مېراثه کېدلای نه سي (لکه په جرمني او هغو هيوادو کي چي فرانسوي حقوق پکښي چليږي او هم په نورو ځايو کي) هلته لازمه ده، چي اولاد د ازدواج په مسئله کی د مور

و پلار قناعت حاصل کړي او د هغو موافقه لاس ته راولي. خو په هغو هیوادو کي چي د انګرېز حقوق پکښي چلیږي او د مور و پلار موافقه په قانوني لحاظ په ازدواج کي نه ده لازمه، هلته بیا مور و پلار د خپل جایداد په باره کي د وصیت پوره آزادي لري او که وغواړي، کولای سي چي خپل اولاد له میراثه وباسي او یوه توره پیسه هم ور نه کړي. نو ځکه دا څرګنده ده، چي د دې سره سره او یا خاص په دې وجه د انګلستان او امریکا د هغو طبقاتو تر منځ چي میراث حتمي پکښي وړل کیږي، د ازدواج آزادي د فرانسې او جرمني تر آزادۍ یوه ذره هم ډېره نه ده.

تر کومه ځایه چي په ازدواج کي د نر او ښځي په حقوقي مساوات پوري خبره اړه لري، خو وضعیت چنداني نه دی ښه سوی. د حقوقو په مخ کي د دواړو نابرابري، چي د پخوا له اجتماعي اوضاعو څخه را پاته ده، پر ښځو باندي د اقتصادي ظلم علت نه ده، بلکي معلول یې ده. په زاړه کمونیستي کهول کي، چي یو شمېر جوړې او د دوی اولادونه یې کښې‌ایستله، د کهول اداري وظیفه، چي ښځو ته سپارل سوې وه، په اجتماعي ډول یوه داسي ضروري معامله وه، لکه د غذا سرښته چي د نرو وظیفه ګڼل کېدله. دې حالت نو د بابایي کورنۍ او حتی بېخي ډېر د مونوګامۍ د انفرادي کورنۍ له راتلو سره تغیر وخوړی. د کهول اداري وظیفې خپل اجتماعي خصلت بایللوی، نور یې نو د ټولني سره اړه پرې سوه، صرف د اوس وخت د غټې پیمانې صنعت نو بیا د دې –هغه هم صرف د خواریکښي (پرولتاري) ښځي- په مخ کي د

اجتماعي توليد لار خلاصه کړه، خو هغه هم په داسي ډول، چي که د خپلي کورنۍ د شخصي چوپړ وظايف پر ځای کوي، نو له عامه توليده محرومه پاتيږي او هيڅ شی نه سي ګټلای، خو کله به بيا وغواړي، چي په اجتماعي چارو کي برخه واخلي او خپله روزي په خپله وګټي، نو د کور کارونه ځني پاتيږي. کومي خبري چي په کارخانه کي د مزدوري ښځي په باب صادقيږي، همدغه خبري د هري هغي ښځي په باب هم صادقيږي، چي په نورو کسبو، حتی د طبابت او وکالت تر کارو پوري اخته وي. اوسنۍ انفرادي کورنۍ د ښځي پر ښکاره يا پټه کورني غلامۍ ولاړه ده او اوسنۍ ټولنه يوه داسي مجموعه ده، چي د انفرادي کورنيو له ماليکيولونو څخه جوړه سوې ده. نن ورځ په زياترو واردو کي خبره داسي ده، چي د کورنۍ د ډوډۍ ګټندوی، لږ تر لږه په جايداد لرونکو طبقاتو کي، نر وي او يوازي دغه کار نو ده ته هغه غالب حيثيت ور په برخه کوي، چي د تثبيت دپاره يې نورو خاصو حقوقي امتيازاتو ته اړه نه لري. په کورنۍ کي نر د بورژوا حيثيت لري او ښځه پرولتاره ده، خو په صنعتي نړۍ کي د اقتصادي ظلم (چي خواريکښه طبقه کښېکاږي) مخصوص ماهيت به يوازي هغه وخت په خپل پوره شدت رسوايۍ ته را ووځي، چي د سرمايه‌داري طبقې خاص قانوني امتيازات او حقوق لغوه سي او د دواړو طبقو بشپړه حقوقي برابري منځ ته را سي. د ډموکراسۍ په اساس جمهوري نظام د دواړو طبقاتو تر منځ تضاد پای ته نه رسوي، بلکي يوازي د دغه تضاد د حل کولو په خاطر د مبارزې زمينه برابروي. په همدې قياس په اوسنۍ کورنۍ کي پر ښځه باندي د نر د سلطې

مخصوص ماهیت او د دواړو خواوو تر منځ د واقعي اجتماعي برابرۍ د قایمېدو ضرورت او د هغه د عملي کېدو طریقه به صرف هغه وخت پوره روښانه سي، چي د حقوقو په مخ کي دواړه بشپړه برابري پیدا کړي. هغه وخت به نو بیا دا څرګنده سي، چي د ښځو د آزادۍ دپاره لومړۍ مقدمه دا ده، چي ګرده ښځي په اجتماعي چارو کي بیا برخه واخلي او دغه کار نو بیا دا غواړي، چي د انفرادي کورنۍ دغه اوسنی حالت، چي د ټولني اقتصادي یونټ تشکیلوي، پای ته ورسیږي.

***

تر اوسه موږ د ازدواج درې غټ اشکال ولیدل، چي دوی په عام و تام ډول د بشري انکشاف له درو لویو مرحلو سره سمون خوري. د وحشت د مرحلې دپاره جمعیتي ازدواج دی، د بربریت د مرحلې دپاره جوړه‌یي ازدواج دی او د مدنیت د مرحلې دپاره وحدتي ازدواج دی، چي په زنا او فحشاء تکمیل سوی دی. د بربریت په پورتنۍ مرحله کي د جوړه‌یي او وحدتي ازدواج تر منځ یوه دوره سته، چي په هغې کي نر پر مینځیانو تسلط لري او پولیګامي پکښې معمول ده.

لکه څنګه چي زموږ له درست بیانه څخه څرګنده سوه، د هغه پرمختګ، چي د اشکالو د تغیر په دغه تسلسل کي ځان څرګندوي، ځانګړتیا په دې کي ده، چي په جمعیتي ازدواج پوري مختصه جنسي آزادي په زیاته او لا

زياتره اندازه ښځي له لاسه ور کوي، نه نارينه. د نرو دپاره جمعيتي ازدواج عملاً تر نن ورځي پوري هم موجوديت لري. هغه څه چي د ښځي دپاره گناه بلل کيږي او ناوړه حقوقي او اجتماعي نتيجې پر بناء کيږي، دغه څه د يو نر په نسبت د وياړ شی وي او يا منتها دونه يوه سپکه اخلاقي لکه گڼله کيږي، چي يو سړی يې په خوشالۍ د ځان په حق کي منلای سي. څونه چي زوړ عنعنوي هيټايريزم د سرمايه‌دارانه مالونو د توليد په سبب زموږ په زمانه کي تغير کړی دی او له دغه توليدي جريانه سره سم يې شکل اخيستی دی او څونه چي په څرگنده فحشاء اليش سوی دی، هغونه د زياتو بداخلاقيو باعث گرځېدلی دی. دا فحشاء نو تر ښځو نارينه ډېر بد اخلاقه کوي. فحشاء خو د ښځو په جمله کي يوازي هغه بدبخته ښځي بې‌حرمته کوي، چي د دغه کار په گيره کي را ښکيلي سي او دوی لا هم په هغه اندازه لکه څونه چي عام خيال کيږي، نه بې حرمته کيږي. اما بالعکس بيا د گرده نارينه عالم کرکټر سپکوي او د بې‌حرمتۍ سبب يې گرځي. نو ځکه په لسو فقرو کي نهه فقرې داسي دي، چي د نامزدۍ اوږده زمانه په عملي توگه د ناپاکۍ او بې‌ناموسۍ د زده‌کړي دپاره يو مقدماتي مکتب بلل کيږي.

اوس موږ يوه اجتماعي انقلاب ته ور نژدې کيږو، چي په هغه کي به د مونوگامۍ موجوده اقتصادي بنيادونه په ناگزيره توگه له منځه ولاړ سي او په دې جريان کي به د هغې تکميلي ضميمه؛ يعني فحشاء هم له ريښو څخه ورکه سي. مونوگامي د يوه انسان (هغه هم يو نر انسان) په لاسو کي

د ډېرو ثروتونو د را غونډېدو په وجه او هم له دې ضرورت څخه منځ ته راغله، چې دا ثروت د دې سړي اولادو ته په میراث پاته سي، نه د کوم بل سړي اولادو ته. د دې مقصد دپاره نو مونوګامي د ښځي په خوا کي لازمي شی سوه، نه د نر په خوا کي؛ نو ځکه دا د ښځي مونوګامي په هیڅ وجه د نارینه د پټي او ښکاره پولیګامۍ په مخ کي خنډ نه سوه. خو دا راتلونکی اجتماعي انقلاب چې لږ تر لږه د ثابت او قابل ارث ثروت ستره حصه (یعني د تولید وسایل) په اجتماعي ملکیت کي را ولي، نو د دې تحول په وسیله به هغه پرېشاني تر ډېري اندازې کمه کړي، چې اولاد ته د میراث د پرېښوولو په باره کي موجوده ده. څه رنګه چې مونوګامي له اقتصادي عواملو څخه منځ ته راغلې ده، نو آیا د دغو اقتصادي عواملو له ورکېدو سره به دا هم ورکه سي؟

دې پوښتني ته په پوره اساس سره داسي ځواب ویلای سو، چې مونوګامي به نه یوازي ورکه نه سي، بلکي د دې په عکس، یوازي هغه وخت به په دې شروع وکړي، چې بشپړ تحقق پیدا کړي؛ ځکه د تولید وسایل چې په اجتماعي ملکیت کي را سي، نو د مزدورۍ کار او پرولتاره طبقه همدا رنګه له منځه ځي او د دې خبرو له ورکېدو سره د هغه لږ شمېر ښځو دپاره، چې په احصائیه کي راتلای سي، دا ضرورت هم ورکیږي، چې خپل ځان د روپو په بدل کي نارینه‌وو ته ور سپاري. فحشاء نو له منځه ځي او مونوګامي د

دې په عوض کي، چي خپل موجودیت ته خاتمه ور کړي، په پای کي به د نر دپاره هم یو واقعیت وگرځي.

په هر حال؛ د نارینه‌وو وضعیت خورا ډېر تغیر کوي، خو د ښځو او له یوه مخه د گردو ښځو وضعیت همدا رنگه تر مهم تحول لاندي کیږي. له دې حرکته سره چي د تولید وسایل په اشتراکي ملکیت کي را سي، نو دا خبره پای ته رسیږي، چي انفرادي کورنۍ د ټولني اقتصادي یونټ جوړ کړي. شخصي کور پالنه په اجتماعي چاره (ورهڼه) الیشیږي او د کوچنیانو پالنه او تعلیم یوه اجتماعي موضوع گرځي. ټولنه په مساوي ډول د ټولو کوچنیانو پالنه کوي، صرف‌نظر له دې څخه، چي د واده پر لار زېږېدلي وي او یا بې له هغه. په دې ډول د هغو ناوړو عواقبو تشویش له منځه ځي، چي نن ورځ هم په اخلاقي او هم په اقتصادي لحاظ د ډېر مهم اجتماعي عامل په توگه یوه نجلۍ له دې څخه را گرځوي، چي خپل ځان هغه چا ته وسپاري، چي مینه ور سره لري. آیا دا جریان به نو د دې دپاره کافي عامل نه وي، چي ورو ورو بې‌قیده جنسي معامله منځ ته را سي او له هغې سره یو ځای د پاکۍ، د شرف او د ښځي د حیا په خصوص کي یو ډېر لطیف اجتماعي احساس را پیدا سي؟ بالآخره، آیا موږ دا و نه لیدل، چي په اوسنۍ دنیا کي مونوگامي او فحشاء، که څه هم یو د بله اضداد دي، خو د دې سره سره داسي اضداد دي، چي یو له بله څخه نه بېلیږي او د یوه ډول اجتماعي شرایطو قطبونه

ګڼل کيږي؟ نو آيا په دې صورت کي کېدلای سي، چي فحشاء ورکه سي، خو مونوګامي يو ځای ور سره کډهل ته وا نه چول سي؟

خو دلته يو نوی عامل په کار لويږي او دا عامل هغه انفرادي جنسي مينه ده، چي د مونوګامۍ د را وتلو په وخت کي يې محضي په نطفه‌يي شکل موجوديت درلودی.

د منځنيو پېړيو تر مخ داسي کوم شی، چي انفرادي جنسي مينه وبلل سي، وجود يې نه درلودی. دا څرګنده ده، چي شخصي ښکلا، صميمي معاشرت، په تمايلاتو کي شباهت او داسي نورو خبرو د مقابلو جنسونو تر منځ د جنسي رابطې هڅه را پاڅوله. دا هم ښکاره ده، چي پر نارينه او ښځي باندي دا خبره بې‌فرقه نه وه، چي دوی د چا سره د دې صميمي رابطې په دايره کي راغلي دي. خو دې خبري هم زموږ د اوس وختو له جنسي ميني سره ډېر توپير درلودی. په درسته لرغونې زمانه کي ازدواجونه د مور و پلار په واسطه سرښته کېدله او په دې باب کي طرفينو څه نه ويله او په پټه خوله يې منله. هغه لږه ازدواجي مينه چي په لرغونې زمانه کي موجوده وه، له هيڅ پلوه يوه باطني هڅه نه ګڼل کېدله، بلکي يوه عيني (آبجکټيف) وظيفه وه. دا مينه د ازدواج سبب نه بلل کېده، بلکي د هغه يوه ضميمه او علاوه وه. په لرغونې زمانه کي د اوس په مفهوم عشق‌بازي صرف تر رسمي ټولني دباندي سر ته رسېدله. هغه شپنيان چي د ميني د خوشالۍ او غمو نکلونه يې په هغو غزلو کي بيان سوي دي، چي د تيوکريټوس (Theocritus) او

موسخوس (Moschus) له خوا ویل سوي دي یا د لانګوس (Longus) په دفنیس او کلویا (Daphnis and Chloe) کې راغلي دي، ټوله له یوه مخه مریان دي او په دولت کې، چې د آزادو ښاریانو مؤسسه ده، هیڅ برخه نه لري. خو د مریانو پرته چې بیا د نورو تر منځ د عشق‌بازۍ سلسله ګورو، نو وینو چې د قدیمي ړنګېدونکي دنیا د ټوټه ټوټه کېدو په نتیجه کې منځ ته را ځي. دا عشق‌بازۍ هم د هغو ښځو سره کېږي، چې د رسمي ټولنې تر وندر وتلې، یعنې هیټایرا دي. دا هیټایرا نو یا خارجي ښځې دي او یا آزادې سوې مینځیانې؛ چې په آتن کې د آتن د ړنګېدو له پیله سره او په روم کې د امپراطورانو په زمانه کې دا ډول عشق‌بازۍ ور سره اجراء کېږي. خو د ښاري آزادو نارینه‌وو او ښځو په منځ کې، که به واقعاً عشق‌بازۍ پېښېدلې، نو صرف د زناکارۍ په شکل وې. زموږ په وسنې مفهوم جنسي مینه د لرغوني زمانې کلاسیک عشقي شاعر پخواني اناکریون (Anacreon) ته داسې یوه بې‌اهمیته خبره وه، چې حتی د معشوق د جنس (ښځینه‌والي یا نروالي) په موضوع کې یې هیڅ یوه خبره هم نه ده کړې.

زموږ جنسي مینه د قدیمي زمانې له ساده جنسي اشتهاء؛ یعنې ایروس (Eros) څخه په اساسي توګه فرق لري؛ لومړی په دې وجه، چې جنسي مینه دا ایجابوي، چې مینه هم د عاشق له خوا وي او هم د معشوقې له خوا؛ او په دې باب کې نو د ښځې درجه له نره سره برابرېږي، خو په داسې حال کې چې په قدیم ایروس کې د ښځې خوله همېشه هم نه پوښتل کېږي.

دوهم په دې وجه چې جنسي مينه تر داسي حده ټينګيږي او ثبات پيدا کوي، چې دواړه خواوي يو له بله جدايي او بېلتون تر يوې اندازې غټ مصيبت ګڼي. د دې دپاره چې سره وصل سي، نو غټو خطرو حتی د سر خطرې ته لا هم ځان ور کوي. خو په لرغونې زمانه کي داسي وضعيت منتها يوازي د زناکاريو په مواردو کي پېښيږي. بالآخره نو د جنسي معاملې د غندلو او تبرئه کولو دپاره يو نوی اخلاقي معيار هم منځ ته را ځي. د دې معيار له مخي نو سوال يوازي دا نه دی، چې دغسي معامله مشروع ده او که نامشروع، بلکي دا هم دی، چې آيا دا معامله له دوه اړخيزي ميني څخه را پاڅېدلې ده او که نه؟ په دې کي شک نه سته، چې په فيودالي يا بورژوازي تعاملاتو کي داسي نه ده، چې دغه معيار نو تر نورو اخلاقي معيارو علاوه د تطبيق په ساحه کي ښه کار ور کړی وي، بلکي دا هم د نورو معيارو په شان له نظره لوېدلی دی، خو تر نورو معيارو بد هم نه ګڼل کيږي، ځکه دا معيار هم لکه نور غوندي، په نظر ډول د کاغذ پر مخ منل سوی دی او په اوس وخت کي تر دې خبري بالا توقع هم نه سي کېدلای.

پر هغه ځای چې د لرغوني زمانې سلسله د جنسي ميني په راتلو سره وشکېده، په منځنيو پېړيو کي په زناکارۍ را شروع سوه. موږ دمخه لا په اتلواله مينه کي، چې د ګهيځي غزلي يې منځ ته را وستې، وړغېدو. هلته لا هم د هغه راز ميني، چې هدف يې د ازدواج د رابطې پرېکول دي او د هغه راز ميني، چې د ازدواج اساس جوړوي، په مابين کي يوه لويه خلا موجوده

ده او دا خلا د اتلوالۍ د عصر په وسيله په بشپړ صورت نه ده ډکه سوې. حتی کله چي موږ له هرزه لاتينيانو څخه پرهېزګاره جرمنيانو ته را تېرېږو، نو په نيبه‌لونګين‌ليډ (Nibelungenlied) کي دا خبره وينو، چي کريم‌هلډ (Kriemhild) نومي نجلۍ که څه هم دا په پټه په زيګ‌فريډ (Siegfried) باندي په دومر اندازه مينه ده، لکه څومره چي هغه په دې باندي مين دی، خو د دې باوجود کله چي ګونتر (Gunther) دې ته اطلاع ور کوي، چي د کوم اتل (نايټ) دپاره يې د دې رويباري کړې ده، خو نوم يې ورته نه اخلي، بس دا يې په ځواب کي وايي:

«تاسي پوښتني ضرورت نه لرئ، هر څه چي تاسي امر کوئ، زه يې هر کله قبلوم. زما باداره هر څوک چي تاسي زما د مېړه په حيث را ټاکئ، زه يې په خوشالۍ منم.»

دا خبره نو دې ته په زړه کي لا نه ور ګرځي، چي په دغه معامله کي به د دې ميني خيال وساتل سي. همدا راز ګونتر په داسي حال کي، چي برون‌هلډ (Brunhild) يې هيڅ نه ده ليدلې، غواړي يې او همدا شان ايټزل (Etzel) بيا د کريم‌هلډ په حصه کي دغسي اقدام کوي. په ګوډرون (Gudrun) کي هم داسي پېښيږي. هلته د ايرلنډ زيګيبانټ (Segebant) ناروېژي نجلۍ اوته (Ute) ته مرکه کوي، چي هيڅ يې نه ده ليدلې او د هيګي‌لنګن (Hegelingen) هيټل (Hetel) بيا هم داسي د ايرلنډي هلډې (Hilde) غواړي او بالآخره د مورلنډ (Morland)، زيګ‌فريډ، د ارمني

(Ormany)، هارتموټ (Hartmut) او د زيلنډ (Seeland)، هروګ (Herwig) په همدغسي طريقه ګوډرون ته مرکه کوي او غواړي يې. خو دلته د لومړي پلا دپاره ګوډرون په خپله آزاده خوښه د وروستني سړي په ګټه فيصله کوي. عام رواج دا دی، چي د يو ځوان پاچازاده دپاره د ناوي ټاکنه د هغه د مور و پلار له خوا سر ته رسيږي، خو که يې مور و پلار ژوندي نه وي، نو يې دی په خپله د هغو لويو رعيتو خانانو او سرخېلانو په سلا د ځان دپاره ټاکي، چي په ټولو مواردو کي يې خبره خورا ډېر درونډ حيثيت لري او له دې نه پرته ناشونې وه. د نايټ يا بارون (Baron) دپاره ازدواج کټ مټ لکه د پاچازاده دپاره، يو سياسي حيثيت لري او د نوو خېښيو له لاري د اقتدار د زياتوب دپاره يوه موقع ګڼله کيږي او په دې کار کي نو انفرادي تمايلات دخل نه لري، بلکي د خاندان مفاد اساسي عامل بلل کيږي. نو په داسي ازدواج کي څه رنګه دا اميد کېدلای سي، چي مينه دي د اساسي عامل په شان دخل پکښي وکړي؟

د منځنيو پېړيو په ښارو کي د ګيلډ (Guild)[۱۵] د غړي وضعيت هم دغه راز وو. کټ مټ هغه امتيازات چي دی يې حمايه کاوه، يعني د ګيلډ هغه اساسنامې، چي خاص شرايط يې وضع کړي وه او مصنوعي کرښي يې د دې حدودو د ټاکني دپاره منځ ته راوړي وې، چي په قانوني لحاظ دی له

۱۵- ګيلډ د صنفي اتحاديې نوم دی. په منځنيو پېړيو کي هغو اتحاديو ته ويل کېده، چي د يوه کسب استادانو به تشکيل کړي وې او ځان ته به يې بېلي اساسنامې درلودې. –ت. هـ.

نورو ګيلډوالاوو څخه را بېل کړي او هم يې له خپلو ګيلډوالاوو او خپلو مزدورانو او شاګردانو څخه را جلا کړي. ښه تر ډېره ځايه يې هغه دايره هم پر محدوده کړې وه، چي په هغې کي دننه اميد وکړای سي، چي يوه مناسبه جوړه د ځان دپاره پيدا کړي. د دې پرله پېچلي سيستم په اساس نو دا مسئله، چي څوک ډېر ښه مناسب دی، د انفرادي تمايل له پلوه نه فيصله کېده، بلکي د کورني مفاد له مخي فيصله کېدله.

نو ځکه د منځنيو پېړيو تر پايه ازدواج په زياترو مواردو کي هغه ډول پاته وو، لکه په ابتداء کي چي وو، يعني يوه داسي معامله ګڼل کېده، چي په خپله د طرفينو له خوا څخه نه فيصله کېدله. په لومړي سر کي يو وګړی دنيا ته متأهل راتلی، چي د مقابل جنس د ګرده جمعيته سره به د ازدواج په حالت کي وو. غالبه دا ده، چي د جمعيتي ازدواج په را وروسته اشکالو کي هم دغه راز روابطو موجوديت درلودی، خو يوازي په دې تفاوت، چي اوس نو د دغو جمعيتونو دايره هر کله مخ پر کوچني کېدو را روانه وه. په جوړه‌يي کورنۍ کي دا جال وو، چي مېندو د خپلو اولادو د ازدواج سرښته کوله او دلته هم د خېښۍ د نوو روابطو داسي ملحوظات، چي په بهير او قبيله کي د ځواني جوړې حيثيت ور ټينګ کړي، د قاطع او اساسي عامل په توګه په نظر کي نيول کېدل. کله چي پر اشتراکي ملکيت باندي خصوصي ملکيت غلبه پيدا کړه او همدا رنګه د وراثت د منافعو په خاطر پلارني حق او مونوګامۍ تسلط وموندی، نو ازدواج تر بل هر وخت زيات په اقتصادي

ملحوظاتو پوري اړه پیدا کړه. د رانیولو د ازدواج شکل له منځه ولاړی، خو د ازدواج معامله تر زیاتي اندازې په داسي ډول سر ته رسیږي، چي هلته نه یوازي د ښځي، بلکي د نر هم شخصي صفات څه اهمیت نه لري او یوازي شخصي شتهمني یې د ستاینې وړ ګڼل کیږي. دا نظریه چي د دواړو خواوو خپل منځي تمایلات باید د ازدواج اساسي عامل وي، ښځي له لومړي سر څخه چا نه دي اورېدلي، چي د حاکمو طبقاتو له خوا څخه دي یو چیري عملي سوي وي. داسي خبري، یعني د تمایل پر اساس ازدواجونه یا منتها یوازي په نکل کي راغلي دي او یا د هغو مظلومو طبقاتو تر منځ پېښې سوي دي، چي څوک یې په حساب کي نه را ولي.

د هغه مهال په شاوخوا کي، کله چي پانګوال تولید د جغرافیایي کشفیاتو له وخته، د نړیوالي سوداګرۍ او مانوفاکټور د پرمختګ له برکته د نړیوال حاکمیت د تر لاسه کولو مرحلې ته داخل سو، حالات همدغه ډول وه. یو څوک ښایي دا ګومان وکړي، چي د ازدواج دغه طرز بالکل له دغه تولیده سره پوره مناسب شکل اخیستی دی، دا ګومانو اقعیت هم لري، خو د نړۍ د تاریخ استهزاء نامحدوده ده، دا سرمایه‌داري تولید وو، چي د ازدواجي جریان په سلسله کي یې په اساسي توګه رخنه وکړه. په دې سبب چي له هر شي څخه یې تجارتي مال جوړ کړی، نو ټوله پخواني عنعنوي روابط یې منحل کړه او د موروثي دودونو او تاریخي حقوقو په عوض کي یې رانیول او خرڅول، یعني آزاد قرارداد منځ ته را وستی. هـ. س. مین (H. S. Main)

انګرېزي قوماندان چې به کله دا خبره کوله، چې زموږ ټوله پرمختګ د پخوانیو دورو سره د مقایسې په توګه له دې ټکي څخه عبارت دی، چې موږ (From Status to Contract) «له حیثیته څخه قرارداد ته» او د چارو له یو موروثي حالته څخه یو اختیاري قراردادي حالت ته تکامل را کړی دی، نو ده عقیده درلوده، چې دا یو ستر او غټ کشف دی، چې د ده له خوا څخه په سر رسېدلی دی. خو دا خبره تر هغه ځایه چې درسته ده او صحت لري، ښه ډېر وخت دمخه لا په «کمونیستې مانیفیسټ» کې راغلې وه.

مګر د قراردادونو عقد خو داسې خلګ غواړي، چې د خپلو ځانو، د خپل فعالیتو او د خپلو شتهمنیو په برخه کې آزادانه تصرفات کولای سي او د مساوي شرایطو په اساس یو و بل ته سره را وړاندې کیږي. دا نو خاص د سرمایهداري تولید له غټو وظایفو څخه ګڼل کېده، چې دغسې آزاد او مساوي خلګ را پیدا کړي. په ابتداء کې که څه هم دا کار په نیم شعوري ډول او له سره تر پایه د مذهب تر پوښ لاندې په سر رسېدی، خو د دې سره سره د لوتر (Luther) او کالوین (Calvin) د اصلاحي نهضت (ریفارمېشن) له زمانې څخه دا یو ټینګ اصل وګرځېدی، چې یو سړی د خپلو اعمالو په نسبت یوازې هغه وخت بشپړ مسؤل دی، چې که د خپلو اعمالو د اجراء په وخت کې د پوره آزادۍ ارادې څښتن وي او دا نو د هر چا یوه اخلاقي وظیفه سوه، چې د هغو ټولو اجباري عواملو په خلاف کې ودریږي، چې غیراخلاقي اعمالو ته ګمارل کوي. اوس نو دې اصل د ازدواج له پخواني تعاملاتو سره

څه ډول امکان درلودی، چې تطبیق سي؟ د بورژوازي نظریاتو سره سم، ازدواج یو قرارداد وو، یوه قانوني معامله وه او ربښتیا هم داسي قرارداد او معامله، چې تر نورو ټولو یې ډېر اهمیت درلودی، ځکه په دې کې د ګرد عمر دپاره د دوو کسو د بدن او نفس مقدرات ټاکل کیږي. بالکل درسته ده، چې له رسمي پلوه دا سودا په خوښه ورسېده او د دواړو خواوو بې له رضایت او خوښۍ څخه انجام نه سوه؛ لاکن دا خبره، چې څه ډول دغه خوښه منځ ته راغله او د ازدواج سربښته په حقیقت کې چا وکړه، همدا راز ښه‌ترا څرګنده وه. څه رنګه چې د نورو ټولو قراردادونو د فیصلې په مورد کې دا لازمه وه، چې حقیقي آزادي باید موجوده وي، نو د دې قرارداد (یعني ازدواج) په نسبت به ولي نه وای لازمه؟ آیا ځوان سړی او ځوانه نجلۍ، چې غوښته به یې سره جوړه سي، دا حق نه درلودی، چې په آزادانه ډول د خپلو ځانو او د خپلو اجسامو او اعضاوو مقدرات په خپل لاس وټاکي؟ آیا د اتلوالي (شوالیتوب) (Chivalry) په نتیجه کې جنسي مینه فیشن نه سوه او آیا د اتلانو د زنایي میني په مقابل کې د مېړه او ماینې اوسنۍ مینه د هغې صحیح بورژوازي شکل نه ګڼل کیږي؟ خو دا که د متأهلي جوړې وظیفه وه، چې یو له بله باید مینه سره ولري، آیا دا نو همدغه د مینانو وظیفه نه وه، چې باید یو له بله سره واده وکړي او بل څوک و نه کړي؟ او آیا دغو مینانو حق نه درلودی، چې تر مور و پلار، خپلوانو او نورو عنعنوي مرکه‌چیانو او سره جوړه کوونکو په خپله ازدواجي چاره کې اوچت مقام ولري؟ که د آزادي شخصي څېړني او پلټني حق په بې‌تکلفۍ سره په کلیسا ور ننوتی او په

مذهب کي يې خپله لار وکړه، نو د زاړه نسل پر هغه ناقابل تحمل ادعاء چا غوږ نيوی او په را ګرځېدی، چي غوښته يې د ځوان نسل په جسم او روح، شتهمنۍ او په غم و ښارۍ کي د پخوا په شاني تصرفات وکړي؟

په يوه داسي دوره کي چي ګرده زاړه اجتماعي روابط يې سست کړه او د ټولو عنعنوي خيالاتو اساسونه يې ټکاني کړه، نو دا حتمي وه، چي د ازدواج په باب هم دغه مسئلې منځ ته را سي. د سترګو په رپ کي د دنيا پراختيا تقريباً لس چنده زياته سوه. دمخه چي غربي اروپائيانو د نيمي کرې صرف يوه ربع ليدله، اوس د هغې ربع پر ځای د ګردي کرې دروازه د دوی په مخ خلاصه سوه او دوی چټکي وکړه، چي دا نوري اووه ربع هم د ځان کړي. د زرو کالو قديم حدود، چي د منځنۍ پېړيو د فکر له طرزه سره برابر وضع سوي وه، کټ مټ په هغه ډول له منځه ولاړه، لکه په خپله چي د اروپايي ربع پخواني او تنګ حدود له نظره غايب سوه. په دې توګه نو يو ناپايه پراخ افق هم د انسان د ظاهري او هم يې د باطني سترګو په مخ کي خلاص سو. هغه زلمي چي د هندوستان ثروتونو ته يې سترګي نيولي وې او د مکسيکو او پوټوسي (Potosi) د سرو او سپينو زرو کانونه يې په خيال کي وه، چي لاس ته يې راوړي، نو هغه ته د پخواني احترام د ښو اراداتو او د ګيلډ محترمانه امتيازاتو، چي پښت پر پښت را رسېدلي وه، څه اهميت درلودی؟ دا د بورژوا طبقې د اتلانو د مسافراتو دوره وه. دې دورې هم خپلي افسانې درلودې او هم خپل ښکلي خوبونه، لاکن ټوله خبري يې پر يو بورژوازي

اساس را بناء وې او په نهایي تحلیل کې یې څرګندیږي، چې په دې ټوله جریان کې یې بورژوازي مقاصد په نظر کې نیول سوي وه.

په دې لړ کې دا خبره منځ ته راغله، چې نوخیزه بورژوازي طبقې؛ په تېره بیا په پروټیسټاني هیوادو کې، چې هلته د وخت نظامونه خورا ډېر چړپېدلي وه، د ازدواج په باب د قرارداد آزادي هم ومنله او په هغه توګه یې عملي کړه، لکه دمخه چې بیان پکښې وسو. ازدواج د پخوا په شان طبقاتي ازدواج پاته سو، لاکن د طبقې په دایره کې دننه دواړو خواوو ته تر یوې ټاکلې اندازې د انتخاب آزادي ور کول سوه. د اخلاقي تیورۍ له پلوه د یوې شاعرانه څرګندونې په شان نو صرف د کاغذ پر مخ باندې دا خبره په ثابت ډول ټینګه سوه، چې هر ازدواج چې د دواړو خواوو پر مینه او د مېړه او ماینې پر واقعي آزاده موافقه باندې نه وي بناء، هغه غیراخلاقي ازدواج ګڼل کیږي. لنډه دا چې د مینې په اساس ازدواج یو بشري حق اعلام سو او دا حق نه یوازې د سړي د حق په حیث (droit de Ihomme)، بلکې په استثنایي صورت د ښځې د حق په حیث (droit de la femme) هم ومنل سو.

خو دې بشري حق له نورو ټولو هغو حقوقو څخه، چې تش په نامه بشري حقوق بلل سوي دي، په یوه لحاظ فرق درلودی. څه رنګه چې دا تش په نامه بشري حقوق په عمل کې تر حاکمې طبقې؛ یعنې بورژوا طبقې پورې محدود پاته وه او محکومه طبقه؛ یعنې خواریکښه طبقه په مستقیم یا غیرمستقیم ډول له دې ډول حقوقو څخه محرومه وه، نو دلته یو پلا بیا د

تاريخ رشخندي سلسلې ځان په خپله ميدان ته را وايستی. څکه حاکمه طبقه خو د معلومو اقتصادي تاثيراتو تر اغېز لاندي ده او نو ځکه يوازي په استثنايي مواردو کي هغه ډول ازدواجونه پکښي کيږي، چي حقيقتاً د دواړو خواوو په خوښه وي، مگر د محکومي طبقې تر منځ بيا موږ وينو، چي دغه راز د خوښي ازدواجونه په عامه توگه رواج لري.

د دې اساس له مخي نو په ازدواج کي پوره آزادي صرف هغه وخت په عمومي ډول عملي کېدلای سي، چي د سرمايه‌داري توليد او له دې توليده څخه د مالکيت د را پيدا سوو مناسباتو او روابطو امحاء ټوله هغه فرعي اقتصادي ملحوظات له منځه وباسي، چي اوس لا هم د يوه همسر د انتخابولو په کار کي خورا غښتلې اغېزه لري. هغه مهال نو بيا پرته له دوه اړخيزي ميني څخه، بل محرک عامل پر ميدان باندي نه پاتيږي.

څه رنگه چي جنسي مينه په خپل اصلي ماهيت او طبيعت کي انحصاري ده (که څه هم دغه انحصار نن ورځ مطلقاً د ښځي په حصه کي پوره تحقق موندلی دی) نو بيا هغه ازدواج، چي پر جنسي مينه را بناء سوی وي، هم په خپل اصلي ماهيت او طبيعت کي وحدتي ازدواج دی. موږ وليده، چي د باخوفين دا خبره بالکل صحيح وه، چي له جمعيتي ازدواجه څخه تر انفرادي ازدواجه پوري پرمختگ يې داسي کار گاڼه، چي اساساً د ښځو له خوا څخه سر ته رسېدلي دي. صرف له جوړه‌يي ازدواجه څخه تر وحدتي ازدواجه پوري پرمختگ د نر په حساب کي راتلای سي او دا پرمختگ نو له

تاريخي پلوه په اصل کي د ښځو د ژوندون له خرابېدو او د نرو دپاره د ناپاکۍ له آسانه کېدو څخه جوړ سوی دی. همدا وجه ده، چي کله هغه اقتصادي ملحوظات له منځه ولاړ سي، چي ښځي يې دې ته مجبوره کړي دي، چي د نرو عادي ناپاکي وزغمي، يعني هغه تشويش ورک سي، چي ښځي يې د خپلي روزۍ د برابرولو او يا حتی دېر يې د خپل اولاد د آيندې په باره کي پرېشانه کړي دي، نو که د ټولو پخوانيو تجربو له مخي قضاوت وسي، د دې په برکت د ښځو لاس ته راغلې حقوقي برابري به د هغو د پولي‌اندړۍ په نسبت د نارينه‌وو له واقعي مونوگامۍ سره بې‌پايانه مرسته وکړي.

وحدتي ازدواج به ارو مرو ځيني خاصيتونه له لاسه ور کړي، خو دا به البته هغه خاصيتونه وي، چي وحدتي ازدواج د ملکيت له روابطو څخه د راوتلو په نتيجه کي اخيستي دي. د دې خاصيتو له جملې څخه لومړی د نر تسلط او دوهم د ازدواج د نه منحل کېدو مسئله ده. په ازدواج کي د نر تسلط خاص د ده د اقتصادي تسلط نتيجه ده او کله چي د ده اقتصادي تسلط پای ته ورسيږي، نو ازدواجي تسلط يې خودبخوده پای ته رسيږي. د ازدواج د نه منحل کېدو خبره يو څه د هغو اقتصادي شرايطو نتيجه ده، چي د وحدتي ازدواج د هغو په اثر منځ ته راغلی دی او يو څه هم له هغې زمانې څخه يوه پاته عنعنه ده، چي د دغو اقتصادي شرايطو او وحدتي ازدواج تر منځ رابطه لا په صحيح صورت نه وه درک سوې او د مذهب له خوا څخه په دې باب کي مبالغې کېدلې. د واده دغه مصؤنيت لا نن ورځ هم په زرگونو

مواردو کې تر پښو لاندې کېږي. که یوازې هغه ازدواجونه چې د مینې پر اساس وي، اخلاقي ګڼل کېږي؛ نو په همدې دلیل بیا صرف هغه اخلاقي ګڼل کېږي، چې مینه دوام پکښې ولري. هغه هڅه چې انفرادي مینه را پاڅوي، د ادامې درجه یې د وګړو په نسبت په زیاته بیا د نرو تر منځ خورا ډېر فرق لري. کله چې یې په منځ کې الفت سره پرې سي او یا د هغه پر ځای د یوې نوې عشقي مینې تار له چا سره واچوي، نو یو له بله جلا کېده یې هم د دواړو خواوو له هم یې د ټولنې دپاره یو رحمت ګڼل کېږي. په دې ترتیب نو کله چې د ازدواج د منحل کېدو لار خلاصه وي، وګړي به له دې تکلیفه څخه په امان وي، چې د طلاق د قضایاوو په بېمعنی خټیل کې خیژي او لویږي.

د سرمایهداري تولید تر راتلونکې امحاء وروسته، چې د جنسي تعلقاتو په باب کې اوس څه حدس وهلای سو، په اصل کې یو منفي نوعیت لري؛ یعنې خاص دې ټکي ته متوجه دی، چې کوم څه به ورک سي. خو دا چې څه نوي شیان به نو منځ ته را سي، دا فیصله به تر هغه وروسته وسي، چې نوی نسل وده را وکړي: دا به د نارینهوو یو داسې نسل وي، چې دوی به په خپل ټوله ژوند کې هیڅ کله دا و نهویني، چې د یوې ښځې تسلیمي په روپو یا د اجتماعي قدرت په نورو وسیلو رانیسي او لاس ته یې راوړي او د ښځو به بیا داسې نسل وي، چې دوی به پرته له حقیقي مینې، هیڅ کله مجبوریت نه لري، چې په کوم بل ملحوظ ځان و کوم سړي ته وسپاري او یا

د اقتصادي عواقبو له ببري د هغه چا له تسلیمۍ څخه، چې مینه ور سره لري، ځان را وګرځوي. کله چې داسي خلګ منځ ته را سي، نو دوی ته به د هغه څه په باره کي، چې نن ورځ یې موږ فکر کوو، چې دوی باید داسي وکړي، یو ادنی خیال لا هم په زړه کي نه ور ګرځي. دوی به خپل دود او د هغه سره مطابق د هر وګړي د عمل په باره کي خپله عامه رایه تاسیس کړي او پر دغه ځای به خبره پای ته ورسیږي.

را سئ چې په دې ترڅ کي خبره بیرته مورګان ته، چې ډېر لیري ځني تللي یو، دلته بیا را غبرګه کړو. د هغو اجتماعي څانګو او مؤسساتو تاریخي پلټنه، چې د مدنیت د دورې په اثنا کي یې انکشاف را کړی دی، د ده د کتاب په ساحه کي نه ده راغلې. نو ځکه د دې دورې په اثنا کي د وحدتي ازدواج پر سرنوشت باندي په مختصر ډول رڼغبېدلی دی. دی هم وحدتي ازدواج د کورني انکشاف په سلسله کي یو پرمختګ ګڼي او د دواړو جنسو د پوره مساوات خوا ته یې نژدېوالی بولي، لاکن په داسي سترګه نه ورته ګوري، چې بس پر دغه ځای نو کار پای ته رسېدلی دی، بلکي وایي:

«که چیري دا حقیقت ومنل سي، چې کورنۍ یو په بل پسي په څلورو اشکالو کي را تېره سوې ده او اوس یې پښه په پنځم کي ده، نو له دې جریانه سره دا پوښتنه را پیدا کیږي، چې آیا دغه پنځم شکل یې کېدلای سي، چې په آینده کي دایمي وي؟ یوازنی ځواب چې دې پوښتني ته ور کول کېدلای سي، دا دی چې دغه شکل لکه ټولنه چې پرمختګ کوي، باید پرمختګ

وکړي او لکه ټولنه چي تحول کوي، بايد تحول وکړي؛ کټ مټ لکه څنگه چي پخوا همداسي وه. دا شکل د معين اجتماعي سيستم مولود دی او د همدې سيستم د انکشاف درجه به پکښي انعکاسيږي. لکه څنگه چي د وحدتي ازدواج کورنۍ د مدنيت له ابتداء را په هيسته زيات رشد کړی دی او په اوسنيو وختو کي يې دا رشد ښېخي محسوس دی، نو لږ تر لږه دا فرضېدلای سي، چي تر هغه وخته، چي د دواړو جنسو پوره مساوات قايميږي، د نور زيات رشد دپاره هم قابليت لري. په ليري آينده کي بيا که د ټولني د مقتضياتو او ايجاباتو ځواب د وحدتي ازدواج کورنۍ نه سوای ويلای، نو دا ناممکنه ده، چي اوس تر مخ يې د ور پسې شکل د ماهيت او طبيعت په باب کي يو څه وويل سي».

# دریم څپرکی

# د ایروکوایسیانو بهیر

## د ایروکوایسیانو بهیر

اوس موږ د مورګان د یوه بل کشف په باره کې ږغیږو، چې دا هم لږ تر لږه یو دونه مهم کشف دی، لکه څونه چې د صلبي قرابت د سیستمونو له مخې څخه د کورنۍ د ابتدایي شکل را ایستل مهم وه. مورګان دا خبره ثابته کړه، چې د امریکایي سور پوستانو د قبیلې په دننه کې قرابتي (کانسنګویني) پښې، چې د حیواناتو په نومو مسمی دی، په اصل کې د یونانیانو د Genea او د رومیانو د Gentes سره یو شی دي. ده دا خبره ثبوت ته ورسوله، چې د جنز (بهیر) امریکایي شکل ابتدایي او د یونان او روم دا وروستنی او ځني را وتلی شکل دی؛ ده دا خبره اثبات کړه، چې د پخوانیو زمانو د یونانیانو او رومیانو هغه ګرده اجتماعي تشکیل، چې د جنز، فریټري (Phratry) او قبیلې په ډول یې درلودی، کټ مټ د هغو سره یو برابر موسسات د امریکایي سور پوستانو تر منځ پیدا کیږي؛ دا خبره خبره په اثبات ورسوله (چې تر کومه ځایه چې زموږ د معلوماتو موجود منابع دلالت کوي) جنز یوه داسي مؤسسه ده، چې تر هغه وخته چې بربریان د مدنیت مرحلې ته داخلیږي او حتی تر هغه وروسته لا هم د ټولو بربریانو په منځ کې عمومیت لري- د دې ټولو خبرو اثبات نو د سترګو په رپ کې هغه ډېري مشکلي مسئلې روښانه کړي، چې د یونان او روم په پخواني تاریخ کې موجودي وې. په همدې وخت کې یې د هغو قدیمو زمانو د اجتماعي نظام پر اساسي خصوصیاتو باندي هم ناڅاپه رڼا واچوله، چې د دولت تر منځ ته راتلو دمخه نافذ وه. که څه هم په دې کشف چې کله د سړي سد ورسیږي،

نو خورا ساده معلوميږي، اما د دې سره سره دا کشف هغه کار دی، چې مورګان صرف په دې اوس وختو کې سر ته رسولی دی. مورګان په خپل هغه دمخني اثر کې، چې په ۱۸۷۱م. کال کې خپور سو، لا پر هغه رمز نه وو پوښ سوی، چې کشف يې د يو څه وخت دپاره په ځان ډاډه انګرېزي ماقبل التاريخ والا يو موړکوزمه سکوت ته مجبوره کړه.

د Gens لاتيني کلمه، چې مورګان يې د کانسنګويني پښې دپاره د يو عام نامه په شان استعمالوي، داسې کلمه ده، لکه د دې مرادفه يوناني کلمه genos غوندي چې له مشترکي آريايي ريښې gan څخه مشتق سوې ده (او په جرمني کي چې د قاعدې سره سم آريايي g په k اوښتی دی، نو هلته دا کلمه د Kan په صورت ليدل کيږي) او معنی يې «زېږول» دي. Gens، Genos او د سانسکريټ dschanas او د پورتنۍ قاعدې سره مطابق د ګوتي ژبي Kuni، د پخوانۍ ناردي ژبي او انګلوساکسوني Kyn، د انګرېزي ژبي Kin او د منځني پاس جرمنۍ Kunne ګرد په يو شان او مساوي ډول د «زيږي»، قوميت او نسب مفهوم افاده کوي. خو په لاتيني کې د gens کلمه او په يوناني کې د genos کلمه خاص د هغو کانسنګويني پښو دپاره استعماليږي، چې دوی په يوه مشترک نسبي اصل وياړي (چې هلته دلته له يو مشترک نارينه، يعني نيکه څخه را نيول کيږي) او د ځينو اجتماعي او مذهبي مؤسساتو په سلسله بيا دا پښې يو د بله سره تړل کيږي او يو مخصوص جمعيت تشکيلوي، چې د هغه منشاء او ماهيت تر دې وخته پوري زموږ ټولو تاريخپوهانو ته نه وو روښانه.

مور دمخه د يونالوان کورنۍ په بيان کي وليدل، چي د يو جنز (بهير) تشکيل په خپل لومړني او ابتدايي شکل کي څه ډول سر ته رسېدی. دا بهير له ټولو هغو کسانو څخه جوړېدی، چي دوی د يونالواني ازدواج په موجب او د هغو افکارو مطابق، چي په لازمي ډول يې د دې ازدواج په دايره کي نفوذ درلودی، د يوې معلومي انا، چي بهير ځني را موښلول کېدی، څرګند او پېژندني اولادونه وه. څه رنګه چي د کورنۍ په دې شکل کي پلاروالی نه وو معلوم، نو يوازي د ښځي په سلسله زيږي او نسب اعتبار درلودی. څه رنګه چي وروڼو د خپلو خويندو سره ازدواج نه سوای کولای او يوازي د هغو ښځو سره يې واده کاوه، چي له بله نسبه وې، نو له دې ښځو څخه زېږېدلي کوچنيان د مورني حق سره سم، د دغو وروڼو له بهيره څخه وتلي وه. په دې ډول نو د هر پښت د لوڼو اولادونه له يوې پښې څخه ګڼل کېده، خو د زامنو اولاد يې د خپلو مېندو په بهيرونو اړه درلوده. دغه کانسنګويني جمعيت، چي په قبيله کي دننه يې د نورو هم‌مثلو جمعيتونو په مقابل کي د يوه بېل او ځانګړي جمعيت په ډول خپل وجود تشکيلاوه، نو بيا څه شي ځني جوړ سوه؟

مورګان د ايروکوايسيانو بهير، په تېره بيا د سينيکا د قبيلې بهير د ابتدايي بهير د کلاسيک شکل په حيث بولي. دوی اته بهيره لري، چي د دې وروستنيو حيوناتو په نومو مسمی دي: ۱- لېوه، ۲- خرس، ۳- کشپ، ۴- سګلاوو، ۵- ګوزن، ٦- ټټاری (Snipe)، ۷- بغ (Heron)، ۸- باز. په هر بهير کي يې دا لاندي خبري باب دي:

۱- بهیر خپل ساخیم (Sachem) (یعني د امنیت په وختونو کي مشر) او خپل سرلښکر (یعني د جګړې لارښوونکی) په انتخابي ډول را ولي. ساخیم باید وو، چي په خپله د بهیر له دننه څخه را انتخاب سي او په بهیر کي د ده چوکۍ موروثي وه؛ په دې معنی چي هر کله دا چوکۍ خالي سي، باید دستي په دستي بیرته ډکه سي. د جګړې سرلښکر تر بهیر دباندي وګړو څخه هم انتخابېدای سوای او هم کېدلای سوای، چي چوکۍ یې د څه وخت دپاره خالي پاته سي. د ساخیم زوی هیڅ کله د پلار د چوکۍ وارث نه وو، ځکه د ایروکوایسیانو تر منځ مورنی حق معمول وو او له دې جهته نو زوی یې په یو بل بهیر پوري اړه درلوده. خو ورور او یا د خور زوی به یې اکثره د چوکۍ د ډکولو دپاره انتخابېدی. ټولو؛ یعني هم نرو او هم ښځو په انتخاب کي رایه درلوده. خو دې انتخاب د هغو نورو اوو بهیرونو له خوا څخه هم تائید غوښتی او تر دې تائید وروسته نو منتخب سړی په مراسمو مقرر کېدی او دا مراسم د ټولو ایروکوایسیانو د اتحادیې (کانفدریسي) (Confederacy) د عمومي جرګې له خوا څخه پر ځای کېدله. د دې خبرو اهمیت به په وروسته څپرکو کي ووینئ. په بهیر کي دننه د ساخیم اقتدار لکه د بابا غوندي خاص اخلاقي غوندي اقتدار وو. ده په خپل لاس کي د امر د تطبیقولو دپاره د جبر وسایل نه درلودل. دی د خپلي چوکۍ په موجب همدا رنګه د سینیکایانو د قبیلوي جرګې غړی وو او هم یې د ټولو ایروکوایسیانو د اتحادیې په جرګه کي غړیتوب درلودی. د جګړې سرلښکر یوازي د سرلښکر یوازي د لښکرکښۍ په باب کي اوامر صادرولای سوای.

۲- بهير چي به وغوښته، کولای يې سوای، چي ساخيم او د جګړې سرلښکر برطرفه کړي. دا کار هم د نرو او ښځو په ګډه کېدی. تر دې وروسته نو برطرفه سړی، لکه نور غوندي د ساده پلټنيانو او عامو خلګو له جملې څخه ګرځېدی. قبيلوي جرګې همدارنګه کولای سوای، چي ساخيمان حتی د بهير د رضا خلاف هم له کاره څخه برطرفه کړي.

۳- هيچا ته اجازه نه سته، چي په بهير کي دننه واده وکړي. دا د بهير هغه بنيادي قانون دی، چي بهير په خپل ځان کي يو د بله متحد ساتي. دا د ويني د رابطې په اساس د مثبت اړيکي يو منفي مخ دی، چي د هغه په موجب په بهير کي دننه يو له بله يو ځای سوي افراد په واقعي صورت يو بهير وجود ته را ولي. د دې بسيط حقيقت د کشف په واسطه مورګان د لومړي پلا دپاره د بهير ماهيت څرګند کړی. دا چي تر دې دمخه پخوا د بهير په باره کي چنداني څوک نه پوهېده، د هغو پخوانيو ريپورټونو له مخي ثابته ده، چي د وحشيانو او بربريانو په باب کي تهيه سوي دي، ځکه په هغو ريپورټونو کي مختلفي پښې، چي د بهيري نظام ترکيبي اجزاء تشکيلوي، کله د قبيلې او کله د کلان (Clan) يا تم (Thum) په نامه يو شاني ذکر سوي دي، بې له دې څخه چي د چا يې فرق او تفاوت ته پام سوی وي. کله کله بيا د دې پښو په خصوص کي دا خبره هم سوې ده، چي په دننه کي يې ازدواج ممنوع دی. د دې ابهام په نتيجه کي نو خورا زياته ګډوډي روانه وه، چي ښاغلي ماکلينن د يو ناپليون په شاني مداخله وکړه او د خپل جازم فرمان په حکم يې دا ترتيب را وايستی: ټولي قبيلې دوو ډلو ته وېشلي دي؛ يو هغه قبيلې دي، چي په خپل دننه کي يې ازدواج ممنوع

دی (يعني ايکزوګاميوالا دي) او بل هغه دي، چې په خپل دننه کې يې ازدواج روا دی (يعني اندوګاميوالا دي). تر هغه وروسته چې موضوعات يې دغه شان يو له بله سره ولړل، نو يې وکړای سوه، چې ځان د دې موضوع ژوري پلټنې ته ور ايله کړي، چې له دې دوو چټې او بېاساسه طبقاتو څخه؛ يعنې (دبانديوادهوالا طبقه) او که (دننه وادهوالا طبقه) کومه يوه تر هغې بلې قديمه ده. خو چې کله بهير کشف سو، چې د ويني د رابطې پر اساس يو جوړ سوی تشکيل دی او هم دا خبره څرګنده سوه، چې د دې رابطې په نتيجه کې د بهير د غړو تر منځ په خپلو کې دننه ازدواج ناممکن دی، نو دا مضمون خودبخوده پای ته ورسېدی. معلومه خبره ده، چې زموږ تر بحث لاندې ايروکوايسيان په هغه مرحله کې دي، چې په بهير کې دننه د ازدواج د ممانعت اصول په ټينګه پکښې پالل کيږي.

۴- د مړو کسانو جايداد د بهير د پاته غړو تر منځ وېشل کېدی؛ يعنې لازمه وه، چې په بهير کې دننه پاته سي. په دې دليل چې له ايروکوايسيانو څخه خورا لږ شی په ميراث پاتېدی، نو ځکه ميراث يې په بهير کې دننه ببخې نږدې خپلوانو ته وېشل کېدی او کله چې به نارينه مړ سو، نو ميراث يې د سکه وروڼو، خويندو او ماماګانو تر منځ وېشل کېدی، خو کله چې به ښځه مړه سوه، نو يې د اولادو او سکه خويندو تر منځ وېشل کېدی، خو وروڼو ته يې څه نه پکښې ور رسېدل؛ په دې سبب چې د مېړه او مايني بهيرونه سره بېل وه، نو يې نه سوای کولای، چې يو له بله ميراث سره يوسي او همدا راز اولاد و نه سوای کولای، چې له خپله پلاره څخه ميراث ور ورسيږي.

۵- د بهیر د غړو پر ذمه فرض وه، چې یو د بل مرسته وکړي او یو له بله سره حمایه کړي او په تېره بیا د هغو بدیو د غچ اخیستلو دپاره، چې د پردو له خوا شخه ور سره سوی وي، یو بل ته ډېر کومک سره ورسوي. فرد د خپلې ساتنې دپاره د بهیر په حمایه ډاډه وو او هم یې پر هغه اتکاء کولای سوای. هر چا چې به پر ده تېر وکړی، هغه پر گرده بهیر تېری گڼل کېدی. د دغه اساس له مخې، یعنې د بهیر د وینې له روابطو شخه د وینې د غچ اخیستلو هغه مکلفیت منځ ته راغلی وو، چې د ایروکوایسیانو له خوا بې له شرطه منل سوی وو. که به تر بهیر دباندې یو بل چا د بهیر یو غړی وواءه، نو د مړه ټوله بهیر د وینې د غچ اخیستلو په برخه کې مکلفیت درلودی. د بدی د پرېکړې دپاره وار د واره د بدیدارانو تر منځ د منځگړیتوب کوښښ کېدی؛ د قاتل د بهیر یوې جرگې غونډه کوله او د دعوی د پرېکړې دپاره یې د مقتول د بهیر جرگې ته پیشنهادونه کول، چې اکثره به دا پیشنهادونه پر عذر غوښتلو او قیمتي سوغاتو باندې مشتمل وه. که به دا پیشنهادونه ومنل سول، نو خو خبره فیصله وه. که به و نه منل سول، نو د مقتول بهیر یو یا زیات شمېر غچ اخیستونکي افراد ټاکله او د دوی وظیفه دا وه، چې په قاتل پسې وگرځي او مړ یې کړي. که به دا کار سر ته ورسېدی، نو د قاتل بهیر د شکایت حق نه درلودی او خبره فیصله گڼل کېدله.

٦- په هر بهیر کې ټاکلي معین نومونه او یا د نومو سلسله سته، چې په ټوله قبیله کې یې یوازې هغه مربوط بهیر د استعمالولو حق لري. په دې ډول نو د یو فرد له نامه شخه هم دا را وځي، چې له کومه بهیره شخه دی. د بهیري نامه سره طبعاً بهیري حقوق هم په لازمي ډول تړلي دي.

۷- بهیر کولای سي، چې پردی په ځان ګډ کړي او له دې لاري یې نو په درسته قبیله هم ومني. د جنګ بندیان، چې ژوندي به پاته سول، په کوم یوه بهیر کي د ګډېدو له لاري د سینیکا د قبیلې غړي ګرځېده او په دې ډول یې نو پوره قبیلوي او بهیري حقوق حاصلوله. په بهیر کي ګډېده د بهیر د غړو افرادو په غوښتنه کېده- نارینه‌وو بېګانه څوک د ورور یا خور په ځای کي دراوه او ښځو د اولاد په سترګه ورته کتل. د دې ګډېدو د تائید په منظور دا ضروري وه، چې دا کار په مراسمو اجراء سي. هغه بهیرونه چې کله کله به یې د افرادو شمېر لږ سو، نو له یوه بله بهیره څخه به یې یوه دسته غړي د هغو په خوښه په دې کم‌شمېره بهیر ور ګډوله. په بهیر کي د ګډېدو مراسم د ایروکوایسیانو تر منځ د قبیلې د جرګې په یوه عمومي غونډه کي پر ځای کېدله، چې عملاً یې د مذهبي مراسمو شکل اخیستی.

۸- په همدې بهیرونو کي داسي مراسم په مشکله ثابتیږي، چې هغه دي خاص مذهبي وي، ځکه د سورپوستانو مذهبي مراسم ډېر یا لږ د بهیري چارو سره تعلق لري. د ایروکوایسیانو تر منځ په هغو مذهبي مراسمو کي، چې په کال کي یې شپږ واره پر ځای کول، د هر بهیر ساخیمان او د جګړې سرلښکران د خپل مقام په نسبت «د دین د ساتندویانو» په جمله کي ګڼل کېدل او د کاهنانو په شان وظایف یې اجراء کوله.

۹- هر بهیر یوه ګډه هدیره لري. د نیویارک د ولایت د ایروکوایسیانو، چې له هري خوا څخه سپین پوستو ضیق کړي دي، هدیره له منځه تللې ده، اما دمخه یې وجود درلودی. خو داسي خاصي هدیرې د سور پوستو د نورو قبایلو تر منځ

لا پاته دي، مثلاً لکه د تسکارورايانو (Tuscaroras) تر منځ چې دا يوه قبيله ده او د ايروکوايسيانو سره نژدې ارتباط لري. دغه قبيله که څه هم عيسوي دين پالي، خو د هديرې ترتيب يې داسي دی، چې هلته اوس هم د هر بهير د ښځېدو دپاره خپل خپل جلا قطار لري او مور د خپل اولاد په قطار کي ښخيږي، لاکن پلار بيا په دې قطار کي نه ښخيږي. همدا رنګه د ايروکوايسيانو تر منځ د بهير ټوله غړي د جنازې په تشييع کي ماتم نيسي، قبر تياروي، د جنازې تقريرونه کوي او همداسي نوري خبري.

۱۰- هر بهير يوه جرګه لري. دغه جرګه د بهير د ټولو بالغو نارينه او ښځو غړو، چې د مساوي رايي خاوندان دي، يوه ډموکراټيک اسامبله ګڼل کيږي. دا جرګه ساخيمان، د جګړې سرلښکران او همدغه شاني «د دين نور ساتندويان» هم انتخابوي او هم يې برطرف کوي. دا جرګه د وژل سوي بهيري غړي د ديت (Wergeld) يا د ويني د بدلې اخيستلو او په خپل بهير کي د پردو د ګډېدو په باب کي فيصله را باسي. لنډه دا چې دا جرګه په بهير کي ډېر لوړ واک لري.

د سور پوستانو د يو مثالي (ټيپيکل) بهير اختيارات دغه شيان دي.

«د يو ايروکوايسي بهير ټوله غړي په شخصي لحاظ آزاد وه او د دې خبري ذمه‌واري يې درلوده، چې يو د بل له ازادۍ څخه دفاع وکړي. دوی په امتيازاتو او شخصي حقوقو کي يو د بله سره برابر وه. ساخيمانو او د جګړې سرلښکرانو د لوړتوب ادعاء نه کوله. د دوی تر منځ يوه ورورګلوي وه، چې د زيي د روابطو په ذريعه يې ټينګ اتحاد درلودی. د حريت، مساوات او ورورولۍ پرنسيپونه، که څه هم نه وه تدوين سوي، خو د بهير اصلي اساسات يې تشکيلوله. بهير نو د

یوه اجتماعي نظام یونټ وو، یعنې هغه بنسټ یې تشکیلاوه، چې د سور پوستو ټولنه ور باندي جوړه سوې وه. د دې حالاتو له مخې نو د هغې خپلواکې او د شخصي متانت خصوصیات پوره توضیح کېدلای سي، چې په کلي توګه یې د سور پوستو خصلت ته نسبت کیږي».

د ټولي شمالي امریکې سور پوستانو د دوی د کشف په وخت کي له مورني حق سره سم د بهیر تشکیلات درلودل. خو صرف په یو څو قبیلو کي یې، لکه ډاکوټایانو (Dakotas) تر منځ بهیرونه خراب سوي وه. په ځینو نورو کي لکه د اوجیبوایانو (Ojibwas) او اوماهایانو (Omahas) تر منځ هلته بیا د پلارني حق له اساسه سره برابر بهیرونه منځ ته راغلي وه.

د سور پوستانو د ګڼ شمېر قبیلو تر منځ، چې هره یوه یې څه د پاسه پنځه یا شپږ بهیرونه لري، موږ وینو، چې درې، څلور یا زیات بهیرونه یې بیا ځان ته د یو مخصوص جمعیت په دایره کي متحد سوي وي، چې مورګان یې د سور پوستو هغه نوم، چې دغه جمعیت په یادیږي، په صحیح ډول د هغه په یوناني معادل ترجمه کوي او فریټري (وررورګلوي) یې بولي. په دې ډول نو سینیکائیان دوې فریټري لري، چې لومړی فریټري یې له اوله څخه تر څلورم بهیره او دوهم یې له پنځمه څخه تر اتم بهیره پوري په ځان کښېباسي. دقیقه پلټنه دا څرګندوي، چې دغه فریټریاني په اصل کي د لومړي سر هغه بهیرونه دي، چې په ابتداء کي دا قبیله ور وېشل سوې وه، ځکه په بهیر کي دننه د ازدواج د ممانعت په سبب لازمه وه، چې هره قبیله د دې دپاره چې مستقل پایښت وکړلای سي، باید لږ تر لږه دوه بهیره خو ولري. کله چې قبیله غټه سوه، نو هر

بهير بيا دوو يا زياتو کوچنيو بهيرونو ته ووېشل سو، چي اوس يې هر يو ځان ته يو بېل بهير معلومېږي، لاکن هغه لومړنی بهير، چي دا ټوله زېږولي بهيرونه کنښباسي، د فريټري په توګه ادامه لري. د سينيکائيانو او د سور پوستو د نورو ډېرو قبيلو تر منځ د يوې فريټري شامل بهيرونه يو له بله ورور بهيرونه دي او د بلي فريټري هغي يې تربور بهيرونه دي. د بللو نومونه، لکه دمخه چي مو وليدل، د صلبي قرابت په امريکايي سيستم کي يو ښځي واقعي او څرګند مفهوم لري. رښتيا هم په ابتداء کي هيڅ سينيکايي په خپله فريټري کي دننه واده نه سوای کولای، خو دغه ممانعت چي اوس ډېر وخت کيږي له منځه تللی دی، يوازي تر بهيره پوري محدود پاته سوی دی. سينيکائيانو ته دا خبره په عنعنه راغلې وه، چي د خرس او ګوزن په نامه دوه بهيرونه لومړني او ابتدايي بهيرونه دي، چي له دوی څخه دا نور بهيرونه را زېږېدلي دي. کله چي د بهير دې نوي موسسې ريښې ټينګي کړې، نو د ضرورت سره سم يې تحول کاوه. د توازن د ساتني دپاره کله کله له نورو فريټريو څخه را وتلي بهيرونه ټوله هغه فريټريو ته ور انتقالېده، چي بهيرونه به يې له منځه ولاړه. دغه دليل دی، چي په بېلو بېلو قبيلو کي د فريټريو تر منځ د يوه نامه متعدد بهيرونه وينو، چي مختلف جمعيتونه يې تشکيل کړي وي.

د ايروکوايسيانو تر منځ د فريټري وظايف يو څه اجتماعي او يو څه مذهبي دي؛

۱- فريټرياني يو د بله سره توپبازي کوي. هره فريټري خپل غښتلي بازيګران مخ ته اچوي، خو دا نور پاته غړي يې نندارچيان وي، چي د فريټري د ترتيب

سره سم په خپلو قطارو او صفو کي دريږي. هره خوا يو د بل په مقابل کي د خپلو مربوطو بازيگرانو پر برياليتوب باندي شرطونه تړي.
٢- د قبيلې په جرگه کي د هري فريټري (ساخيمان) او د جگړې سرلښکران يو ځای کښيني او د فريټريو دوه جمعيتونه يو و بل ته مخامخ وي او هر نطاق د هري فريټري نماينده‌گان د يوه بېل جمعيت په حيث مخاطب گرځوي.
٣- که به په قبيله کي د قتل يوه مسئله پېښه سوه او قاتل او مقتول به له يوې فريټرۍ څخه نه وه، نو ويرجن بهير خپل ورور بهيرونو ته خواست کاوه او دوی نو بيا د فريټري جرگه را بلله او د يوه کُل په توگه يې هغي بلي فريټري ته مراجعه کوله او دا يې هم ور ځني غوښته، چي د خبري د پرېکړي دپاره هغه خپله جرگه را وبولي. دلته بيا يو پلا دا خبره معلوميږي، چي فريټري د لومړني بهير په حيث خپل ځان تبارز کوي او د خبرو په پرېکړه کي نسبت د دې تر فرعي څانگي (يعني کمزورو ځانگړو بهيرونو) د برياليتوب غټ اميد ځني کيږي.
٤- د غټو خلگو په مړينه کي مقابلي فريټري د بهير تجهيز، تکفين او ښخېدو د مراسمو ترتيب کاوه او ويرجني فريټري به خپل ماتم نيوی. که به يو ساخيم مړ سو، نو مقابلي فريټري به د ايروکوايسيانو فيدرالي جرگې ته د چوکۍ د خالي کېدو په باب کي خبر ور کاوه.
٥- د فريټري جرگه به د ساخيم په ټاکلو کي بيا ميدان ته راتله. په انتخاب کي د ورور بهيرونو موافقه يو طبيعي غوندي امر گڼل کېدی، خو د هغې بلي فريټري بهيرونو کولای سوای، چي مخالفت وکړي. په داسي صورت کي نو د دې

فریټري جرګې غونډه کوله او که به یې هغه مخالفت تائید کړی وای، نو دا انتخاب باطل او لغو ګڼل کېدی.

٦- پخوا ایروکوایسیانو ځیني مخصوص له اسرارو ډک مرموز مذهبي رسومات درلودل، چې سپین پوستو «د طلسماتو خلوتونه» (medicine-lodges) بلله. دا رسومات د سینیکائیانو تر منځ د دوو مذهبي ټولنو له خوا پر ځای کېده، چې هره ټولنه یوه فریټرۍ ته منسوبه وه. په دې ټولنو کې نوي غړي په منظمو بې‌ساري تشریفاتو شاملېدله.

٧- که د امریکې د فتح په زمانه کي (چې په یقیني توګه هم دغسي ده) هغه څلور Lineages (یعني د ژبي په اساس څلور پښې) چې د (تلس کلا) (Tlascala) څلور برخي یې اشغالولې، څلور فریټري وې، نو له دې څخه ثابتیږي، چې دلته هم فریټریو (هغه ډول لکه د یونانیانو تر منځ چې وې او دوی ته ورته کانسنګویني ټولني لکه د جرمنیانو تر منځ چې وې) د نظامي یونټونو په توګه کار ور کاوه. دغه څلور (lineages) د ضرورت پر وخت جنګ ته وتلې او هره یوه لکه بېله پلټن غوندي خپل مخصوص لباس او بیرغ او د خپل ځان دپاره د خپل سر سړی یې درلودی.

هغه راز لکه یو شمېر بهیرونه چې یوه فریټري جوړوي، دغه رنګه په کلاسیک شکل کي بیا له یو شمېر فریټریو څخه یوه قبیله جوړیږي. په ځینو مواردو کي د بهیر او قبیلې تر منځ د فریټري منځنۍ رابطه په هغو قبیلو کي ورکه سوې ده، چې خورا ډېري کمزوري سوي دي. په امریکا کي د سور پوستانو د قبیلې بېلوونکي خصوصیات دا شیان دي:

١- هري قبيلې خپل ځان ته سيمه او خپل نوم درلودی. د اوسېدوني تر اصلي ځای علاوه، هري قبيلې د ښکار او ماهي‌گیرۍ دپاره هم خپله لويه سيمه درلوده. د دې سيمي ها خوا ته د نامالکي مځکي يوه پلنه ټوټه پرته وه، چي د هغي بلي قبيلې تر سيمي به رسېدله. د دې نامالکي مځکي پسور به د هغو دوو قبيلو تر منځ نسبتاً کوچنی وو، چي ژبي به يې سره نژدې وې او د هغو تر منځ به لوی وو، چي ژبو به يې د قرابت نسبت نه درلودی. دغسي بې‌تصرفه ځمکي د جرمنيانو تر منځ له سرحدي ځنگله څخه عبارت وې او دا ځنگلي سيمه هغه غيرمسکوني مځکي وې، چي قيصر ته منسوب سويويانو (suevi) د خپلي خاوري او علاقې پر گرداورده جوړي کړي وې او هم له هغه (isarnholt) څخه عبارت وې (چي په ډنمارکي ژبه يې jarnaved, limes Danicus بولي) او د ډنمارکيانو او جرمنيانو علاقې يو له بله په جلا سوي وې او له هغه ساکسوني ځنگل او (Branibor) څخه (چي په سلاوي ژبه يې معنی دفاعي ځنگل دی) چي د براندېنبورگ (Brandenburg) نوم هم له دغه څخه را وتلی دی، عبارت وې، چي جرمنيان او سلاويان سره په جلا سوي وه. هغه سيمه چي دغه شان په ناقصو او ناواضحو سرحدونو به محدوده سوې وه، د قبيلې مشترکه خاوره گڼل کېده او د گاونډي قبيلو له خوا څخه هم په دغه حيثيت پېژندل سوې وه. پر دې سيمه باندي د هر تېري په مقابل کي د قبيلې له خوا څخه دفاع کېدله. په اکثرو مواردو کي د سرحدونو عدم وضاحت صرف هغه وخت يو عملي مشکل گرځېدی، چي نفوس به ډېر زيات سو. معلومېږي، چي قبيلوي نومونه تر دې چي سرې يې د فکر او تأمل د انتخاب له لاري راغلي وگڼي، دا خبره ترجيح

لري، چې په اتفاقي ډول را پيدا سوي دي. د زمانې په دوران کي دا ډېره پېښه سوې ده، چې يوه قبيله خپلو ګاونډيو قبيلو په داسي نامه بللې ده، چې له هغه نامه څخه به يې فرق درلودی، چې هغې قبيلې به خپل ځان په باله، لکه دا خبره چې د جرمنيانو (Die Deutschen) په باره کي صادقه ده، ځکه د دوی لومړی جامع تاريخي نوم «جرمنی» (Germani, Germanen) د سيليټيانو له خوا څخه پر ايښوول سوی دی.

۲- دې قبيلې به يوه خپله مخصوصه لهجه درلوده. رښتيا هم قبيله او لهجه دواړه په اصل کي يوه ساحه لري. د فرعي انشعاباتو په سلسله تر دې اوس وختو پوري لا په امريکا کي د نوو قبيلو او نوو لهجو پيدا کېده مخ پر انکشاف وه او دا نه سي ويل کېدلای، چې حتی اوس لا هم دا جريان يو مخيزه پای ته رسېدلی وي. چيري چې دوې کمزوري سوي قبيلې يو د بله سره ګډې سوي دي او يوه قبيله يې جوړه کړې ده، نو هلته په استثنايي صورت داسي پېښيږي، چې په همدې قبيله کي دي په دوو قريبو لهجو خبري کيږي. د امريکايي قبيلو اوسط حد نفوس (۲۰۰۰) تنه دی. خو د چيروکيانو (Cherokees) قبيله تقريباً (۲٦۰۰۰) نفوس لري او د متحده ولايتونو په سور پوستانو کي دا خورا غټ شمېر خلګ دي، چې په يوه لهجه سره ږغيږي.

۳- دا د قبيلې حق دی، چې ساخيمان او د جګړې سرلښکران، چې د بهيرونو له خوا انتخاب سوي وي، پر خپلو عهدو باندي ودروي.

۴- دا يې هم حق دی، چې بيرته يې حتی د مربوطو بهيرونو د خوښې پر خلاف، له عهدو څخه برطرف کړي. څه رنګه چې دا ساخيمان او د جګړې سرلښکران

د قبیلوي جرګې غړي دي، نو د قبیلې دغه حقوق او امتیازات د دوی په نسبت په خپله واضح دي. هر کله چې د قبیلو اتحادیه (کانفدریسي) جوړه سوه او ګردو قبیلو د دې اتحادیې په جرګه کي نمایندهګي درلوده، نو نوموړي حقوق او اختیارات له قبیلوي جرګې څخه د اتحادیې جرګې ته را نقل سوه.

۵- قبیلې یو شان مذهبي افکار (اساطیر) او د عبادت رسومات درلوده.

«لکه څنګه چي بربریان زیاتره مذهبي خلګ وي، سور پوستان هم هغه شان مذهبي خلګ وه».

د دوی اساطیر تر اوسه له هیڅ پلوه په تنقیدي نظر تر پلټني او څېړني لاندي نه دي راغلي. دوی له وختي څخه لا د خپلو مذهبي تصوراتو محمولاتو ته – یعني هر قسم ارواحو ته- بشري تجسم ور کړی وو، اما هغه وخت چي د بربریت په کښتنۍ مرحله کي وه، شکل لرونکي تمثالونه او یا بتان یې نه درلوده. د طبیعت او د هغه د عناصرو نمانځنه وه، چي د شرکپرستۍ لوري ته یې ارتقاء وکړه. بېلو بېلو قبیلو خپل منظم اخترونه درلوده، چي ټاکلي شکل عبادتونه او په تېره بیا اتڼونه او لوبي پکښي اجراء کېدلې. مخصوصاً اتڼ بیا په ټولو مذهبي مراسمو کي اساسي برخه تشکیلوله. هري قبیلې خپل اخترونه او جشنونه له نورو څخه جلا اجراء کول.

٦- د عامه او مشترکو چارو دپاره یې یوه قبیلوي جرګه درلوده. دا جرګه د بېلو بېلو بهیرونو د ګردو ساخیمانو او جنګي سالارانو څخه، چي د بهیرونو حقیقي نمایندهګان وه، جوړه سوې وه. دوی ځکه حقیقي نمایندهګان وه، ولي چي هر وخت که خلګو غوښتي وای، نو کولای یې سوای، چي برطرفه یې کړي. دې

جرګې عامه جلسه کوله، چي د قبيلې نور غړي به پر را ګرځېدلي وه. دې غړو حق درلودی، چي په خبرو کي برخه واخلي او د دوی پر رايو غوږ ونيول سي. فيصلې د جرګې له خوا څخه کېدلې. دا قاعده وه، چي هر څوک به په جرګه کي حاضر وو او کولای يې سوای، چي جرګې ته خبري وکړي، حتی ښځو هم کولای سوای، چي د خپلي خوښي د يو ټاکلي نطاق په وسيله خپل نظريات اظهار کړي. د ايروکوايسيانو تر منځ لازمه وه، چي نهايي فيصلې د رايو په اتفاق تصويب سي، لکه څنګه چي د جرمني په مارکي (کليوالي) ټولنو کي هم کټ مټ دغه شاني زياتره فيصلې د رايو په اتفاق سر ته رسېدلې. د نورو قبيلو سره د مناسباتو موضوع بيا خاص ډول د قبيلې په جرګه پوري اړه درلوده. د نورو ځايو سفيران دې جرګې ته را تلل او د خپلو سفيرانو لېږل هم د دې جرګې له خوا کېدل، د جنګ اعلاميه د دې له خوا څخه خپرېده او د روغې نتيجه هم دې اعلاموله. کله چي به جنګ ونښتی، نو اساساً د رضاکارانو له خوا څخه کېدی. کومي قبيلې چي به له بلي سره د سولي ښکاره تړون نه درلودی، نو د اساس له مخي دوی يو د بله سره د جنګ په حالت کي ګڼل کېدلې. د دغسي دښمنانو په مقابل کي نظامي سوقيات تر ډېره حده د يو شمېر نامتو لښکريانو له خوا څخه تنظيم کېدل. دوی د جنګ اتڼ جوړاوه او هر څوک چي په دې اتڼ ور ګډېده، نو معنی يې دا وه، چي دی هم غواړي په لښکرکښۍ کي برخه واخلي. يوه لښکري ټولۍ ژر جوړېده او سمدستي جنګ ته وتله. کله چي به پر قبيلوي خاوري تېری وسو، نو کټ مټ په دغه طريقه له خاوري څخه دفاع اساساً د رضاکارانو له خوا کېدله. دغسي لښکري ټولي چي به جنګ ته رهي کېدې

او يا به را ستونېدې، نو په داسي موقع کي به عام جشنونه نيول کېدله. د دغسي سوقياتو دپاره د قبيلوي جرگې منظوري حتمي نه وه. دا منظوري نه چا غوښته او نه ور کول کېده. دا سوقيات کټ مټ داسي وه، لکه د جرمني د معاش‌خورو سپاهيانو د داخلي جنگ سوقيات، چي تاقيطس بيان پکښي کړی دی، اما په استثناء د دې خبري، چي په جرمنيانو کي د معاش‌خورو پلټنيانو اردو وختي لا يو ډېر ثابت شکل اخيستی وو او يو قوي مرکزيت يې درلودی، چي د آرامۍ په وخت کي تشکيل سوی وو او د جنگ په پېښه کي دا نور رضاکاران پر هغه مرکز باندي سره را ټولېدله. په دغو نظامي ټوليو کي د افرادو شمېر چنداني ډېر نه وو. د سور پوستانو بېخي مهم سوقيات حتی هغه، چي ښه ډېره مځکه به يې اخيستې وه، د خورا لږ جنگي قواوو له خوا څخه اداره کېدله. کله چي به د يو مهم اقدام دپاره يو شمېر دغه ټولۍ سره يو ځای سوې، نو هري ټولۍ به يوازي د خپل مشر اوامرو ته غاړه ايښووله. د جنگي عملياتو دپاره د واحدي نخشې سرښته لږ يا ډېر د دغو مشرانو د يوې جرگې له خوا څخه سر ته رسېده. د اميانس مارسيلينس (Ammianus Marcellinus) د بيان مطابق، په څلورمه پېړۍ کي د پاسني راين (Upper Rhine) د آلمانيانو (Alamanni) جنگي طريقه هم دغسي وه.

۷- په ځينو قبيلو کي موږ وينو، چي يو مشر سرخېل (Oberhauptling) وي، لاکن خورا لږ اختيارات يې په لاس کي وي. داسي سرخېل د ساخيمانو له جملې څخه دی، چي په عاجلو مواردو کي، چي ژر اقدام ايجابوي، نو دی تر څو چي جرگه غونډه کوي او نهايي فيصلې را باسي، له موقتي تدابيرو او

تصميمونو څخه کار اخلي. دا جريان د يو داسي رسمي مامور د منځ ته راتلو دپاره يو کمزورى کوښښ وو، چي هغه د اجرايي په برخه کي صلاحيت ولري، خو لکه د وروستي انکشاف له مخي چي معلومه سوه، عموماً يو بې‌ځايه او بې‌کاره کوښښ وو، ځکه په اصل کي، لکه وروسته به وليدل سي، هغه ستر نظامي قوماندان (Oberster Heerfuhrer) وو، چي که څه هم په ټولو کي نه، اما په زياترو مواردو کي يو دغسي مامور ځني جوړ سو.

د امريکايي سور پوستانو غټ اکثريت د قبيلوي توحيد او تشکيل تر مرحلې وا نه وښتى. دوى د شمېر له مخي کوچنۍ کوچنۍ قبيلې درلودې، چي پراخي سرحدي سيمي يې په منځ کي پرتې وې او دوى يې يو له بله څخه جلا کړي وې. دا خلګ د دايمي جګړې په سبب ضعيفه سوي وه او يوه ډېره لويه سيمه يې په خورا لږو خلګو اشغال کړې وه. د موقتي لزوم په وخت کي دلته هلته هغو قبيلو اتحاد کاوه، چي قومي ارتباط به يې سره درلودى، خو د دې لزوم په ورکېدو سره به هغه اتحاد هم بيرته پاى ته ورسېدى. لاکن په ځينو مخصوصو سيمو کي هغه قبيلې، چي په لومړي سر کي قريباني قبيلې وې، خو بيا يې يو د بله يووالى پرې سوى وو، بيرته له نوي سره د بادوامه ثابتو اتحاديو (کانفدريسيو) په اساس سره متحدي سوې او په دې ډول يې نو د اولسونو (ملتونو) د تشکيل خوا ته لومړى ګام واخيستى. په متحده ايالاتو کي د دغسي کانفدريسي زيات پر مخ تللى شکل د ايروکوايسيانو تر منځ ليدل کيږي. دوى چي له خپل لومړني ټاټوبي څخه کوچ را وکړى، چي هغه د ميسيسپي په لوېديځ کي واقع وو او غالباً هلته يې د ډاکوټا (Dakota) په نامه د غټي ټولني

يوه څانګه هم تشکيل کړې وه، نو تر ډېرو اوږدو ګرځېدونو وروسته يې په هغه ځای کې واړول، چې نن ورځ د نيويارک ايالت دی. دوی په پنځو قبيلو وېشلي وه: سينيکائيان، کايوګايان (Cayugas)، اونداګايان (Onondagas)، اونيدايان (Oneidas) او موهاوکايان (Mohawks). د خوړو ګذاره يې د ماهي، ښکار او ابندايي باغو له حاصلاتو څخه کوله او په هغو کلو کې اوسېده، چې د کيږ په را ګرځولو سره خوندي وه. د دوی د نفوسو شمېر تر شل زره زيات نه وو او په ګردو پنځو سرو قبيلو کې يې يو شمېر مشترک بهيرونه موجود وه. دوی د يوې ژبې په خورا نژدې لهجو خبري کولې او د هغې سيمي يوه اوږده ټوټه خاوره يې اشغال کړې وه، چې د دغو پنځو قبيلو تر منځ وېشل سوې وه. څه رنګه چې دغه علاقه تازه لاندي سوې وه، نو د دغو قبيلو تر منځ عادت سوي همکارۍ، د هغه چا په مقابل کې چې له دې مځکې څخه شړل سوي وه، يو طبيعي امر وو. ښه را دې خوا ته د پنځلسمي پېړۍ په سر کې له دغې خپل منځي همکارۍ څخه يوه منظمه «دايمي اتحاديه»، يعني يوه کانفدريسي منځ ته راغله. دې اتحاديې په داسي حال کې، چې د خپل نوي تشکيل سوي قدرت او قوت احساس يې درلودی، نو ژر يو مجاوز کرکټر واخيستی او د خپل قوت د برم په وختو کې، يعني د ۱٦۷۵م. کال په شاوخوا کې يې د ګاونډيو هيوادونو پراخې سيمي ونيولې او د هغو له اوسېدونکو څخه يې يو شمېر وشړل او پر نورو پاته کسانو يې ججه کښېښوووله. د ايروکوايسيانو کانفدريسي هغه زيات پر مخ تللی اجتماعي تشکيل وو، چې يوازي د هغو سور پوستانو له خوا په سر ورسېدی، چې د بربريت له کښتنۍ مرحلې څخه لا نه وه را وتلي. د دې سور پوستانو په

سلسله کي پرته د مکسیکو، نوي مکسیکو او پیرو له اوسېدونکو څخه نور ټوله شامل دي.

د دې کانفدریسي اساسي خصوصیات دا وه:

۱- دې پنځو کانسنگویني قبیلو پر دې اساس باندي دایمي اتحاد قایم کړی وو، چي گردو قبیلو بشپړ مساوات درلودل او هم هره قبیله په خپلو ټولو داخلي چارو کي د خپل ځاني واک خاونده وه. د ویني صلې د کانفدریسي حقیقي اساس تشکیلاوه. د دې پنځو قبیلو له جملې څخه درې یې پلارنۍ قبیلې بلل کېدې، چي خپل تر منځ یې د ورورولۍ حیثیت درلودی او هغه نوري دوې قبیلې زامني قبیلې بلل کېدې، چي هغو هم یو و بل ته د ورورۍ په سترگه کتله. درې بهیرونه چي خورا زاړه بهیرونه وه، لا تر اوسه یې په گردو پنځو قبیلو کي ژوندي ښاخونه درلوده. خو نور درې بهیرونه بیا صرف په دوو قبیلو کي موجود وه. په ټولو پنځو سرو قبیلو کي د هر بهیر غړي یو له بله سره وروڼه گڼل کېدل. دا چي د لږ څه لهجوي اختلاف سره یې ژبه یوه وه، نو دا د دې خبري ثبوت وو، چي دوی د یوه نسب خلگ وه.

۲- د کانفدریسي اورگان (انتظامي اداره) یوه فیدرالي جرگه وه، چي له پنځوسو ساخیمانو څخه جوړېده او هلته ټوله د مساوي رتبې او مقام څښتنان وه. دې جرگې د گردو هغو موضوعاتو په باره کي، چي په کانفدریسي به یې اړه درلوده، نهایي فیصلې را ایستلې.

۳- د كانفدريسي د مقاصدو دپاره، خاصتاً د منځ ته راغليو وظايفو د موظفينو په حيث، د دغو ۵۰ ساخيمانو دپاره چوكۍ د هغې له جوړېدو سره سم د قبيلو او بهيرونو تر منځ وېشل سوي وې.

هر كله چي به يوه چوكۍ خالي سوه، نو له نوي سره به د مربوطو بهيرونو له خوا څخه خپل ساخيمان ټاكل كېده او هم دې بهيرونو هر كله دا كولای سوای، چي خپل ساخيمان برطرفه كړي. خو دې حق په فيدرالي جرگې اړه درلوده، چي ساخيمان پر خپله وظيفه باندي ودروي.

۴- دغه فيدرالي ساخيمان په خپلو مربوطو قبيلو كي همدا رنگه ساخيمان وه او هر يوه په خپله قبيلوي جرگه كي همدا رنگه يوه چوكۍ او يوه رايه درلوده.

۵- د فيدرالي جرگې ټوله فيصلې، لازمه وه، چي د رايو په اتفاق سر ته ورسيږي.

٦- د رايو ور كول د قبيلې پر سر وه، نو ځكه د يوې نافذي فيصلې دپاره دا په كار وه، چي هره قبيله او د هري قبيلې د جرگې ټوله غړي هغه د رايو په اتفاق تصويب كړي.

۷- له پنځو قبيلوي جرگو څخه هري يوې كولای سوای، چي د فيدرالي جرگې غونډه را وبولي. خو فيدرالي جرگې دا صلاحيت نه درلودی، چي په خپل سر غونډه وكړي.

۸- د جرگې غونډې د عامو وگړو په مخ كي كېدلې. هر ايروكوايسي دا حق درلودی، چي خبري وكړي او د فيصلې اختيار يوازي جرگې درلودی.

۹- كانفدريسي نه رسمي رئيس درلودی او نه اجرائيه‌والا مشر.

۱۰- خو البته کانفدريسي دوه عالي جنګي سالاران درلوده، چې د مساوي صلاحيت او مساوي قدرت څښتنان وه (دا لکه د سپارټيانو دوه پاچهان او په روم کې دوه کونسلان (Consuls) چې وه).

دا وه هغه ګرده اجتماعي اصول، چې تر څلور سوه کاله بالا د ايروکوايسيانو تر منځ چليده او لا اوس هم چليږي. ما په دې باب کې د مورګان بيان په تفصيل سره راوړی، ځکه دغه بيان موږ ته دا موقع را کوي، چې د يوې داسي ټولنې تشکيل مطالعه کړو، چې تر دې وخته لا په دولت نه پوهيږي. دولت خو يو خاص سرکاري قدرت ايجابوي، چې د وګړو له هغې مجموعې څخه را بېل او پرې وي، چې له ده سره يې په هره معامله کې اړيکې پيدا کيږي. ماورر (Maurer) د صادقې غريزې له مخې دا خبره تائيدوي، چې د جرمني مارکي (کليوالي) اصول په اصل کې يوه سوچه اجتماعي تنظيم دی، چې ذاتاً له دولته څخه فرق لري، که څه هم دې اصولو په وروسته کې تر ډېره حده د دولت د بنسټ په حيث کار ور کړی دی. نو ځکه ماورر په خپلو ګردو ليکنو کې دا جريان پلټې، چې څه رنګه مارکونو، کليو، منطقو او ښارونو له ابتدايي اصولو او تشکيلاتو څخه او هم د هغو سره اړخ پر اړخ عامه (سرکاري) قدرت او صلاحيت ورو ورو منځ ته راغلی دی. د شمالي امريکا د سور پوستانو له مخې دا خبري څرګنديږي، چې څه رنګه هغه قبيله چې په وار د واره کې متحده وه، ورو ورو پر يوه پراخه قاره باندې سره تيته سوه او څه رنګه له قبيلې څخه د تجزيې له لارې اولسونه، يعنې د قبيلو مجموعي ګروپونه جوړ سول او څه رنګه ژبو نه يوازې دا تغير وکړی، چې بيا دوی يو له بله سره نه پوهېده، بلکې د ابتدايي او لومړني

اشتراک هره نخښه يې له منځه ولاړه او څه رنګه همدا زمان په قبيلو کې دننه هم ځانګړنې بهيرونه يو زيات شمېر نورو بهيرو ته وويشل سوه او څه رنګه هغو زړو مورنې بهيرونو د فريټريو په شکل ادامه پيدا کړه. او د دې زړو بهيرونو نومونه لا اوس هم د خورا ليرو او ارتو قبيلو تر منځ يو راز پاته دی. مثلاً لکه د لېوه او خرس نومونه، چې اوس لا هم د سور پوستانو د اکثرو قبيلو په منځ کې بهيري نومونه دي. عمومي خبره دا ده، چې وړاندې بيان سوي اصول، د دوی د ټولو اصول ګڼل کيږي، په استثناء د هغو وګړو، چې لا دې مرحلې ته نه وه رسېدلي، چې د قومي رابطې په اساس د خپلوانو قبيلو يو کنفدريشن جوړ کړي.
موږ همدا رنګه وينو، چې څه وخت يو پلا دغه بهير يو اجتماعي يونټ وګرځېدی، نو تر ده وروسته د بهيرونو، فريټريو او قبيلې ګرده سيسټم لزوماً –او نو ځکه طبعاً- له دغه يونټه څخه انکشاف را وکړی. درې سره ټوله (يعني بهير، فريټري او قبيله) د صلبي قرابت د مختلفو درجو جمعيتونه دي، چې هر يو يې په ځان کې پوره دی او د خپلو چارو انتظام کوي، لاکن هر يو يې هغه نور دوه هم تکميلوي.
هغه چارې چې همدغه بهير، فريټري او قبيلوي موسساتو ته سپارل کيږي او اجراء يې ور په غاړه ده، د هغو کارو له مجموعې څخه عبارت دي، چې د بربريانو د کښتنۍ مرحلې عامه چارې ګڼل کيږي، نو ځکه هر چيري چې بهير د يو اولس د اصلي اجتماعي يونټ په شان وينو، هلته بايد د قبيلې په يو داسې تشکيل پسې هم وګورو، لکه پورته چې يې بيان وسو. خو چيري چې بيا کافي مواد په لاس کې وي، مثلاً لکه د يونانيانو او روميانو تر منځ، هلته به بيا نه يوازې

دا ډول تشکیلات پیدا کړو، بلکي به په دې هم ډاډه واوسو، چې حتی په هغو مواردو کي به، چې بیا به د موادو کمبود سي، د امریکایي اجتماعي اصولو سره یوه مقایسه د خورا مشکلو پوښتنو او معماوو په حل کي مرسته را سره وکړي.
دا بهیري نظام په خپله ګرده ماشومانه سادګۍ کي څومره عجیب او حیرانوونکی دی. هره چاره بې له عسکو، ژاندارمو یا پولیسو، بې له خانانو، پاچهانو، حاکمانو، قوماندانانو یا قاضیانو او بې له بندیخانو او بې له محاکمو څخه په ډېر ښه صورت انجامیږي. ټوله شخړي او جګړې د مربوطو خلګو د ټوله جمعیت له خوا څخه، چې هغه بهیر یا قبیله یا د بهیرونو څانګي دي، په خپل منځ کي فیصله کیږي. د ويني د غچ اخیستني تهدید یوازي هغه وخت منځ ته را ځي، چې بله چاره ودریږي او دغه جزا چې زموږ د وختو د مرګ سزا یې صرف هغه مدني شکل دی، چې د مدنیت د دورې ټوله ښېګڼي او بدۍ ور پکښې دي، په خورا ندرت تطبیق کیږي. که څه هم د نن په نسبت د هغه وخت ډېري چاري مشترکي دي –یعني کهول د یو شمېر کورنیو له خوا څخه په مشترک او کمونیستي ډول اداره کیږي او مځکه قبیلوي ملکیت دی او صرف باغچې په موقتي ډول په کهولو پوري اړه پیدا کوي- خو سره له دې د ادارې دپاره یې زموږ په شان د ادارې د پراخي او مرکبي دستګاه یوه شي ته لا هم اړتیا نه پېښیږي. په هر چا چې خبره اړه لري، هغه یې په خپله کوي او په زیاترو مواردو کي د پېړیو پېړیو یو قدیم عرف له پخوا څخه لا د هري خبري ځای او حد معلوم کړی دی. هلته خوار او محتاجه نه پیدا کیږي، ځکه اشتراکي کهولونه او بهیرونه د عمر خوړلو، رنځورانو او د جنګ د معیوبانو په نسبت خپل مکلفیتونه پېژني او

غم‌خوري يې کوي. ټوله د ښځو په شمول آزاد او مساوي دي. تر دې آنه لا هلته مريان وجود نه لري او هم د جال له مخي دا نه سته، چي پردی قبیلې تر خپل لاس لاندي کړي. کله چي ایروکوایسیانو د ١٦٥١م. کال په شاوخوا کي ایریان (Eries) او یو بې‌طرفه اولس لاندي کړه، نو دوی هغو ته بلنه ور کړه، چي د مساوي غړو په حیث په کانفدریسي کي ور ګډ سي او صرف هغه وخت، چي مغلوبو وګړو انکار وکړی، نو له خپلي علاقې څخه وشړل سول. د هغو نرو او ښځو خصلت، چي په يوه دغسي ټولنه کي منځ ته راتله، د هغو سپين پوستو له خوا څخه، چي پر خپل حال پاته سور پوستانو سره په تماس کي راغلي دي، ډېر ستایل سوی دی او هم یې د دغو بربریانو د شخصي وقار، یو مخی، سپېڅلتوب، د کرکټر د ثبات او زړه‌ورتوب زیاته ستاینه کړې ده.

موږ بالکل په دې اوس وختو کی د دغه قسم زړه‌ورتوب مثالونه په افریقا کي ولیدل. یو څو کاله دمخه زولو کافرانو (Zulu Kaffirs) او یو څو میاشتي دمخه نوبیانو (Nubians) (چي په دې دواړو قبیلو کي لا بهیري موسسات له منځه نه دي تللي) هغه کارونه وکړه، چي اروپایي لښکر نه سوای کولای[1]. په داسي حال کي چي دوی صرف په نیزو او برچو مجهز وه او توپک نه وو ور څخه، خو د جاغوریانو د ګولیو په باران کي مخامخ د انګلیسي پیاده لښکرو (چي د جنګېدو دپاره په ټینګه دسته‌بندی کي د نړی د بهترینو لښکرو په حیث منل سوی دی) پر نیزو ورغله او دوی یې سره تیت و پرک کړه او حتی څو پلا یې شا

١ دلته اشاره هغه جګړې ته ده، چي په ١٨٧٩م. کال کي د زولو د قبیلې او انګرېزانو تر منځ پېښه سوه او هم په ١٨٨٣م. کال کي د نوبیانو او انګرېزانو په مابین کي پېښه سوه. –ت. هـ.

ته ووهل او دا کار يې هم په داسي حالت کي انجام کړی، چي د دواړو خواوو د وسلو تر منځ ډېر زيات فرق موجود وو او دوی هم په کوم نظامي خدمت نه پوهېده او نه يې نظامي قواعد پېژندله. د دوی ظرفيت او مقاومت د انگليسانو د دې شکايت له مخي ښه ثابت دی، چي ويل به يې: يو کافر خورا تېز ځغلي او په ۲۴ گړيو کي تر يوه آس ډېره مځکه پرې کولای سي. لکه يو انگليس رسام چي وايي، د دوی کوچنۍ غړی، لکه د شلاخي غښتلي تارونه، ډېر سخت او فولادي دي.

بشريت او بشري ټولنه د طبقاتي وېش تر ظهور دمخه دغه راز وه. که موږ د دوی حالت نن د متمدنو وگړو د خورا لوی اکثريت له وضع سره مقايسه کړو، نو به ووينو، چي له يوې خوا د نن ورځي د خواريکښ (پرولتار) او کوچني بزگر او له بلي خوا د يوه پخواني بهير د يو آزاد غړي په منځ کي د فرق او توپير ډېره لويه فاصله موجوده ده.

دا خو د تصوير يو اړخ دی، خو دا مو هم بايد له ياده و نه وځي، چي دغه تشکيل په تهلکه محکوم وو او هيڅ کله د قبيلې تر احاطې دباندي را و نه وتی او نور انکشاف يې و نه کړی. لکه په را وروسته کي چي به ښکاره سي، د قبيلو کانفدريسي وختي لا دا زيری ور کاوه، چي دغه تشکيل په ړنگېدو شروع کړې ده. د نورو د رعيتولو دپاره د ايروکوايسيانو کوښښونه هم د دې جريان علامه وه. هغه څه چي تر قبيلې دباندي وه، هغه تر قانون دباندي وه. چيري چي به د روغي او سولي څرگندي معاهدې وجود نه درلودی، نو د يوې او بلي قبيلې په منځ کي به جنگ کېدی. جنگ به هم په داسي وحشيانه بې‌رحمۍ سره کېدی،

چې دغه بې‌رحمي د ټولو حیواناتو په منځ کې یوازې د انسان ممیزه ده او په وروسته کې د دې بې‌رحمۍ درجه یوازې د مادي ګټې په خاطر تر پخوا را کښته سوه. د بهیري نظام پوره برم لکه په امریکا کې چې مو ولیدی، د دې مستلزم وو، چې د تولید شکل بېخي هیڅ انکشاف نه وي کړی، یعنې خورا لږ نفوس پر پراخه سیمه باندې پاشلی پراته وي او نو ځکه د هغې زمانې انسان د خارجي طبیعت په مقابل کې (چې ده ته بېګانه، مخالف او غیرِقابل فهم شی وو) تقریباً په بشپړه توګه عاجز وو او دغه عاجزي د ده په طفلانه مذهبي افکارو کې ځان ښکاره کړی دی. د انسان د نظر ساحه هم د ځان او هم د نورو په نسبت د قبیلې په حدودو محدوده وه. قبیله، بهیر او د دوی نور موسسات ټوله مقدس ګڼل کېده او احترام یې واجب وو؛ یعنې دا شیان یو ستر قدرت ګڼل کېدل، چې طبیعت جوړ کړي دي او فرد په خپل احساس، فکر او عمل کې په مطلق ډول ورته تابع وو. د دې دورې وګړي، چې موږ ته خورا په زړه پوري را معلومېږي، خو دوی په هیڅ وجه یو له بله سره فرق نه لري او لکه مارکس چې وايي، دوی لا د ابتدایي جمعیت د نو (ناف) په تار پوري تړلي دي. د دغو ابتدایي جمعیتونو قدرت لازمه وه، چې مات سي او نو مات هم سو. خو دا ماتېده د هغو عواملو د نفوذ له لارې سر ته ورسېده، چې له لومړي سره د یوه داسې جریان په توګه را معلومېږي، چې لرغونې بهیري ټولنه د سپېڅلي اخلاقي عظمت له مقام څخه د یو پستۍ او تنزل خوا ته را نړېږي. ډېر ټیټ نیتونه- یعنې پسته سرانښي، وحشیانه نفس‌پرستي، کښته طمع، د مشترکو شتمنیو د چور دپاره مغرضانه تلوسه- هغه شیان وه، چې په نوې مدني ټولنه، یعنې طبقاتي

ټولنه کي منځ ته راغله او خورا رذيلانه وسايلو –يعني غلا، جبر او فشار، چمبازۍ او خيانت- پخوانۍ غيرطبقاتي ټولنه لاندي کړه او له منځه يې يووړه. دې نوي ټولني د خپل عمر د ۲۵۰۰ کلونو په دوران کي نور هيڅ نه دي کړي، بې له دې څخه چي د کوچني اقليت انکشاف د استثمار سوو او مظلومو د غټ اکثريت په قيمت تامين کړي او دې کار تر بل هر وخت زيات په نن ورځ کي ډېر زور اخيستی دی.

# څلورم څپرکی

# يوناني بهير

## يوناني بهير

يونانيان همدا رگه د پيلاسگيانو (Pelasgians) او د همدې قبيلوي ريښې د نورو اولسونو په شان د ماقبل التاريخي زمانو راهيسي کټ مټ د هغي سلسلې په ترتيب را تشکيل سوي وه، لکه امريکايان چي وه. يعني د بهير، فريټري، قبيلې او د قبيلو د کانفدريسي تشکيلات يې درلوده. کېدلای سوای، چي فريټري ځای ځای مثلاً لکه د ډوريانو (Dorians) تر منځ و نه ليدل سي او امکان يې وو، چي د قبيلو کانفدريسي هم هر چيري کامله وده نه وي کړې، خو هر څه چي بهير وو، هغه په هر ځای او هر مورد کي د اجتماعي يونټ په شان ليدل کيږي. هغه زمانه چي يونانيان تاريخ ته داخلېده، دوی د مدنيت د دروازې په خوله کي وه. تقريباً د انکشاف دوې لويي دورې د يونانيانو او نوموړو ذکر سوي امريکايي قبيلو تر منځ واقع دي او نو ځکه د قهرمانۍ د عصر يونانيان تر ايروکوايسيانو خورا ډېر په مخ کي وه. دا وجه ده، چي په يوناني بهير کي هغه لرغوني نخښي نه وې پاته، چي د اپروکوايسيانو په بهير کي لا ليدل کېدلې. او نو ځکه د جمعيتي ازدواج علامې پکښي بالکل خرابي سوي وې. مورني حق پلارني حق ته ځای ور پرې ايښی وو او له دې لاري څخه نو منځ ته راتلونکی خصوصي ثروت په بهيري اصول کي لومړی درز کړی وو. طبيعي وه، چي په لومړي درز پسي يو بل دوهم چاړاخ هم منځ ته را سي او هغه دا، چي د پلارني حق تر قايمېدو وروسته نو د يوې بډايي ښځي ترکه د دې د ازدواج په موجب د دې د مېړه په کور، يعني په بل بهير کي پاته سي، په دې ډول نو د ټول بهيري

قانون بنسټ مات سو او په همداسي مواردو کي نو نه یوازي دا چي نجلۍ ته اجازه ور کول سوه، بلکي مکلفه سوه، چي په بهیر کي به دننه واده کوي، څو چي ترکه یې تر بهیر دباندي و نه وځي.

د ګروټ (Grote) هغه بیان، چي «د یونان تاریخ» په کتاب کي یې راوړی دی، خاص د آتني بهیر د ارتباط عناصر یې په دا لاندي خبرو کي ښوولي دي:

۱- مشترک مذهبي اخترونه یې درلوده او د یو ټاکلي څښتن د درناوي په خاطر د مقدسو مراسمو د پر ځای کولو دپاره د کاهنانو انحصاري حق. دغه څښتن یې داسي ګاڼه، چي د بهیر د نسبي سلسلې د سر نیکه دی او د دې دپاره چي دغه حیثیت یې ښکاره وي، نو یو مخصوص لقب یې ور کړی وو.

۲- هدیره یې یوه وه. (د مقایسې دپاره د ډیموستهینس (Demosthenes) کتاب یوبولید (Eubulides) وګورئ).

۳- د وراثت متقابل حقوق یې درلوده.

۴- که چا د دوی په مقابل کي له قوې څخه کار اخیستی وای، نو دوی مکلف وه، چي یو د بل مرسته، دفاع او حمایه سره وکړي.

۵- په ځینو مواردو کي، په تېره بیا د یتیمو نجونو او میراث لرونکو ښځو په مورد کي د متقابل حق او مکلفیت پر اساس باندي دا لازمه وه، چي په بهیر کي دننه واده وکړي.

٦- اقلاً په ځینو مواردو کي ملکیت مشترک وو او د هغې دپاره یې خپل یو کل‌مختاره ارخون (Archon) او یو خزانه‌دار درلودی.

فريټري چې يو شمېر بهيرونه يې په ځان کښې‌ايستله، داخلي ارتباط يې د بهير په شاني ټينګ نه وو، اما سره له دې هم دلته موږ وينو، چې بهير غوندې يو د بله حقوق او وظايف يې درلوده، په زياته بيا دا چې ځيني ټاکلي مذهبي مراسم يې په يوه سلا ادا کوله او که به د فريټري يوه غړی چا ووژه، نو د فريټري هر غړي دا حق درلودی، چې دغه دعوه تعقيب کړي او تر ځايه يې ورسوي.
سربېره پر دې د يوې قبيلې ګرده فريټريانو د ټاکلي وخت ځيني مشترک مذهبي مراسم د يوه حاکم مجسټريټ (Magistrate) تر مشرۍ لاندې انجامولـه. دا حاکم چې فيلوباسيليوس (Phylobasileus) (يعني قبيلوي مجسټريټ) يې باله، د اشرافو «يوپټريدانو» (Eupatrides) له منځه را ټاکل کېدی.
دا خو د ګروټ بيان وو او مارکس پر دې باندې خپله خبره زياتوي، چې: «په يوناني بهير کي وحشي اړخونه (مثلاً ايروکوايسي اړخونه) هم له ورا څخه پېژندل کيږي». چې يو څه يې نور وپلټو، نو ښځې له اشتباه څخه وځي او ښه راته ښرګنديږي؛ ځکه يوناني بهير دا وروستنۍ خبري هم لري:
۷- نسب د پلارني حق سره مطابق دی.
۸- د ميراث لرونکو ښځو په پرته نوري نه سي کولای، چې په بهير کي دننه واده وکړي. دغه استثناء چې د يو قانوني حکم په شان منځ ته راغلې ده، په ښرګند ډول دا خبره ثابتوي، چې پخوانی جال لا ژوند لري او له اعتباره نه دی لوېدلی. د هغه منلي او عام دود له مخې چې کله به يوې ښځې واده وکړی، نو داسې ګڼل کېده، چې د خپل بهير مذهبي رسومات يې پرېښوول او د خپل مېړه د

بهیر (چې دا به یې په فریټرې کې شامله وه) مذهبي رسومات یې اختیار کړه. له دغه دوده څخه هم دا خبره را وځي، چې قدیم جال لا اعتبار درلودی. دغه خبري او هم د ډیکیارخ (Dicaearchus) یو مشهور عبارت د دې حقیقت ثبوت کوي، چې تر بهیر دباندې ازدواج رواج وو. بیکر (Becker) په خاریکلي (Charicles) کې په مستقیمه توګه دا خبره مني، چې نر یا ښځې هیچا ته اجازه نه وه، چې په خپل بهیر کې دننه واده وکړي.

۹- بهیر دا حق درلودی، چې مشران وټاکي یا یې برطرف کړي. پوهیږو، چې هر بهیر خپل کل‌مختاره (ارخون) درلودی، خو دا هیڅ چیري نه دي ویل سوي، چې د ده چوکۍ په ځینو کورنیو پوري مخصوصه یوه میراثي چوکۍ وه. غالبه دا ده، چې د بربریت تر پایه ټینګ وراثت نه سته، ځکه د وراثت جریان په کُلي ډول د هغو شرایطو سره سر نه خوري، چې بډای او خوار په بهیر کې مطلق د مساوي حقوقو څښتنان وي.

یوازي ګروټ نه، بلکي نیبور (Niebuhr)، مومزن (Mommsen) او د کلاسیکي لرغوني زمانې نور ټوله نومیالي تاریخ‌پوهان همدا رنګه نه دي بریالي سوي، چې د بهیر مسئله حل کړي. که څه هم دوی په صحیح صورت د بهیر زیاتره بېلوونکي خصوصیات درک کړي دي، اما بهیر ته یې د کورنیو د یو جمعیت په سترګه کتلي دي. نو ځکه ځان ته یې ناممکنه کړې ده، چې د بهیر په ماهیت او منشاء باندي پوه سي. په هغه وخت کي چي بهیر اصول چلېدل، نو کورنۍ هیڅ کله د اجتماعي تشکیل یونټ نه وه او نه هم کېدلای سوای، ځکه مېړه او مایني ارو مرو په دوو بېلو بهیرونو پوري اړه درلوده. بهیر په مجموعي صورت په

فریتړي اړه درلوده او فریتړي بیا په قبیله مربوطه وه. خو هر څه چي کورنۍ وه، هغې نیمی د مېړه په بهیر او نیمی د ماینې په بهیر پوري اړه درلوده. دولت هم په «عامه قانون» کي کورنۍ په رسمیت نه پېژني، تر نن ورځي کورنۍ یوازي په «مدني قانون» کي موجودیت لري. خو د دې سره سره زموږ ټول تاریخي علم له دې چټي فرضیې څخه (چي په اتلسمه پېړۍ کي خورا مقدسه ګڼل کېده) د خپل اساس په توګه کار اخلي، چي انفرادي مونوګامي کورنۍ هغه مرکزي هسته ده، چي پر ګرداورده یې ټولني او دولت ورو ورو شکل پیدا کړی دی. خو حقیقت دا دی، چي دغه راز کورنۍ یوه داسي موسسه ګڼل کیږي، چي د مدنیت تر دورې یې عمر ډېر نه دی.

مارکس وایي: «ښاغلی ګروټ باید دا خبره هم لطفاً درک کړي، چي یونانیان که څه هم د خپلو بهیرونو سلسله اساطیرو ته رسوي، خو بهیرونه تر اساطیرو او د اساطیري افسانو تر هغو خدایانو او نیمو خدایانو (Demigods)، چي دوی په خپله جوړ کړي دي، خورا ډېر قدیم دي».

مورګان د ګروټ بیان ته ترجیح ور کړې ده، چي را اقتباس کړي یې دي او د یو ممتاز او بالکل غیرمشکوک مأخذ په حیث یې حوالې پر کړي دي. ګروټ نو دا هم وایي، چي هر آتني بهیر یو نوم درلودی، چي د مشهور نیکه له نامه څخه یې مشتق سوی وو او د سولون (Solon) تر زمانې دمخه د یو عام رواج په توګه او تر هغه را وروسته خاص په داسي حالت کي، چي یو سړی به بې‌وصیته مړ سو، دا قاعده وه، چي د ده پاته جایداد د بهیروالو (gennetes) په میراث کي ور رسیږي. که به یو سړی ووژل سو، لومړی د ده خپلوانو، ور پسې بیا د ده

بهیروالو او په آخر کې د مقتول د فریټري مربوطو وګړو ټولو دا حق درلودی او وظیفه یې وه، چې پر مجرم باندې په محکمو کې دعوه وچلوي:
«هر څه هغه خبري، چې موږ یې د بېخې قدیمو آتنې قوانینو په باب کې اورو، ټوله د بهیري او فریټري تقسیماتو او تشکیلاتو پر اساس بناء دي».
دا مسئله، چې هر بهیر یو نیکه لري او له هغه څخه یې نسب را پیل کیږي، د مارکس په خوله «د تعلیمیافته تنګنظرانو» له پاره یوه ماغزه چپهکوونکې معما سوه. طبیعي وه، چې دغه مسئله ورته مشکله معما هم سي، ځکه دوی ادعاء کوي، چې د بهیرونو دغه راز نیکهګان خاص افسانوي شکل لري او نو دوی ته د دې دپاره هیڅ ډول امکان نه پاته کیږي، چې ځان ته له څنګ پر څنګ ځانګړو اوسېدونکو، په لومړي سر کې حتی له ناخپلوانو کورنیو څخه د بهیر منشاء معلومه کړي، خو په هر حال، دوی باید دا کار تر سره کړي، تر څو اقلاً په کوم ترتیب سره د بهیر موجودیت معلوم کاندي، خو څه رنګه چې دوی له لویه سره لار خطا کړې ده، نو د بېمفهومه الفاظو په ګرداب کې پر له څرخي، را څرخي او تر دې عبارت هاخوا ته نه اوړي، چې نسبي شجره په حقیقت کې یوه افسانوي شی ده؛ اما د بهیر موجودیت واقعیت لري. په دې آخر کې نو ګروټ وایي (په قوسینو کې بیانونه د مارکس دي):
«موږ د دې نسبي شجرې په باره کې ډېر کم بیانونه اورو، ځکه چې یوازې په ټاکلو، خاص، رسمي، عامو جلسونو کې د هغې یادونه کیږي. لاکن اوپره بهیرونو هم خپل مشترک مذهبي رسومات درلودل (ښاغلی ګروټ، خورا عجیبه ده!) او لکه معتبر بهیرونه غوندي (ښاغلی ګروټ، دا خو ډېره عجیبه ده، چې اوپره

بهیرونه هم لکه اصیل بهیرونه غوندي) د یوه مافوق البشر نیکه او نسبي شجرې څښتنان وه او د قومي مراتبو نخشه او ایدیالي اساس (زما گرانه صاحبه، ایدیالي نه، بلکي په ساده جرمني ژبه Fleischlich یعني شهواني اساس) د گردو بهیرونو تر منځ یو شی نه وو.

د دې خبرو په مقابل کي د مورگان ځواب مارکس داسي خلاصه کوي: «د صلبي قرابت هغه سیسټم، چي د بهیر له ابتدایي شکله سره سر خوري –او دې شکل د نورو انسانانو غوندي یو وخت د یونانیانو تر منځ هم موجودیت درلودی- د بهیر د ټولو غړو تر منځ د نسبي پیوند او ارتباط پوهنه یې خوندي او محفوظه ساتله. د دوی دپاره دا ډېره مهمه خبره وه، چي له ښخي کوچنیوالي څخه دغه پوهنه په عملي صورت زده کړي. د مونوگامي کورنۍ له ظهوره سره نو دغه خبره هېره سوله. بهیري نامه یوه نسبي شجره را پیدا کړې وه، چي له هغې شجرې سره د تطبیق او مقایسې په صورت کي د ځانگړي کورنۍ شجره بې معنی او بې اهمیته شی معلومېدله. دې نامه نو اوس هغه چا ته، چي په مسمی وه، د دې حقیقت شاهدي ور کوله، چي دوی گرده یوه مشترک نیکه ته منسوب دي. خو د بهیر نسبي شجره دونه لیري شا ته پاته سوه، چي غړو یې نور نه سوای کولای، چي خپل تر منځ یو له بله واقعي قومیت ثابت کړي، په استثناء د هغو یو شمېر محدودو مواردو، چي د بهیرونو مشترک نیکه‌گان یې تازه تېر سوي وه او غړو یې خپل مشترک نسبي ارتباط ثابتولای سوای. د هغو کسانو پرته، چي د گډېدلو له لاري به په بهیر کي شامل سوي وه، نور نو بهیري نوم د مشترک نیکه د توحید په باب یو ثابت او قطعي دلیل گڼل کېدی. گروټ او نیبور غوندي

کسان، چې د بهیروالو تر منځ د هر ډول قومي رابطې تردید کوي او په دې ډول نو د بهیر ماهیت مخه کوي او تش یو افسانوي او د ماغزو یو تصوري مخلوق ځني جوړوي، داسې خبرې یوازې د ایدیالي عالمانو سره، چې هغه د ګوښې کتابي چنجیان دي، بالکل ښایي. څه رنګه چې د نسلونو سلسله‌بندي په تېره بیا، د مونوګامۍ په راتلو سره لیرې پاته سوه او دا د تېرې زمانې حقیقت په اساطیري افسانو کې منعکس لیدل کېدی، نو وفادارو تنګ‌نظرانو دا نتیجه ځني واخیسته او لا یې هم اخلي، چې واقعي بهیرونه له خیالي نسبي شجرې څخه را وتلي دي».

هماغسې لکه د امریکایانو تر منځ، دلته هم فریټرې یو مورنی بهیر وو، چې یو شمېر هغو نورو بهیرونو ته سره جلا سوی وو، چې له ده څخه را زېږېدلي وه، اما په عین حال کې یې دوی ګرده په یوه متحده کړۍ کې را وستلي وه او د نسب سلسله یې ډېر ځله تر یوه مشترک نیکه پورې ور رسوله. لکه ګروټ چې وایي:

«د هیکاټیس (Hekataeus) د فریټرې د ټولو همزولو غړو عقیده داسې وه، چې د نسب سلسله یې پر شپاړسم پښت باندې یوه مشترک خدای ته رسېږي، چې هغه خپل مشترک نیکه بولي».

نو ځکه د دې فریټرې ګرده بهیرونه د کلمې په مستقیم مفهوم ورور بهیرونه وه. هومر هم د فریټرې نوم ذکر کړی دی او په هغه مشهور عبارت کې، چې نیستور (Nestor) اګامینون ته مشوره ور کوي، په داسې توګه یې نوم اخلي، لکه فریټرې چې یو نظامي یونټ وي. هغه عبارت دا دی: لښکرې د قبیلو او فریټریو

په اساس منظمي کړئ، څو چي یوه فریټري بله فریټري او یوه قبیله بله قبیله تقویه کړي.

فریټري همدا رنګه دا حق او وظیفه لري، چي د یو خپل غړي د قتل په مسئله کي قاتل تعقیب کړي او له دې څخه څرګندیږي، چي په پخوانیو زمانو کي دا د فریټري وظیفه وه، چي د ویني غچ واخلي. سربېره پر دې فریټري مشترک عبادت ځایونه او مشترک اخترونه لري، ځکه د طبیعت د عنعنوي زاړه آریایي پرستش څخه را نیولې، د ټولي یوناني میتولوجۍ انکشاف اساساً بهیرونو او فریټریو ته منسوب دی او هم یې په دوی کي دننه موجودیت پیدا کړی دی. فریټري یو سرخېل (phratriarchos) هم درلودی او د ډي‌کولانژ (de Coulanges) په عقیده، عمومي شوراګاني یې درلودې، چي نافذي فیصلې یې صادرولې او هم یې محاکماتي او اداري قدرت درلودی. حتی د وروستۍ زمانې دولت، چي بهیر یې په حساب کي نه را وستی او اهمیت یې نه ور کاوه، خو بیا هم ځیني سرکاري وظایف یې فریټري ته پرې ایښي وه.

یو شمېر قومي لرونکو فریټریانو یوه قبیله تشکیلوله. په اتیکا (Attica) کي څلور قبیلې وې، چي هره یوه له درو فریټریو څخه جوړه سوې وه او هره فریټري بیا له دېرشو بهیرونو څخه جوړه وه. د قبیلو، فریټریو او بهیرونو دغه دقیق تقسیم پر دې خبره دلالت کوي، چي د هغو چارو په نظام کي، چي خودبخوده په طبیعي توګه منځ ته راغلې وو، یوه شعوري او له پلانه سره سمه مداخله سر ته رسېدلې ده. خو یوناني تاریخ دا نه ښیي، چي کله، ولي او څه رنګه دا مداخله سر ته

ورسېده. ځکه یونانیانو په خپله یوازې هغه خاطرات ساتلي دي، چې د قهرمانۍ تر عصر ها خوا ته نه اوړي.
یونانیان چې نسبتاً په کوچنۍ علاقه کې ګڼ اوسېده، نو د دوی تر منځ د لهجې اختلافات دونه څرګند نه وه، لکه د هغه چا دا، چې د امریکا په پراخو ځنګلو کې یې انکشاف کړی وو. سره له دې حتی دلته هم موږ وینو، چې یوازې هغه قبیلې، چې په یوه اساسي لهجه خبرې کوي، د یوه غټ جمعیت په شکل متحدې سوي دي او کوچنۍ اتیکا بیا خپله ځان ته لهجه لري، چې په وروسته زمانو کې د یوناني نثر متداوله ژبه ځنې جوړېږي.
د هومر په حماسیاتو کې عام ډول وینو، چې وختي لا له یوناني قبیلو څخه کوچني اولسونه جوړ سوي دي، خو په هغو کې دننه لا هم بهیرونو، فریټریو او قبیلو تر اوسه خپل پوره استقلال د ځان دپاره ساتلی دی. دوی په داسي ښارو کې اوسېدل، چې کلاوي پر را ګرځېدلي وې، رمې او ګلې زیاتي سوې، کرهڼې ترقي وکړه، لاسي صنعت میدان ته راغی او له دې سره سم نفوس ډېر سول. له دې جهته نو په ثروت کې فرقونه زیات سول او د همدې جریان په نتیجه کې د زړې ډموکراسۍ (چې په خپله په طبیعي ډول یې وده را کړې وه) په دننه کې ارستوکراسي عنصر، یعني اشرافي طبقه هم منځ ته راغله. دغه بېلابېل کوچني اولسونه نو د ښې مځکې د ځان کولو دپاره او همدا رنګه د ولجه کولو په خاطر په دوام‌داره جګړو اخته سول. د جنګ د بندیانو مریان کول، له وختي څخه لا یو عام رواج ګرځېدلی وو.
د دغو قبیلو او کوچنیو اولسونو د ادارې اصول داسي وه:

۱- دايمي واک د هغې جرګې (bule) په لاس کې وو، چې په لومړي سر کې ډېر احتمال لري، چې د بهير له مشرانو څخه جوړېده، خو په وروسته کې چې د بهيرونو شمېر خورا ډېر زيات سو، نو د همدغو مشرانو له يوې غوره برخې څخه مرکبه وه، چې دې کار نو د اشرافي ارستوکراتيک عنصر د رشد او تقويې دپاره زمينه مساعده کړه. ډيونيسيوس (Dionysius) په ښکاره وايي، چې د قهرمانۍ د عصر جرګه له غټانو (Kratistoi) څخه جوړېده. په مهمو مسايلو کې د جرګې فيصله آخرينه او قطعي فيصله ګڼل کېدله. مثلاً د اسخيلوس په تراجيدۍ کې د تيبس (Thebes) د ښار جرګه په يوه مسئله کې داسې نافذه فيصله را باسي، چې د ايټيوکل (Eteocles) مړی بايد په ډېر احترام سره ښخ سي، خو د پولينيک مړی دباندې وغورځول سي، چې سپي يې انډې انډې کړي. وروسته د دولت له راتلو سره دغه جرګه د مشرانو په جرګه واوښته.

۲- اولسي اسامبله (Agora) يې درلوده. د ايروکوايسيانو تر منځ مو وليده، چې عوامو –نرو او ښځو د جرګې د غونډو پر ګرداورده يوه دايره تشکيلوله او په خبرو کې يې سمه دمه برخه اخيسته او له دې لارې يې د جرګې په فيصلو کې دخل کاوه او تر خپل اثر لاندې يې را وستلې. د هومري يونانيانو تر منځ له دغه (Umstands)[1] څخه، چې د جرمني ژبې په زاړه قانوني نوم وبلل سي، يوه بشپړه اولسي اسامبله، هغه شان لکه په قديمو جرمنيانو کې منځ ته راغله. د مهمو موضوعاتو د پرېکړې دپاره د جرګې په بلنه اولسي اسامبلې غونډه کوله

۱- «ګرداورده ولاړ وګړي» معنی لري. –ت. هـ.

او هر سړي حق پکښې درلودی. فیصله د لاسو په پورته کېدو (لکه اسخیلوس چي د خواست کوونکو (Suppliants) په اثر کي لیکي) یا د ږغ کولو سر ته رسېدله. دا اسامبله تر ټولو لوړه د کُلي واک خاونده وه. شومان په خپل هغه کتاب کي، چي «د یونان لرغوني آثار»[1] نومیږي، وایي:

«کله چي پر یوه داسي موضوع خبري کیږي، چي د اجراء دپاره یې د خلګو مرستي ته ضرورت وي، نو د هومر بیان موږ ته کوم داسي وسایل نه را ښيي، چي د هغو په ذریعه خلګ د خپلي خوښي پر خلاف دې ته مجبوره کېده، چي د زور له لاري هغه کار وکړي».

په دغه زمانه کي چي د قبیلې هر نارینه او مړاني وهلي زلمي د یو جنګي سپاهي حیثیت درلودی، نو لا داسي دولتي قدرت منځ ته نه وو راغلی، چي هغه له خلګو څخه پرې وي او د دوی په مقابل ودرېدلی سي. دا وخت لا ابتدایي ډموکراسي په خپل بشپړ برم وه او هم دا نقطه باید د جرګې او باسیلیوس (Basileus) د قدرت حیثیت د اندازه کولو دپاره د اساس ټکی وګرځول سي.

۳- نظامي قوماندان (باسیلیوس) یې درلودی. پر دغه ټکي باندي مارکس دا وروستنۍ تبصره کوي: «اروپایي متبحرین (پوهان) چي اکثره یې د شاهزادګانو فطري غلامان دي، باسیلیوس په نننی مفهوم یو پاچا غوندي معرفي کوي. یانکي (امریکایي) جمهوریت غوښتونکی مورګان پر دغه خبره اعتراض کوي او

1- G, F, Schomann, Griechische Alterthumer. Bd. I-II, Berlin, 1855- 59. –ت. هـ.

په خورا استهزاء، اما خورا رښتيا د غوړه‌مال ګلاډسټون (Gladstone) او د ده د کتاب «د نړۍ ځواني» په باب کي وايي:

«ښاغلی ګلاډسټون چي خپلو لوستونکو ته د قهرمانۍ د عصر يوناني غټان د پاچهانو او پاچازادګانو په حيث معرفي کوي او د لويانو ډېر صفات پوري تړي، خو بيا هم د دې خبري منلو ته مجبور دي، چي موږ په کُلي توګه په يونانيانو کي د مشر اولاد د حقدارۍ دود يا قانون ظاهراً په کافي، خو نه په دقيقه څرګندتيا سره مومو».

بايد داسي يې فرض کړو، چي د مشر اولاد حقداري له دغه ډول قيودو سره، په خپله د ښاغلي ګلاډسټون په نظر به هم په کافي اندازه، ورځه حتی نه په دقيقه څرګندتيا سره، بې‌معنی او له هر ډول مفهوم څخه خالي معلوم سي.

د ايروکوايسيانو او نورو سور پوستانو تر منځ چي د غټانو د چوکيو د وراثت په باب کي وضعيت څنګه وو، هغه خو مو دمخه وليدی. څه رنګه چي ټوله کارداران (رسمي مامورين) زياتره د بهير له دننه څخه را انتخابېده، نو په دغه اندازه د ماموريت چوکۍ د ګرده بهير موروثي شی ګڼل کېده. ورو ورو د يو جال په توګه دا ښه ګڼل کېده، چي خالي چوکۍ په هغه صورت کي چي کوم معقول مانع په مخ کي نه وي، د دمخني سړي د نژدې بهيري خپل؛ يعني ورور يا د خور زوی په وسيله ډکه سي. دا چي په يونان کي د پلارني حق تر اساس لاندي د باسيليوس چوکۍ عموماً زوی يا د زامنو يوه ته سپارل کېده، يوازي پر دې خبره دلالت کوي، چي د چوکۍ د ډکېدو دپاره د عامو انتخاباتو سلسله غالباً د زامنو په ګټه تمامېدله. له دې څخه نو کورټ دا نتيجه نه را وځي، چي د دغه ډول

انتخاب نه پرته د تورث اصل قانوني ومنل سي. دلته وينو، چي د ايروکوايسيانو او يونانيانو تر منځ په بهير کي دننه د خاصو اشرافي کورنيو لومړنۍ مبادي را پيدا کيږي او همدا رنګه وينو، چي د يونانيانو تر منځ د راتلونکي موروثي سرداري يا پاچهي لومړۍ خښتي ايښودل کيږي، خو دا خبره بايد ومنل سي، چي د يونانيانو تر منځ باسيليوس يا د وګړو له خوا ټاکل کېدی او يا لږ تر لږه لازمه وه، چي د ده ټاکنه د خلګو د منلي اورګان؛ يعني جرګې يا اوګورا له خوا څخه د رومي پاچا (rex) غوندي تائيد او تصويب سي.

په ايلياډ کي اګاميمنون، چي هومر يې د تورزنو سردار بولي، د يو کلابند ښار په مخ کي د يونانيانو د ستر پاچا په حيث نه، بلکي د يوه فيدرالي لښکر د ستر قوماندان په حيث هلته ليدل کيږي. کله چي د يونانيانو تر منځ تفرقه راغله، نو اوديس (Odysseus) په خپل مشهور شاعرانه کلام کي همدې مقام او منصب ته داسي اشاره کوي او وايي، چي د ډېرو قوماندانې نه ده ښه، را سئ چي يو قوماندان ولرو او نور... (له دې وروسته يو مشهور بيت را ځي، چي د شاهي امسا يادونه پکښي سوې ده، خو نوموړی بيت وروستنۍ زياتونه ده). «اوديس» دلته د حکومت د شکل په باره کي وينا نه کوي، بلکي غواړي چي د جنګ په محاذ کي د لښکر د ستر قوماندان اوامرو ته غاړه کښېښوول سي. يونانيان چي تروا (Troy) د کلابند ښار په مخ کي صرف يو لښکر غوندي معلوميږي، خو د اګورا جريانات يې په کافي اندازه ډموکراټيک دي. کله چي د سوغاتو په برخه کي بيان کوي، يعني د ولجو د وېشلو په باب کي ږغيږي، نو اشيل هيڅ کله له اګاميمنون يا کوم بل باسيليوس څخه وېشګر نه جوړوي، بلکي وېش هر وخت

د اخائيا د زامنو، يعني د خلګو په لاس وي. داسي خبري، چي پلانی د زِفس (Zeus) اولاد دی، يا فلانی زِفس روزلی دی، کوم شی نه ځني را وځي، ځکه هر بهير په نسبي لحاظ د يو خدای له کوره راغلی دی او د قبيلوي مشر د بهير نسبي سلسله يو ستر خدای ته رسيږي، چي هغه نو دلته زِفس دی. حتی مريان لکه د ايفيمه (Eumaes) په نامه د خوګانو شپون او نور تږوله هم «آلهيون»، يعني (dioi) او (theioi) بلل سوي دي. داسي بلل حتی په اوديسه (Odyssey) کي هم راغلي دي، چي په دې حساب نو دا د هغي زمانې خبره ده، چي تر ايلياډ ډېره وروسته ده. همدغه راز په اوديسه کي وينو، چي موليوس (Mulios) نومي قاصد او ړانده سندرغاړي شاعر ډيموډوکس (Demodocus) ته د قهرمانانو القاب ور کول سوي دي. لنډه دا چي د (Basileia) لفظ –چي يوناني ليکونکي يې د هغي تش په نامه پاچهۍ دپاره استعمالوي، چي هومر يې ذکر کړی دی او ربښتيا هم تش په نامه پاچهي ده، ځکه چي نظامي مشري هم د دې پاچهۍ ستره ممتازه علامه ګڼل کيږي او له دې سره جرګه او اولسي اسامبله هم ملګرې ده- په حقيقت کي صرف نظامي ډموکراسۍ ته ويل کيږي». (مارکس)

باسيليوس پر نظامي وظايفو سربېره همدا رنګه کاهني او قضايي وظايف درلوده. خو دا قضايي وظايف يې ښه مشخص نه وه، لاکن کاهني وظايف يې د قبيلې يا قبيلو د اتحاديې د ستر نماينده په صفت اجراء کوله. د ملکي او اداري وظايفو په باب کي يې هيڅ‌چيري ذکر نه دی سوی، اما دا ليدل کيږي، چي باسيليوس د خپلي چوکۍ په موجب د جرګې غړيتوب هم درلودی. دا بالکل صحيح ده، چي د صرفي قواعدو سره سم باسيليوس په جرمني لفظ (Konig)

ترجمه سي، ځکه (Konig)، (Kuning)، (Kuni)، له (Kunne) څخه مشتق سوی دی او د بهير د سرخېل او مشر معنی افاده کوي. خو د پخواني يونان باسيليوس د (Konig) د لفظ د اوسنۍ معنی (پاچا) سره هيڅ نسبت نه لري. توقيډيډس (Thucydides) په څرگند ډول قديمه (Basileia) د (Patrike) په توگه يادوي، يعني مطلب هغه موسسه يې بولي، چي له بهيره څخه را وتلې ده او دا څرگندوي، چي (Basileia) ټاکلي او نو په همدې وجه محدود وظايف سر ته رسوله. ارسطو (Aristotle) وايي، چي د قهرمانۍ په عصر کي (Basileia) د آزادو خلگو يوه مشري وه او باسيليوس يو نظامي مشر، قاضي او اعلی کاهن وو. نو ځکه باسيليوس د وروستۍ زمانې په مفهوم حکومتي اقتدار نه درلودی.[۱]

په دې ډول نو د قهرمانۍ د عصر په يوناني نظام کي لا موږ وينو، چي زوړ بهيري سيستم پوره قوت لري او له چلاوه نه دی لوېدلی، خو دا هم وينو، چي زوال او د خرابۍ سلسله يې را شروع سوې ده، ځکه پلارنی حق تثبيت سوی دی او اولاد ته د پلار جايداد په ميراث ور رسيږي او په دې سبب نو په کورنۍ کي د ثروت د را غونډېدو جريان تقويه سوی دی او د بهير په مقابل کي يې د کورنۍ

۱ - د ازتيک د قبيلې نظامي مشر هم لکه د يونانيانو باسيليوس غوندي، د غلط فکر له مخي د پاچا په اوسني مفهوم ښوول دي. مورگان لومړی سړی وو، چي د هسپانويانو اطلاعات يې، چي په لومړي سر کي د دوی په غلط درک باندي بناء، مبالغه‌آميزه او وروسته نېغ په نېغه دروغجن اطلاعات وه، تر تاريخي انتقاد لاندي ونيول. ده څرگنده کړه، چي د مکسيکو اوسېدونکي د بربريت په منځنۍ مرحله کي وه، خو د نوي مکسيکو تر پويبلو سور پوستانو يې د انکشاف سطحه يو څه جگه وه او د دوی نظام تر هغه ځايه، چي د مسخ سوي بيانونو له مخي يې معلومولای سو، داسي وو: درو قبيلو يوه اتحاديه (کانفدريسي) جوړه کړې وه، چي يو شمېر نوري قبيلې يې تر ججې لاندي وې. دغه اتحاديه د فيدرالي جرگې او فيدرالي نظامي مشر له خوا څخه اداره کېدله. هسپانويانو دغه نظامي مشر د امپراتور په توگه ښوولی دی.

قدرت ور زيات کړی دی. بله دا چې په ثروت کې توپير په خپل وار پر اجتماعي نظام باندې اثرات اچولي دي او د موروثي اشرافيت او سلطنت لومړنۍ مبادي يې را پيدا کړي دي. غلامي همدا رنګه منځ ته راغلې ده او په لومړي سر کې چې يوازې د جنګ تر بنديانو پورې محدوده وه، اوس يې په خپله د قبيلې تر غړو او حتی د بهير تر غړو پورې هم لار خلاصه کړې ده. پخوا چې د بېلا بيلو قبيلو تر منځ شخړې کېدې، اوس يې هغو منظمو يرغلو ځای ونيوی، چې د څارويو، مريانو او خزانو د لوټولو دپاره هم پر وچه او هم اوبو جريان لري او هم دا چاره د روزۍ د حاصلولو دپاره يو اساسي کار ګرځېدلی دی؛ لنډه دا چې ثروت نو د يو ستر نعمت په شان ستايل کيږي او په خورا درنه سترګه ورته کتل کيږي. له پخواني بهيري موسساتو څخه نو د دې مقصد دپاره، چې په زور د ثروت لوټېده يو جايز کار وګڼل سي، ناوړه استفاده کيږي. خو صرف خبره په يوه شي لا مانده وه: هغه دا چې يوه داسي موسسه لا منځ ته نه وه راغلې، چې هغه نه يوازې د ځانګړو افرادو په لاس نوې راوړل سوې خصوصي شتمني د بهيري نظام د اشتراکي عنعناتو په مقابل کې خوندي وساتي او نه يوازې خصوصي ملکيت ته، چې پخوا په لوړه سترګه نه کتل کېده، په خورا تقدس قايل سي او همدا تقدس د بشري ټولني د ستر مقصد په توګه اعلام کړي، بلکې بايد همدا رنګه د شتمنۍ د لاس ته راوړلو او د هغه په نتيجه کې د ثروت د پرله پسې ډېربښت د چټکولو په نوو اشکالو باندې، چې ورو ورو انکشاف را کوي، د عامي موافقې او منلو ټاپه ولګوي. يعني يوه داسي موسسه چې هغه نه يوازې په طبقاتو باندې د ټولني شروع سوی وېش تل تر تله ټينګ کړي، بلکې بايد همدا

رنګه د بډايي طبقې دپاره دا حق خوندي وساتي، چې خورا طبقه استثمار کړي او د لومړۍ طبقې حکومت پر دا بله باندي ټينګ وساتي.
دا مؤسسه منځ ته راغله؛ يعني دولت اختراع سو.

# پنځم څپرکی

# په آتن کي د دولت ظهور

# په آتن کي د دولت ظهور

دا چي دولت څه رنګه انکشاف را وکړی او منځ ته راغی، د بهیري نظام ځیني اورګانونه څه رنګه پر بل حال واوښته او ځیني یې د نوو اورګانو په راتلو سره څه رنګه بې‌ځایه سوه او په آخر کي دا ټوله شیان له منځه ولاړه او ځای یې حکومتي واکدارانو ونیوی او په دې ډول نو «د وسله‌والو خلګو» پر ځای، چي د خپلو بهیرونو، فریټریو او قبیلو په سلسله یې له ځانه څخه دفاع کوله، یو «وسله‌وال سرکاري قدرت» منځ ته راغی، چي هر کله د دغو واکدارانو په خدمت کي تیار دی او نو ځکه د خلګو په مقابل کي هم کار ځني اخیستل کېدلای سي؛ داسي ټوله جریانونه، خاص ډول بیا په خپله لومړنۍ مرحله کي هیڅ‌چیري نه دي روښانه، لکه په پخواني آتن کي چي لیدل کیږي. د اشکالو بدلون یې په عمده توګه د مورګان له خوا څېړل سوی دی او د اقتصادي محتوی په باب، چي دغه بدلون یې را پاڅولی دی، زیاتره بیانونه زما له خوا څخه اضافه سوي دي.

د قهرمانۍ په عصر کي د آتنیانو (Athens) څلور قبیلې لا د اتیکا په جلا برخو کي ځای پر ځای اوسېدلې. حتی هغه دوولس فریټریاني، چي دا څلور قبیلې یې جوړولې، لا هم داسي ایسي، چي د کیکرویس (Cecrops) د دوولسو ښارو په شکل یې لا نوري ځانګړني مسکوني سیمي هم درلودلې. د قهرمانۍ په عصر کي داسي نظام چلېدی، چي: اولسي اسامبله، اولسي جرګه او باسیلیوس یې درلوده. تر کومه ځایه چي د لیکلي تاریخ سلسله ور رسیږي، نو وینو، چي مځکه وختي لا وېشل سوې ده او په خصوصي ملکیت کي راغلې ده. دغه تحول د

بربريت د پورتنۍ مرحلې آخر ته په ور څېرمه زمانه کي د مبادلوي اموالو د توليد او د جنس په جنس مبادله کېدونکو اموالو د تجارت د نسبتاً انکشافي حالت سره مطابقت لري. په دې وخت کي تر غله‌جاتو علاوه د شرابو او تېلو د تيارولو په منظور هم کرهڼه کېدله. د ايجين (Aegean) پر درياب چي کوم تجارت کېدی، تر ډېري اندازې د فينيقيانو (pheenician) له لاسه وتلی وو او زياتره د اتيکا د وګړو په لاس کي لوېدلی وو. څه رنګه چي مځکي خرڅېدې او رانيول کېدې، د زراعت او لاسي صنايعو، د تجارت او کښتۍ چلولو تر منځ د کار تقسيم پرله‌پسې دوام درلودی، نو په نتيجه کي يې د بهيرونو، فريټريو او قبيلو غړي خورا ژر يو له بله سره ګډ سوه. د فريټري او قبيلې په ناحيو کي هغو خلګو واړول، چي که څه هم د دوی هيوادوال وه، خو د فريټري يا قبيلې غړيتوب يې نه درلودی او نو ځکه دوی د خپلي اوسېدني په ځايو کي د پردو حيثيت درلودی. د امنيت په وخت کي هري فريټري او هري قبيلې خپلي چاري په خپله اداره کولې، بې‌له دې څخه چي د آتن د اولسي جرګې يا باسيليوس سلا وغواړي. لاکن هغو خلګو چي د فريټري يا قبيلې په سيمه کي يې اړولي وه او له دوی سره يې ارتباط نه درلودی، البته نه يې سوای کولای، چي د ادارې په کار کي برخه ور سره واخلي.

له دې پلوه نو د بهيري نظام د اورګانونو منظم جريان داسي خراب سو، چي حتی د قهرمانۍ په عصر کي لا دا ضرورت محسوس سو، چي يوه چاره يې وسي. نو نوی نظام چي تيزوس (Theseus) ته يې نسبت کيږي، را ووتی. د دې تحول اساسي اړخ دا وو، چي په آتن کي د يوې مرکزي ادارې مؤسسه منځ ته

راغله، یعني ځیني چاري چي تر دې آنه په مستقل ډول د قبیلو له خوا څخه اجراء کېدلې، د ټولو تر منځ د ګډو چارو په حیث اعلام سوې او په هغه لویه جرګه یې اړه پیدا کړه، چي غونډې یې په آتن کي کولې. نو په دې وسیله د آتن وګړي تر هغي مرحلې، چي د امریکا بومي خلګ ور رسېدلي وه، یوه مرحله مخ ته ولاړه او د ګاونډي قبیلو د ساده فیدریشن ځای هغه ائتلاف ونیوی، چي ګرده قبیلې د یوه واحد ملت په توګه پکښي متحدي سوې. دې خبري نو په آتن کي د عام اولسي قانون یو سیسټم منځ ته را وستی، چي د قبیلو او بهیرونو تر حقوقي رسوماتو یې پورپه ځای ونیوی. دغه سیسټم نو د آتن ښاریانو ته ځیني امتیازي حقوق او زیات قانوني تامینات ور په برخه کړه او دا امتیازات حتی په هغه علاقه کي لا جاري سوه، چي د دوی په قبیله یې کورټ اړه نه درلوده. خو دغه جریان د بهیري نظام د ورانولو خوا ته لومړی ګام وو، ځکه د دې اقدام په نتیجه کي هغه پردي خلګ، چي د اتیکا د قبیلو سره یې د خپلوۍ هیڅ اړیکي نه درلودې او د آتن د بهیري نظام له دایرې څخه وتلي خلګ وه، د لومړي پلا دپاره د ښاریانو په صفت ومنل سول. یو بل کار چي تیزوس ته یې نسبت کیږي، دا وو، چي بې‌له دې څخه چي د بهیرونو، فریټریو، او قبیلو تقسیمات په نظر کي ونیسي، ګرده خلګ یې درو طبقو ته ووېشل: یوپټرید (eupatrides) یعني اشراف، جیومور (geomores) یعني د مځکي کرونکي او دیمیيورج (demiurges) یعني صنعتکاران. په دې جمله کي یې د کارداري او رسمي مامورینو حق خاص اشرافو ته ور کړ. ربښتیا خبره دا ده، چي دغه تقسیم پرته له دې څخه، چي د کارداري حق خاص د اشرافو دپاره تامین کړي، نور نو چنداني

اثر نه درلودی، ځکه د طبقاتو تر منځ يې نور حقوقي اختلافات منځ ته را نه وړه. خو بيا هم دا تقسيم ډېر اهميت لري، ځکه د ده له مخې څخه هغه نوي اجتماعي عناصر را معلوميږي، چې په دې دوران کي يې په پټه خوله انکشاف را کړی وو. دا تقسيم را ښيي، چې په بهير کي دننه د مقامونو اشغال چې د رواج له مخي يې په ځينو خاصو کورنيو پوري اختصاص درلودی، دغه رواج اوس نو دې درجې ته انکشاف کړی وو، چې د اجتماعي مقامونو د اشغالولو دپاره د دې کورنيو بې‌مناقشې حق وګرځي. دا هم را ښيي، چې دغو کورنيو چې له وختي څخه يې د خپل ثروت په سبب ډېر قوت پيدا کړی وو، دې کار ته پيل کړی وو، چې تر خپلو بهيرونو دباندي د خاصي ممتازي طبقې په حيث متحدي سي. بله دا خبره را ښيي، چې دغه ادعاءګاني يې د تکوين په حال کي د دولت له خوا تقديس سوي وې. سربېره پر دې دغه تقسيم دا هم را ښيي، چې د زارعينو او صنعتکارانو په منځ کي د کار وېش دونه پياوړی سو، چې د بهيرونو او قبيلو د پخواني وېش له تفوق سره په اجتماعي لحاظ ډېغري ووهي او اهميت يې ور کم کړي. دې تقسيم نو په آخره کي دا اعلام کړه، چې د بهيري ټولني او دولت په مابين کي نه رغېدونکي تخاصم موجود دي. د دولت په تشکيل کي لومړی هڅه دا وه، چې بهيري اړيکي په دې ډول وشلوي، چې د هر يوه غړي جګو او ټيټو طبقاتو ته ووېشي او ټيټه طبقه بيا د زارعينو او صنعت‌کارانو دوو کسبګرو طبقاتو ته تقسيم کړي او په دې توګه نو يوه طبقه د بلي په مقابل کي ودروي.

را وروسته نو د سولون تر زمانې پوري د آتن سیاسي تاریخ ښه پوره نه دی روښانه. د باسیلیوس ماموریت ورو ورو له اهمیته ولوېده او د اشرافو له منځه را ټاکلي کُل‌مختاره غټان (archons) د دولت مشران وګرځېده. د اشرافو حکومتي واک نو پرله پسې زیاتېدی، څو چي ۶۰۰ کاله تر میلاد دمخه د زغملو ووتی. د عوامو د طبقې د آزادۍ د خفه کولو دپاره اساسي وسایل له پیسو او سود څخه عبارت وه. اشرافیان زیاتره په آتن او د هغه په شاوخوا کي اوسېدل. هلته دریایي تجارت چي کله کله به لا دریایي غلاوي هم ور سره ملګري وې، دا طبقه یې بډایه کړه او پولي ثروت یې د دې په لاسو کي را غونډ کړی. له دې زمانې څخه نو پولي سیستم، چي ورځ په ورځ یې انکشاف کاوه، د ورانوونکي تېزاب په شان د هغو کلیوالي جمعیتونو په عنعنوي ژوند کي نفوذ وکړی، چي د طبیعي اقتصاد په اساس منځ ته راغلی وو. بهیري نظام د پولي سیستم سره کورټ نه چلېدی. په اتیکا کي لږ شتمني‌والا بزګران هغه وخت سپېره سول، چي پخواني بهیري پیوندونه، چي دوی یې په خپل حمایت کي ساتله، له کاره ولوېدل او سست سول. د پور حجتونو او د ګرو مقرراتو (ځکه په دغه وخت کي د آتن خلګو د ګروۍ معاملات همدا رنګه را ایستلي وه) نه بهیر ته په درنه سترګه کتله او نه فریتري ته. خو پخواني بهیري نظام بیا نه روپۍ پېژندې او نه د پیسو په پور و دار پوهېدی. مګر د اشرافي طبقې د پیسو حکومت، چي پرله پسې پراختیا موندله، نو یو داسي نوی قانون یې د عرف او عادت له لاري منځ ته را وستی، چي پور ور کوونکي د پوروړي په مقابل کي حمایه کړي او د پیسو د څښتنانو له خوا د کوچنیو بزګرانو استثمار روا کړي. د اتیکا په ګردو کلیوالي ناحیو کي

د ګروۍ ځلي ولګېده او پر هر ځلي به دا نکل لیکلی وو، چي: دغه مځکه چي ځلی پر جګ دی، په دې اندازه د دونه روپو په مقابل کي د پلاني تر ګرو لاندي ده. هغه کروندې چي په ځلو به نه وې نخښه سوي، زیاتره به یې د ګروۍ د میعاد د تېرېدو او یا د سود د نه ادایني په سبب خرڅي سوي وې او د سودخورو اشرافو تر ملکیت لاندي به راغلي وې. بزګر به نو په داسي حالت ډېر خوشاله وو، که چیري ده ته اجازه ور کول کېدله، چي د مځکي په خپله ټوټه باندي د اجاره‌دار په توګه پاته سي او د خپل کار د حاصل په یوه برخه ژوند وکړي او پاته پنځه برخي خپل نوي بادار ته د اجارې په توګه ور تادیه کړي. خبره یوازي پر دغه ځای نه بس کېده، بلکي که به د مځکي د خرڅېدو په پیسه د پور غاړه نه وتله او یا به داسي پور وو، چي په ګروي کي به یې کوم شی نه وو ایښوول سوی، نو پوروړی به مجبوره وو، چي خپل اولادونه په بل ځای کي د مریانو په توګه خرڅ کړي او د پوروړي غاړه وباسي. د خپل اولاد خرڅول د پلار له خوا څخه، د پلارني حق او وحدتي ازدواج لومړۍ ثمره وه. که به ویني زبېښونکی غاصب لا هم په دې نه سو قانع، نو ده کولای سوای، چي په خپله پوروړی د مریي په توګه هم پر چا باندي خرڅ کړي. د آتن په اولس کي د مدنیت د سهار ښکلي او زړه وړونکي سپېدې دغه راز وې.

په پخوا کي هغه مهال چي د خلګو د ژوند شرایط لا د بهیري نظام سره سم چلېده، نو دغسي یوه انقلاب امکان نه درلودی، خو اوس چي دا انقلاب منځ ته راغی، نو هیڅوک نه پوهېده، چي دا خبره څه رنګه پېښه سوه. را سئ چي د یوه ګړۍ دپاره خبره بیرته ایروکوایسیانو ته را غبرګه کړو. د ژوندانه د جریانونو

هغه راز حالت، لکه اوس چې یې د آتن پر خلګو، بې‌له دې څخه چې دوی یې په را وستلو کې اقدام کړی وي او یا خو په هغه راضي وي، ځان په خپله تحمیل کړ، دغسې حالت تصور نه کېدی، چې په ایروکوایسیانو کې دې هم منځ ته را سي، ځکه چې د ژوند د وسایلو د تولید طرز سر و کال په یوه حال پاته وو، نو یې کورټ نه سوای کولای، چې هغه ډول شخړې را وپاخوي، لکه پر یونانیانو چې د دباندې له خوا څخه (یعنې د تولید د طرز د تغیر په نتیجه کې- مترجم) تحمیل سوې او په همدې لړ کې یې د بډای او خوار، د استثماروونکې او استثمار سوي تر منځ تخاصمات منځ ته را وسته. خو ایروکوایسیان بیا تر دې مرحلې لا نه وه را رسېدلي، چې د طبیعت پر قواوو تسلط ولري، مګر د هغو حدودو په دایره کې دننه، چې طبیعت ور ټاکلې وه، دوی د خپل تولید باداران وه. سره له هغه چې کله ناکله یې د فصل د خرابۍ په وجه ډېر لږ حاصلات له خپلو کوچنوټو باغو څخه اخیسته او د خپلو جهیلونو او رودونو ماهیان او یا د ځنګلونو ښکارونه یې لږېدله، خو دوی په دې پوهېده، چې د روزۍ د حاصلولو له طرزه څخه به یې څه نتیجه را ووځي. نتیجه به یې دا وي، چې د ژوندانه وسایل خو به لږ یا ډېر لاس ته راوړل سي، اما دا اجتماعي حوارث به په یقیني توګه ور سره ملګري نه وي، چې بهیري پیوندونه وشکیږي او یا د بهیرونو او قبیلو غړي پر متخاصمو طبقاتو ووېشل سي، چې یو د بله سره جنګیږي. تولید په خورا محدوده ساحه کې سر ته رسېدی، اما تولیدوونکو پر خپلو پیداوارو باندې کنټرول درلودی او تر واک یې لاندې وه. دغه تر کنټرول لاندې پیداوار د بربري تولید هغه ستره ښېګڼه وه، چې د مدنیت له راتلو سره له منځه ولاړه. دا به نو

بیا د راتلونکو نسلونو وظیفه وي، چې دغه ښېګڼه بیرته له نوي سره را اعاده کړي، مګر دا پلا یې پر طبیعت باندي د انسان د تر لاسه سوي قوي تسلط او د آزاد اشتراکیت پر اساس، چې اوس یې امکانات برابر سوي دي.
د یونانیانو تر منځ حالات دغه راز نه وه. هلته چې د څارویو ګلې او د تجمل سامان په خصوصي ملکیت کي راغلل، نو د دې جریان له راتلو سره د افرادو تر منځ د شیانو مبادله رواج سوه او پیداوار مبادلوي اموال وګرځېده. دغه بدلون د ګرده راتلونکي انقلاب مورینه وه. څه رنګه چې تولیدوونکو خپل پیداوار په خپله دوی نه مصرفول او د مبادلې په سلسله یې له خپله لاسه ایستله، نو پر خپلو پیداوارو یې کنټرول له واکه څخه ووتی. د دې جریان په نتیجه دوی نه پوهېدل او نه هم د دې خبري امکانات ور معلوم وه، چې یوه ورځ به دا پیداوار په خپله د تولیدوونکو پر ضد پر کار واچول سي او د دوی د استثمارولو او ځورولو وسیله به ځني جوړه سي. په دې اساس نو تر څو چې ټولنه د افرادو په منځ کي مبادله پای ته و نه رسوي، تر هغو به، که هر څونه اوږده زمانه هم ونیسي، و نه کړای سي، چې د خپل تولید واګي په خپل لاس کي ونیسي او د خپل تولید له جریانه څخه را پاځېدلي اجتماعي نتایج تر اداري لاندي را ولي.
خو د آتن وګړو ته ژر ور معلومه سوه، چې کله انفرادي مبادله را ووتله او پیداوار مبادلوي اموال وګرځېده، نو تر هغه وروسته په ډېره چټکۍ دا خبره میدان ته راغله، چې پیداوارو پر تولیدوونکو باندي خپل حکومت قایم کړ. د مبادلوي اموالو د تولیده سره جوخت د ځانګړو کسانو له خوا د کرکېلي چاره، چې په خپلو مځو یې سر ته رسوله، جاري سوه او د دې کار په نتیجه کي نو لږه زمانه

وروسته د مځکې خصوصي مالکیت هم منځ ته راغی. بیا نو پیسې را پیدا سوې، یعني هغه کُلي مبادلوي متاع منځ ته راغله، چې ټوله شیان ور سره تبادله کېدلای سوای. کله چي انسانانو پیسې را و ایستلې، نو دوی چنداني دا گومان نه کاوه، چي دا یې یو داسي نوی اجتماعي قدرت، یعني هغه یوازنی عمومي اغېزمن قدرت را ایستلی دی، چي ضرور به هغه ته درسته ټولنه سر ټیټ کړي. دا نوی قدرت په داسي حال کي، چي خپلو را ایستونکو یې د را ایستلو اراده نه درلوده او یا یې علم نه پر درلودی، ناڅاپه وجود ته راغی او د آتن خلگو د دې قدرت د ځوانۍ د ورځو ټوله وحشیانه حالت ولیدی.

نو څه باید سوي وای؟ پخوانی بهیري تشکیل نه یوازي دا چي د پیسو د بریالي مارش په مقابل کي کمزوری ثابت سو، بلکي همدا رنگه یې کورټ د دې قابلیت نه درلودی، چي په خپل چوکاټ کي دننه داسي خبرو ته ځای ور کړي، لکه: پیسې، پور ور کوونکي، پور اخیستونکي، په زور د روپو کښل او نور. لاکن څه رنگه چي هلته دغه نوی اجتماعي قدرت موجود وو، نو ځکه نه متقیانه آرزوگانو او نه هم د پخوا د ښو وختو د بیرته را گرځېدو یوې تمنا دا کولای سوای، چي د پیسې او سود موجودیت له منځه وباسي. سربېره پر دې په بهیري نظام کي یو شمېر نور کوچني درزونه هم سوي وه. د دې سره سره چي د آتن یو سړی دې ته ایله وو، چي خپله مځکه تر بهیر دباندي پر بل چا خرڅه کړي او دې ته نه وو ایله، چي خپل د اوسېدلو سرای همدغسي خرڅ کړي، خو بیا هم د اتیکا په هر ځای کي، په تېره بیا د آتن په ښار کي له یوه پښته تر بله په زیاتېدونکي ډول د بهیرونو او فریټریو غړي، بې له کومه توپیره یو په بل گډېدله او یو د بله

سره ارجل کېدله. د صنعت او سوداګرۍ له پرمختګه سره د تولید د بېلا بیلو څانګو، یعني کرهنې، لاسي صنایعو، په مختلفو کسبو کي دننه يو زيات شمېر هنري کارونو، تجارتي معاملاتو، بېړۍ‌چلوني او نورو په منځ کي د کار تقسيم ډېر بشپړ انکشاف کړی وو. اوس نو خلګ د خپلو کسبونو له مخي نسبتاً په څرګند ډول په ټاکلو ګروپونو وېشل سوي وه. هر ګروپ ځان ته يو شمېر داسي نوي او مشترکي ګټې درلودې، چي د بهير يا فريټري په تشکيل کي يې ځای نه درلودی او نو ځکه د دې ګټو د ساتني دپاره لازمه سوه، چي نوي ماموريتونه منځ ته را سي. مريان خورا زيات سوي وه او احتمالاً يې شمېر حتی په دغه وختنۍ مرحله کي تر آزادو خلګو ببخي ډېر زيات وو. بهيري نظام چي په لومړي سر کي يې غلامي نه پېژنده، نو ځکه په داسي تدابيرو نه پوهېدی، چي څه رنګه د مريانو دغه جمعيت تر نظارت لاندي وساتي. بالاخره د سوداګرۍ په سلسله خورا ډېر پردي خلګ آتن ته راغلي وه او هلته يې هم اړولي وه، ځکه هلته دا کار آسانه وو، چي پيسې وګټل سي، خو د زاړه نظام له اصولو سره سم بېګانه وګړو نه حقوق درلوده او نه د قانون حمايه ور حاصله وه. سره له دې چي دغه بېګانه خلګ د عنعنې له مخي سهل سوی وو، خو بيا هم د خلګو تر منځ يې د ناآراموونکو او خارجي عناصرو حيثيت درلودی.

لنډه دا چي بهيري نظام مخ پر ختمېدو وو. ټولنه ورځ په ورځ د خپل انکشاف په سلسله د بهير له ساحې څخه را وتله. په بهير کي دا سيک (قوت) نه وو پاته، چي حتی هغه ډېر عذاب ور کوونکي فسادونه ورک کړي او يا يې څه کم کړي، چي په سپينه ورځ يې په مخ کي ورته کېدله. خو په دې ترڅ کي دولت په پټه

خوله منځ ته راغلی وو. هغه نوي گروپونه چې د کار د تقسیم په وجه لومړی د ښار او کلي په منځ کې او بیا د ښاري کسبونو د بېلابیلو څانگو په منځ کې تشکیل سوي وه، د خپلو گټو د ساتنې دپاره یې نوي اداري تشکیلات ایجاد کړي وه. هر راز دولتي اداري جوړي سوي وې. پر دې خبرو سربېره دغه ځوان دولت نو بیا د خپل ځان جنگي قواوو ته هم ضرورت درلودی. دا راز قواوي د آتن د هغو خلگو تر منځ، چي د بېړۍ چلولو کار یې کاوه، په وار د واره کي یوازي هغه بحري قواوي وې، چي هم د ناپېښه کوچنیو جگړو دپاره کار ځني اخیستل کېدی او هم د تجارتي بېړیو د ساتني دپاره. تر سولون دمخه په یوه نامعلومه زمانه کي ناوکراریاني (Naucraries) جوړي سوي وې او دا هغه کوچنۍ سیمه‌ایزي ناحیې وې، چي په هره قبیله کي یې شمېر دوولسو ته رسېدی. د هري ناوکراري پر ذمه وه، چي یوه جنگي بېړۍ به تهیه کوي، چي په سامانو او سړو مجهزه وي او بل به د آس د دوو سپرو بندوبست کوي. دغه ترتیب نو پر بهیري نظام باندي یوه دوه اړخیزه حمله وه؛ ځکه لومړی خو دغه ترتیب یو داسي سرکاري قدرت منځ ته را وستی، چي نور یې نو له هغه قدرته سره تطابق نه درلودی، چي په مجموعي توگه به له وسله‌والو خلگو څخه جوړ سوی وو او دوهم دا چي دغه ترتیب نو د عامه مقاصدو د اجراء په منظور د لومړي پلا دپاره خلگ داسي سره ووېشل، چي دغه وېش یې د قومي جمعیتونو په حساب نه وو، بلکي د اوسېدونکي د مشترک ټاټوبي له مخي په سیمه‌ایزه توگه سر ته رسېدی. دا چي دغه جریان د څه‌شي زیری ور کاوه، په وروسته کي به را معلوم سي.

څه رنګه چې بهيري نظام د هغو خلګو مرستې ته نه سواى رسېدلاى، چې تر استثمار لاندې وه، نو دې خلګو تش دونه کولاى سواى، چې منځ ته راتلونکي دولت ته وګوري او د مرستي هيله ځني وساتي. دولت نو د سولون په وسيله د جاري کړاى سوي اداري د تنظيمولو په شکل په ربښتيا سره د دوى مرستې ته ورسېدى او په همدې ترڅ کي يې د پخواني نظام په لغوه کېدو سره خپل ځان له نوي سره غښتلى کړى. موږ دلته له دې خبره سره اړه نه لرو، چې ۵۹۴ کاله تر ميلاد دمخه د سولون اصلاحات په څه طريقه انجام سول، بلکي د مطلب ټکى مو دا دى، چې سولون هغه يو لړ تش په نامه سياسي انقلابونه له دې لاري پيل کړه، چې د ملکيت پر مناسباتو باندي يې تجاوزات سر ته رسوله. تر اوسه چې څه انقلابونه راغلي دي، ټوله داسي انقلابونه دي، چې غواړي يو ډول ملکيت د بل ډول ملکيت په مقابل کي حمايه کړي. دوى نه سي کولاى، چې يو ډول ملکيت په داسي توګه حمايه کړي، چې پر بل يوه باندي تجاوز و نه کړي.

د فرانسې په لوى انقلاب کي فيودالي ملکيت د بورژوازي ملکيت د ساتني دپاره قرباني سو. د سولون په انقلاب کي د پور ور کوونکو ملکيت د پوروړو د ملکيت د ګټې دپاره خساره‌من سو. پورونه سم دم لغوه سوه. له پوره تشريحاتو څخه يې نه يو خبر، خو سولون په خپلو اشعارو کي وياړي، چې ده د ګرو ځلي له هغو مځکو څخه وکښل، چې تر پور لاندي وې او ټولو هغو کسانو ته يې، چې د پورو په نسبت تښتېدلي وه او يا په خارج کي خرڅ سوي وه، دا زمينه برابره کړه، چې بيرته خپلو کورو ته را ستانه سي. دا کار چې د ملکيت پر حقوقو باندي د ښکاره

تجاوز له لاري سر ته ورسېد، په بل ډول نه سوای کېدلای. رښتیا هم د دغه ټولو تش په نامه سیاسي انقلابو هدف له اوله څخه تر آخره پوري دا وو، چي يو ډول ملکیت د بل ډول ملکیت د ضبطولو له لاري –چي دغه کار د غلا په نامه هم یاد سوی دی- حمایه کړي. نو ځکه دا له هره پلوه یوه رښتیا خبره ده، چي خصوصي ملکیت د ۲۵۰۰ کلو په دوران کي يوازي د ملکیت پر حقوقو باندي د تجاوز له لاري څخه ساتل سوی او حمایه سوی دی.

خو اوس د یوې داسي لاري پیدا کېده لازم وه، چي د آتن آزاد خلگ بله پلا بیا تر مرئیتوب لاندي را نه سي. دا کار لومړی د عمومي تدابیرو په وسیله سر ته ورسېدی، مثلاً هماغسي قراردادونه منعه سوه، چي په هغه کي به پوروړی د گرو په توگه را ښکېل وو. علاوه پر هغه، د دې دپاره هم یو اکثر حد وټاکل سو، چي یو سړی د څونه مځکي مالک کېدلای سي، څو له دې لاري د اشرافو د طبقې هغه هڅه یو لږ څه را وگرځوي، چي د بزگر مځکي ته به یې سترگي نیولي وې او غوښته به یې چي د ځان یې کړي. او په دې پسي بلوت په خپله په نظام کي تحولات تر سره سول او د دوی له جملې څخه هغه څه چي زموږ دپاره ډېر اهمیت لري، دا دي:

د جرگې د غړو شمېر څلور سوه تنو ته زیات سو، چي له هري قبیلې څخه به سل تنه ورته راتلل. دلته بیا هم قبیلې تر اوسه لا د یو اساس په توگه کار ور کاوه. خو دا د پخواني نظام څخه هغه يوازنی پاته خبره وه، چي په نوې سیاسي مؤسسه کي ځای سوه. نور نو سولون د هغه ځای اوسېدونکي د دې اساس له مخي، چي څونه مځکه لري او څونه حاصل اخلي، څلورو طبقاتو ته ووېشل. د

دې دپاره چې په لومړيو درو طبقاتو کي را سي، نو لازمه وه، چې هغه به لږ تر لږه پنځه سوه، درې سوه او يو لسو پنځوس مديمنه (چې يو مديمن تخميناً له ۴۱ ليټرو سره برابريږي) غله اخلي. هغه څوک چې يا به يې مځکه تر دې حد لږ وه او يا به يې ګردسره هيڅ نه درلوده، په څلورمه طبقه يې اړه درلوده. يوازې د لومړيو درو طبقو غړو کارداري (رسمي ماموريت) کولای سوای او د سر چوکۍ د لومړۍ طبقې د خلګو وې. څلورمي طبقې يوازې دا حق درلودی، چې په اولسي اسامبله کي ټوله کارداران د انتخاب له لاري راټلل، دلته دوی د خپلو اجراآتو مسؤل وه، دلته ټوله قوانين جوړېدل او دلته څلورمي طبقې اکثريت درلود. اشرافي امتيازات تر يو حده د ثروتي امتيازاتو په شکل له سره نوي سوي وه، مګر خلګ لا د اساسي او قاطع قدرت په حيث پاته وه. حربي قواوي همدارنګه د دې څلورو طبقاتو په اساس له سره څخه تشکيل سوي وې. سپاره لښکر له لومړيو دوو طبقاتو څخه تهيه کېده او دريمي طبقې د ثقيل پياده لښکر په شاني خدمت کاوه او څلورمي طبقې د خفيف پياده لښکر حيثيت درلود. دا د څلورمي طبقې پياده لښکر په زغره نه وو مجهز، زياترو يې په بحريه کي کار کاوه او غالباً تنخا ور کول کېدله.

په دې ترتيب نو د ادارې په تشکيل کي بېخي نوی عنصر، يعني خصوصي ملکيت شامل سو. د دولت د ښاريانو حقوق او وظايف د دې اساس له مخي درجه‌بندي سوه، چي څونه مځکه لري او څومره چي شتمنو طبقاتو نفوذ تر لاسه کاوه، په هماغه اندازه زاړه کانسنګويني جمعيتونه شا ته ووهل سول. بهيري نظام نو يوه بله ماتي وخوړله.

خو د ملکيت د مبچ په اساس د سياسي حقوقو سپارل ګردسره له داسي مقرراتو سره يوه مقرره نه وه، چي له هغو نه پرته دي د دولت موجوديت ناممکن وي. که څه هم د دولتي جوړښت په تاريخ کي دغه اصل مهم رول لوبولی وو، خو د دې سره سره ښه ډېرو دولتونو او ښخي بشپړو مترقي دولتونو بې‌له دغسي اصل څخه خپلي چاري سر ته رسولې. حتی په آتن کي هم دغه اصل صرف يو موقتي رول ولوباوه. د ارسټيدس (Aristides) له زمانې څخه ټولي چوکۍ د ټولو ښاريانو پر مخ خلاصي وې.

وروسته د اتيا کلو په دوران کي د آتن ټولني ورو ورو هغه لار وړاندي واخيسته، چي په راتلونکو پېړيو کي يې هم پر هغه خوا باندي نور انکشاف پسي وکړی. د مځکي د سودخورۍ معاملات، چي د سولون تر زمانې دمخه په برم کي وه او مځکنی جايداد يې د سودخورو په لاس کي په نامحدود ډول متمرکز کړی وو، تر قيد او بنديز لاندي راغله. تجارت، لاسي صنايع او نور ګټور فنون چي د مرئيتوب د کار په سلسله په خورا لويه پيمانه ډېر سوي وه، د کسب او کار اساسي مشاغل وګرځېده. ذهني تنوير هم ترقي وکړه. د دې پر ځای چي د پخوا په وحشيانه او بې‌رحمانه طريقه خپل ښاري ملګري استثمار کړي، اوس د آتن اوسېدونکو زياتره مريان او د آتن نه بهر د آتني اموالو پېرودونکي استثماروله. منقوله شتمني، يعني پر نقدو پيسو، مريانو او ښېړيو باندي مشتمل ثروت ورځ په ورځ زياتېده، خو دا شتمني اوس نوره د مځکني مکليت د رانيولو دپاره يوازي وسيله نه وه، لکه پخوا چي د انزوا او ګوښه‌توب په وخت کي داسي وه، بلکي په خپله يوه غايه وګرځېده. د دې په نتيجه کي له يوې خوا د رسوخمندانو د زاړه

قدرت په مقابل کې د نوي طبقې، یعني په صنعت او سوداګرۍ باندې د مصروفو بډایانو په وجود کې بریالۍ رقابت منځ ته راغلی او له بلې خوا د زاړه بهیري نظام د بقایاوو د ټیک وروستنۍ پایه ونړېدله. بهیرونه، فریټرې او قبیلې، چې غړي یې اوس په ګرده اتیکا کې پاشلې خپاره وه او یو په بل کې ګډ، ارجل اوسېدله، د سیاسي موسساتو په حیث یې خپل اهمیت له لاسه ور کړ او نوره نو استفاده نه ځني کېدله. د آتن له ښاروالو څخه یو غټ شمېر اوسېدونکو په کوم بهیر اړه نه درلوده. دوی زیاتره هغه مهاجرین وه، چې له نورو ځایو څخه راغلي وه او دلته ښاریان ګرځېدلي وه، اما په هیڅ کومه زړه نسبي اتحادیه کې نه شامل سوي. علاوه پر دې خارجي مهاجرین چې هلته یې صرف له ښاري حمایې څخه ګټه اخیسته، پرله پسې خورا ډېر ورته را بهېدله.

په دې دوران کې د ډلو تر منځ مبارزې دوام درلود. اشرافي ډلې زیار ایستی، چې خپل پخواني امتیازات بیا په لاس راوړي او د لږ وخت دپاره یې برۍ هم موندی، خو ۵۰۹ کاله تر میلاد دمخه د کلیستین (Cleisthenes) له انقلابه سره د دې ډلې آخرین زوال راغی او له دوی سره د بهیري نظام آخرینه بقایا هم له منځه ولاړه.

کلیستین په خپل نوي نظام کې پر هغه څلورو قبیلو باندې وېش په نظر کې و نه نیوی، چې د بهیرونو او فریټریو په اساس جوړې سوي وې. د دغو قبیلو ځای بالکل یو نوي تشکیل ونیو، چې سراسر د ښاریانو د هغه تقسیم پر اساس جوړ سوی وو، چې د اوسېدني د محل په حساب منځ ته راغلی وو او وختي لا د ناوکراریانو په شکل هڅه ور پسي سوې وه. اوس نو د کومي کانسنګویني ټولۍ

غړیتوب چنداني اهمیت نه درلودی، بلکې د اوسېدونکي محل قاطع او اساسي عامل ګڼل کېدی. اوس نو خلګ نه سوه تقسیم، بلکې سیمه تقسیم سوه او د هر ځای اوسېدونکي په سیاسي لحاظ د هغې سیمي صرف ملحقات وګرځېده. درسته اتیکا سلو خپلواکو حوزه‌یي جوامعو (Townships) یا ډېمونو (Demes) ته وېشلې وه. د هر یوه ډېم اهالیو (Demots) خپل مشر کارداره (Demarch) او یو خزانه‌دار او دېرش تنه قاضیان، چي کوچنۍ قضیې به یې فیصله کولې، د انتخاب له لاري څخه را وستله. د هر یوه ډېم اوسېدونکو خپل عبادتځایونه او خپل خدایان یا قهرمانان درلوده، چي هغو ته منسوب روحانیون یې هم په انتخابي توګه را ټاکله. په ډېم کي عالي قدرت د ډېم د اهالیو د اسامبلې په لاس کي وو. دا نو لکه مورګان چي په خورا صحیح توګه وایي، د خپلواک امریکایي ښاري جمعیت کټ مټ یوه نمونه وه. د اوس زمانې دولت د خپل نهایي انکشاف په سلسله عیناً په هغه یونټ پای ته رسیږي، لکه په آتن کي چي منځ ته راتلونکی دولت د هغه په اساس را شروع سو.

له دغه شان هرو لسو یونټونو (ډېمونو) څخه یوه قبیله جوړېدله، چي البته له پخواني بهیري قبیلې څخه یې فرق درلودی او اوس یوه محلي قبیله بلل کېدله. محلي قبیله نه یوازي دا چي یوه خپلواکه حکومت کوونکې سیاسي ټولۍ وه، بلکي همدا رنګه یوه نظامي ټولۍ هم وه. دې قبیلې یو فیلارک (Phylarch) یعني قبیلوي مشر انتخاباوه، چي هغه به د سپرو سرلښکر وو او یو یې ټاکسیارک (Taxiarch) انتخاباوه، چي هغه به د پیاده‌وو سرلښکر وو او یو یې هم ستراتیجوس (Strategos) انتخاباوه، چي هغه به د ټولو هغو قواوو سرلښکر وو،

چې په دې قبیلوي علاقه کې به را جلب کېدله. سربېره پر دې هري محلي قبیلې پنځه جنګي بېړۍ د کارکوونکو له عملې او قوماندانه سره تهیه کولې. هري قبیلې د اتیکا له قهرمانانو څخه یو قهرمان درلودی، چې قبیله به د هغه په نامه پېژندل کېدله او قهرمان د هغې قبیلې روحاني ساتندوی ګڼل کېدی. آخر دا چې د آتن د جرګې دپاره یې پنځوس تنه غړي انتخابوله.

دا ټوله جریانات چې په سر ورسېده، نو یې په نتیجه کې د آتن دولت منځ ته راغی. دغه دولت د پنځو سوو کسو د یوې جرګې له خوا اداره کېدی، چې غړي یې د لسو قبیلو له خوا څخه را انتخابېدله او تر هغه پاس اداره د هغې اولسي اسامبلې په لاس کې وه، چې د آتن هر اوسېدونکي کولای سوای، چې هغې ته ور سي او هلته رایه ور کړي. کُل مختاره سرانو او نورو مامورینو د حکومتي ادارو او محکمو په بېلو بېلو شعبو کې ماموریت درلودی. خو په آتن کې داسي واکمن نه وو، چې هغه تر ټولو ستر اجرائیه واک ولري.

په دې سبب چې د ادارې دغه نوی تشکیل منځ ته راغی او په ښاري حقوقو کې یو غټ شمېر هغه تاربع او محکوم خلګ را ګډ سول، چې ځیني یې مهاجرین او ځیني آزاد سوي مریان وه، نو د بهیري نظام اداري ړنګي سوې او د عامه چارو د اجراء له صحنې څخه ووتلې. دوی د شخصي اتحادیو او مذهبي ټولو حیثیت ځان ته غوره کړی. خو د دوی اخلاقي اثرات یعني د پخوانۍ بهیري دورې عنعنوي خیالات او نظریات لا تر ډېري زمانې ژوندي پاته سوه او صرف په کراره کراره له منځه ووتله. دغه جریانات د دولت په یوه بله موسسه کې ښه را څرګند سوه.

موږ ولیده، چې د دولت له اساسي مظاهرو څخه یوه دا ده، چې دی هغه سرکاري قدرت دی، چې د خلگو له پرگنو څخه را بېل او جلا وي. په هغه زمانه کې آتن یوازې یوه ملېشه او یوه بحریه درلوده، چې تجهیزات او سړي یې مستقیماً د خلگو له خوا څخه تهیه کېدله. دوی د خارجي غلیمانو په مقابل کې د ملک ساتنه کوله او مریان چې په هغه وخت کې یې د نفوسو غټ اکثریت جوړاوه، تر خپل نظارت لاندې ساتله. دې سرکاري قدرت په لومړي سر کې د اهالیو دپاره صرف د پولیسي قوې په شکل وجود درلودی او پولیسي قوه هم دونه پخوانۍ ده، لکه څونه چې دولت دی. دغه وجه ده، چې د اتلسمې پېړۍ سپېڅلي فرانسویان چې کله د متمدنو خلگو په باب کې ږغېږي، نو یې د مدني خلگو په نامه نه یادوي، بلکې د پولیسي ملتونو (nation policees) په نامه یې بولي. دا ډول نو د آتن خلگو د خپل دولت د تاسیس سره په یوه وخت کې یوه پولیسي قوه هم جوړه کړه، چې دا قوه د غشي او لیندۍوالا پیاده او سپرو یوه واقعي ژاندارمري وه، چې په جنوبي جرمني او سویس کې یې (Landjager) بولي. دا ژاندارمري له مریانو څخه جوړه سوې وه. د آتن آزادو خلگو ته دغه د پولیس وظیفه دونه یو سپک کار ایسېده، چې دوی ترجیح ور کوله، چې د یو مسلح مریي له خوا څخه بندي سي، تر دې چې دی په خپله پولیس سي او د پولیس رذیلانه او ننگین وظایف اجراء کړي. دا لا هم د قدیم بهیري ذهنیت یوه پاته نخښه وه. دولت بې‌له پولیسي قوې څخه ژوند نه سوای کولای، لاکن لا اوس هم د لږ عمر وو او پر اخلاقي چارو باندې یې دونه کافي تسلط نه وو پیدا

کړي، څو وکړای سي یوه داسي مسلک ته ښه حیثیت ور په برخه کړي، چي ارو مرو پخوانیو بهیروالو ته یو ننګین کار ایسېدی.
دا خبره چي د دولت دغه موسسه چي اوس يې اساسي اړخونه بشپړ سوي وه، د آتن د خلګو د نوي اجتماعي حالته سره خورا ډېره مناسبه او وړ موسسه وه، د هغه چټکي ودي له مخي څرګنده ده، چي په ثروت، تجارت او صنعن کي منځ ته راغله. طبقاتي تضاد چي اوس نو پر ده باندي اجتماعي او سیاسي موسسات را بناء سوي وه، نور هغه شان نه وو پاته، چي د اشرافو او عامو خلګو تر منځ یو تضاد وو، بلکي د مریانو او ساهوګانو، د تابع وګړو او د کاملو حقوقو د خاوندو ښاریانو تر منځ په تضاد اوښتی وو. هغه وخت چي د آتن اوسېدونکي د سعادت د برم په حالت کي وه، نو د آزادو خلګو شمېر، ښځي او کوچنیان پکښي شامل؛ ۹۰۰۰۰ تنو ته رسېده، د مریانو او مینځیانو هغې ۳٦۵۰۰۰ تنو او د تابعینو یعني مهاجرینو او آزاد سوو مریانو هغې ۴۵۰۰۰ تنو ته رسېدی. په دې ډول نو پر هر ښاري بالغ نر باندي سړي سر هلته لږ تر لږه ۱۸ مریان او تر دوو زیات تابعین ور رسېدله. د مریانو د غټ شمېر موضوع د دې خبري له مخي څرګنده ده، چي د دوی له جملې څخه زیاترو په هغو کارخانو کي، چي غټي غټي خوني يې درلودې، د نګرانانو تر نظارت لاندي یو ځای کار کاوه. د تجارت او صنعت د انکشاف سره ثروت په یو څو محدود لاسو کي ولوېد. آزاد ښاریان سرې خوارۍ ته ووتل او دې ته اړ سول، چي یا لاسي صنایعو ته لاس واچوي او د هغه غلامانه کار سره رقابت وکړي، چي د دوی له شانه سره مناسب نه ګڼل کېدی او په کښته سترګه يې ورته کتله او د بریالیتوب امید هم لږ پکښي کېدی او یا خو پر

یوه مخ ګدایۍ ته را ووځي. د هغه وخت د شرایطو مطابق دوهمه خبره عملي سوه. څه رنګه چي د دوی شمېر زیات وو، نو یې ټوله د آتن دولت له خپله ځانه سره بربادۍ ته را کش کړئ. دا ډموکراسي نه وه، چي د آتن زوال او انقراض علت وګرځېده، لکه هغه اروپایي خرده‌ګیر معلمان، چي پاچهۍ ته سجده کوي، غواړي موږ ته داسي یوه عقیده را پیدا کړي، بلکي علت یې هغه غلامي وه، چي د آزادو ښاریانو دپاره یې د کار کول او د زیار ایستل یوه د شرم او سپکاوي موضوع ګرځولې وه.

د آتن د اوسېدونکو تر منځ د دولت د منځ ته راتلو جریان عام ډول د دولت د جوړېدو یوه ښېخي مثالي نمونه تهیه کوي؛ ځکه یو خو دا چي هلته دولت په خپل سوچه شکل کي منځ ته راغی، چي د خارجي یا داخلي تشدد مداخله پکښې و نه سوه (البته د پیسیستراتس د غصب زمانه خو ژر تېره سوه او هیڅ اثر یې تر شا پاته نه سو) او بل دا چي د دولت هغه ډېر پر مخ تللی شکل، یعني ډموکراټیک جمهوریت را ښیي، چي سیده له بهیري ټولني څخه را ووتی. آخره خبره خو لا دا ده، چي د دغه دولت د ایجاد په باب کي کافي معلومات لرو او له ټولو اساسي جزئیاتو او تفصیلاتو څخه یې خبر یو.

## شپږم څپرکی

# په روم کي بهیر او دولت

# په روم کې بهیر او دولت

د هغه روایت مطابق، چې د روم د تاسیس په باب کې راغلی دی، لومړی اساس یې د یو شمېر لاتیني بهیرونو له خوا څخه کښېښوول سو (چې روایت وایي سل بهیرونه وه) او د ټولو په ګډه یې یوه قبیله جوړه کړې وه. په دې پسې سمدستي یوې سابیلي (Sabellian) قبیلې، چې وایي دا هم له سلو بهیرونو څخه جوړه سوې وه، هلته واړول او په آخره کې یوه دریمه قبیله، چې له مختلفو عناصرو څخه جوړه سوې وه او دا هم پر سل بهیره مشتمله وه، له دوی سره یو ځای سوه. دا ګرده قصه چې کتل کیږي، نو ښځي په لومړي نظر دا ځني را وځي، چې دلته بې‌له بهیره بل کوم طبیعي پیداوار په میدان کې نه وو او دا بهیر په خپله په زیاترو مواردو کې له هغه مورني بهیره څخه را وتلی وو، چې لا یې په قدیم ټاټوبي کې موجودیت درلودی. قبیلو ته چې کتل کېده، نو دا نخښه پر معلومه وه، چې په مصنوعي ډول جوړي سوي دي، خو د دې سره سره تر ډېري اندازې له هغو عناصرو څخه جوړي سوي وې، چې خپل تر منځ یې قومي رګې (اړیکي) سره درلود. د دغو مصنوعي قبیلو جوړښت د یوې داسي پخوانۍ طبیعي قبیلې پر طرز برابر سر ته رسېدلی وو، چې مصنوعي لاس یې نه وي خوړلی. د دې خبري هم غالب احتمال کېدی، چې یوې سوچه پخوانۍ قبیلې د دې درو قبیلو د هري یوې مرکزي هسته تشکیل کړې وه. د بهیر او قبیلې په منځ کې د رابطې کړی؛ یعني فریټري پر لسو بهیرو مشتمله وه او د کوریا

(Curia) په نامه نومېدله. په دې اساس نو هلته دېرش کوریاګاني موجودې وې.

دا یوه منلې خبره ده، چې رومي بهیر یوه داسي موسسه وه، چې د یوناني بهیر سره یو شی وه. که یوناني بهیر د هغه راز اجتماعي یونټ یوه ادامه وه، چې ابتدایي شکل یې د سور پوستو امریکایانو تر منځ لیدل کیږي، نو طبیعي ده، چې کټ مټ د یوناني او امریکایي بهیرونو خبري د رومي بهیرونو په باب کي هم پوره صادقیږي، نو ځکه د رومي بهیر په باب کي په ډېر لنډ ډول سره ږغیږو.

لږ تر لږه د روم د ښار د پخوانیو زمانو په دوران کي رومي بهیر دا وروستنی ډول نظام درلودی:

۱- بهیروالو حق درلودی، چې د مړه جایداد یو له بله په میراث سره یوسي. جایداد یې تر بهیر نه وتی او په هغه کي دننه پاته کېدی. څه رنګه چې پلارنی حق لکه په یوناني بهیر کي وختي لا په رومي بهیر کي نافذ سوی وو، نو هغه اولادونه چې د ښځي په نسبي لیکه کي راتله، له دغه حقه وتلي وه. د «دوولس لوحو» د قانون د حکمو سره سم، چې د رومي حقوقو په باره کي موږ ته معلوم لرغونی یادګار دی، خپل اولاد د پلار په جایداد کي لومړی حق درلود او په هغه مورد کي چې خپل اولاد به یې په میدان کي نه وو، نو اګناتانو (Agnates) (یعني د نر د نسبي سلسلې قومي قریبانو- عزیزانو) یې میراث وړی. او که به یې داسي نژدې عزیزان هم نه درلوده، نو بهیروالو یې حق اخیستی. په ګردو حالاتو کي جایداد په بهیر کي دننه پاتېدی. دلته وینو، چې نوي حقوقي

مقررات، چي د زيات سوي ثروت او وحدتي ازدواج په اثر منځ ته راغلي وه، ورو ورو يې د ښهيري نظام په کاروبار کي رخنه کړې وه؛ يعني ابتداء چي د مړه په جايداد کي گردو ښهيروالو مساوي حق درلودی، دا حق وار د واره په عمل کي تر نژدې عزيزانو پوري محدود سوی وو. دغه د محدوديت خبره لکه پورته چي ذکر سوه، غالبه دا ده، چي په يوه ښځي ليري زمانه کي سر ته رسېدلې ده. تر هغه وروسته بيا د ميراث حق په اولادو مربوط سوی او بالآخره يې د نر په اولادو پوري محدوديت پيدا کړی وو. خو البته دغه جريان په «دوولسو لوحو» کي په سرچپه تسليل معلوميږي.

۲- ښهير يوه مشترکه هديره درلوده. هغه اشرافي (پټريشي) (Patrician) ښهير، چي د کلوديوس په نامه مسمی دی او له ريگيل (Regilli) ښخه روم ته د مهاجرت په سلسله راغلی وو، د روم په ښار کي يوه ټوټه مځکه او يوه هديره ور رسېدلې وه. حتی د اغوسطوس (Augustus) په زمانه کي د واروس (Varus)، چي د ټيوټبورگ په ځنگله کي له جرمنيانو سره د جگړې په وخت کي وژل سوی وو، سر روم ته راوړل سو او په (gentilitius tumulus)[1] کي ښخ سو او له دې ښخه نو دا څرگنده ده، چي د کوينتيليا (Quintilia) په نامه د ده ښهير لا خپله بېله هديره درلوده.

۳- مشترک ديني اعياد يې درلوده. همدغه (sacra gentilitia)[2] يې خورا ډېر مشهور دي.

---

[1] يعني د ښهير د دفن غونډۍ. –ت. هـ.

[2] د ښهير مقدس اعياد. –ت. هـ.

۴- د بهير غړي مکلف وه، چې په بهير کې به دننه واده نه کوي، معلوميږي، چې په روم کې دا مکلفيت دې درجې ته نه وو رسېدلی، چې په ليکلي قانون کې درج سي، بلکي د يو پاته دود په شان پالل کېده. د رومي جوړو د هغو بېشمېره نومو په جمله کې چې زموږ تر وخته را رسېدلي دي، يو هم داسي صورت نه سته، چې په هغه کې مېړه او مانينه يو بهيري نوم ولري. د ميراث حقوق هم د دغه زواج ثبوت کوي. ښځې د خپل ازدواج په موجب د پلار د خوا قومي (agnatic) حقوق بايلله او خپله بهيره وتله. نه ښځې او نه د هغې اولادونو کولای سوای، چې د دې د پلار يا د هغه د وروڼو په جايداد کې ميراث ور ورسيږي، ځکه که يې ميراث وړی وای، نو خو د پلار جايداد يې د هغه تر بهير دباندي وتی. ثرګنده ده، چې دغه جال يوازي په همدغسي صورت کې مفهوم درلودلای سي، چې ښځه نه وي ايله، چې د خپل بهير د يوه غړي سره واده وکړي.

۵- مځکه يې تر منځ مشترکه وه. دا اشتراک هر کله د ابتدايي زمانې قاعده وه او همدا قاعده له هغه وخته راهيسي چلېده، چې قبيلو په دې شروع وکړه، چې مځکه سره ووېشي. د لاتيني قبيلو تر منځ موږ وينو، چې مځکه يو څه د قبيلې ملکيت ده او يو څه په بهير اړه لري او يو څه هم په کهولونو پوري مربوط وه. دا کهولونه په هغه وخت کې کورټ انفرادي کورنۍ نه سي ګڼل کېدلای. دا خبره روملوس (Romulus) ته منسوبه ده، چې دی هغه لومړی سړی وو، چې د بېلو بيلو افرادو هر يوه ته يې تقريباً يو هيکټار (دوه يوګره – jugerum) مځکه ور جلا کړه. خو د دې سره سره حتی وروسته بيا هم موږ وينو، چې مځکه لا د بهيرونو په لاس کې ده. هغه دولتي مځکې خو لا پرېږده، چې د روم د جمهوريت ټوله داخلي تاريخ يې پر ګردآورده باندي را څرخي.

٦- دا د بهیر د غړو متقابله ذمه‌واري وه، چې یو د بل کومک سي او د تلافي اخیستلو په کار کې یو و بل ته مرسته ورسوي. د دغه رسم ډېر جزیي آثار په لیکلي تاریخ کې راغلي دي. رومي دولت له لومړي سره څخه داسې ستر قدرت څرگند کی، چې د تلافي اخیستلو وظیفه و ده ته تسلیم سوه. کله چې اپیوس کلودیوس (Appius Claudius) بندي سو، نو د ده گرده بهیر د ده د شخصي دښمنانو په شمول ساندي شروع کړې. د دوهم پونیک (punic) جنگ په زمانه کې بهیرونه یو لاس سوه، چې خپل ملگري بهیروال، چې نیول سوي وه، د پیسو په ور کولو را خلاص کړي، خو له دې اقدامه څخه د مشرانو جرگې دوی منعه کړه.

۷- د بهیر غړو حق درلودی، چې بهیري نوم پر ځان باندي کښېږدي. دا جال د امپراطورانو تر زمانې پوري لا چلېدی. آزاد سوو مریانو ته اجازه وه، چې د دوی دمخنې بادارانو بهیري نومونه پر ځان باندي کښیږدي. لاکن بهیري حقوق یې نه سوای اخیستلای.

۸- بهیر دا حق درلودی، چې بېگانه کسان په خپل بهیر گډ کړي. دا کار لکه د سور پوستانو تر منځ چې کېدی، له دې لاري څخه سر ته رسېدی، چې لومړی به یې هغوی په یوه کورنۍ کې ومنل او په دې ترتیب به نو د بهیر په سلسله کې شامل سوه.

۹- د سرانو د انتخابېدو او ایسته کېدو د حق په باب کې یې هیڅ‌چیري ذکر نه دی راغلی، خو نظر دې خبري ته، چې د روم د موجودیت د لومړۍ دورې په زمانه کې له انتخابي پاچا څخه رانیولې، گرده چوکۍ د انتخاب یا تقرر له لاري څخه ډکېدلې او کوریا هم خپل کاهنان د انتخاب په صورت را وستله، نو زموږ دا قیاس پر ځای دی، چې د بهیري سرانو (principes) په نسبت له همدې

طريقې څخه کار اخيستل کېدی، خو دا باک نه لري، چې له پخوا څخه يې لا دا قاعده جاري کړې وه، چې له يوې کورنۍ څخه به يې کانديدان را انتخابوله. د يو رومي ښهير صلاحيتونه او حقوق دغه راز وه. پلارني حق ته د بشپړ انتقال موضوع چې يې ايسته سي، نور نو د يوه ايروکوايسي ښهير د حقوقو او وظايفو حقيقي تصوير پوره معرفي کولای سي. دلته هم «ايروکوايسي ښهير څرګند ليدل کيږي».

هغه ګډوډي چې تر اوسه لا هم حتی زموږ د ښېځي معتبرو تاريخ پوهانو تر منځ د روم د ښهيري نظام پر مسئله باندي روانه ده، د وروستني مثال له مخي څخه پوره څرګنديږي: مومزن په خپله هغه ليکنه کي، چې د جمهوري او د اغوسطوس دورې د خاصو نومو په باره کي يې کښلې ده («رومي پلټني»، برلين، ۱۸٦۴م. کال، ۱ ټوک)[1] داسي وايي:

«ښهيري نوم نه يوازي دا چې د ټولو نرو ښهيروالو له خوا څخه استعماليږي (چې په دې جمله کي البته د مريانو په پرته نور ټوله ور ګډ سوي اشخاص او تر حمايې لاندي کسان هم شامل دي)، بلکي د ښځو له خوا څخه همدا رنګه پر ځان باندي ايښوول کيږي... قبيله (چې مومزن يې دلته د (gens) کلمه دغه ډول ترجمه کوي) يو داسي ... جمعيت دی، چې له مشترک نيکه څخه وجود ته راغلې ده او دا نيکه يا واقعي يا فرضي او يا خو حتی له ځانه څخه را ايستل سوی دی. دا جمعيت د مشترکو رسوماتو، هديرو او ميراث په سلسله په يوه کړۍ کي راغلی او متحد سوی دی. په شخصي لحاظ ګرده آزاد افراد او نو ځکه ښځي هم کولای سي او هم يې بايد وکړي، چې د ښهير په غړيتوب کي نومونه

---

[1] – Th. Mommsen. Romische Forschungen, 2 Aufl, Bd. I-II, Berlin, 1864- 78. ت. هـ.

ثبت کړي. خو د یوې مړوښې ښځې بهیري نوم پیدا کول لږ څه مشکل کار دی. رښتیا هم تر هغې زمانې، چې ښځو ته اجازه نه وه، چې تر بهیر دباندي به د چا سره واده کوي، نو دا مشکل نه وو پېښ او ښکاره ده، چې دا خبره بیا د یوې اوږدې مودې دپاره ښځو ته ډېره مشکله ایسېده، چې د بهیر دننه واده په عوض کې تر بهیر دباندي واده وکړي. د شپږمې پېړۍ په دوران کې لا دغه د ( gentis enuptio) یعنې تر بهیر دباندي د واده حق داسې حیثیت درلودی، چې خاصو اشخاصو ته د یو شخصي امتیاز او انعام په توګه ور کول کېدی... خو په ابتدایي زمانو کې کله چې به یو چیري ښځې تر بهیر دباندي واده وکړی، نو د خپل مېړه له قبیلې څخه ګرځېده. دا خبره په تحقیق معلومه ده، چې د قدیم مذهبي ازدواج په موجب ښځه له هره پلوه د خپل مېړه په حقوقي او دیني جمعیت ګډېده او له خپله جمعیته څخه وتله. په دې خبره څوک نه پوهیږي، چې مړوښې ښځه د خپلو بهیروالو په نسبت د میراث پرېښوولو او اخیستلو حق بایلي، خو د خپل مېړه، خپل اولاد او د خپل مېړه د بهیروالو په میراث ګروپ ور کښېوزي؟ که یې مېړه د خپل اولاد په شاني په ځان ګډوي او خپلي کورنۍ ته یې راولي، نو څه رنګه دا د ده له بهیره څخه جلا او بېګانه پاتېدلای سي؟» (له ۸ مخ څخه تر ۱۱ پوري).

په دې ډول نو مومزن وایي، چې رومي ښځې چې په یو ټاکلي بهیر به یې اړه درلوده، په ابتداء کې آزادي وې، چې یوازي به په خپل بهیر کې دننه واده کوي او د ده د بیانه سره سم نو په همدې وجه رومي بهیر دننه واده‌والا وو، نه دباندي واده‌واده. دغه نظریه چې د نورو ټولو اولسونو د ژوند له حالاتو څخه یو خلاف جریان ښکاره کوي، په اصل کې یې له هغه یو ځانګړي عبارت څخه منشاء اخیستې ده، چې په صحت کې یې ډېر اختلاف موجود دی. دغه عبارت د

تیطس لیفیوس «د روم د ښار له تأسیس څخه راهیسي د روم تاریخ» د کتاب د ۳۹ ټوک په ۱۹ باب کي راغلی دی او د هغه له روایته سره سم، د روم د قایمېدو په ۵٦۸ کال کي، چي د ۱۸٦ قبل المیلاد سره برابرېږي، د مشرانو جرگې دا حکم وکړی چي:

Uti feceniae Hispalae datio, deminutio, gentis enuptio, tutoris » optio item esset quasi ei vir testament dedisset; utique ei ingenuo nubere liceret, neu quid ei qui eam duxisset, ob id fraudi «ignominiaeve esset

- «فیتسینیا هیسپالا به دا حق درلودای، چي په خپل جایداد کي تصرف وکړي، کم یې کړي، تر بهیر دباندي واده وکړه او خپل ولي وټاکي؛ په دې شرط که یې [مړه] مېړه دغه حق د وصیت له لاري دې ته ور کړی وای. دا پښې ته ایله ده، چي د یو آزاد سړي سره ازدواج وکړي او د هغه سړي دپاره چي له دې سره واده کوي، د دې ازدواج بد یا ننگین کار نه گڼل کیږي».

په دې کي شک نه سته، چي فیتسینیا د یوې آزادي سوي مېنځې په حیث دلته دا اجازه لاس ته راوړې ده، چي تر بهیر دباندي واده وکړي. او دا هم دغسي له شکه وتلې ده، چي مېړه دا حق درلودی، چي خپلې ماینې ته د وصیت له لاري دا حق ور اعطاء کړي، چي د ده تر مړیني وروسته تر بهیر دباندي واده وکړي. اما دا نه ده معلومه، چي د کوم یوه تر بهیر دباندي؟

که دا د یوې ښځې دپاره لازمه وه، چي په خپل بهیر کي به واده کوي، لکه مومزن چي دغه شان گمان کوي، نو بیا دا تر خپل ازدواج وروسته هم په دغه بهیر کي پاتېدله. دا خبره په لومړۍ وهله کي د دې شي اثبات غواړي، چي که دا د ښځې دپاره په کار وه، چي په بهیر کي به دننه واده کوي، نو طبعاً د نر

دپاره هم لازمه وه، چې دغسې وکړي، ځکه بل ډول ده نه سوای کولای، چې د ځان دپاره یوه ماینه پیدا کړي. د دې خبرو په اساس نو داسې حالت ته رسیږو، چې په هغه کې یو سړي کولای سوای، چې د وصیت له لارې خپلې ماینې ته هماغسې یو حق ور اعطاء کړي، چې ده په خپله د ځان دپاره نه درلودی او دا بیان مو نو یوې داسې نتیجې ته رسوي، چې په قانوني لحاظ ډېره چټي او بې‌معنی خبره ګڼل کیږي. مومزن ته په خپله دا نتیجه ور معلومه ده او نو ځکه دا اټکل کوي، چې وایي:

«غالبه دا ده، چې تر بهیر دباندې ازدواج په قانوني لحاظ نه یوازې د صلاحیت‌لرونکي شخص، بلکې د بهیر د ګردو غړو موافقت غوښتی» (د ۱۰ مخ حاشیه).

لومړی خو دا په خپله یوه ډېره جسورانه فرضیه ده او دوهم دا چې د فیتسینیا په باب د هغه حکم عبارت له څرګنده بیانه سره تضاد لري، چې همدا اوس دمخه ذکر سو. ځکه د مشرانو جرګه د مېړه پر ځای فیتسینیا ته دا حق ور کوي، چې بیا واده وکړي. دغه جرګه په ښکاره توګه نه تر هغه لږ او نه تر هغه ډېر حق ور کوي، لکه څونه چې یې د دې مېړه ور کولای سوای. خو هغه څه چې جرګه یې ور کوي، یو مطلق حق دی، چې له هر ډول قید او شرطه څخه خلاص دی، نو که دا له دغه حق څخه استفاده وکړي، د دې نوي مېړه به د دې اقدام په نتیجه کې څه قسم پرېشاني او تکلیف نه ویني. د مشرانو جرګه حتی اوسنیو او راتلونکو څارنوالانو (consuls) او پریټرانو (praetors) ته هدایت ور کوي، چې د دې خبرې پام وساتي، چې فیتسینیا ته له دې حق څخه د استفادې په سبب کوم تکلیف ور و نه رسیږي، نو ځکه د مومزن فرضیه معلومیږي، چې په هیڅ توګه د منلو وړ نه ده.

بله لا دا ده: فرض کړئ، چي يوې ښځي د يو بل بهير د سړي سره واده کړی دی، لاکن دا په خپل بهير کي پاته ده. د دغه ذکر سوي عبارت سره سم نو بيا د دې مېړه دا حق درلودی، چي خپلي ماينې ته اجازه ور کړي، چي د دې تر خپل بهير دباندي واده وکړي، يعني ده نو د هغه بهير په چارو کي، چي هيڅ رابطه يې نه ور سره درلوده، د مداخلې حق درلودی. دا خبره خو بيا دونه نامعقوله ده، چي ضرورت نه لرو، نور هم په دې باب کي وږغېږو.
پرته له دې څخه د بلي نتيجې گمان نه سي کېدلای، چي کله به ښځي د لومړي پلا دپاره د بل بهير له يو سړي سره واده وکړ، نو له دې لاري بې‌تکليفه د خپل مېړه د بهير غړې گرځېده. مومزن په خپله مني، چي په دغسي مواردو کي همدغه راز پېښېدله. د دې اساس له مخي نو ټوله خبري په يوه چلي (پلا) په خپله روښانه کيږي. ځکه هغه ښځه چي د خپل ازدواج په موجب له خپله زاړه بهيره څخه را پرې سوې وي او د خپل مېړه په بهيري جمعيت گډه سوې وي، نو په نوي بهير کي يو مخصوص غوندي حيثيت پيدا کوي. دا نو اوس د بهير غړې ده، خو دويني له لاري قومي رگي نه لري. د کومي سلسلې له لاري چي دا په بهير گډه سوې ده، له اوله سره دا خبره نه ايجابوي، چي په هغه بهير کي به دننه واده نه کوي، چي دا د ازدواج پر لار ورته راغلې ده. سربېره پر دې دا چي ښځه د وراثت د مشترکو حقوقو په خاونده بهيري اتحاديه کي ومنل سوه، نو د مېړه په مړينه د ده جايداد، يعني د بهير د يو غړي ملگري جايداد په ميراث ور رسيږي. نو ځکه تر دې نو بله طبيعي خبره نه جوړيږي، چي په بهير کي د دغه جايداد د پاتېدو په منظور دا بايد مکلفه سي، چي د خپل لومړي مېړه د بهير د يوه غړي سره به واده کوي، نه د بل چا سره. خو که څوک له دغه مکلفيت څخه ځان باسي، نو د اجازې د ور کولو په کار کي تر هغه چا چي

جایداد په میراث ځني پاتيږي، يعني د دې تر لومړي مېړه بل څوک د زيات صلاحيت څښتن کېدلای نه سي. هغه وخت چې ده د خپل جایداد يوه برخه په وصيت کې د دې په نامه کوله او په عين حال کې يې دې ته اجازه ور کوله، چې دغه جایداد د ازدواج په سلسله يا د ازدواج په نتيجه کې بل بهير ته انتقال کړي، نو دی لا د دغه جایداد مالک ګڼل کېدی او نو په حقيقت کې يې يوازې همدا کار کاوه، چې په خپل جایداد کې تصرف وکړي. تر کومه ځايه چې خبره د ښځې او د مېړه په بهير پوري د دې د رابطې سره اړه لري، نو دا مېړه وو، چې د خپلې آزادې ارادې د عملي کېدو، يعني ازدواج په وسيله يې دا په خپله بهير کې شامله کړه. نو ځکه دا هم بالکل طبيعي ښکاري، چې دی باید هغه اصلي سړی وي، چې دې ته دا صلاحيت ور کولای سي، چې د يو بل ازدواج په موجب بيا د ده له بهيره څخه ووځي. لنډه دا، که موږ دا عجيبه خبره، چې رومي بهير دننه وادهوالا وو، يو پلا له مخه ايسته کړو او د مورګان د نظريې سره سم داسي يې وګڼو، چې رومي بهير په ابتداء کې دباندي وادهوالا وو، نو دا موضوع سمدستي يوه ساده او ډېره روښانه موضوع معلوميږي.

آخره دا چې يوه بله نظريه لا هم سته، چې په غالب ګمان ډېر طرفداران يې هم پيدا کړي دي. دا نظريه وايي، چې د ليفيوس په کتاب کې نوموړی عبارت يوازي دا مطلب لري، چې:

«آزادي سوي مينځياني نجوني (libertae) بې له مخصوصي اجازې څخه نه سي کولای، چې (e gente enubere) (يعني تر بهير دباندي واده وکړي) يا بل کوم داسي ګام واخلي، چې د (capitis diminutio minima) (يعني د کورني حقوقو د له لاسه ور کولو) په ارتباط آزاده سوې مينځيانی نجلۍ (libertae) په نتيجه کې له بهيري ګروپه څخه ووځي» (لانګي. «د روم لرغوني آثار»، برلين،

۱۸٦۵م. کال، لومړی ټوک، ۱۹۵ مخ، چې هلته پر دې عبارت، چې موږ له ليفيوس څخه را اخيستی دی، د هوشکي (Huschke) په حواله تبصره هم شکل سوې ده)[۱].

که دغه نظريه درسته وي، نو دا عبارت يې بيا د آزادي رومي ښځې د مقام په باب کې د کوم شي اثبات نه کوي او نه د دې خبري اساس ګرځي، چې دوی مکلفې وې، چې په بهير کې به دننه واده کوي.

د enuptio gentis اصطلاح صرف په دغه ځانګړي عبارت راغلې ده او په ټولو رومي ادبياتو کې بل ځای نه ده ليدل سوې. د enubere، يعني دباندي ازدواج کول لغت صرف درې واره نور هم د ليفيوس په کتاب کې راغلی دی، اما د بهير په متعلق نه دی. دا تخيلي نظريه، چې رومي ښځو ته اجازه وه، چې فقط په بهير کې دننه ازدواج وکړي، صرف دغه يوه عبارت ته تکيه ده. خو دا عبارت په هيڅ صورت د دې نظريې د تقويې باعث نه ګرځي، ځکه يا خو دا عبارت د آزاد سوو مينځيانو د مخصوصو بنديزونو په باره کې بيان کوي، چې په دې صورت کې د آزادو ښځو (ingenuae) دپاره کومه خبره نه ثابتوي او يا خو آزادي ښځې هم کنښباسي، چې په دې صورت کې خو لا دا خبره هم ځني را وځي، چې ښځو د رواجه سره سم تر بهير دباندي واده کاوه او ازدواج له لاري د خپلو مړونو بهير ته را اوښتې. په دې اساس نو دا عبارت د مومزن ترديد او د مورګان د نظريې تائيد کوي.

د روم تر تاسيس تقريباً درې سوه کاله وروسته بهيري پيوندونه لا بيا هم دونه قوي وه، چې د فابيوس (Fabians) په نامه يو اشرافي (پټريشي) بهير د مشرانو

---

[۱] L. Lange. Romische Alterthumer, Bd. I-III, Berlin, 1856-71. –ت. هـ.

جرگې په اجازه وکړای سوه، چې د فييه (Veii) د گاونډي ښار په مقابل کې د خپلو خاصو قواوو په وسيله سوقيات وکړي. وايي چې درې سوه او شپږ فابيوسان جنگ ته ووتله، خو د يوې پټ گنۍ (کمين) په خوا ناڅاپه حمله پر وسوه او دوی يې ټوله مړه کړه. د دوی له ټلې څخه يوازې يو زنکی ژوندی پاته سو، چې له هغه څخه بهير را خپور سو.

لکه تر مخ چې مو وويل، لسو بهيرونو يوه فريټري جوړوله، چې هغه دلته کوريا نومېدله او نسبت تر يوناني فريټري ډېري درنې عامي وظيفې ور سپارل سوي دي. هري کوريا خپل مذهبي مراسم، مقدسات او کاهنان درلودل. دې کاهنانو د يوه جمعيت په حيث د رومي کاهنانو د هيئاتو له جملې څخه يو هيئت تشکيل کړی وو. لسو کورياگانو يوه قبيله جوړوله. هغې غالباً په لومړي سر کې لکه د نورو لاتيني قبيلو په شان خپل انتخابي سرخېل درلودی او هغه به د جنگ لارښوونکی او اکبر کاهن وو. له درو قبيلو څخه يو ځای رومي اولس (populus romanus) جوړ سوی وو.

په دې ډول نو يوازي هغه څوک په رومي اولس کي راتلای سوای، چې د يوه بهير او له همدې لاري د يوې کوريا او قبيلې غړی به وو. د دې اولس د ادارې لومړنی نظام داسي وو: عامه چاري د مشرانو جرگې له خوا څخه اداره کېدلې. د هغې غړي، لکه نيبور، چې تر هر چا ړومبی په صحيح توگه پکښي رغبدلی دی، د درو سوو بهيرونو له سرخېلانو څخه جوړېدل، دوی د بهيرونو د سپين‌ږيرو په حيث پلرونه (patres) بلل کېدل او د يو جماعت په حيث سنا (Senate) نومېده، چې معنی يې د سپين ږيرو جرگه ده (دا لفظ د Senex له لفظه را وتلی او معنی يې مشر يا سپين ږيری دی). څه رنگه چې دلته هم د تعامل پر اساس باندي په هر بهير کي له يوې ټاکلي کورنۍ څخه مشران را ټاکل کېدل، نو دې

تعامل لومړنۍ ارثي اشرافي طبقه را پيدا کړه. دغو کورنيو خپل ځانونه پټريشيان بلله او ادعا يې درلوده، چې د مشرانو جرګې او نورو ادارو ګرده چوکۍ خاص د دوی حق دی. دا خبره چې د زمانې په دوران کي خلګو دغه ادعاء ومنله او دغه امتياز د دوی يو عملي حق وګرځېدی، په هغه روايت کي توضيح سوی دی، چې وايي رومولوس د پټريشۍ رتبه او د ده امتيازات لومړنيو سناتورانو او د دوی خلفانو ته اعطاء کړه. د مشرانو جرګې لکه د آتن د Bule په نامه جرګې دا واک درلودی، چې ډېري مهمي چاري فيصله کړي او د ېښخي مهمو تدابيرو؛ په تېره بيا نوو قوانينو دپاره مقدماتي مذاکرې سر ته ورسوي. د دغو مهمو قوانينو په باب کي فيصلې د اولسي اسامبلې له خوا، چې (comitia curiata) (يعني د کورياګانو اسامبله) نومېده، سر ته رسېدې. را غونډ خلګ د کوريا په حساب را ټولېده او په هره کوريا کي په غالب ګمان د بهيرونو په حساب غونډېده او د مسايلو په فيصله کولو کي هرو دېرشو کورياګانو يوه رايه درلوده. د ټولو قوانينو تصويب يا ترديد د کورياګانو په اسامبلې اړه درلوده او ګرده د لوړي رتبې مامورين د rex په شمول (چې تش په نامه پاچا بلل سوی دی) د دې له خوا ټخه انتخابېده. د جګړې اعلاميه هم دې خپروله (خو سوله د مشرانو جرګې کوله) او د يوې ستري محکمې په شان يې د طرفينو په غوښتنه ټوله هغه فقرې فيصلې کولې، چې د رومي ښاريانو دپاره به يې د مرګ سزا ايجابوله. آخره يې دا چې د مشرانو جرګې او اولسي اسامبلې په څنګ کي ريکس (rex) ولاړ وو، چې کټ مټ د يوناني باسيليوس سره معادل دی او په هيڅ وجه داسي يو مطلق

العنان پاچا نه وو، لکه مومزن چې ښوولی دی[۱]. ریکس همدا رنګه نظامي قوماندان، اعلی کاهن او په ځینو محاکمو کې مشر آمر وو. پرته له هغه انتظامي صلاحیته چې د نظامي قوماندان په حیث یې د ډسپلین د ساتلو له پاره درلودی او پرته له هغه صلاحیته چې د محکمې د رئیس په حیث یې د فتوی په تطبیق کېدو کې درلودی، نو یې نو نه ملکي وظایف درلوده او نه یې هم د هیوادوالو د ژوند، آزادۍ او جایداد په باب څه قسم قدرت او صلاحیت درلودی. د ریکس چوکۍ موروثي نه وه، بلکې دی غالباً د خپل سلف د نامزد کېدو په اساس وار د واره د کوریاګانو د اسامبلې له خوا څخه انتخابېدی او بیا په دوهم مجلس کې په احترامانه ډول پر چوکۍ کښېنول کېدی. دا خبره، چې دی همدا رنګه موقوفه کېدلای سوای، د متکبر ټارکوینوس (Tarquinius Superbus) د سرنوشت له مخې ثابته ده.

لکه یونانیانو د قهرمانۍ په عصر کې، رومیانو بیا د تش په نامه پاچهانو په زمانه کې تر یوې داسې نظامي ډموکراسۍ لاندې ژوند کاوه، چې د بهیرونو، فریټریو او قبیلو پر اساس تشکیل سوې او هم له دې اساسه څخه منځ ته راغلې وه. که څه هم دا خبره رښتیا ده، چې د کوریاګانو او قبیلو تشکیلات تر یوه حده لاسي

---

۱- د لاتیني ژبې rex د سیلټې-ایرلنډي ژبې righ (چې معنی یې قبیلوي سرخېل دی) او د ګوتي ژبې (reiks) یو د بله معادل کلمات دي. دا خبره چې دغه لفظ لکه په ابتداء کې زموږ جرمني Furst (چې د انګرېزي ژبې First او د ډنمارکي ژبې ferste سره معادل دی او د لومړي معنی ور کوي)، همدا رنګه د بهیري یا قبیلوي سرخېل په مفهوم استعمالېدی، د دې حقیقت له مخې ثابته ده، چې ګوتیانو (Guths) په څلورمه پېړۍ کې لا د وروستنۍ زمانې د پاچا او ټول اولس د نظامي مشر دپاره د thiudans یوه مخصوصه کلمه استعمالوله. د تورات و انجیل د الفیلا (Ulfila) په ترجمه کې خشیارشا او هیرودوس هیڅ کله د reiks په نامه نه دي یاد سوي، بلکې thiudans یا لکه چې موږ یې سمه ترجمه نه کوو، د پاچا thiudareiks (تیوداریکس)، theodorich (تیودوریخ) یا په بل عبارت Dietrich (دیتریخ) په نامه کې دغه دوه مفهومه ګډ سوي دي.

او مصنوعي تشکيلات وه، خو سره له دې هم د هغې ټولنې د اصلي او طبيعي طرزونو پر نمونه برابر جوړ سوي وه، چې دې تشکيلاتو وده ځني را کړې وه او نو له هره پلوه يې لا دغه تشکيلات احاطه کړي وه. که څه هم له طبيعي لاري څخه راغلې پټريشي اشرافي طبقه وختي لا غښتلې سوې او که څه هم ريکسانو ورو ورو په دې پسې هڅه کړې وه، چې د خپلو اختياراتو ساحه پراخه کړي، خو له دې سره سره دغو جرياناتو د قديم نظام په لومړني او اساسي خصلت کي بدلون را نه وستی او اصلي خبره، چې په غور هم ارزي، يوازې دغه خبره ده.
په همدې دوران کي د روم د ښار او د رومي سيمې، چې د فتوحاتو له لاري يې پراختيا موندلې وه، د اوسېدونکو نفوسو شمېر څه د مهاجرت په وجه او يو څه هم د نيول سوي زياتره لاتيني ناحيو د رعيتو د را شاملېدو په وجه خورا ډېر زيات سو. ټوله دغه نوی رعيت (دلته اوس ګړی د اتباعو (clients) پر مسئله باندي نه ږغيږو) د قديمو بهيرونو، کورياګانو او قبيلو له ټله وتلې وه او نو د روم له اصلي اولس يعني (populus romanus) څخه نه ګڼل کېده. دوی په شخصي لحاظ آزاد وه، کولای سوای، چې مځکه ولري، ماليات تاديه کړي او په عسکري خدمت کي شامل سي. خو دوی د کارداريۍ وړ نه ګڼل کېده او نه يې د کورياګانو په اسامبله کي او نه يې هم د دولت د نيول سوو مځکو په وېش کي برخه اخيستلای سوای. دوی د هغو عامو (اوپره) خلګو په جمله کي راتله، چې له ټولو سياسي حقوقو څخه محروم وه. څه رنګه چې دوی پرله پسې زياتېدل او تر نظامي روزنې لاندي نيول کېدل او د اسلحې په استعمال پوهېدل، نو د قديم اولس (populus) په مقابل کي، چې اوس په کلکه سره د بېګانه عناصرو په حساب له سرزياتوالي څخه ژغورل سوي وه، يو خطر غوندي وګرځېده. سربېره پر دې څرګنديږي، چې مځکه تر ډېره حده د (populus) او اوپره خلګو

(plebs) تر منځ په برابر ډول وېشل سوې وه. لاکن تجارتي او صنعتي ثروت که څه هم تر اوسه لا ډېر زيات سوی نه وو، خو اساساً د اوپرەوو په لاس کي وو.
د هغه تت غبار په سبب، چي د روم ټول لرغونی افسانوي تاريخ پټ ساتي، هغه غبار چي په راسيوناليستي- پراګماتيستي روحيه د تفسيرونو په هڅو سره او د هغو متأخرو حقوقپوهانو، چي آثار يې زموږ مأخذونه دي، په همدې روحيه توضيحاتو سره لا زيات تت او تاريک سوي دي؛ نو دا ناممکنه ده، چي د هغه انقلاب، چي د بهيري اصولو خاتمه يې را وسته، د وخت، څەرنګوالي او عواملو په باب کي يې کوم يقيني بيانونه څوک وکړای سي. هغه يوازنۍ خبره، چي موږ ته په يقين معلومېږي، دا ده چي د دې انقلاب عوامل په هغو شخړو کي پراته وه، چي د اوپرەوو او (populus) په منځ کي رواني وې.
د ادارې د نوي تشکيل په اساس، چي ريکس سرويس ټوليوس ( Servius Tullius) ته يې نسبت کيږي او پر يوناني طرز؛ په تېره بيا د سولون پر طرز جوړ سوی دی، يوه نوې اولسي اسامبله منځ ته راغله، چي په هغې کي يې (populus) او اوپره ټوله يو شان برابر د عسکرۍ خدمت د کولو يا نه کولو په اساس شاملوله او يا يې ايستله. ټوله نارينه، چي د عسکري خدمت مکلفيت يې درلودی، د ثروت له مخي په شپږو طبقاتو وېشل سوي وه. په لومړيو پنځو طبقاتو کي د جايداد اقل حد د قيمت له مخي په ترتيب سره داسي وو: د لومړۍ طبقې دا يو لک آسه (asses)، د دوهمي طبقې دا پنځه اويا زره آسه، د دريمي طبقې دا پنځوس زره آسه، د څلورمي طبقې دا پنځەويشت زره آسه، د پنځمي طبقې دا يوولس زره آسه وه، چي د «ديورو دي لا مال» ( Dureau de la Malle) د بيان سره سم تقريباً د ۱۴۰۰۰، ۱۰۵۰۰، ۷۰۰۰، ۳۶۰۰ او ۱۵۷۰ مارکو سره په ترتيب برابربدی. شپږمه طبقه يعني پرولتاريا له هغه چا

ځخه عبارت وه، چې شته (دارايي) يې لږ وه او له عسکري خدمت او مالياتو ځخه معاف وه. د سينټوريو په نوې اسامبله کې (comitia centuriata) هيوادوالو د عسکري تشکيلاتو په شان سل نفري ټولۍ جوړي کړي وې، چې هره ټولۍ سينټوريه (centuria) نومېده او هري سينټوريه يوه رايه درلوده. په دې اسامبله کې لومړۍ طبقې ۸۰، دوهمې ۲۲، دريمې ۲۰، څلورمې ۲۲، پنځمې ۳۰ سينټوريه درلودې او شپږمې صرف د ظاهردارۍ په خاطر يوه سينټوريه درلوده. سربېره پر دې د آسو د سپرو نوري ۱۸ سينټوريه هم وې، چې له بېخي بډايانو ځخه جوړي سوي او ټوله سره ۱۹۳ سينټوريو ته رسېدلې. د اکثريت ګټلو دپاره ۹۷ رايي لازمي وې، خو يوازې د آسو سپرو او لومړۍ طبقې ۹۸ رايې درلودې او په دې ډول يې نو اکثريت جوړاوه. کله چې به دوی لاس سره يو کی، نو حتی بې له دې ځخه چې د نورو طبقاتو خوله وپوښتي، نافذې فيصلې يې را ايستلې.

اوس نو د کورياګانو د پخوانۍ اسامبلې ټوله سياسي حقوق (په استثناء د يو څو چې هغه هم تش په نامه ځني وتلي وه) د سينټوريو نوې اسامبلې ته وسپارل سول او نو له دې لاري ځخه، هغه راز لکه په آتن کې چې پېښه سوه، دلته هم کورياګاني او هغه بهيرونه، چې دوی ور ځني جوړېدې، له اجتماعي حيثيته ولوېدې او صرف د شخصي او مذهبي ټولنو په بڼه يې لا تر ډېري زمانې پوري خپل بابيز ژوند ته ادامه ور کوله. خو څه چې د کورياګانو اسامبله وه، هغه خورا ژر له منځه ووته. د دې دپاره چې هغه درې پاته پخوانۍ بهيري قبيلې هم د دولت له صحنې ځخه ووځي، نو څلور سيمه‌ايزي قبيلې ميدان ته راغلې، چې هره قبيله د ښار د څلورو ناحيو په يوه ناحيه کې اوسېده او مخصوص سياسي حقوق يې درلوده.

په دې ترتیب نو په روم کې هم هغه لرغونی اجتماعي نظام، چې د ویني د اړیکو پر شخصي ارتباطاتو جوړ سوی وو، حتی د تش په نامه پاچهۍ تر الغاء دمخه پای ته ورسېدی او یوه داسې نوی نظام یې ځای ونیوی، چې د سیمه‌ایز تقسیم او ثروتي امتیاز پر اساس را بناء سوی او یو واقعي دولتي نظام وو. دلته سرکاري قدرت له هغو هیوادوالو څخه جوړېدی، چې په عسکري خدمت کې یې برخه اخیسته او دا قدرت نه یوازې د مریانو په مقابل کې استعمالېدی، بلکې د هغه چا په مقابل کې هم کار څني اخیستل کېدی، چې په اصطلاح پرولتاریا نومېده او په عسکري خدمت کې نه شاملېده او د وسلې لرلو له حق څخه محروم وه.
د دغه نوي نظام په دایره کې، چې خپل وړاندینی تکامل یې د وروستني ریکس (متکبر ټارکوینوس)، چې واقعي سلطنتي قدرت یې غصب کړی وو، له شړلو نه وروسته او د ریکس پر ځای د مساوي صلاحیت د دوو کسو نظامي قوماندانانو (Consuls) (لکه د ایروکوایسیانو تر منځ چې وه) له تقرر نه وروسته وموند. د دې نظام په دایره کې نو د رومي جمهوریت ټول تاریخ وړاندې حرکت کاوه، چې ور سره هغه مبارزې مل وې، چې د پټریشیانو او اوپره تر منځ د دې دپاره کېدلې، چې په کارداریو کې ومنل سي او په دولتي مځکو کې برخه واخلي او بالآخره پټریشي اشراف په هغه نوې طبقه کې منحل سوه، چې ډېري مځکې او روپۍ یې درلودې او همدې طبقې ورو ورو د هغو بزګرو ټولې مځکې لاندې کړې، چې عسکري خدمت برباد کړي وه او له دې لارې لاس ته راغلې نوې مځکې یې د مریانو په وسیله کرلې، نو یې ایتالیه له خلګو خالي کړه او په همدې توګه یې نو نه یوازې د امپراطوري حکومت دپاره زمینه مساعده کړه، بلکې همدا

رنګه يې د دې امپراطورۍ د اخلاقو؛ يعني جرمني بربريانو د راتلو دپاره لار خلاصه کړه.

# اووم څپرکی

# د سیلټیانو او جرمنیانو تر منځ بهیر

## د سیلټیانو او جرمنیانو تر منځ بهیر

دلته د ځای لړوالی موږ له دې ځخه را ګرځوي، چې هغه بهیري موسسات پسي را واخلو، چې په ډېر یا لږ خپل اصلي شکل د نن ورځې د ډول وحشیانو او بربریانو په منځ کې تر اوسه لا مونده کیږي او یا خو د دغسې موسساتو هغه کربښپلونه پسې را واخلو، چې د آسیا د مدني ملتونو په قدیم تاریخ کې لاس ته راځي. دا راز موسسې یا د دوی کربښپلونه اوس په هر ځای کې لیدل کیږي. ښایي یو څو مثالونه به یې کافي وي: حتی څه وخت چې د بهیر ماهیت لا نه وو پېژندل سوی، ماکلینن چې تر هر چا یې د دغه مفهوم د غامضولو او ابهام دپاره زیات زیار وایست، د بهیر موجودیت ثابت کړ او عموماً یې په صحیح ډول په قلماغانو (Kalmucks)، چرکسانو (Circassians)، ساموییدانو (Samoyeds) او درو نورو هندي اولسونو یعنې وارلیانو (Waralis)، ماګاریانو او مانیپوریانو (Munniporees) کې د دې موسسې په باب بیانونه لیکلي دي. لږه موده دمخه ماکسیم کوالیوسکي د پشاویانو (Pshavs)، خیوسوریانو (Khevsurs)، سوانیانو (Svanetians) او نورو قفقازي قبیلو تر منځ د بهیر څرک ایستلی او تشریح کړی دی. دلته موږ غواړو، د موجودیت په باره کې په لنډ ډول ورغیږو.

هغه بېخي قدیم سیلټي قوانین چې تر نن ورځې را رسېدلي دي، دا ښکاره کوي، چې بهیر لا پوره ژوند درلود. په آیرلنډ کې تر هغه وروسته چې انګرېزانو په زور سره له منځه واخیست، بیا هم په اولسي ذهنیت کې اقلاً په غریزي ډول

تر دې وخته پوري لا ژوندی دی. د تېري پېړۍ تر نیمایي لا په سکاټلنډ کي پوره رواج وو او دلته هم خاص د انګرېزي وسلو، قوانینو او محاکمو په زور له پښنو څخه واچول سو.

هغه زاړه ویلسي (Welsi) قوانین، چي تر انګرېزي فتح څو پېړۍ دمخه؛ یعني تر یوولسمي پېړۍ پوري کښل سوي دي، دا ښیي چي د ټولو کلو د ګډ کښت کرنه لا تر اوسه هم رواج وه. خو البته دا راز کرنه صرف په استثنایي توګه د پخوا له یو عام رواج څخه د یو پاته دود په شاني کېدله. هري کورنۍ د خپلي کرني دپاره ځان ته پنځه اکره مځکه درلوده، خو یوه بله جلا ټوکره بیا هم وه، چي په همدې زمان کي په ګډه کرل کېده او حاصل یې د ټولو تر منځ سره وېشل کېدی. د آیرلنډي او سکاټلنډي مثالونو د قیاس له مخي په دې خبره کي شک نه پاتیږي، چي دغه کلیوالي جمعیتونه په اصل کي بهیرونه او یا د بهیرو کوچنۍ څانګي وې. که څه هم د ویلسي قوانینو له سره نوې پلټنه چي زه یې دلته د وخت د کمي په سبب نه سم راوړلای (له ۱۸٦۹ کال راهیسي زما نوټونه دي) د دې خبري ښکاره ثبوت نه کوي، خو کوم ټکي چي د ویلسي او آیرلنډي آثارو له مخي څخه په مستقیم ډول ثابتیږي، دا دي چي تر یوولسي پېړۍ لا د سیلټیانو تر منځ جوړه‌یي کورنۍ وجود درلودی او وحدتي ازدواج ته یې ځای نه وو پرې ایښی. په ویلس (Wales) کي دا قاعده وه، چي ازدواج تر اوو کالو پوري نامنحل کېدونکی نه ګڼل کېدی او نه هم د منحل کېدو له خطره وتی. حتی که به صرف درې شپې اوو کالو ته پاته وې، نو یوې متأهلي جوړې لا کولای سوای، چي سره جلا سي. د جلا کېدو په صورت کي یې نو دارایي تر منځ سره

وېشل کېدله. ښځې وېش کاوه او نر خپله برخه غوره کوله. د کور سامان د ټاکلو، هغه هم خورا عجیبو قواعدو پر اساس باندي وېشل کېدی. که به ازدواج د نر له خوا منحل سوی وو، نو نر مجبور وو، چي د ښځې جهیز (Dowry) او یو څه نور مال دې ته ور مسترد کړي او که به ښځې د بېلېدو غوښتنه کړې وه، نو خورا لږ شیان ور رسېدله. د کوچنیانو له جملې څخه نر ته دوه او ښځې ته یو، چي میانه کوچنی به وو، ور کول کېدی. که به ښځې تر طلاق وروسته د چا سره واده وکړی او لومړی مېړه به یې بیرته پسي ورغی، نو حتی که به څه هم دا په داسي حال کي وه، چي خپله یوه پښه به یې د نوي مېړه کټ ته ور پورته کړې وه، خو مجبوره وه، چي په ده پسي را رهي سي. که به نر او ښځې اووه کاله سره تېر کړه، نو حتی که به څه هم د دوی تر منځ د رسمي ازدواج مقدمات نه وه طی سوي، خو مېړه او مایینه سره ګڼل کېدله. تر ازدواج دمخه د نجونو پاکۍ ته چنداني پاملرنه نه کېده او نه یې هم چنداني آرزو ساتل کېدله. هغه مقررات چي دغه چاري یې اداره کولې، په خپل ذات کي خورا لاوبالي خصلته مقررات وه او له ټولو بورژوازي اخلاقي اصولو سره مباینت لري. کله چي به یوې ښځې زنا وکړه، نو مېړه یې حق درلودی، چي دا ووهي. پر دې کار وهل یو له هغو درو مواردو څخه وه، چي مېړه کولای سوای، خپله ښځه ووهي، بېله دې څخه چي دی مجرم وګڼل سي، خو تر دې اضافه ده نه سوای کولای، چي نور ایداد هم ورته وغواړي، ځکه:

«یوه ګناه به یا کفاره کېده او یا به یې بدله اخیستل کېده، اما دواړه کاره نه سوای کېدلای».

د دې دپاره بېخي ډول ډول لاري موجودي وې، چي يوه ښځه د طلاق حق واخلي، اما مالي حقوقو ته يې تاوان و نه رسيږي، له دې جملې څخه يوه هم دا خبره وه، چي د مېړه د خولې بدبوی د دغسي طلاق د حق اخيستو دپاره پوره وجه ګڼل کېدله. هغه پيسې چي بايد د زفاف د شپې د حق په ناغه کي (چي gobr merch يې بولي او له دې لفظه څخه د منځنيو پېړيو مارچيتا (marcheta) را وتلی دی او په فرانسوي کي مارکيت (marquette) دی) قبيلوي مشر يا پاچا ته تاديه سوي وای، د قوانينو په مجموعه کي يې ښکاره ذکر راغلی دی. ښځو حق درلودی، چي په اولسي اسامبلو کي رايي ور کړي. سربېره پر دې معلوميږي، چي په آيرلنډ کي هم دغه راز شرايطو موجوديت درلودلی دی. هلته موقتي ازدواجونه همدا رنګه په کافي اندازه رواج وه او ښځي د بېلېدو په صورت کي له آزادانه څرګندو امتيازاتو څخه برخورداره وې، حتی تر دې ټکي، چي د کور د چوپړونو عوض يې لا هم ور کول کېدی. دا هم جال وو، چي سړي به د نورو ماينو په څنګ کي يوه «لومړۍ ماينه» درلوده او د مړه د جايداد په وېش کي د مشروع او نامشروع اولادونو تر منځ څه فرق نه کېدی. دې خبرو ته چي ګورو، نو د جوړهيي کورنۍ يو داسي تصوير پکښې وينو، چي د هغې په مقايسه د ازدواج هغه شکل ډېر مقيد ايسي، چي په شمالي امريکا کي يې رواج درلودی. خو په يوولسمه پېړۍ کي دغسي جوړهيي کورنۍ د هغسي خلګو په شان کي عجيبه نه ده، چي د قيصر په زمانه کي يې لا د جمعيتي ازدواج په حالت کي ژوند کاوه.

آيرلنډی بهير (چي سيپټ (Sept) يې باله او قبيله يې کلين (Clainne) بلله، چي د انګرېزي کلان (Clan) سره برابر لفظ دی) نه يوازي دا چي موجوديت يې په قديمو اصولنامو کي تثبيت سوی او څېړل سوی دی، بلکي د اوولسمي پېړۍ د هغو انګرېزي قانونپوهانو له خوا څخه هم تصديق سوی دی، چي دوی د آيرلنډ سيمي ته د دې مقصد دپاره لېږل سوي وه، چي هلته په کلانونو پوري مربوطي مځکي د انګلنډ د پاچا په تمليک کي راولي. تر دې زمانې پوري لا مځکه د کلان يا بهير په مشترک ملکيت کي وه، پرته له هغو ځايو، چي يو چيري به قبيلوي سرخېلانو مځکه په خپل خصوصي تمليک کي را وستلې وه. کله چي به يو بهيروال مړ سو او په دې نسبت به يو کهول له منځه ولاړ، نو بهيري سرخېل به (چي انګرېزي قانونپوهانو (Caput cognationis) بللی دی) ګرده بهيري مځکه سردوباره د پاته کهولونو تر منځ وېشله. احتمال لري، چي دا وېش به په عام ډول د هغه راز اصولو سره سم اجراء سي، لکه په جرمني کي چي پالل کېدله. تر اوسه لا هم يو څو داسي کلي سته (او څلوېښت، پنځوس کاله تر مخ خورا ډېر وه) چي پر مځکه باندي مشترک تصرف کوي او هغه شان ګډ کښتونه لري، چي (rundale) په نامه يې بولي. بزګر يعني د هغي مځکي، چي يو وخت د بهير په مشترک ملکيت کي وه او بيا د انګرېزي فاتحانو له خوا ونيول سوه، انفرادي مستأجرين د خپل ټاکلي ټک دپاره اجاره تاديه کوي، اما ټوله د کرني وړ او چمنۍ مځکه يو ځای کوي او د موقعيت او جنسيت مطابق د اوږدو تراټو په شکل يا لکه د موزيل (Mosel) په علاقه کي چي يې ګيوان (Gewanne) بولي، د ګيوانو په شکل وېشي او په دې ترتيب نو هر کښتګر ته د هر ګيوان

(Gewanne) یوه حصه ور رسیږي. له باطلاقونو او څرځایو څخه په ګډ صورت استفاده کیږي. را نژدې پنځوس کاله دمخه لا هم دا کار عملي کېدی، چې ځیني وخت به کله کله او ځیني وخت به کال په کال مځکه بیا له نوي سره وېشل کېدله. د هغې یو کُلي حدبندي چې سړی ګوري، چې د (rundale) په اساس جوړ سوی دي، کټ مټ د هغو جرمني زراعتي کهولونو د جمعیت (Gehoferschaft) په شان معلومیږي، چې په موزیل یا هوخواډ (Hochwald) کي موجود دي. بهیرونه همدا رنګه د ډلو (Factions) په شکل ژوندی پاته دي. آیرلنډي بزګران هر کله ډلي جوړوي او د دې ډلو تر منځ د بېلوالي نخښې پر داسي ظاهراً چټي او بې‌معنی خبرو بناء معلومیږي، چې د انګرېزانو سد هیڅ نه په رسیږي. په ظاهره خو د دغو ډلو یوازنی مقصد دا دی، چې د اولسي سپورټ دپاره را غونډ سي او په ښه شانداره توګه ځانونه یو تر بله تکړه او غښتلي ثابت کړي. په حقیقت کي دغه ډلي د هغو بهیرونو، چې اوس له منځه تللي دي، د بیا را ژوندي کېدو مصنوعي تشکیلات دي او د هغو زړو بهیرو پر ځای، چي ړنګ سوي دی، د وروستنی زمانې عوضي ټولی دي، چې په ځپله مخصوصه طریقه د هغې بهیري غریزې سلسله تمثیلوي، چې د ارث په توګه ادامه لري. داسي اتفاقات هم سته، چې په ځینو علاقو کي د یوه بهیر غړي تر اوسه لا هلته یو ځای اوسي، چې هغه یې رښتیا هم خپله پخوانی سیمه وي، مثلاً: لکه د دې پېړۍ د دېرشمو (۳۰- ۳۹) کلونو په زمانه کي چې د موناخان (Monoghan) پر سیمه باندي داسي ځوک اوسېده، چې د هغه غټ اکثریت

صرف څلور فاميلي نومونه درلوده، چې سلسله يې له څلورو بهيرونو يا کلانونو (clans) څخه رانيول سوې وه.[۱]

په سکاټلنډ کي د بهيري نظام د ړنګېدو نېټه د ۱۷۴۵م. کال د بغاوت د آرامولو له وخته څخه را نيول کيږي. دا خبره چې د دغه نظام په سلسله کي سکاټلنډي طايفې (کلان) کومه کړۍ جوړوله، تر اوسه مجهوله پاته ده، چې بايد وپلټل سي، اما دا خبره له شکه وتلې ده، چې ارو مرو يوه کړۍ ګڼل کيږي. د سکاټلنډ په غرنيو سيمو کي د کلان ژوندی تصوير د والټر سکاټ (Walter Scott) په ناولونو کي ليدل کيږي. دغه کلان نو لکه مورګان چې وايي:

---

۱ - د هغو څو ورځو په دوران کي چې ما په آيرلنډ کي تېري کړې، بيا مي دا خبره محسوسه کړه، چې تر ډېره حده زراعتي وګړي لا اوس هم د بهيري زمانې په خيالاتو کي اوسي. زميندار ته، چې د هغه مستأجر بزګر دی، لا اوس هم د بزګر له خوا څخه د طايفې (کلان) د يو داسي سرخېل په سترګه کتل کيږي، چې دی د ټولو د ګټې په منظور د کښت سرپرستي کوي او دا حق لري، چې د اجارې په شکل له بزګره خراج واخلي، لاکن همدا رنګه د اړتيا په وختو کي له بزګرو سره مرسته وکړي. همدغه راز هر څوک چې په ګوله موړ وي، نو په دې مکلف ايسي، چې د خپلو ګاونډيانو سره د دوی د پرېشانۍ په حال کي مرسته وکړي. دغسي مرسته د خيرات حيثيت نه لري، بلکي د کلان د هر مسکين غړي حق دئ، چې د کلان د ماړه غړي يا د کلان د سرخېل له خوا څخه مرسته ور سره وسي. له دې ځايه څخه نو معلوميږي، چې ولي سياسي اقتصاديون او قانونپوهان له دې څخه شکايت لري، چې د آيرلنډي بزګرانو په دماغ امکان نه لري، چې د نننۍ بورژوازۍ ملکيت فکر ننوځي. رښتيا هم په داسي ملکيت د آيرلنډي سړي سر نه رسيږي، چې حقوق ولري او وظايف و نه لري. دا نو د حيرانتيا خبره نه ده، چې زيات شمېر آيرلنډي وګړي، چې د سپېڅلو بهيري خيالاتو څښتنان وه، کله چې ناڅاپه د انګلنډ او امريکا لويو عصري ښارو ته را شېوه سوه په داسي وګړو کي يې واړول، چې اخلاقي او حقوقي معيارونه يې بالکل بل راز وه، نو د اخلاقياتو او عدالت په باره کي يې خپل نظريات ببخي ګډوډ سول او د ځان هر قسم اداره يې له لاسه ور کړه او غټ شمېر جمعيتونه يې مخ پر پستۍ او بد اخلاقۍ را ايله سوه. (د ۱۸۹۱م. کال د چاپ دپاره د انګلس يادداښت)

«د خپل تشکیل او بیداره روحیې له پلوه د بهیر یوه ممتازه نمونه ده او پر بهیروالو باندې د بهیري ژوند د تسلط یو فوق العاده مثال ګڼل کیږي. ... دا چې دوی څه ډول کورنۍ شخړې درلودې او څه شان یې بدله اخیستله او څه رقم یې د کلالانو په ترتیب رقبه وېشله او څه قسم یې مځکه په ګډه خوړله او څه رنګه یو کلاني غړی خپل سرخېل ته وفاداره وو او هم د کلان غړو خپل تر منځ وفاداري درلوده. په داسې ګردو جریاناتو کې یې د بهیري ټولنې لازمي او دایمي مظاهر لیدل کیږي... نسب د نر له خوا تثبیت کېدی، د نرو اولادونه د کلان غړي وه، خو د کلان د غړو ښځو اولادونه د خپلو پلرو په مربوطو کلانو پورې اړه درلوده».

دا خبره چې مورنی حق پخوا په سکاټلنډ کې جال وو، د پکټیانو (Picts) د شاهي کورنۍ له مخې ثابته ده، ځکه هلته د بیډا (Bede) د روایت پر اساس میراث د ښځې له خوا څخه رواج درلودی. مور حتی د پونالوان کورنۍ نخښې د سکاټلنډیانو او ویلسیانو تر منځ وینو، چې هلته تر منځنیو پېړیو پورې د زفاف د شپې د حق په سلسله د یو دود په شکل ژوندۍ پاته وې او د دې دود په اساس د کلان مشر یا پاچا د پخوانیو اشتراکي مېړونو د آخرین نماینده په حیث کولای سوای، چې د هرې ناوې سره، چې د استخلاص فدیه به یې نه وه اداء کړې، د زفاف د شپې حق وغواړي.

***

دا یو منلی حقیقت دی، چې جرمنیان د اقوامو د عمومي کوچ (مهاجرت) تر زمانې پورې د بهیرونو په اساس تشکیل سوي سوه. بدیهي خبره ده، چې دوی

زموږ تر تاريخي مبداء (يعني ميلاد) صرف څو پېړۍ دمخه د ډانيوب (Danube)، راين (Rhine)، ويستولا (Vestula) او شمالي بحرونو په مابين کي واړول. د سمبريانو (Cimbres) او تيوتونيانو (Teutons) قومونه لا تر اوسه پوري د کوچ او بار په حالت کي وه او د سويويانو (Sueves) قوم خو يوازي د قيصر په زمانه کي په قطعي توگه ځايي سول. قيصر په څرگند ډول وايي، چي دوی د بهيرونو او قوميتونو (gentibus cognationibusque) په حساب واړول او ځايي سول او gens Julia (د يوليوس په نامه بهير- م.) ته د منسوب رومي سړي په خوله کي دغه د gentibus کلمه يوه معلومه معنی لري، چي حتیالامکان يې مفهوم بل راز نه سي تعبير کېدلای. دغه بيان چي قيصر کړی دی، د گردو جرمنيانو په شان کي صحيح دی، حتی هغه جرمنيان لا چي په نيول سوي رومي ولاياتو کي يې واړول، داسي معلوميږي، چي د بهيرونو په اساس مېشته سوه. د «آلماني (alaman) حق» له مخي دا حقيقت ثابتيږي، چي خلگو د ډانيوب په جنوب کي پر نيول سوې خاوره باندي د بهيرونو (genealogiae) په ترتيب واړول او د genealogia لفظ کټ مټ هماغسي مفهوم لري، لکه وروسته چي د مارک يا (Dorfgenossenschaft- يعني کليوالي جمعيت) لفظونه د دغه مفهوم د افادې دپاره استعمال ته راغله. لږه موده دمخه کواليوسکي دا نظريه څرگنده کړې ده، چي دغه genealogiae لوی کهولي جمعيتونه وه، چي تر منځ يې مځکه وېشلې وه او په وروسته کي کليوالي جمعيتونه ځني جوړ سول. همدغه تعبير د fara د لفظ په باب کي صادقيږي، ځکه چي بورگونديانو (Burgundians) او لانگوبرډيانو (Langobards) يعني يوې گوتيک قبيلې او

بلي هرمينوني (Herminonian) يا د پاس جرمني قبيلې همدغه د fara كلمه البته ټيک په ټيک نه، بلكي نژدې د هغه مفهوم دپاره استمال كړې ده، چې د «الماني حق» په كتاب كي د genealogia په لفظ افاده سوې ده. دا چي دغه لفظ واقعاً د بهير يا كهولي جمعيت معنى ور كوي، يوه داسي موضوع ده، چي بايد نور تحقيق پكښې وسي.

د ژبي له پاته آثارو څخه دا ښه نه څرګنديږي، چي آيا ګردو جرمنيانو بهير په يوه نامه باله او كه داسي وه، نو په كوم نامه يې باله. د اشتقاق د علم د اصولو سره سم د genos يوناني كلمه او د gens لاتيني كلمه د ګوتي ژبي له kuni او د منځني پاس جرمني د kunne سره مادلي كلمې دي او د يوې معنى دپاره استعماليږي. څه رنګه چي د يوناني ژبي د gyne كلمه، د سلاوي ژبي د zena كلمه، د ګوتي ژبي د qvino او د قديمي سكانډينيويايي ژبي kona يا kuna چي د «ښځي» په مفهوم استعماليږي او له يوې ريښې څخه را وتلي دي، ټوله دا راته ثابتوي، چي يو وخت د دې ګردو خلګو تر منځ د مورني حق نظام قايم سوی دی. د لانګوبرډيانو او بورګونديانو تر منځ لكه دمخه چي وويل سوه، موږ د fara لفظ مومو، چي ګريم (Grimm) يې د (fisan) له فرضي ريښې څخه ماخوذ بولي او معنى يې زېږول دي. زه په خپله دا غوره ګڼم، چي دا لفظ د faran او fahren، چي معنى يې كوچ كول دي، له څرګندي ريښې سره تعلق لري او مطلب ځني د كوچي ملګرو هغه مخصوصه او معلومه ډله ده، چي بې‌شک او شبهې له قريبانو څخه جوړه سوې ده. دا هغه لفظ دی، چي لومړی د شرق او بيا د غرب خوا ته د كوچيتوب د پېړيو په دوران كي ورو ورو په خپله

د بهیري ټولنې د نامه په توګه استعمال سو. زیات پر دې د ګوتي ژبې (sibja) او د انګلوساکسون د ژبې (sib) او د قدیم پاس جرمني (sippia)، (sippa) یا (Sippe) (یعني قومي عزیز) کلمې هم په میدان کې موجودې دي. په قدیمه سکانډېنیویایي ژبه کې صرف د جمع په صیغه د (sifjar) کلمه سته، چې معنی یې قریبان دي او مفرد یې یوازې د رب النوع د نامه دپاره د سیف (Sif) په شکل را ځي. آخره یې دا چې یو بل ذکر یې د هیلډې برانډ په غزل کې هم سته، چې هلته هیلډې برانډ (Hildebrand) له هاډوبرانډ (Hadubrand) څخه پوښتي:
«د دې اولس له نارینه‌وو څخه ستا پلار... څوک دی یا په قوم څوک یې؟ ( eddo (huelihhes cnuosles du sis

که چیرې د بهیر دپاره په ټوله جرمني کې یو لفظ استعمالېده، نو ښایي چې هغه به د ګوتي ژبې (kuni) لفظ وو او دا نه یوازې په دې دلیل، چې دا لفظ له هغو معادلو الفاظو سره شباهت لري، چې د دې ښاخ په نورو ژبو کې موجود دي، بلکې د دې خبرې له مخې هم، چې د (kuning) یا (konig) کلمې، چې په ابتداء کې یې د بهیر یا قبیلې خان معرفي کاوه، له دغه لفظ څخه را وتلې دي. د (sibja) (قریبانو) کلمه په غور نه ارزي، ځکه لږ تر لږه په قدیمه سکانډېنیویایي ژبه کې د (sifjar) کلمه نه یوازې د ګډې ویني د قریبانو په مفهوم استعمالېده، بلکې د ازدواج په سلسله خپل سوي خپښان یې همدارنګه معرفي کوله. په دې اساس نو د دغه لفظ د مفهوم په ساحه کې لږ تر لږه د دوو بهیرونو غړي راتله او نو ځکه د (sif) لفظ نه سي کېدلای، چې د بهیر معادل لفظ وګڼل سي.

د جرمنیانو تر منځ، لکه د مکسیکو د اوسېدونکو او یونانیانو تر منځ د آسونو سپاره او همدا رنګه د پلي لښکر مثلث شکله قطارونه په جنګي صفو کي د بهیر په اساس درېدله. هغه چي تاقیطس وایي: د کورنیو او قومیتونو په اساس یې صفونه ترله، د دې مبهم بیان وجه یې دا ده، چي د ده تر زمانې ښه ډېر دمخه لا د بهیر اهمیت په روم کي پای ته رسېدلی وو او نور یې نو هلته د یوې ژوندۍ ټولۍ په شان چلاو نه درلود.

د تاقیطس په بیانو کي هغه عبارت اساسي اهمیت لري، چي وایي: د مور ورور خپل خوریي ته د خپل زوی په سترګه ګوري، تر داسي اندازې، چي ځیني دا فکر کوي، چي د ماما او خوریي تر منځ د وینې رګی تر هغه رګي ډېر مقدس او نژدې دی، چي د پلار او زوی په منځ کي وجود لري. په همدې دلیل کله چي ضرورت سي، چي یو څوک په ګروي، یعني یرغمل کي کښېښوول سي، نو د یو چا تر واقعي زوی د هغه د خور زوی ته ترجیح ور کول کیږي، چي مقابله خوا یې د یرغمل په توګه غوښتنه کوي. دا نو مورنی حق او د هغه پر بناء د ابتدایي بهیر یوه ژوندۍ نخښه ده، خو بیان په داسي توګه پکښي سوی دی، لکه دا کار چي د جرمنیانو یوه ممیزه وي[1]. کله چي به د دغسي بهیر یو غړي خپل زوی

---

۱ - د ماما او خوریي تر منځ هغه مخصوصي قرابتي اړیکي، چي د مورني حق د پاره اثر په شان په زیاترو خلګو کي سته، د یونانیانو تر منځ یوازي د قهرمانۍ د عصر په اساطیرو کي لیدل کیږي. د دیودوروس (Diodorus) د بیان سره سم، چي د څلورم فصل په ۳۴ مقطع کي راغلي دي، میلیاګر (Meleager) د خپلي مور التیا (Althee) ورونه، چي د تیټیوس (Thestius) زامن دي، وژني یې. التیا دغه کار ته د یوې داسي لویې ګناه په سترګه ګوري، چي پر قاتل باندي چي خپل زوی یې دئ، پېټ وایي او د مرګ خواست یې کوي. «داسي ویل کیږي، چي خدایانو د دې خواست قبول کړی او د میلیاګر ژوند یې پای ته ورساوه». د همدې مصنف

د کوم تعهد د پوره کېدو په مقابل کې د گرو په توگه کښېښووی او ده به هغه تعهد په سر و نه رساوه او زوی به یې پکښې ولاړ، نو دې موضوع یوازې په پلار پورې اړه درلوده، خو کله چې به د خور زوی پکښې ولاړ، نو دا له ښځې مقدس بهیري قانون څخه یو تېری وو. ماما چې تر ټولو تېرونی قومي قریب گڼل کېدی، د ده د مرگ مسؤل وو او تر بل هر چا د ده پر ذمه ډېره پرته وه، چې هغه هلکی یا زلمی، چې په گروي کې یې ور کړی وو، د زیان له رسېدو څخه وساتي. ده ته په کار وه، چې یا خو په لومړي سر کې خوریی په گروۍ کې پرې نه ږدي او یا خو تعهد ارو مرو په سر ورسوي. که موږ د جرمنیانو تر منځ د بهیري تشکیل د ثبوت په باب بل څوک نه درلودای، نو په هغه صورت کې به یوازې دغه ځانگړی عبارت بالکل کافي یو ثبوت وای.

د قدیم نارس د فولوسپا (Voluspa) سندره، چې د خدایانو د غشک او د نړۍ د ختمېدو یعني قیامت بیان پکښې سوی دی، د دې له امله چې دغه شهادت ډېري وروستۍ؛ یعني ۸۰۰ کلنۍ را وروسته دورې ته منسوب دی، یوه قطعه پکښې سته، چې تر نورو ټولو خبرو خورا ډېر اهمیت لري. په دغه قطعه کې

---

(دیودوروس، ۴ فصل، ۴۳ او ۴۴ مقطع) د بیان سره سم ارگوناوټان (Argonauts) د هرقل (Herakles) تر لارښووني لاندې په تراقیا (Thracia) پلې سوه او هلته یې ولیده، چې فینیه (Phineus) د خپلې دوهمې مایندې په لمسون د لومړۍ پرېایښې مایندې کلئوپاترا (Cleopatra)، چې د بورید (Boread) قام ته منسوبه ده، له نسه د خپلو دوو زامنو سره په خورا ننگین صورت بده گذاره کوي. خو د ارگوناوټانو تر منځ همدا رنگه یو څه بوریدیان (Boreades) سته، چې هغه د کلئوپاترا وروڼه او نو ځکه د دې د بېچاره هلکانو ماماگان دي. دوی سم‌دستي د خپلو خوریانو په داد رسیږي، له بنده یې ایله کوي او پر دوی باندې چې څوک پیره‌دار وي، وژني یې.

چي «د غیب ګويي ښځي پیش‌ګويي» نومیږي او په اوس کي بینګ او بګي ثابته کړې ده، چي د عیسویت عناصر هم پکښي اخښل سوي دي، د قیامت تر راتلو دمخه د عمومي انحطاط او فساد د زمانې د تشریح په ترڅ کي داسي بیان سوی دی:

« Broedhr munu berjask ok at bohum verdask, munu systrungar sifjum spilla».

«ورونه به يو له بله سره خوري او يو له بله به سره وژني او د خويندو اولاد به د قوميت روابط وشلوي».

Systrungr د خاله د زوی معنی ور کوي او دغه نکته چي دوی؛ یعني د خويندو زامن به د ويني له متقابل قرابت څخه صرف‌نظر وکړي، د شاعر په نظر د ورور وژلو تر جنايت لا هم ناوړه کار دی. دا د جنایت تشدید د (systrungar) په لفظ کي افاده سوی دی، چي د مور له خوا قومیت ثبوت ته رسوي. که د دې پر ځای د (syskina-born) لفظ، چي معنی يې د ورور او خور اولادونه دي یا د (syskina-synir) لفظ، چي معنی يې د ورور او خور زامن دي، استعمال سوی وای، نو په دې صورت کي به دوهم سطر د لومړي سطر په نسبت د تشدید نه، بلکي د تخفیف په معنی وای. په دې ډول نو حتی د دریابي داړه‌ماریو په زمانه کي، هغه وخت چي «د غیب‌ګويي ښځي پیش‌ګويي» قطعه جوړه سوې ده، د مورني حق خاطره لا په سکانډیناویا (Scandinavia) کي نه وه ورکه سوې.

نور نو د تاقیطس په زمانه کي لږ تر لږه د هغو جرمنیانو تر منځ، چي ده زیات معلومات پکښې درلوده، مورني حق وختي لا پلارني حق ته ځای ور پرې ایښی وو؛ اولادونه د پلار ورثه وه، خو که به یې اولاد نه درلود، نو ورونه، اکاګان او ماماګان یې میراث خواره وه. په میراثي سلسله کي د ماما راتله د پورته ذکر سوي دود (یعني مورني حق) سره ارتباط لري او همدا رنګه دا ځني ثابتیږي، چي پلارنی حق په دغه وخت کي د جرمنیانو تر منځ را وتلی وو او د ډېر عمر شی نه وو. را وروسته حتی د منځنیو پېړیو په اواخرو کي لا د مورني حق آثار پیدا کولای سو. په دغه دوره کي د پلاروالي موضوع، په تېره بیا د مملوکینو (سرفانو) تر منځ چنداني په یقیني توګه نه معلومېده او کله چي به یو فیودالي بادار غوښته، چي له کومه ښاره ځخه خپل تښتېدلی مملوک بیرته را وغواړي، مثلاً لکه د اوګسبرک (Augsburg)، باسل (Basel) او کیزرسلاوترن (Kaiserslautern) په ښارو کي، نو دا لازمه وه، چي د هغه مملوکیت باید خاص د هغه د مور د خوا د ګډي ویني د تېرونو شپږو تنو قریبانو د قسم له لاري اثبات ته ورسول سي. (ماورر. «ښاري نظام»، لومړی ټوک، ۳۸۱ مخ)

د مور د ایله مړه سوي حق یوه بله بقایا د جرمنیانو له خوا د ښځمني جنس زیاته درناوي وه، چي د رومیانو دپاره د تصور پورته وه. کله چي به یې د اشرافي کورنۍ نجوني په ضمانت کي کښېښوولې، نو داسي ضمانت د جرمنیانو له خوا د تعهداتو د پوره کولو په نسبت ښېخي زرور ضمانت ګڼل کېدی. په جګړه کي یې غیرت په هیڅ شي دونه نه تحریک کېدی، لکه په دې ډاروونکي تصور، چي ماینې او لوڼې به یې بندیاني سي او مینځیاني به وګرځي. دوی ښځه یو مقدس

شی ګڼله او خیال یې کاوه، چې د راتلونکي زمانې حال ور معلومیږي (یعني Prophetess یې بلله) او په زیاترو مهمو موضوعاتو کې یې د دې پر نصیحت غوږ نیوی. د مثال په توګه، ویلدا (Veleda) چې د لیب د رود پر غاړه د بروکترانو د قبیلې کاهنه وه، هغه ګرده د باټاویانو ښورښ یې وپاځاوه، چې په هغه کې جرمنیانو او بلجیانو (Belgians) د سیویلیس (Civilis) په مشرۍ په ګرده ګال (Gaul) کې د رومي حاکمیت پایې ولړزولې. معلومیږي، چې ښځې په کور کې مطلق حکومت کاوه. تاقیطس وایي، چې د ښځو وظیفه وه، چې د زړو او وړو په ګډه، البته د کاله ټوله کارونه سر ته ورسوي، خو مړونه ښکارو ته وتل، شراب یې څکل او یا یې ایله‌ګښتې کولې. لاکن په دې باب کې څه نه وایي، چې کښتونه چا کرل. څه رنګه چې د ده له څرګنده بیانه سره سم مریانو یوازې ججه تادیه کوله او کوم اجباري کار یې پر غاړه نه وو پروت، نو له دې څخه معلومیږي، چې هغه لږ څه د کرهڼې کار، چې لازم ګڼل کېدی، ضرور د پاخه عمر د نارینه‌وو د غټې جمعیت له خوا څخه په سر رسېدی.

لکه دمخه چې ذکر سوه، د ازدواج شکل یې جوړه‌یي کورنۍ وه، چې ورو ورو وحدتي ازدواج ته را نژدې کېدله. تر دې آنه لا ټینګ وحدتي ازدواج نه وو راغلی، ځکه پولیګامي د اشرافي طبقې دپاره روا وه. په عمومي ډول جرمنیانو (د سیلټیانو بر خلاف) د نجونو تر منځ د عفت په موضوع ډېر ټینګار کاوه. تاقیطس دا خبره په خاصه علاقه سره بیانوي، چې د جرمنیانو تر منځ ازدواجي عقد مصؤنیت لري. دی وایي، که ښځه زنا وکړي، نو یوازې دغسې کار د دې د طلاق عامل ګرځي. اما د ده په دې بیانو کې دلته ډېري خلاوي سته او سرببره پر دې

د ده په خپل بيان کي هدف دا دی، چي غواړي د جرمنيانو د اخلاقي فضيلت هنداره د بداخلاقه روميانو مخ ته د اخلاقي مثال او درس په توګه ونيسي. خو څه چي د جرمنيانو په باب کي حقيقت لري، دا خبره ده: چي جرمنيان که په خپلو ځنګلو کي د اخلاقي فضيلت ممتاز مثالونه وه، نو د دباندي دنيا سره صرف يو جزيي تماس ورته په کار وو، چي دوی د نورو عادي اروپائيانو اخلاقي سطحي ته را کښته کړي. د رومي ژوند په څرخ چي را کښېوته، نو د هغه ټينګ اخلاقيتوب آخرينه بولګه يې حتی د جرمني ژبي تر ورکېدو دمخه ډېره ژر غايبه سوه. په دې باب کي چي «د تور د ګريګوري» (Gregory of Tours) کتاب وويل سي، کفايت کوي. په دې کي شک نه سته، چي د جرمن په ابتدايي ځنګلو کي هغسي افراطي شهوتراني نه سوای برابرېدلای، لکه په روم کي چي کېدلې او نو ځکه په همدې خصوص کي جرمنيان تر روميانو ډېر لوړ وه، خو دا فضليت يې له دې پلوه نه وو، چي دوی ته د شهوترانۍ په امورو کي يوه داسي تقوی منسوبه سي، چي هيڅچيري او هيڅکله د کامل اولس دپاره عمومي قاعده نه وه.

د بهيري نظام په اثر دا خبره منځ ته راغلې وه، چي سړي ته د پلار او د عزيزانو دوستي او دښمني په ميراث ور پاته سي. همدا رنګه وير ګيلډ (Wergeld) يعني هغه ديت، چي د ويني د بدلې پر ځای د مرګ يا ټپ د فديې په شکل تاديه کېدی، د بهيري نظام له پيداوارو څخه وو. پخوا خو داسي تصور کېده، لکه دغه ويرګيلډ چي يو خاص جرمنی رواج وي، خو اوس ثابته سوې ده، چي په سوو نورو اولسونو د ويني د غچ اخيستلو دغه ملايم شکل چي له بهيري

نظامه څخه يې مبداء رانيولې وه، هم ډېر ځله عملي سوي دي. دا کټ مټ داسي مثال لري، لکه د جرمنيانو د مېلمه‌پالني د مکلفيت دود چي د امريکايي سور پوستانو تر منځ موندل کيږي. تاقيطس چي (د «جرمنيا» په ۲۱ باب کي) د جرمني مېلمه‌پالني هغه طريقه بيانوي، چي په دوی کي رواج لري او خلگ ځان په مکلف بولي، تقريباً حتی په جزئياتو کي کټ مټ له هغي مېلمه‌پالني سره يو شی ده، چي مورگان يې د خپلو سور پوستانو په باره کي بيان کوي.

هغه تاوده او نه ختمېدونکي بحثونه، چي يو وخت به د دې موضوع پر سر کېدله، چي آيا جرمنيانو وختي لا د تاقيطس په زمانه کي د کښت مځکه د آخري پلا دپاره خپل تر منځ سره وېشلې وه او که نه وه؛ او هم دا څېړل کېده، چي په دې موضوع پوري مربوطي ليکني بايد څه رنگه تفسير او تعبير سي، اوس داسي ټوله خبري تر وخت اوښتي او د تېري زمانې جزء گرځېدي دي. په را وروسته کي دا خبره ثابته سوه، چي تقريباً د ټولو اولسونو تر منځ د کښت مځکه وار د واره په گډه د بهير له خوا څخه کرل کېدله او وروسته بيا د اشتراکي کورني جمعيتونو له خوا څخه او دا هغه جال وو، چي قيصر لا د سويويانو تر منځ مشاهده کړی دی. دا هم اثبات ته ورسېده، چي تر هغه په را وروسته زمانه کي بيا دا جال منځ ته راغی، چي د انفرادي کورنيو هر چا ته به د مځکي ټک ور جلا کېدی او وخت په وخت به دغه راز تقسيمات بيا بيا له نوي سره کېدله. بله دا ثابته سوه، چي د کښت د مځکي دغه ميعادي سردوباره وېش د جرمني په ځينو سيمو کي تر دې اوسنۍ زمانې پوري لا موجوديت لري. د دې خبري د اثباته سره نو دا ضرورت نه پاتيږي، چي نور هم پر دې موضوع باندي خپل يو

ګړی وخت لا خوشي له لاسه ور کړو. که جرمنیان د یو سل او پنځوس کلونو په موده کي، چې د قیصر روایت د تاقیطس له شواهدو څخه ښېلوي، د هماغسي ګډي کرني له مرحلې څخه، لکه قیصر چې یې په څرګند ډول سویویانو ته منسوبوي او وایي، چې دوی هیڅ قسم وېشل سوې یا شخصي کرنه نه درلوده؛ داسي انفرادي کرني ته را ورسېده، چې د تاقیطس په وختو کي یې لا کال په کال د مځکي د سردوباره تقسیم رواج هم ور سره پاله، نو یقیناً دا کافي ترقي ګڼل کیږي. په دونه لنډه زمانه کي او هغه هم بې‌له کومي خارجي مداخلې څخه، له هغه مرحلې څخه چې قیصر پکښي ږغېدلی دی، د مځکي د بشپړ خصوصي مالکیت مرحلې ته را رسېدل بالکل یوه ناممکنه خبره وه. نو ځکه د تاقیطس له ډېرو بیانو څخه زه یوازي دونه نتیجه را ایستلای سم، چې دوی هر کال د کرني مځکه تبدیلوله (یا یې له سره وېش په ګډاوه) او د دې کار په جریان کي ډېره مشترکه مځکه هم پر میدان پاتېدله. د مځکي د کرني او استفادې دغه شان مرحله د هغې زمانې د جرمنیانو د بهیري اصولو سره په صحیح توګه سمون خوري.

زه دغه پورتنی پاراګراف هغه شان پر خپل حال پرېږدم، لکه په دمخنیو نسخو کي چې راغلی دی. خو دې مسئلې په همدې وخت کي یو بل اړخ هم پیدا کړی دی. څه رنګه چې کوالیوسکي دا ثابته کړه (تېر 44 مخ وګورئ[1])، چې بابایي کهولي جمعیت که څه هم په کُلي صورت نه وو، خو په عمومي صورت

۱- انګلس چې دلته اشاره ورته کړې ده، هغه د څلورم چاپ په جرمني نسخه کي ۴۴ مخ دی. د دې ټوک (۸۹- ۹۱) مخونه وګورئ. –ت. هـ.

يې د مورني حق په اساس د اشتراکي کورنۍ او د اوسنۍ انفرادي کورنۍ تر منځ د مابيني کړۍ په حيث په زياترو ځايو کې موجوديت درلودلی دی، نو له دې اثباته سره دا سوال نه پاتيږي، چې آيا مځکه اشتراکي ملکيت وه او که خصوصي؛ لکه د ماورر او وايتس (Waitz) تر منځ چې لا اوس هم بحثونه پر سوي دي، بلکه سوال دا دی، چې اشتراکي ملکيت څه راز شکل درلودی. په هر صورت په دې کې شک نه سته، چې د قيصر په زمانه کې سويويان نه يوازې دا چې مځکه يې تر منځ مشترکه وه، بلکې همدا رنګه يې په مشترک ډول د مشترک مقصد دپاره کرله. دا سوالونه چې اقتصادي يونټ يې آيا بهير وو يا کهولي جمعيت وو او يا د دواړو تر منځ د قومي قريبانو يو اشتراکي ګروپ وو او يا درې سره قسمه يونټونه د بېلابيلو محلي او جغرافيايي شرايطو په نتيجه کې هلته موجود وه؛ ټوله هغه سوالونه دي، چې نور به هم د ډېر وخت دپاره د بحث موضوع وي. کواليوسکي وايي: هغه حالات چې تاقيطس بيان کړي دي، پر مارکي يا کليوالي جمعيت باندې دلالت نه کوي، بلکې هغه کهولي جمعيت ځنې معلوميږي، چې ډېر وروسته د نفوسو د زياتوب له کبله په کليوالي جمعيت واوښتی.

نو ځکه دا ويل کيږي، چې د جرمنيانو مېشته کېده په هغه مځکه کې، چې د روميانو په زمانه کې يې نيولې وه او هم په هغه مځکه کې چې وروسته يې له روميانو څخه اخيستې وه، د کليو په شکل نه وه، بلکې له څو پښته څخه جوړ سوي غټ کورني جمعيتونه وه، چې د دوی له حاله متناسب يې يوه لويه ټوټه مځکه کرله او له شاوخوا ايله مځکې څخه يې د خپلو ګاونډيانو سره د يو مشترک

مارک په حيث کار اخيستی. د تاقيطس په بيان کي هغه عبارت، چي د کښت د مځکي د تبديلولو په باب راغلی دی، ښايي چي هغه زمانه به يې يو زراعتي (اګرونوميک- agronomic) مفهوم درلود، يعني مقصد به دا وو، چي هغه جمعيت به په هر کال کي د مځکي يوه بېله ټوټه کرله او کومه مځکه چي په دمخه کال کي به کرل سوې وه، خاره (بې‌کښته) يې پرېښووله او يا يې بالکل پر يوه مخ ايله کوله. نفوس ښځي کم وو او ايله مځکه خورا ډېره وه، نو ځکه د مځکي پر سر هيڅ شخړي نه پېښېدې او نه يې هم ضرورت وو. خو کله چي پېړۍ تېري سوې او د کهول غړي دونه زيات سوه، چي د هغه وخت د توليد تر جاري شرايطو لاندي يې ګډه کرنه ناممکنه سوه، نو کهولي جمعيتونه لزوماً له منځه ولاړه. پخواني اشتراکي کښتونه او چمنونه د بېلو بېلو انفرادي کهولو تر منځ، چي اوس تشکيل سوي وه، د تقسيم د مروجي معروفي طريقې پر اساس ووېشل سول. دې وېش په وار د واره کي ميعادي شکل درلودی، خو وروسته يې بيا دايمي شکل واخيستی. لاکن ځنګلونه، څړ ځايونه او د اوبو ډنډونه په مشترک ملکيت پاته سول.

تر کومه ځايه چي خبره په روسيه اړه لري، معلومېږي، چي هلته د انکشاف دغه جريان له هره پلوه په تاريخي ډول ثابت دی. خو تر کومه ځايه چي خبره په جرمني او ور پسې په هغو هيوادو اړه لري، چي جرمنيانو پکښې اړولي دي، نو له دې خبري څخه انکار نه سي کېدلای، چي نسبت تر هغې پخوانۍ نظريې، چي د کليوالي جمعيت موجوديت د تاقيطس تر زمانې پوري رسوي، په زياترو لحاظو دا د کهولي جمعيت نظريه د آثارو او منابعو په تفسيرولو او د مشکلاتو

په حلولو کي ډېره مرسته کوي. ښځي قديم اسناد، مثلاً لکه «کوډيکس لاوريشامينسيس» (Codex Laureshamensis) په عمومي او کُلي توگه تر کليوالي مارکي جمعيت د کهولي جمعيت سره ډېر ښه سمون خوري. خو دا نظريه بيا ځيني نوي مشکلات او نوي مسايل مخ ته راولي، چي هغوی بيا په خپل نوبت د حل ضرورت لري. د دې موضوع فيصله يوازي د زياتي پلټني له لاري کېدلای سي. خو زه دا نه سم ترديدولای، چي په جرمني، سکانډيناويا او انگلنډ کي ډېر امکان لري، چي کهولي جمعيت هم يوه منځنۍ مرحله وه.

د قيصر د زمانې جرمنيان يو څه ځايي سوي وه او يو څه يې په دايمي ځای پسي گرځېده، حال دا چي د تاقيطس تر زمانې پوري يې د ځايي ژوندانه يوه بشپړه پېړۍ تر شا پرې ايښې وه. دا چي د دې ځايي کېدو په اثر يې د ژوند د وسايلو د توليد په برخه کي پرمختگ راغی، يوه داسي ښکاره خبره ده، چي هيڅوک نه پکښي خطا وځي. دوی په داسي کورو کي اوسېدل، چي د لرگي له پړو څخه جوړ سوي وه. د دوی جامه لا تر اوسه ځنگلي غوندي جامه وه، چي د کراستي له کوټۍ او حيواني پوستو څخه عبارت وه. خو ښځو او مخورو يې تر دې کالو لاندي د خامتا جامه هم استعمالوله. دوی په شيدو، غوښو او خودرويو مېوو باندي گذاره کوله او لکه پلينوس چي ور زياتوي، اوربشينه اوگرا يې هم خوړله (لکه تر اوسه چي په آيرلنډ او سکاټلنډ کي دغه اوگرا د سيلټيانو ملي خواړه گڼل کيږي). د دوی ثروت له څارويو څخه جوړېدی، خو د څارويو نسل يې کچه وو او مالونه کوچني بد ډوله او بې ښکره کليان وه. آسان کوچني ټټوگان وه، تېز يرغه آسان نه وه. پيسې خورا لږ وې او په ندرت سره کار ځني

اخيستل کېدی، خو څه چي وې، هغه يوازي رومي سکه وه. دوی طلايي يا نقره‌يي لوښي نه جوړول او نه يې هم دې فلزاتو ته کوم ارزښت ور کاوه. اوسپنه بېخي کمه وه او معلومېږي، چي لږ تر لږه د هغو قبيلو تر منځ چي د راين او ډانيوب په سيمه کي اوسېدله، د ضرورت وړ ټوله اوسپنه يې له دباندي څخه ورته راتله او په خپله يې له کانه څخه نه را ايستله. روني (Runic) ليک (چي له يوناني او لاتيني ليک څخه تقليد سوی دی) يوازي د مرموز شفر ( secret code) او خاص بيا د مذهبي سحر دپاره استعمالېدی. بشري قرباني لا تر اوسه جال وې. لنډه دا چي دوی دا راز خلگ وه، چي د بربريت له منځنۍ مرحلې څخه پورتنۍ مرحلې ته تازه را تېر سوي وه. څه رنگه چي هغه جرمنۍ قبيلې، چي د روميانو سره په نژدې تماس کي وې او دا ورته آسانه وه، چي د روم صنعتي محصولات را وارد کړي او له همدې کبله يې له دې لوري څخه مخ را گرځېدلی وو، چي د خپل ځان فلزي يا نساجي صنايعو ته انکشاف ور کړي، نو په دې کي لږ شک هم نه سته، چي دې راز صنايعو ته يوازي د شمال شرق هغه قبيلو انکشاف ور کړی، چي د بالتيک د بحر پر غاړه پرتې وې. دوسلې هغه ټوټې چي د شليزويگ (Schleswig) په باطلاقونو کي پيدا سوي دي -او هغه د اوسپني يوه اوږده توره، د زغري کوټ، د سپينو زرو خول او نور شيان دي او د دوی سره د دوهمي پېړۍ د اواخرو رومي سکې هم دي- او هم جرمني فلزي لوښي چي د اقوامو د عمومي کوچ او بار په سلسله هر چيري تيت سوي دي، د تکامل له پلوه د لوړ مهارت او اعلی استادۍ يو خاص قسم آثار دي او حتی په هغه صورت کي هم، که چيري هغه د روميانو له لومړنيو نمونو سره نژدېکت ولري. د

انګلستان په پرته، نور نو هر چیري چي د روم متمدني امپراطورۍ ته بربري خلګ کوچ سوه، هلته یې خپل اصلي صنایع له لاسه ور کړه. دا چي دغه صنایع یې څونه په یوه شکل منځ ته راغلي او انکشاف یې کړی وو، د مثال په ډول د برونزي چنګکونو د جوړولو له مخي ثابته ده. هغه نمونې چي په بورګونډیا (Burgundy)، رومانیا (Rumania) او د ازوف (Azov) بحیرې پر غاړه سوي دي، داسي ایسي لکه په برتانوي او سویډني غوندي کارخانو کي چي تیاري سوي دي. مګر دا له شکه وتلې ده، چي هغوی د جرمنیانو خپل پیداوار دي.
د دوی نظام همدا رنګه د بربریت د پورتنۍ مرحلې سره سمون درلود. د تاقیطس د بیان سره سم، هلته عموماً د غټانو (principes) یوه جرګه وه، چي کوچنۍ خبري یې په خپله فیصلې کولې او غټ مسایل یې د اولسي اسامبلې د فیصلې دپاره ترتیبوله. اولسي اسامبله د بربریت په کښتنۍ مرحله کي لږ تر لږه په هغو ځایو کي چي موږ ته معلومات سته، یعني د امریکایانو تر منځ یوازي په بهیر کي دننه موجودیت لري او تر دې زمانې لا په قبیله یا د قبیلې په کانفدریسي کي نه لیدل کیږي کټ مټ لکه د ایروکوایسیانو تر منځ، دلته په جرمنیانو کي هم د جرګې غټان (principes) له حربي غټانو (duces) څخه تر اوسه لا ډېر توپیر لري. د جرګې غټانو له وختي څخه لا تر یوې اندازې په اعزازي سوغاتو، لکه څاروي، غلې او نور شیان چي د خپلو قبیلوي غړو له خوا به ور کول کېده، خپله ګذاره کوله. دلته هم لکه په یونان او روم کي، پلارني حق ته انتقال د دې دپاره زمینه مساعده کړه، چي ورو ورو یې انتخابي چوکۍ په موروثي چوکیو واړولې او په دې ډول یې نو په هر بهیر کي یوه اشرافي کورنۍ

منځ ته را وسته. زياتره دغه پخواني تش په نامه قبيلوي اشراف د اولسونو د مهاجرت په دوران کي او يا تر هغه لږ څه وروسته له منځه ووتله. نظامي سران بې‌له دې څخه چي نسب يې په نظر کي ونيول سي، صرف د خپل لياقت له مخي انتخابېدله. دوی ډېر قدرت نه درلود او کوم کار چي به يې له بل څخه غوښتی، نو به يې وار د واره عملاً په خپله د نورو په مخ کي د مثال په توگه اجراء کاوه. لکه څنگه چي تاقيطس واضح وايي، په لښکر کي دننه د ډسپلين واقعي قدرت د کاهنانو په لاس کي وو. په اصلي اولسي اسامبله د واقعي قدرت ځرگندوی وه. پاچا يا قبيلوي سرخېل مشرتوب کاوه او فيصله خلگو را ايسته. جنه جنه پر (يا- نه منلو) دلالت کاوه، په زوره نارو او د وسلو شرنکي پر (هو) دلالت کاوه. اولسي اسامبله همدا رنگه د عدالت محکمه وه. شکايات دلته راتله او فيصله کېدله. د مرگ فتوی هم دې اسامبلې صادروله او دا سزا صرف د بې‌غيرتۍ، خيانت او غيرطبيعي فسادونو په مواردو کي پېښېدله. بهيرونو او نورو کوچنيو څانگو يې هم د يوه جمعيت په شکل د سرخېل تر مشرۍ لاندي، چي هغه لکه د جرمني په ټولو پخوانيو محکمو کي تش د قضايي چارو د اداره‌کوونکي او پلټونکي حيثيت درلود، پر قضاياوو غور کاوه. د جرمنيانو تر منځ، هر کله او هر چيري فتوی د گرده جمعيت له خوا څخه صادېدله.

د قبيلو اتحاديې (کانفدريسي) د قيصر له زمانې څخه منځ ته راغلې. د دوی له جملې څخه ځينو له وختي څخه لا پاچاهان درلوده. ستر نظامي قوماندان ته لکه د يونانيانو او روميانو تر منځ د مطلقه قدرت آرزو ور ولاړه سوه او ځيني وختونه د دې آرزو په لاس ته راوړلو بريالي هم سو. خو د قدرت دغه بريالي

غاصبین بیا هم په هیڅ وجه مطلق حکمرانان نه وه او د دې باوجود دوی په دې پیل کړی وو، چې د بهیري نظام ځنځیران وشکوي. په داسي حال کي چي ازاد سوو مریانو زیاتره کښته حیثیت درلود او دا هم په دې سبب، چي دوی نه سوای کولای، د کوم بهیر غړي سي، خو دوی زیاتره د دې نوو پاچاهانو د غوره اشخاصو په توګه رتبې، ثروتونه او عزتونه ګټله. د رومي امپراطورۍ تر فتح وروسته د هغو نظامي سرانو په مورد کي، چي اوس نو د لویو هیوادو پاچاهان ګرځېدلي وه، هم دغسي خبره پېښه سوه. د فرانکیانو (Franks) تر منځ د پاچا مریانو او آزاد سوو خلګو لومړی په دربار او بیا په دولت کي یو ستر رول ولوباوه او د نوي اشرافي حاکمیت یوه غټه برخه د دوی له نسله څخه تشکیل سوه.
هلته یوه نوې مؤسسه موجوده وه، چي مخصوصاً یې د پاچاهۍ په قایمېدو کي لوی کار وکړی او دا مؤسسه له هغو ډلو (Gefolgschaften) څخه عبارت وه، چي هر مشر به د ځان دپاره درلوده. دمخه مو ولیدل، چي څه رنګه د امریکایي سور پوستانو تر منځ د بهیر په څنګ کي شخصي اتحادیې د دې مقصد دپاره جوړېدې، چي په خپل سر جنګ پیل کړي. د جرمنیانو تر منځ دغو شخصي اتحادیو د دایمي اتحادونو شکل واخیستی. که به کوم نظامي قوماندان نوم پیدا کړی، نو غټه ډله لوټمار خوښوونکي جګړه‌مار ځوانان به یې پر ځان را ټول کړل، چي هغو به له ده سره د داسي وفادارۍ بول واهه، لکه ده چي به ور سره کوله. ده به دوی ته ډوډۍ ور کوله، دوی ته به یې انعامونه بخښله او دوی یې د درجه‌بندۍ پر اساس باندي تنظیموله. هغو ده ته د کوچینو لښکرکشیو په وخت کي د محافظ ګارډ او هغه لښکرکشیو په وخت کي د چمتو افسري کدر

په توګه خدمت کاوه. دا د ملګرو ډله که څه هم ډېره کمزورې وه، لکه وروسته چې يې مثلاً په ایټالیه کې د اودواکر (Odoacer) تر مشرۍ لاندې خپله کمزوري هم وښووله، خو د دې سره يې د قديمو اولسي آزاديو د خرابولو دپاره د فاسدې نطفې په حيث کار وکړی او دا تخريبي کار يې د اولسونو د کوچ او بار په دوران کې او هم تر هغه وروسته پوره په سر ورساوه. ځکه لومړی يې د شاهانه قدرت د را پورته کېدو دپاره زمينه مساعده کړه، دوهم يې لکه تاقيطس چې ويلي دي، صرف د بادوامه جګړو او لوټمارۍ د سوقياتو له لارې د يوه متشکل کُل په توګه د هغو ساتل ممکن وه. لوټماري اساسي مقصد وګرځېد. که به سرلښکر په خپله ګاونډۍ سيمه کې يو کار نه کړ پيدا، نو به يې خپلې لښکرې هغه نورو هيوادو ته سوقولې، چې جګړې به پکښې پېښېدلې او لوټمارۍ به کېدلای سوای. جرمني امدادي لښکري، چې تر رومي بيرغ لاندې حتی په خپله له جرمنيانو سره ډېري جنګېدې، هم تر يوې اندازې له دغو ډلو څخه جوړي سوي وې. د اجيرو پلټنيانو سيسم، چې هغه د جرمنيانو رسوايي او لعنت وو، دلته په ډاګه په خپله لومړنۍ څېره موجود وو. د رومي امپراطورۍ تر نيولو وروسته دغه په پاچاهانو پوري مربوط ډلو د روميانو او روميانو له جملې څخه د درباري خادمانو سره يو ځای د وروستۍ زمانې د اشرافو د طبقې دوهمه غټه برخه منځ ته را وسته.

په عمومي ډول نو هغه جرمني قبيلې، چې د اولسونو په شکل يو ځای سوې، کټ مټ هغسې نظام يې درلوده، لکه د قهرمانۍ د عصر د يونانيانو تر منځ او د تش په نامه پاچاهانو په زمانه کې د روميانو تر منځ چې يې انکشاف را کړی وو؛

يعني اولسي اسامبلې يې درلودې، د بهيري مشرانو جرگې يې درلودې او هغه نظامي قوماندان يې درلود، چي وختي لا د واقعي شاهانه قدرت آرزو ور ولاړه سوې وه. له بهيري نظام څخه نو تر دې پورته تشکيلات منځ ته نه سواى راتلاى. دا د هغه ښځي معياري نظام نمونه وه، چي د بربريت په پورتنۍ مرحلې کي منځ ته راغله. کله چي ټولنه تر هغو حدودو واوښته، چي دې نظام بالا کفايت نه ورته کاوه، نو بهيري نظام پاى ته ورسېد. بهيري نظام سره وپاشل سو او دولت يې ځاى ونيوى.

**اتم څپرکی**

# د جرمنیانو ترمنځ د دولت تکوین

# د جرمنیانو ترمنځ د دولت تکوین

د تاقیطس د بیان سره سم جرمنیان د شمېر له مخې یو ببخې لوی اولس وو. د جرمني د بېلابیلو اقوامو د شمېر تقریبي نظریه د قیصر له خوا ور کول سوې ده. ده ویلي دي، چې اوزیپیټان (Usipetans) او ټینکټیران (Tencterans)، چې د راین پر کینه غاړه پراته وه، د ښځو او کوچنیانو په شمول ۱۸۰۰۰۰ تنو ته رسېدله. په دې ډول نو تقریباً د هر قوم شمېر ۱۰۰۰۰۰ کسو ته رسېدی[1] او په دې حساب نو تر هغو ایروکوایسیانو خورا ډېر وه، چې د خپل برم په وخت کې شلو زرو تنو ته لا نه رسېده، اما له غټو جهیلونو څخه نیولې تر اوهایو (Ohio) او پوټومک (Potomac) پورې یې د گرده ملک دپاره خطر پیدا کړ. که موږ دا هڅه وکړو، چې نقشه باندې وښیو، چې تر موږ له را رسېدلو معلوماتو سره سم، راین ته په نژدې سیمو کې زیاتره مشهور پراته اولسونه څه رنگه ځای پر ځای سوي وه، نو و به وینو، چې له دې جملې څخه هر یو قوم په اوسط ډول د پروس د یوې اداري سیمې ۱۰۰۰۰ مربع کیلو متره یا ۱۸۲ جغرافیایي مربع میله اشغالوله. هغه رومي منطقه، چې جرمانیا مگنا (Germania Magna) (یعنې لوی جرمنی- ت. هـ.) یې بلله او د ویسټولا (Vistula) تر روده پورې یې

---

۱- د دیودوروس یوه لیکنه، چې د گال د سیلتیانو په باب یې کښلې ده، همدغه شمېر چې دلته ذکر سوی دی، تاییدوي یې. دی لیکي: «په گال کې ډېر اقوام اوسي، چې د شمېر اندازه یې نه ده سره برابره. د دوی له جملې څخه هغه لوی قوم یې ۲۰۰۰۰۰ او کوچنی قوم یې ۵۰۰۰۰ نفوس لري» (Diodorus Siculusm, V, 25). د دې شمېرونو اوسط ۱۲۵۰۰۰ کیږي. گالي (Gallic) اقوام، چې ډېر انکشاف یې کړی وو، باید وه، چې حقیقتاً یې شمېر تر جرمنیانو یو څه زیات وي.

سرحد رسېده، تقريباً ۵۰۰۰۰۰ مربع کيلو متره مسافه یې نيولې وه. که هر قوم ته په اوسط ډول د ۱۰۰۰۰۰ نفوسو حساب وسي، نو د جرمانيا مګنا ګرده نفوس به په مجموعي صورت پنځو ميليونو ته رسېده، چې د بربري اقوامو د يو جمعيت دپاره نسبتاً ډېر غټ شمېر بلل کيږي. که څه هم په دې حساب يې پر يوه مربع کيلو متر لس اوسېدونکي يا پر يوه جغرافيايي مربع ميل ۵۵۰ نفر رسېده، چې د ننني حالاتو په مقايسه خورا کم نفوس معلوميږي. خو په دې شمېر کې د هغې زمانې ټوله جرمنيان شامل نه دي، ځکه موږ پوهيږو، چې د ګوتي ختيځ جرمني اقوام؛ يعني باسترنيان (Bastarnians)، پيوکي‌نيان (Peukinians) او نور د کارپات (Carpathian) د غرو په لمنو کې اوسېده او د ډانيوب تر خولې پورې غځېدلي پراته وه. د دوی شمېر دونه زيات وو، چې پلينوس (Pliny) يې د جرمنيانو د قبيلو پنځمه غټه ډله بللې ده او تر ميلاد دمخه په ۱۸۰ کال کې وختي لا د مقدونيې (Macedonia) د پاچا، چې پرسيوس (Perseus) نومېدی، تنخاخواره سپاهيان وه او د اغوسطوس د حکومت په لومړيو کلو کې لا د ادرنه (Adrianople) نژدې سيمو ته وړاندې راتلله. که موږ دا فرض کړو، چې د دوی شمېر يو ميليون ته رسېدی، نو د عيسوي تاريخ په شروع کې جرمنيان غالباً دا ده، چې تر شپږ ميليونه کم نه وه. په جرمني (Germanien) کې تر مېشه کېدو وروسته نفوس په زياتېدونکي چټکۍ سره ډېر سوه. هغه صنعتي پرمختګ چې وړاندې يې ذکر وسو، د دې خبرې د ثبوت دپاره کفايت کوي. هغه شيان چې د رومي سکو په شمول د شليزويګ په دلدل زارو کې پيدا سوه، د دې سکو د حکم له مخې د دريمې

پېړۍ شیان معلومیږي، ځکه هغه رومي سکې، چي له دوی سره یو ځای پیدا سوي، د دریمي پېړۍ له زمانې سره اړه لري. په دې اساس نو هغه د دریمي پېړۍ په زمانه کي لا فلزي او نساجي صنایعو د بالتیک د بحر پر غاړو ښه انکشاف کړی وو او د رومي امپراطورۍ سره زورور تجارت شروع وو او بډایي طبقې خورا ښه د چړچو ژوند درلود. او دا ټوله خبري د نفوسو د زیات ډېرښت او ګڼوالي شواهد ګڼل کیږي. د همدې وخت په شاوخوا کي جرمنیانو د راین د رود په ټوله امتداد کي، یعني د روم تر سرحدي لیکي او د ډانیوب تر سرحده پوري، چي دا سیمه له شمالي بحره تر توري بحیرې پوري غځېدلې وه، خپل عمومي بریدونه شروع کړي وه او دا جریان د دې خبري څرګند ثبوت دی، چي مخ پر ډېرښت نفوس په دې هڅه کي وه، چي له خپلي سیمي څخه را ووځي او نورو خواوو ته مخ ونیسي. د درو پېړیو هلو ځلو په دوران کي (د سکانډیناویا د ګوتیانو او بورګوډیانو په پرته) نور نو د ګوتي اقوامو ټوله لوی اولس د جنوب ختیځ خوا ته حرکت وکړی او د یرغل د اوږدې سیمي کینه خوا یې په مخه واخیسته. پاس شمالي جرمنیان، یعني هرمینونیان د ډانیوب په لوړه برخه کي وړاندي د دې سیمي مرکز ته راغله او اسکوونیان (Iscaevonians)، چي اوس یې فرانکیان (Franks) بولي، د راین پر غاړه باندي د سیمي ښی خوا پسي را واخیسته. د برتانیې نیول د انګیوونیانو (Ingaevonians) په پچه وخته. د پنځمي پېړۍ په پای کي د روم امپراطوري، چي سیک یې ختلی وو او واک یې نه درلود، بې ټکه او بې پو یرغلي جرمنیانو ته تسلیم سوه.

په دمخنيو فصلونو کې موږ د قديم يوناني او رومي مدنيت زانګو ته ولاړ وو، خو اوس د هغه قبر ته ولاړ يو. د روم د نړيوال قدرت تسطيح کوونکي رنده څو پېړۍ د ټوله مديترانې پر هيوادو باندي تېرېدلې. په هغو ځايو کې چې يوناني ژبې مقاومت نه کاوه، هلته ټولو ملي ژبو يوې مسخه سوې لاتيني ژبې ته ځای پرېښود. هلته د مليت پر اساس هيڅ ډول مميزات نه سوه پاته. ګاليان، ابيريان (Iberians)، ليګوريان (Ligurians) او نوريکيان (Noricans) ګرده روميان سوه. رومي حاکميت او رومي قانون هر چيري قديم کانسنګويني جماعتونه منحل کړه او په دې شان يې د محلي او ملي خودمختارۍ آخرين بقايا له منځه يووړه. دغه نوي جوړ سوي او نوي را وتلي رومانيت (Romanism) نه سوای کولای، چې د دې ضياع تلافي وکړي. دې رومانيت د کوم مليت نمايندهګي نه کوله، بلکي يوازي د عدم مليت نمايندهګي يې کوله. د نوو ملتو د تشکيل دپاره هر چيري عناصر موجود وه. د بېلابيلو ولاياتو د لاتيني لهجو فرق يې ورځ په ورځ زياتېده او هغه طبيعي سرحدونه، چې يو وخت يې د ايټاليې، ګال، هسپانيې او افريقا خپلواکي سيمي جوړي کړي وې، تر اوسه لا هم دا سيمي موجودي وې او د ځان ته خپلواکۍ احساس يې درلود. خو هيڅ چيري داسي قوه نه وه، چې هغه دا وکړای سي، چې دغه عناصر د نوو ملتونو په ډول سره توحيد کړي او نه هم چيري د ځان ته انکشاف د استعداد کومه نخښه ليدل کېده او نه هم د څه قسم مقاومت د قدرت څرک موجود وو. داسي خلاقه قدرت خو يې لا هيڅ نه درلود، چې نوي ملتونه ايجاد کړي. پر هغه پراخه خاوره باندي د بشري اولسونو لويه مجموعه يوازي په يوه رابطه سره تړلې وه، چې هغه رومي

دولت وو. دغه دولت نو د زمانې په دوران کي د دوی زورور دښمن او ځوروونکی عامل وګرځېد. د ولایاتو له خوا څخه روم خراب سوی وو. امتیازات یې درلوده، اما حکم یې نه چلېدی او نه د نړیوالي امپراطورۍ مرکز وو او نه هم حتی په خپله د امپراطورانو د نائبانو مقر وو، ځکه هغوی اوس په قسطنطنیه، ترویس (Treves) او میلانو کي اوسېدله. رومي دولت یو پراخ مرکب ماشین ګرځېدلی وو، چي خاص خپل رعیت یې استثماروله. مالیاتو د دولت په وړاندي مکلفیتونو او ډول ډول اجباري خراجونو، اولس د خوارۍ و خوا ته ښه او ښه پسي کښېکښی. د دولت د ګماشته‌ګانو، د مالیې د ټولوونکو او د سپاهیانو تر اندازې بالا جابرانه اعمالو سرکاري فشار دونه زیات کړی، چي ښېخي د زغملو ووتی. رومي دولت نو له خپل نړیوال تسلطه سره دې ځای ته ورسېدی، چي د خپلي بقاء حق یې په دې خبرو ثابتاوه، چي یو خو په داخل کي امنیت ساتي او بل دا چي له دباندي څخه د بربریانو د بریدونو په مقابل کي ساتنه کوي. خو د دې دولت امنیت تر ښېخي بې‌امنۍ؛ ډېر بدتر وو او هغه بربریان چي دولت به پلمه کوله، چي د دوی په مقابل کي خپل هیوادوال ساتي، په خپله د هیوادوالو له خوا څخه د ژغورونکو په شان استقبال سوه.

اجتماعي وضعه ډېره ورانه او نااميدوونکې وه. د جمهوریت د آخرینو کلو په دوران کي له وختي څخه لا رومي حاکمیت پر دې اساس را بناء وو، چي نیول سوي او تر لاس لاندي ولایات یې په بې‌رحمانه توګه استثماروله. امپراطورانو دغه استثمار پای ته نه وو رسولی، بلکي هغه یې لا منظم کړی وو. څونه چي امپراطوري مخ پر زوال ځړېده، هغونه مالیات جګېده، اجباري مکلفیتونه

زياتېدل او هغونه په سپين سترګۍ سره مامورينو خلګ چورول او شکوله. په تجارت او صنعت هيڅ کله هغه روميان نه وه اخته، چي پر ټولو قومو يې باداري چلوله. يوازي د سود او سلاپور په کار کي هم تر دمخه او هم تر وروستنيو ټولو خلګو دوی لاس بر سول. هغه يو څه تجارت چي پاته وو او تر يوې زمانې يې لا چلېدی، د مامورينو د جابرانه اخيستونو په وجه خراب سو.

يوازي ختيځي خوا ته د امپراطورۍ په يوناني سيمه کي يو څه تجارت باقي پاته سو، خو هغه بيا زموږ د څېړني له ساحې څخه وتلی دی. عامه خواري، د تجارت، لاسي صنايعو او فنونو قهقرا، د نفوسو کمېده، د ښارونو انحطاط، کښتنۍ مرحلې ته د زراعت پر شا راتله؛ دغه ټوله شيان د روم د نړيوال تسلط آخرين نتايج وه.

کرهڼه چي په سراسر لرغونې زمانه کي د توليد هغه ستره څانګه وه، اوس تر هر بل تېر وخت ډېره زياته سوې وه. په ايټاليا کي لويي زمينداری لاتيفونډيا (Latifundia)، چي د جمهوريت د خاتمې له زمانې راهيسي يې نژدې ټوله خاوره نيولې وه، دوله ډوله استفاده ځني کېدله؛ يا خو د څړځايو په شان چي هلته د اوسېدونکو خلګو ځای پسو او غويو نيولی وو او د دې حيواناتو د ساتني دپاره صرف يو څو کسه مريان په کار وه او يا خو د هغسي دهاتي صيفيو په شان، چي پر هغو باندي د غټ شمېر مريانو په واسطه د لويي پيمانې باغداري کېدله او حاصلات يې څه د دې دپاره وه، چي د ښار په بازارونو کي خرڅ سي. دا لوی څړځايونه کروغ ساتل کېده او غالبه دا ده، چي نور لا هم پسي غټېده. خو مالکان چي خوار سول او ښارونه وران سول، نو په دې نيت دهاتي صيفيې

او د هغو باغدارۍ هم وراني سوې. د لاتیفونډیا په شکل اقتصادي نظام چي پر غلامانه کار باندي ولاړ وو، نوره یې ګټه نه کوله. خو په دغه زمانه کي د لویي پیمانې بل ډول زراعت امکان نه درلود او یوازي ممکن صورت یې همدغه د لاتیفونډیا شکل وو. په کوچنۍ پیمانه کښت بیرته د ګټې وړ شکل وګرځېد. لویي زمینداري یو په بل پسي پر کوچنیو ټوټو ووېشل سوې او هغو موروثي کښتګرو ته په اجاره وسپارل سوې، چي دوی یو ټاکلی (ثابت) مبلغ تادیه کاوه یا هغو (partiarii) ته ور کول سوې، چي دوی اجاره‌داران نه وه، بلکي زراعتي منتظمان (ناظران) وه، چي د کال له حاصلاتو څخه یې د خپل کار په عوض کي یوه شپږمه یا حتی صرف یوه نهمه برخه اخیسته. خو دغه کوچنۍ ټوټې زیاتره مستأجرینو (Coloni) ته وېشل سوي وې، چي هغو یو ټاکلی مبلغ په کال کي تادیه کاوه. دوی له مځکي سره تړلي وه او د مځکو له ټوټو سره یو ځای خرڅېدلای سوای. دوی نه مریان وه او نه هم آزاد وه. دوی نه سوای کولای، چي د آزادو هیوادوالو سره واده وکړي او خپله د دوی تر منځ ازدواج د یو معتبر قانوني ازدواج حیثیت نه درلود، بلکي لکه د مریانو تر منځ تش د صیغه‌یي ارتباط (Contubernium) حیثیت یې درلود. دوی د منځنیو پېړیو د مملوکینو (سرفانو) مخکښان وه.

د لرغوني زمانې غلامي منسوخه سوه. نه د کلیو د لویي پیمانې په زراعت کي او نه هم د ښارونو په صنایعو کي پر غلامۍ باندي څه ګټه بناء کېدله. د غلامۍ د تولیداتو بازار ټول سوی وو. د امپراطورۍ د برم د وختو عظیم‌الشانه تولید، چي اوس د کوچنۍ پیمانې زراعت او کوچنیو لاسي صنایعو ته را کم سوی وو،

نو د ډېرو غلامانو وجود نه پکښې ځايېدی. په ټولنه کې صرف د هغو غلامانو دپاره ځای پاته سو، چې د بډايانو د کورو د چوپړ او عياشيو دپاره په کارېدله. خو دغه غلامي چې د زکندن په حال وه، لا يې د ژوند دونه سيک درلود، چې د دې په اثر ټوله توليدي کار ته د غلامانه کار په سترگه کتل کېده او د آزادو روميانو د شانه سره وړ نه ايسېدی. خو اوس نو هر څوک يو آزاد رومي سړی گرځېدلی وو. په دې حساب نو له يوې خوا د مريانو په شمېر کې تر ضرورت بالا زياتوب راغی او څه رنگه چې دوی د ټولني د اوړو پېټی وگرځېدل، نو آزادي ور کول سوه، خو له بلي خوا د وابسته مستاجرينو او درويزه‌گرو ساهوگانو (چې د امريکا په پخوانيو غلامدارو ايالاتو کې د خوارو سپين پوستو سره شباهت لري) په شمېر کې زياتوب راغی. عيسوی مذهب د پخواني مرئيتوب د دغه تدريجي ور ټولېدو په بابت کې بېخي بې‌گناه دی، ځکه همدا عيسويت وو، چې څو پېړۍ پرله پسې يې په رومي امپراطورۍ کې د مرئيتوب له شته‌والي سره روغه کوله. همدا مذهب وو، چې نه يې د وروستۍ زمانې په عيسويانو کې، که د شمال جرمنيان وه يا د مديترانې وينسيان (Venetians) وه، د مرئيتوب د تجارت مخه ونيوله او نه يې هم د وروستيو کلو د زنگيانو (نيگرو) د غلامۍ تجارت ور ټول کړی[1]. خبره دا ده، چې بالا نو پر غلامۍ گټه نه بناء کېده او نو ځکه ور ټوله سوه، لاکن دې مړې کېدونکي غلامۍ تر شا خپل زهرداره نېښ پرېښود

---

۱- د کريمونا (Cremona) د اسقف ليوټپرانډ (Liutprand) له بيانه سره سم، په لسمه پېړۍ کې د (Verdun) او ځکه خو نو د مقدسي جرمنۍ امپراطورۍ اساسي او لوی صنعت دا وو، چې انسانان يې خصيانول او د مغربيانو د حرامسرايو دپاره يې هسپانيې ته صادروله او ډېري گټې يې پر خوړلې.

او هغه دا، چې پر تولیدي کار یې داسي ټپلی ایښی وو، چې د ساهوګانو؛ یعني آزادو خلګو دپاره ننګین او سپک کار ایسېدی. دا وه هغه بنده کوڅه (بن بست) چې د رومي دنیا مخ یې را ګرځولی وو او لار یې وړاندي نه سوای ایستلای. غلامي په اقتصادي لحاظ ناممکنه وه، خو د ساهوګانو کار له اخلاقي پلوه ننګین ګڼل کېدی. لومړی (یعني د غلامۍ کار) نور کولای نه سوای او دوهم (د ساهو کار) لا دې حد ته رسېدلی نه وو، چې د اجتماعي تولید اساسي شکل وګرځي. صرف یو بشپړ انقلاب دلته مرسته کولای سوای.

په ولایاتو کي حالات لا ښه نه وه. اکثره ارقام او مدارک چې زموږ سره سته، د ګال د ولایت په باب دي. د وابسته مستأجرینو په څنګ کي آزاد کوچني بزګران تر اوسه لا هم هلته موجود وه. د دې دپاره چې خپل ځانونه د مامورینو، قاضیانو او سودخورو له وحشیانه او بې‌رحمانه شکوونو (لوټماریو) څخه وساتي، نو پرله پسې یې د هغو خلګو تر حمایې او سرپرستۍ لاندي ځان اچاوه، چې د قدرت څښتنان وه او دوی دغه کار نه یوازي په انفرادي صورت، بلکي په جمعیت یې کاوه، څو چې حتی خبره تر دې اندازې ورسېده، چې د څلورمي پېړۍ امپراطورانو اکثره داسي فرمانونه صادروله، چې دغه کار منع کړي. هغه چا چې تر دغي حمایې لاندي ځان اچاوه، نو څه ډول مرسته ور سره کېدله؟ د دوی سرپرست او حامي دا شرط پر ایښی وو، چې دوی به پر خپلو مځکو د مالکیت حق ده ته ور انتقالوي او د دې په عوض کي ده اطمینان ور کاوه، چې دوی به تر ژونده له خپلو مځکو څخه کامله استفاده کوي. دا هغسي یو چم وو، چې مقدسي کلیسا زده کړی دی او د څښتن د جلال او د خپلو مځکنیو جایدادونو

د پراخولو په نيت يې د نهمي او لسمي پېړۍ په دوران کي په آزادانه ډول تطبيق کړی دی.خو د ۴۷۵ کال د زمانې په شاوخوا کي د مارسيلز (Marseilles) د اسقف له خوا چي سالويانوس (Salvianus) نومېدی، لا دغسي لوټماري په شدت سره غندل سوې ده او ويلي يې دي، چي د رومي مامورينو او غټو زمينداراتو ظلمونه داسي له زغملو ووتله، چي زياتره (روميان) هغو ناحيو ته وتښتېدل، چي دمخه لا بربريانو نيولي وې او رومي هيوادوالو چي هلته واړول، نو دوی له هيڅ شي څخه دونه نه بېرېده، لکه د دې څخه، چي بيا تر رومي حاکميت لاندي را نه سي. دا خبره چي په دغو ورځو کي خوارانو خلگو خپل اولادونه په غلامۍ خرڅول، د هغه قانون له مخي ثابته ده، چي د دغه عمل د ممانعت بيان پکښي راغلی دی.

له خپل دولت څخه د روميانو د آزادولو په بدل کي د جرمني بربريانو انعام دا وو، چي د هغوی د درستي خاوري دوې، دريمي برخي يې واخيستې او خپل تر منځو يې ووېشلې. دا وېش د بهيري نظام د قواعدو سره مطابق وو، څه رنگه چي فاتحين نسبتاً په شمېر کي لږ وه، نو د مځکي لويي او غټي ټوټې په ناوېشلي صورت يو څه د ټوله اولس په تصرف کي او يو څه يې د قبيلو او بهيرونو په تصرف کي پاته سوې. په هر بهير کي کښتونه او څړځايونه د ځان‌ته کهولونو تر منځ په مساويانه سهم سره د پچي له لاري ووېشل سوه. خو دا نه ده را معلومه، چي آيا په هغه زمانه کي بيا کوم وخت له سره نوي وېشونه په گډېده او که نه. په هر حال دغه کار ژر په رومي ولاياتو کي متروک سو او د مځکي ځان‌ته ځان‌ته انفرادي قطعات په سلبېدونکي خصوصي ملکيت واوښته، چي الوډيم

(Allodium) ورته ویل کېده. ځنګلونه او څرځایونه ناوېشلي پاته سوه او ګډه استفاده ځني کېدله. دغه د ګډې استفادې صورت او د وېشلي مځکي د کرهڼي طرز د پخواني عرف او د درست جمعیت د فیصلو پر اساس تنظیمېدی. هر څونه چي جرمنیان او رومیان د زمانې په دوران کي یو د بله سره ګډېدله، هغونه د روابطو د عزیزګلوۍ خصلت د منطقوي روابطو په مقابل کي ماته خوړله. بهیر په مارکي جمعیت کي ورک سو، خو د دې جمعیت د غړو تر منځ لا د ابتدایي عزیزګلوۍ کافي آثار هم لیدل کېدله. په دې ډول نو بهیري نظام لږ تر لږه په هغو هیوادو کي، چي د مارکي کمونو (Communes) پالنه کېده، لکه د فرانس په شمال، انګلنډ، جرمني او سکانډیناویا کي؛ په نامریي توګه په منطقوي نظام واوښتی او د دغه بدلون په نتیجه کي نو دې ته مساعد سو، چي د دولت له مؤسسې سره پیوند وخوري. خو د دې سره سره یې هغه طبیعي ډموکراتیک خصلت وساتی، چي د بهیري نظام ممیزه ګڼل کیږي او حتی په هغه ورانېدونکي شکل کي، چي په را وروسته کي ور باندي وتپل سو، آن تر وروستۍ زمانې پوري یې د دغه نظام ژوندي عناصر په ځان خوندي کړل او له دې لاري یې نو د مظلومانو په لاس کي یوه مؤثره اسلحه پرېښووله.

په بهیر کي د ویني پر اساس د رابطې اهمیت په دې وجه ژر ور ټول سو، چي د روم د نیولو په نتیجه کي بهیر ته منسوب اورګانونه که په قبیله کي وه او که په ټوله اولس کي وه، همدا رنګه له کاره لوېدلي وه. موږ پوهیږو، چي پر رعیتو خلګو باندي حاکمیت له بهیري نظامه سره سمون نه خوري. خو دلته داسي حاکمیت په لویه پیمانه سره وینو. جرمني اقوام چي پر رومي ولایاتو یې باداري

کوله، ورته په کار وه، چې د اشغال کړي قلمرو اداره تنظيم کړي. لاکن هيڅ يوه نه دا کولای سوای، چې د روميانو لوی اولس په بهيري جماعتونو ور کښېباسي او نه يې دا کولای سوای، چې د بهيري جماعتونو له لاري پر دوی حکومت وکړي. لازمه وه، چې د رومي دولت يو عوضي قدرت د روم د هغو محلي دولتي ادارو په سر کي ځای ونيسي، چې اکثراً يې د جرمنيانو تر سوبې وروسته په لومړي سر کي خپل موجوديت جاري ساته. دغه عوضي قدرت نو پرته له دې څخه چې يو بل دولت وي، بل شی نه سوای کېدلای. په دې ډول نو لازمه وه، چې د بهيري نظام اورگانونه په دولتي اورگانو واوړي او د شرايطو د فشار په نسبت حتمي وه، چې دغه کار په ډېره چټکۍ سر ته ورسيږي. خو د فاتحو اقوامو لومړنی نماينده نظامي قوماندان وو. د نيول سوي خاوري داخلي او خارجي ساتني دا غوښته، چې د ده اختيارات او اقتدار ډېر زيات سي، خو هغه گړی نو را رسېدلی وو، چې نظامي مشري په پاچاهي باندي واوړي. دغه کار نو هم سر ته ورسېدی.

راسئ چې د فرانکيانو پاچاهي پسې را واخلو. دلته نه يوازي د رومي دولت پراخې کروندې، بلکي همدا رنگه د مځکې هغه گرده لويې لويې ټوټې، چې په غټو او کوچنيو گاو (Gau) او مارکي جمعيتو پوري نه وې تړل سوي، په تېره بيا گرده غټ ځنگلونه له يوه مخه د فاتحو ساليانو په لاس کي ولوېدې. د فرانکيانو پاچا چې د عادي نظامي قوماندان له حالته څخه د حقيقي پاچا مقام ته رسېدلی وو، لومړی يې دا کار وکړی، چې دغه د وگړو ملکيت يې په شاهي جايداد واړاوه، له خلگو څخه يې لوټ کړ او خپلو نوکرانو ته يې په انعام کي ور

وبخښي. دا د پاچا ډله په وار د واره کي د ده له شخصي نظامي نوکرانو او د فوج له نورو کوچني نایب سالارانو څخه جوړېده. خو په وروسته کي د دې ډلې شمېر خورا ډېر زیات سو. دا زیاتوب له یوې خوا د هغو رومیانو د ګډون له سببه راغی، چې د ګال اوسېدونکي وه او رومیان ځني جوړ سوي وه، په دې سبب چې د دوی خط زده وو، په تعلیم کي یې لاس درلودی، د روماني شفاهي او لاتیني ادبي ژبي سره شناخته وه او همدا رنګه په محلي حقوقي مقرراتو باندي پوهېدل، نو ژر تر ژره د پاچا لازمي ضمایم وګرځېدل، خو له بلي خوا د هغو مریانو مملوکینو (سرفانو) او آزاد سوو خلګو په شاملېدو سره راغی، چې د پاچا درباریان وه او د دوی له منځه څخه یې خپل خوښ کسان غوره کوله. دوی ټولو ته له عامه مځکي څخه ټوټې ور کول کېدې، چې په اول کي زیاتره د بخښښ په توګه وې، خو په وروسته کي د بینيفیس[۱] په ډول ور کول کېدې او دا ور کړه ابتداء په اکثره مواردو کي د پاچا تر ژونده وه. دغه شان نو د عامو وګړو د لوټېدو پر اساس د یوې نوي اشرافي طبقې خښته کښېښوول سوه.

خو خبره پر دغه ځای نه درېده. هغه دولت چې تر لیرو حدودو پوري یې ساحه غځېدلې وه، حکومتي اداره یې د زاړه بهیري نظام په وسایلو نه سوای کېدلای. د سرخېلو جرګه که څه هم لا نه وه منسوخه سوې، خو را ټولېدلای نه سوای او ژر د هغې ځای د پاچا دایمي ملتزمینو او مصاحبینو ونیو. هغه پخوانۍ اولسي اسامبله لا په ظاهره ځای پر ځای وه، لاکن تر ډېره حده د لښکري نایب سالارانو

۱- Benefices (بینيفیس) دا د هغو مځکنیو عطایاوو نوم دی، چې فرانکي پاچاهانو خپلو نوکرانو (ملتزمینو) ته د انعام په توګه ور کولې. –ت. هـ.

او نوو را پاڅېدونکو اشرافو يوه اسامبله ګرځېدلې وه. هغسې لکه رومي بزګران چې د رومي جمهوريت په آخر کې ويران سول، همدغه شان مځکه‌لرونکي آزاد بزګران چې د فرانکي اولس اصلي پرګنه يې تشکيلوله، د بادوامه داخلي شخړو او يرغلي جنګو؛ په تېره بيا د شارلمان نومي پاچا د زمانې د جنګو په سبب ولوېده او ډېر خوار و زار سول. دغه بزګران چې په لومړي سر کې يې ټوله لښکر تشکيلاوه او د فرانکي سيمو تر نيولو وروسته يې د لښکر هسته جوړوله، د نهمې پېړۍ په سر کې دونه خوار سول، چې نادر به د پنځو کسانو له جملې څخه يوه جنګي تجهيزات برابرولای سوای، چې په جګړه کې ګډون وکړي. د آزادو بزګرو د هغه پخواني لښکر پر ځای، چې مستقيماً د پاچا له خوا څخه جوړېدی، يو داسې لښکر منځ ته راغی، چې د نوو را پاڅېدونکو غټانو له نوکرانو (Servitors) څخه جوړ سوی وو. په لښکر کې بندګان هم شامل وه او دا بندګان د هغو بزګرانو اولاده وه، چې پخوا يې پرته له پاچا څخه بل بادار نه مانه او تر هغه پخوا يې ګردسره نه بادار او نه حتی هم پاچا مانه. د شارلمان د اخلافو په دوره کې فرانکي بزګر په بشپړه توګه سپېره سول، ځکه چې داخلي شخړې رواني وې، سلطنتي واک بې‌سيکه وو او له دې سره سم بډايو غټانو پر غاصبانه چپاول باندې لاس اچولی وو. د دې غټانو ډلې د منطقو د کنتانو (Gaugrafen) په شاملېدو سره لويې سوې وې او دا کنتان چې شارلمان جوړ کړي وه، غوښته يې چې خپلې چوکۍ موروثي کړي. په آخر کې د دې بزګرو خرابي د نورمانيانو (Normans) په بريدونو سره انتهايي ټکي ته ورسېده. د شارلمان تر مړينې پنځوس کاله وروسته د فرانکيانو امپراطوري د نورمانيانو په پښو کې په داسې

عاجزۍ ور ولوېده، لکه څلور سوه کاله دمخه چې رومي امپراطوري د فرانکیانو په پښو کې ور ولوېده.

نه یوازې دا چې د دباندې دښمنانو په مقابل کې کمزوري وه، بلکې داخلي اجتماعي نظم یا که په رښتیا وویل سي، بې‌نظمي یې تقریباً کټ مټ هغسې وه. آزاد فرانکي بزګران داسې حال ته ورسېدل، لکه د دوی تر مخ وګړي، یعنې رومي وابسته مستأجرین چې په وخت کې ور رسېدلي وه. دوی چې د جګړې او لوټمارۍ په سبب خراب سوي وه، نو مجبوره وه، چې د نوو غټانو یا کلیسا په حمایه پسې هڅه وکړي، ځکه د پاچا واکمنې دونه کمزورې او بې‌سیکه وه، چې د دوی حمایه یې نه سوای کولای. د دې حمایې د حاصلولو دپاره دوی مجبوره وه، چې ډېر قیمت تادیه کړي. لکه د دوی دمخه چې ګالي بزګران وه، دوی هم هغه شان مجبوره سول، چې په خپل لاس کې جایداد دې حامیانو ته تملیک کړي او همدغه خپل جایداد بیرته له حامیانو څخه د کښتګرو په توګه په بېلابیلو او مختلفو اشکالو واخلي، لاکن هر کله یې شرط دا وو، چې د خپل حامي او سرپرست خدمتونه به کوي او غمونه (مالیات) به ور تادیه کوي. کله چې د محتاجۍ او تابعیت دغه حالت ته را ټېل سول، نو یې ورو ورو خپله شخصي آزادي بایلوله او څو پښته وروسته له زیاترو څخه یې مملوکین جوړ سول. دا چې څونه ژر آزاد بزګران له منځه ولاړل، د دې خبرې اندازه د هغو مځکو د ثبت له دفترو څخه معلومېږي، چې د «سان‌ژیرمین‌دي‌پري» (-Abbey Saint germain des-pres) په معبد پوري د مربوطو مځکو په باب د ارمینون (Irminon) له خوا څخه تهیه سوي دي. دغه معبد په هغه وخت کې پاریس ته نژدې وو، خو اوس

د پاريس په ساحه کې داخل ګڼل کېږي. حتی د شارلمان د ژوند په زمانه کې د دغه روحاني مرکز پر پراخو املاکو باندې، چې ساحه يې تر ليرو نقاطو پورې غځېدلې او رسېدلې وه، هلته ۲۷۸۸ کهولونه پراته وه، چې تقريباً ټوله فرانکيان او نومونه يې جرمني وه. د دوی له جملې څخه ۲۰۸۰ کهولونه وابسته مستأجرين، ۳۵ کهولونه نيم‌وابسته بزګران (lites)، ۲۲۰ کهولونه مريان او صرف ۸ کهوله د آزاد ملکيت څښتنان وه. د بزګرانو له خوا خپل حامي ته انتقال سوې مځکه د عرف له مخې هغه د خپل ځان بلله او همدغه عرف وو، چې بزګرانو ته يې صرف د دوی تر ژونده پورې له مځکې څخه د استفادې حق ور کاوه. دا عرف چې د سالويانوس له خوا د يوې ګناه او غيرآلهي کار په شانې غندل سوی وو، اوس به خپله د کليسا له خوا څخه په هغو معاملاتو کې په عمومي ډول عملي سو، چې له بزګرو سره يې درلوده. د خپل بادار په وړاندې مطلق اطاعت، چې اوس يې زياتره رواج پيدا کاوه، د رومي انګاريا (angariae) يعنې د دولت دپاره د اجباري خدماتو له تشکيله سره دونه شباهت درلود، لکه څونه چې هغو خدماتو ته ورته وه، چې د پله، سړک جوړولو او نورو اجتماعي کارو په برخه کې به د جرمني مارک د غړو له خوا څخه په سر رسېدله. په دې ډول نو ګويا خبره داسې ايسېده، چې د خلګو لوی جمعيت تر څلور سوه کاله وروسته بيرته هغه ټکې ته راغی، له کومه څخه چې رهي سوی وو.

خو له دې څخه صرف دوې خبرې ثبوت ته ورسېدې: لومړی دا چې د ړنګېدونکې رومي امپراطورۍ په دوران کې اجتماعي طبقه‌بندي او د ملکيت توزيع د هغې زمانې د زراعت او صنعت په ساحو کې د توليد له رواني مرحلې

بشپړ مطابقت درلودی او نو ځکه چاره هم ځني نه وه. دوهم دا چي د توليد دغي مرحلې د څلورو سوو کالو په دوران کي چنداني اساسي تغير نه وو کړی، نو ځکه ارو مرو يې کټ مټ هغه څلور سوه کاله دمخه غوندي د ملکيت توزيع او کټ مټ هغه څلور سوه کاله دمخه غوندي د نفوسو طبقاتي تقسيم منځ ته را وستی. د رومي امپراطورۍ په وروستنيو پېړيو کي پر کلي باندي د ښار غلبه پای ته ورسېده او د جرمني حاکميت په لومړنيو پېړيو کي يې هغه غلبه بيرته په لاس را نه وړه. د دې وضعيت عامل نو ارو مرو دا وو، چي زراعت په يوه کښته مرحله کي پاته وو او صنعت هم پرمختګ نه وو کړی. د دغه شاني يو عام حالت نو دا لازمي نتيجه وه، چي غټ حاکم زميندارن او د دوی تر لاس لاندي تابع کوچني بزګران منځ ته را سي. دې کار تقريباً امکان نه درلود، چي د لاتيفونډيا پر اساس اقتصاد چي په غلامانه چوپړ چلېدی او يا هغه نوي د غټي پيمانې زراعت چي د مملوکينو په کار سر ته رسېدی، په يوه دغسي ټولنه پوري پيوند سي. د دې خبري ښکاره ثبوت د شارلمان هغه خورا ډېري تجربې دي، چي په خپلو هغو مشهورو امپراطوري صيفيو کي يې انجام کړي، چي ببخي له منځه ولاړې او هيڅ نخښه يې پر ميدان باندي پاته نه سوه. دغه تجربې يوازي د مذهبي مؤسساتو له خوا څخه وپالل سوې او يوازي د همدوی دپاره ګټوري وې، لاکن دا مذهبي مؤسسې غيرطبيعي او غيرعادي اجتماعي ټولۍ وې، چي پر رهبانيت او تجرد باندي ولاړي وې. دوی کولای سول فوق العاده نتيجې ور کړي، خو کټ مټ د همدې له امله مجبور وه، په خپله مستثنی پاته سي.

د دې ټولو خبرو سره سره د دغو څلورو سوو کالو په دوران کې پرمختګ هم سوی وو. که څه هم د دې څلورو سوو کالو په پای کې موږ بيرته کټ مټ هغه عمده طبقات پيدا کوو، لکه په سر کې چې يې موجود وه، خو سره له دې هم هغه وګړي، چې دغه طبقات يې تشکيلوله، تحول يې کړی وو. قديمه غلامي ورکه سوې وه. هغه بې‌وزلي آزاد خواران چې کار ته يې د غلامۍ د کار په سترګه کتله، همدا رنګه له منځه تللي وه. د روم د وابسته مستأجر او د نوي مملوک (سرف) په منځ کې آزاد (فرانکي) بزګر منځ ته راغلی وو. د ړنګېدونکي رومي دنيا «بې‌فايدې يادوني او عبث هلي‌ځلي» مړې سوي وې او تر خاورو لاندې سوي وې. د نهمې پېړۍ اجتماعي طبقاتو نه دا چې د ړنګېدونکي مدنيت په فضا کې، بلکې د يوه نوي راتلونکي مدنيت د لنګون د درد په حالت کې شکل اخيستی وو. د بادارانو او همدارنګه نوکرانو دا نوی نسل د خپلو رومي اسلافو په پرتله د رجالو نسل وو. د واکمنو زميندارو او چوپړ وهونکو بزګرو هغه روابط، چې د روميانو دپاره د زړې دنيا د حتمي زوال د افادې يو شکل وو، اوس د نوي نسل دپاره د يوه نوي انکشاف پيلامه وه. سربېره پر دې، دغه څلور سوه کاله که هر څومره بې‌هوده او بې‌اثره کلونه تصور هم سي، خو بيا يې هم يو غټ محصول تر شا پرېښود؛ هغه دا چې اوسني مليتونه، يعني د راتلونکي تاريخ دپاره يې د بشر د غربي اروپايي برخې نوي تشکيلات او نوي تقسيمات منځ ته را وستل. رښتيا هم جرمنيان وه، چې په اروپا کې يې د نوي ژوند ساه پو کړې وه او همدغه سبب دی، چې د جرمنيانو د تسلط په دوره کې د دولتونو منحل کېدو دا نتيجه ور نه کړه، چې د نورمانيانو او مسلمينو تر غلامۍ او اسارت لاندې را سي، بلکې

دا نتیجه یې ور کړه، چې د پاچا له خوا د مځکو د بخښښونو (بینيفیسونو) او حامیانو ته د سپارني تعاملاتو له خپل حالته څخه فیودالیزم ته انکشاف ور کړ او د نفوسو په زیاتوب کي یې یوه داسي زوروره اغېزه وښندله، چي تش دوې پېړۍ وروسته سره له هغه چي د صلیبي جنګو په اثر د وینو ولې وبهېدې، خو په نفوسو کي چنداني کمی احساس نه سو.

دا څه له اسرارو او رموزاتو څخه ډک تعویذ وو، چي د هغه په ذریعه جرمنیانو په مړه کېدونکې اروپا کي نوي ژوند پو کړ؟ آیا د جرمني نژاد هغه فطري ساحرانه قوت وو، لکه زموږ قومي شووینستي مؤرخین چي وایي؟ نه، خبره هیڅ‌کله داسي نه ده. البته جرمنیان یوه عالي بااستعداده قبیله وه، چي مخصوصاً په هغه زمان کي د غښتلي انکشاف تر جریان تېرېدله. دا د دوی مخصوصو ملي صفاتو ته نه ده منسوبه، چي اروپا ته یې نوی ژوند وباخښه، بلکي صرف د دوی بربریت او د دوی بهیري نظام وو، چي دا کار یې سر ته ورساوه.

د دوی شخصي کفایت او شجاعت، د دوی د آزادۍ مینه او د دوی ډموکراټیک فطرت، چي ټولي عامه چاري یې خپلي شخصي غوندي چاري بللې او لنډه دا چي د دوی ټوله هغه راز صفات، چي رومیانو له لاسه ور کړي وه او یوازي د همدغو صفاتو په مرسته کېدلای سوای، چي د رومي دنیا له مرداري څخه نوي دولتونه را تشکیل او نوي ملیتونه را ووځي؛ داسي ټوله خبري آیا پرته له دې څخه چي د بربریت د پورتنۍ مرحلې د انسانانو ممیزه خصوصیات و او د دوی د بهیري نظام ثمرات وه، بل شي ته منسوب کېدلای سي؟

دا چې دوی د وحدتي ازدواج قديمي شکل بل راز واړاوه او په کورنۍ کې يې د نر تسلط يو نرم حالت ته را وستی او ښځو ته يې د کلاسيکي زمانې تر وختو ډېر لوړ مقام ور کړی، نو آيا که د دوی بربريت نه وای او د دوی بهيري رسومات نه وای او د دوی د مورني حق د وختو لا پاته ژوندي آثار نه وای، نو پرته له دې څخه بل کوم شی دوی ته توان ور کولای سوای، چې داسي کارونه انجام کړي؟ که چيري دوی لږ تر لږه په هغو ډېرو مهمو درې هيوادو، لکه جرمني، شمالي فرانسه او انګلنډ کي دا وکړای سول، چې د سوچه بهيري نظام يوه برخه د مارکي جمعيتونو په شکل فيوډالي دولت ته ور ننباسي او هلته يې وساتي او په دې ډول يې نو مظلومي طبقې؛ يعني بزګرو ته، حتی د منځنيو پېړيو د خورا سختو سرواژي نظمونو په شرايطو کي محلي يووالی او د مقاومت وسايل په لاس ور کړه او دا هغه شيان دي، چې نه د لرغوني زمانې مريانو ته او نه د اوسنۍ زمانې پرولتاريا ته داسي تيار په لاس ورغلي دي؛ نو آيا د جرمنيانو دغه کارونه که د دوی بربريت او خاص بيا د دوی د بهير په حساب مېشته کېدو ته، چې د بربريت د دورې خاصه وه، منسوب نه سي، نو بل کوم شي ته منسوب کېدلای سي؟

د پای خبره دا ده، چې که دوی وکړای سول، چې د وابستګۍ هغه ملايم شکل ته دلته رواج ور کړي، چې په خپل هيواد کي يې عملي کاوه او په عام ډول يې هر چيري خپور کړي او همدې شکل تر ډېري اندازې د هغي غلامۍ ځای ونيوی، چې دمخه په روم کي باب وه. دا يو داسي شکل وو، چې د هغه په باره

کي وار د واره فوریه دا خبره تائید کړه، چي مظلومو خلګو ته یې هغه وسایل په لاس ور کړل، چي د یوې طبقې په توګه ورو ورو آزادي لاس ته راوړي
fournit aux cultivateurs des moyens d’affranchissement collectif )
[1](et progressif

او نو ځکه د دې شکل درجه تر غلامۍ ډېره لوړه وه، ولي چي په غلامۍ کي خو یوازي یو فرد ته د فرد په حیث بې‌له انتقالي حالت څخه د سمدستي آزادېدو لار خلاصه ده (په لرغونې زمانه کي داسي نه ده پېښه سوې، چي د غلامۍ نظام دي د بریالي بغاوت له لاري په یو ډول سره پای ته رسېدلی وي) په داسي حال کي چي د منځنیو پېړیو مملوکینو بیا د یوې طبقې په حیث مرحله پر مرحله خپله آزادي لاس ته راوړه. نو دا ټوله خبري د جرمنیانو د بربریت په پرته بل کوم عامل ته منسوب کېدلای سي؟ د دې خبرو وجه دا وه، چي جرمنیان د بربریت په دوره کي وه او د هغه له برکته یې تر اوسه لا نه د چوپړ پخوانۍ غلامي او نه هم د ختیځ کورنۍ غلامي پېژنده، ځکه په هیڅ شکل د مرئیتوب د نظام یوې بشپړي مرحلې ته لا رسېدلي نه وه.
ټوله حیاتي او ژوند بخښونکي شیان چي جرمنیانو په رومي دنیا کي ترزیق کړه، هغه بربریت ته منسوب وه. رښتیا هم یوازي بربریانو کولای سوای، چي هغي دنیا ته نوی ژوند وبخښي، چي د مړه کېدونکي مدنیت د زکندن په خواریو اخته وه. د بربریت پورتنۍ مرحله چي د اولسونو د مهاجرت تر زمانې پخوا جرمنیان

---

۱- د تجمیع تدریجي خلاصون دپاره زارعینو ته وسایل په لاس ور کوي.-ت. هـ.

هغې ته ورسېدل او ور هسک سول، د دغه جریان ډپاره خورا ډېره مساعده وه. د همدې ټکي له مخې څخه ټوله خبري روښانه کیږي.

# نهم څپرکی

# بربریت او مدنیت

# بربریت او مدنیت

د بهیري نظام د ړنګېدو جریان مو په درو غټو بېلابېلو مثالونو؛ یعنې یونان، روم او جرمني کې تر څېړنې لاندې ونیوی. اوس په خاتمه کې غواړو، چې هغه عمومي اقتصادي شرایطو وڅېړو، چې وختې یې لا د بربریت په پورتنۍ مرحله کې د ټولنې د بهیري نظام ړنګېدو ته پې اچولې وو او د مدنیت په ظهور یې په بشپړ صورت له منځه واخیست. د دې څېړنې دپاره د مارکس هغه کتاب، چې «کاپیټال» نومېږي، د مورګان د کتاب په اندازه ضروري دی.

بهیر چې د وحشت په منځنۍ مرحله کې منځ ته راغی او په پورتنۍ مرحله کې یې نور هم انکشاف کاوه، تر کومه ځایه چې موږ د موجوده ماخذونو له مخې حکم کولاب سو، د بربریت په کښتنۍ مرحله کې خپل پوره برم ته ورسېد؛ نو ځکه له دې مرحلې څخه به خپله څېړنه را پیل کړو.

په دغه مرحله کې، چې د هغې دپاره امریکایي سور پوستان موږ ته د مثال په حیث کار را کوي، وینو چې بهیري سیسټم پوره انکشاف ته رسېدلی دی. هلته یوه قبیله په یو شمېر بهیرونو او په زیاتره مواردو کې په دوو بهیرونو وېشل سوې وه. د نفوسو د زیاتېدو سره بیا دغه لومړني بهیرونه یو شمېر نورو بهیري پښو ته وېشل سوي وه، چې د دوی په نسبت مورني بهیرونه فریټري غوندي ښکارېدله. قبیله چې په خپل ځان کې یو شمېر قبیلو ته جلا سوې وه، چې په هره یوه کې زیاتره ځایونه پخواني بهیرونه

بیا هم لیدل کېدله. د قبیلو کانفدریسي، لږ تر لږه په ځینو مواردو کي قومياني قبیلې سره متحدي کړي وې. دې ساده تشکیل د هغو اجتماعي اوضاعو د اداري دپاره چي دی ځني را پیدا سوو، پوره کفایت کاوه. دا تشکیل په دغه شرایطو پوري یو مختص طبیعي انکشاف موندلی ترکیب دی او دا یې کولای سوای، چي ټوله هغه داخلي شخړي هواري کړي، چي امکان یې درلوده په یوه دغسي جوړه سوې ټولنه کي را پورته سي. خو د خارجي چارو په ساحه کي شخړي په جګړه فیصله کېدې او دا جګړه په داسي ډول پای ته رسېده، چي یوه قبیله به یو مخیزه نابوده سوه، خو داسي هیڅ نه پېښېده، چي په غلامۍ کي به راغله. د بهیري نظام عظمت او په همدې وخت کي یې محدودیت پر دې خبره بناء وو، چي نه یې د حاکم او نه یې د محکوم دپاره ځای درلود. د داخلي چارو په ساحه کي یې لا د حقوقو او وظایفو تر منځ فرق نه وو راغی. یو سور پوست هیڅکله له دې سواله سره نه مخامخ کېدی، چي آیا په عامه چارو کي برخه اخیستل، د ویني غچ کښل یا ټپ جبیره کول حق ګڼل کیږي او که وظیفه. داسي سوال به ده ته دونه چټي معلومېدای، لکه چا چي ویلي وای، خوړل، بیدېدل او ښکار کول، یا د حق له جملې څخه دي او که وظیفه ګڼل کیږي؟ کومي قبیلې یا بهیر همدا رنګه نه سوای کولای، چي مختلفو طبقاتو ته سره جلا سي. د دې سلسلې خبري مو نو دې خوا ته

لاربښوونه کوي، چې د دغو حالاتو او شرايطو اقتصادي بنسټ يې تر څېړنې لاندې ونيسو.

نفوس بېخي څنګه (پاشلی) او تيت پراته وه. دوی يوازې د قبيلې په هغه اصلي ټاټوبي کې ګڼ اوسېدل، چې شاوخوا يې د ښکار پراخې سيمې پر را ګرځېدلې وې. تر دې سيمو هاخوا ته بيا ايله او بې‌مالکه دفاعي ځنګل پروت وو، چې دا قبيله يې له نورو قبيلو څخه ګوښې (جلا) ساتله. د کار تقسيم يو سوچه او طبيعي شکل درلود. دا تقسيم يوازې د دوو جنسو په منځ کې موجود وو؛ نارينه جنګ ته وتله، ښکار يې کاوه، کبان يې نيول، د غذا دپاره يې اومه مواد برابرول او د دغو کارو د اجراء دپاره يې لازم آلات سربښته کوله. ښځو د کور پالنه کوله، ډ،ډی او کالي يې برابرول؛ يعنې پخلنګ، اودنې او ګنډنې د دوی له خوا څخه په سر رسېدلې. هر يوه يا هري يوې د خپل کار او فعاليت د ساحې واک په لاس کې درلود: نران په ځنګله کې او ښځې په کور کې د خپل کار پوره کالخوايه وې. په هر يوه يا هري يوې پوري د هغو آلاتو مالکيت اړه درلوده، چې ده يا دې به جوړوله او کار به يې ځنې اخيست؛ نارينه‌وو وسلې، د ښکار او ماهيګيرۍ اسبابونه جوړول او استعمالوله، ښځو د کور شيان او لوښي تيارول او استعمالوله. کهول اشتراکي وو، چې يو شمېر او يا ډېر ځله زياتې کورنۍ به يې احاطه

کولې.[۱] هر څه چي په ګډه تولید کېده او استعمالېده، لکه سرای، باغ او اوړده کښتۍ؛ هغه په مشترک ملکیت کي واقع وه. دلته او یوازي هم دلته نو هغه ګټلې جایداد (Earned Property) وینو، چي د متمدني ټولني حقوق پوهانو او اقتصاد پوهانو له ځانه کړی دی او دا هغه آخرینه کاذبه قانوني پلمه ده، چي پر هغې دباندي اوسنی سرمایه‌دارانه ملکیت ولاړ دی.

خو انسانان په هر ځای کي هم په دې مرحله کي تم نه سول. په آسیا کي یې هغه حیوانات لاس ته راوړل، چي هم اهلي کېدله او هم یې نسل ډېرېدلای سوای. وحشي ګامېښه یې د ښکار له لاري په لاس کښېوتله. اهلي غوا په کال کي یو سخوندر زېږاوه او همدارنګه یې شیدې ور کولې. یو شمېر قبیلې، لکه آریایان، سامیان او همدا ډول تورانیان (Turanians) چي خورا ډېر پرمختګ یې کړی وو، لومړی د حیواناتو اهلي کېده او صرف بیا تر هغه وروسته یې د څارویو د نسل ډېرښت او پالنه خپل اساسي کار وګرځاوه. چوپاني قبیلو نو خپل ځانونه د بربریانو له عمومي پرګنې څخه را جلا کړل: دا د کار لومړی غټ اجتماعي تقسیم وو. دغه چوپاني قبیلې نه یوازي دا چي د غذا ډېر مواد یې تولیدوله، بلکي همدا رنګه یې نسبت

---

۱ - دغه وضعیت په تېره بیا د امریکا د شمال غربي ساحل د اولسونو دپاره واقعیت لري؛ دلته د بینکروفټ کتاب وګورئ. د ملکې شارلوت په جزیرو کي (Queen Charlotte Islands) د هایډانو (Haidas) تر منځ ځیني کهولونه، چي د غړو شمېر یې اووه سوه ته رسیږي، تر یوه چت لاندي سره را ټولیږي. د نوټکایانو (Nootkas) تر منځ بسته قبیلې تر یوه چت لاندي اوسېدلې.

تر نورو بربريانو د محصولاتو مختلف او زيات متنوع اقسام تهيه کوله. دوی نه يوازي دا چي شيدې، د شيدو محصولات او غوښي تر نورو ډېري درلودې، بلکي همدا رنګه يې پوستکي، وړۍ او وزغني، سپڼسي او ټوکران هم درلوده، چي د اومو موادو د مقدار له زياتېدو سره يې د عامي استفادې ساحه پراخېدله. دغه جريان نو د لومړي پلا دپاره د منظمي مبادلې امکانات برابر کړل، خو په دمخنيو مرحلو کي مبادله يوازي کله ناکله کېدلای سوه. د وسلو او آلاتو په جوړولو کي خاص او استثنايي مهارت د کار موقتي تقسيم ته لار خلاصولای سوای. دغه دليل دی، چي د توړلي ډبري د عصر د ډبرينو آلاتو د جوړولو د کارخانو له شکه وتلي پاته آثار په ډېرو ځايو کي پيدا سوي دي. هغه ماهران چي خپل استعداد يې په دې کارخانو کي روزلی وو، غالباً يې د جمعيت په حساب او د ټول جمعيت په ګټه کار کاوه، لکه د هندي بهيري جمعيتونو دايمي لاسي صنعت‌کاران چي يې لا اوس هم کوي. په هر صورت، په دې مرحله کي پرته له هغې مبادلې څخه، چي په قبيله کي دننه کېده، بله مبادله منځ ته نه سوای راتلای او حتی دغي مبادلې هم يو نادر او استثنايي حالت درلود. خو چوپاني قبيلې چي را ووتلې او تبارز يې وکی، نو تر هغه را وروسته دلته هغه ټوله شرايط وينو، چي د مختلفو قبيلو د غړو په منځ کي يې د مبادلې او د هغې د نور انکشاف او د يوې مؤسسې په حيث د هغې د ټينګېدو دپاره زمينه مساعده کړه. په دې وخت کي د يوې قبيلې مبادله له بلي

قبیلې سره د مربوطو بهیري مشرانو له خوا څخه سر ته رسېدله. خو کله چې رمو او ګلو دې ته مخه کړې وه، چې د وګړو په ځان‌ته ځان‌ته ملکیت کې را سي، نو د افرادو په منځ کې مبادله نوره او نوره پسې ډېرېده، څو په نتیجه کې مطلق معمول وګرځېده. څاروي هغه اساسي متاع وه، چې چوپاني قبیلو د مبادلې دپاره خپلو ګاونډیانو ته وړاندې کوله. څاروي هغه تجارتي (مال) وګرځېد، چې د ده له مخې نورو ټولو اموالو ته قیمت ایښوول کېدی او هر چیري په سهولت سره د نورو مالو په مبادله کې اخیستل کېدی. لنډه دا چې څارویو د روپو په شکل وظیفه اجراء کوله او وختې یې لا په دغه مرحله کې د پیسو په شان کار ور کاوه. د مالي مبادلې په بېخې ابتداء کې د همدغه ضرورت له مخې په ډېر سرعت دا تقاضا منځ ته راغله، چې باید یوه داسې خاصه متاع را پیدا سي، چې د هغې په وسیله د مبادلې چاري سر ته رسول کیږي؛ یعنې پیسې.

باغي کرهڼه، چې غالباً د کښتنۍ مرحلې آسیایي بربریان نه په پوهېده، د دوی تر منځ لږ تر لږه په منځنۍ مرحله کې د کښت د کرهڼې د مقدمې په حیث منځ ته راغله. د توران د لوړو سیمو (Turanian Highlands) اقلیمي شرایطو د چوپاني ژوند دپاره پرته له دې څخه چې د اوږده او سخت ژمي د ایستلو دپاره د علفو آذوقه ولري، په بل ډول نه وه مساعد، نو ځکه د چمنانو او غلې کرهڼه حتمي وه، چې دلته باید وسي. د توري بحیرې د شمالي دښتو په باب کې هم خبره دغه شاني وه. کله چې غله

د څارويو دپاره وکرل سوه، نو د بشري غذا په حيث هم ژر تر استفادې لاندي راغله. د کرهڼي مځکه چي تر دې وخته لا په قبيلوي ملکيت کي پاته وه، لومړی يې په بهير پوري تخصيص پيدا کړی او وروسته يې بيا د کهولي جمعيتونو د استفاده دپاره توزيع کړه او په آخر کي يې افرادو ته ور جلا کړه. دوی البته د تصرف ټاکلي حقوق درلودلای سول، خو تر دې پورته خبره په منځ کي نه وه.

د صنعتي فعاليت په ساحه کي د دغي مرحلې د بريالیتوبونو له جملې څخه دوه يې خاص اهميت لري؛ لومړی د اودلو (کنډي) او دوهم د اومو فلزي موادو ويلول او له فلزاتو څخه شيان جوړول. مس، قلعي او د دوی مخلوط (برونز) د فلزاتو له جملې څخه ښځي مهم فلزات وه، له برونز څخه ګټور آلات او وسلې تيارېدلې، لاکن د ډبري آلات يې نابابه نه کړه، دا نابابه کېده صرف اوسپني کولای سوای، خو د هغې په توليد لا تر اوسه څوک نه پوهېده. سره او سپين زر دې حال ته رسېدلي وه، چي د ګينو او تزيين دپاره کار ځني واخيستل سي او ظاهراً په هم هغه وخت کي يې نسبت تر مسو او برونزو ډېر لوړ ارزښت درلود.

په ټولو څانګو، يعني د څارويو په روزلو، زراعت او کورنيو لاسي صنايعو کي د توليد زياتوب د بشر د کار قوې ته دا توان ور کړی، چي د ځان د ساتني تر ضرورت بالا توليد وکړي. په همدې وخت کي دغه جريان د هغه کار اندازه ډېره کړه، چي د بهير يا کهولي جمعيت يا انفرادي کورنۍ د هر غړي

په ونډه به سرېسر په ورځ کي ور رسېدله. د کار د قوې د زیاتېدو اړتیا منځ ته راغله. دا قوه د جنګ له لاري زیاته سوه، ځکه د جنګ له بندیانو څخه مریان تهیه سول. د هغي زمانې تر عمومي تاریخي شرایطو لاندي، د کار لومړی غټ اجتماعي تقسیم د دې عامل سو، چي د کار د تولیدي ظرفیت، یعني ثروت د زیاتېدو او د تولید د ساحې د پراخېدو له لاري یې په لازمي صورت سره غلامي منځ ته را وسته. د کار له لومړي غټ اجتماعي تقسیم څخه د ټولني لومړی غټ تقسیم را ووتی، چي ټولنه یې په بادارانو او مریانو، په استثماروونکو او استثمارسوو دوو طبقاتو ووېشله.

دا خبره چي څرنګه او کله رمې او ګلې د قبیلې یا بهیر له اشتراکي ملکیته ووتلې او د بېلابېلو کورنیو د مشرانو ملکیت وګرځېدې، تر دې ورځي پوري موږ ته نه ده معلومه. لاکن دا ویل کېدلای سي، چي دغه کار تر ډېري اندازې په همدغه مرحله کي سر ته رسېدلی دی. رمو او د ثروت نوو شیانو په کورنۍ کي یو انقلاب منځ ته را وستی. د روزۍ برابرېده هر کله د نر کار وو او نو ځکه د دې کار د پوراینې دپاره یې وسایل جوړوله او هم د دې وسایلو مالک ګڼل کېدی. رمې او ګلې د روزۍ د سربښتې نوي وسیلې وې او د دوی وار د واره اهلي کېده او بیا ور پسي پالنه یې د ده پر غاړه پرته وه. په دې اساس نو نر د مواشیو او همدا رنګه د هغو مالونو او مریانو مالک وو، چي د مواشیو په مبادله کي یې لاس ته راوړه. د محصولاتو ټوله هغه اضافي برخه، چي اوس له تولیده څخه زیاتېده، په نر یې اړه درلوده. خو

ښځي د توليداتو په استهلاک کي ونډه اخيسته، اما د هغو په مالکيت کي يې ونډه نه درلوده. وحشي، جګړه‌مار او ښکاري په دې سر کښته کړی وو، چي په کور کي دوهم مقام ولري او اوليت ښځي ته ور کړي. خو زياتره حليم شپانه د خپل ثروت په جسارت لومړي مقام ته زور واهه او ښځه يې مجبوره کړه، چي دوهم مقام ته را تر شا سي. ښځي شکايت نه سوای کولای، ځکه په کورنۍ کي د کار تقسيم د مېړه او ماينې تر منځ جايداد په لازمي ډول سره وېشلی وو. د کار دغه تقسيم په کور کي پر خپل حال پاته وو، خو څه رنګه چي اوس تر کورنۍ دلاندي د کار تقسيم تغير خوړلی وو، نو د کورنۍ دمخنۍ رابطه يې سرچپه را واړوله. کټ مټ هغه علت، چي دمخه يې ښځي ته په کور کي فوقيت ور کړی وو، يعني دغه عامل چي په دې پوري خاص کورني کار اړه درلوده، اوس يې په کور کي د نر دپاره فوقيت تامين کړئ: د ښځي د کور کار د نر د روزۍ د برابرولو د کار په مقابل کي خپل اهميت بايلووی، د نر د روزۍ د برابرولو کار خورا غټ کار وګڼل سو او د ښځي د کور کار خوشي يو بې‌اهميته شی تلقي سو. دلته نو موږ له وختي څخه لا دا خبره وينو، چي د ښځو آزادي او له نرو سره يې مساوات تر هغه وخته ناممکن دي او ناممکن به پاته وي، تر څو چي ښځي له اجتماعي توليدي کاره څخه وتلي وي او يوازي د کور کار، چي يو شخصي چوپړ دی، په غاړه کي يې پروت وي. د ښځو آزادي صرف په هغه وخت کي امکان پيدا کوي، چي دوی وکړلای سي، په هغه توليد

کي برخه واخلي، چي په لویه اجتماعي پیمانه اجراء کیږي او کورني وظایف یې داسي حال ته را ورسیږي، چي له دوی څخه خورا لږ پاملرنه وغواړي. د داسي حالت امکانات نو صرف د اوسنۍ زمانې د لویي پیمانې د صنعت په نتیجه کي را پیدا کیږي، ځکه دا صنعت نه یوازي ښځو ته دا زمینه برابروي، چي په خورا ډېره پیمانه په تولید کي برخه واخلي، بلکي عملاً دا ایجابوي، چي ښځي د اجتماعي تولید په ساحه کي را گډې سي او سربېره پر دې زور وهي، چي د کور شخصي چوپړ همدا شاني په یو عامه ټولنیز کار کي حل کړي.

په کور کي چي د نر واقعي سلطه قایمه سوه، نو د ده د مطلق العنانۍ په مخ کي آخري خنډ هم له منځه ووتی. دا مطلق العناني د مورني حق په زوال د پلارني حق په راوتلو او له جوړه‌یي کورنۍ څخه مونوگامۍ ته د تدریجي انتقال په سبب ټینگه سوه او دوام یې پیدا کړی. دې جریان نو په زاړه بهیري نظام کي درز وکړی. مونوگامي کورنۍ یو قوت وگرځېده او په تهدیدوونکي ډول د بهیر په مقابل کي منځ ته راغله.

بل قدم نو موږ د بربریت پورتنۍ مرحلې ته راولي او دا هغه دوره ده، چي په هغې کي ټوله مدني اولسونه د قهرمانۍ په عصر کي ژوند کوي؛ دا هم د اوسپني د توري او همدا رنگه د اوسپني د لور او کهې دوره ده. اوسپنه د انسان خادمه سوه او که موږ پټاټې (کچالو) له حسابه وباسو، نور نو د هغو ټولو اومو موادو په جمله کي، چي په تاریخ کي یې یو انقلابي رول

بازي کړې دي، اوسپنه بېخي مهمه او اساسي ماده بلل کیږي. اوسپنې د غښې پیمانې کښتونه او د کرلو دپاره د ځنګلي سیمو پاکول ممکن کړه. د صنعت‌کارو په لاس یې داسې ټینګ او تېره افزار ور کړې، چې نه ډبرې او نه بل معروف فلز له هغه سره مقاومت کولای سوای. ټوله دغه چاري تقریباً ورو ورو په سر ورسېدې. د اوسپنې لومړني شیان زیاتره تر برونزو پاسته وه، نو ځکه د ډبرې وسلې په کراره کراره نابابه سوې. د ډبرې کهي لا نه یوازي په هغه جګړه کي استعمالېده، چي «د هلیډې براندۀ په غزل» کي یې بیان راغلی دی، بلکي په ۱۰۶۶م. کال کي د هاسټینګس (Hastings) په جګړه کي هم کار ځني اخیستل سوی دی. خو ترقي اوس د مخ د را ګرځېدو وتلې وه، وقفه لږ پکښې پېښېده او چټکي یې ډېره وه. ښارونه چي د برج لرونکو او تیرکښ لرونکو ډبرینو کلاوو په دننه کي یې د ډبرې یا خښتي کورونه احاطه کوله، د قبیلې یا د قبیلو د کانفدریسۍ مرکزي ټاټوبی ګرځېدلی وو. دغه ښارونو نو له یوې خوا د تعمیر په هنر کي د چټکي ترقۍ شاهدي ور کوله، خو له بلي خوا د یوه لوی خطر علامه هم وه او ساتنه یې غوښته. ثروت په بېړه زیاتوب کاوه، لاکن دا ثروت د ځانګړو کسانو انفرادي ثروت وو. د ټوکرانو اودلو په فن کي او هم په فلزي کارو او نورو صنایعو کي، چي ورځ په ورځ یې د مهارت تخصصي جنبه ډېرېدله، نو د دې ځانګو د پیداوارو په تنوع او هنري ډولیتوب کي هم زیاتوب راتلی. د کرهڼې په سلسله کي نو اوس نه یوازي غلې، حبوبات او مېوه‌جات تهیه

کېده، بلکي همدا رنگه تېل او شراب، چي د هغو تيارېده اوس زده سوي وه، هم سربښته کېدله. دغسي رنگارنگ فعاليتونه نور نه سواى کېدلاى، چي ټوله دي له يوه سره د يوه فرد له خوا څخه اجراء سي. له دې جهته نو د کار دوهم غټ تقسيم منځ ته راغی؛ يعني لاسي صنايع له کرهڼي څخه را جلا سوه. د توليد بادوامه زياتوب او له هغه سره د کار د توليدي ظرفيت ډېرښت د بشر د کار د قوې ارزښت زيات کړی. غلامي چي په دمخنۍ مرحله کي تازه زېږېدلې وه او خال خال ليدل کېده، اوس د اجتماعي نظام يوه اساسي برخه وگرځېده. د غلامانو دا حالت پای ته ورسېدی، چي تش کومکيان به وه، بلکي اوس دوی په ډلو ډلو را ټېل سول، چي په کښتونو او کارخانو کي کار وکړي. توليد چي د کرهڼي او لاسي صنايعو په دوو غټو څانگو کي ووېشل سو، نو د دې جريان سره سم د مبادلې دپاره توليد، يعني د مالونو توليد منځ ته راغی. له دې توليد سره نو تجارت را پيدا سو، چي نه يوازي په داخلي او په قبيلوي حدودو کي دننه کېدی، بلکي همدا رنگه د سيندونو تر پوري خواوو پوري وغځېد. خو دې ټولو خبرو لا تر اوسه ډېر انکشاف نه وو. قيمتي فلزانو د داسي پولي جنس په توگه اهميت پيدا کړی وو، چي له هره شي سره مبادله کېدله، لاکن تر اوسه لا سکه نه وه پر وهل سوې او يوازي د تش وزن له مخي مبادله کېدله.

د ساهوگانو او مريانو په منځ کي پر فرق سربېره د بډايانو او خوارانو په منځ کي فرق را پيدا سو او د کار د نوي تقسيم سره ټولنه نوو طبقاتو ته ووېشل

سوه. د کورنيو د بېلابيلو مشرانو تر منځ د ثروت تفاوت د دې سبب سو، چي زاړه اشتراکي کهولي جمعيتونه، چي تر هغه وخته لا يو چيري پاته وه، له منځه واخلي او دې حالت نو د جمعيت پر اساس د مځکي ګډه کرهڼه پای ته ورسوله. د کرهڼي مځکه د يو شمېر کورنيو د استفادې دپاره وټاکل سوه او دا ټاکنه په لومړي سر کي د محدود وخت دپاره وه او وروسته يې بيا دايمي شکل واخيستی. بشپړ خصوصي مالکيت ته انتقال ورو ورو او له جوړه‌يي کورنۍ څخه مونوګامي ته د انتقاله سره سم په يوه وخت کي په سر ورسېد. انفرادي کورنۍ نو په دې شروع وکړه، چي د ټولني اقتصادي يونټ وګرځي.

د نفوسو زيات سوي ګڼوالي دا ايجاب کړه، چي دوی هم په داخلي لحاظ او هم په خارجي لحاظ بېخي نژدې يووالی سره ولري. هر چيري د قوميانو قبيلو فدراسيون ته ضرورت پيدا سو او تر دې وروسته نو ژر په ژره د دوی يو په بل ګډېده ضروري سوه او بيا نو بېلابيلي قبيلوي سيمي سره ګډې سوې او د يوه اولس واحده منطقه ځني جوړه سوه. نظامي قوماندان (rex, basileus, thiudans) يو لازمي او دايمي وظيفه‌دار وګرځېد. چيري چي اولسي اسامبلې لا تر هغه منځ ته نه وې راغلي، هلته جوړي سوې. نظامي قوماندان، جرګې او اولسي اسامبلې د هغې بهيري ټولني اورګانونه تشکيل کړه، چي نظامي ډموکراسۍ ته يې انکشاف را کړی وو. دا نظامي ډموکراسي وه، ځکه جنګ او د جنګ دپاره تشکيلات نو اوس د خلګو د

ژوند اساسي وظايف وګرځېده. د خپلو ګاونډيانو ثروت د هغو خلګو سرابښي را ولمسوله، چې دوی په دې شروع کړې وه، چې د ثروت را ټولول د ژوند له زبده مقاصدو څخه وګڼي. دوی بربريان وه؛ دوی ته تر توليدي کار داړه آسانه وه او حتی تر هغه ښه ورته ايسېدله. جنګ چې يو وخت خاص د يرغل په مقابل کې د غچ اخيستو دپاره کېدی او يا د دې دپاره يو وسيله وه، چې د هغې خاوري سيمه پراخه کړي، چې کفايت به يې نه کاوه، اوس صرف د داړه‌مارۍ او لوټمارۍ دپاره يو اساسي کسب ګرځېدلی وو. نو ځکه دا يو چټې او خوشي کار نه وو، چې د نوو تحکيم سويو ښارونو پر شاوخوا باندي هيبتناکه لوړ دېوالونه را ګرځېدلي دي؛ د دوی پر ګرداورده خندقان په اصلي وضع کې د ښيري اصولو قبرونه سول او د دوی برجان د تمدن څوکو ته رسيږي. د ټولني داخلي چاري هم په همدغه شان تر تحول لاندي وې. د لوټمازۍ او داړه‌مارۍ جګړو د عالي نظامي سالارانو او همدا رنګه نايب سالارانو اقتدار ور زيات کړی. له يوې ټاکلي کورنۍ څخه د دوی د اخلافو انتخاب، چې د تعامل په اساس سر ته رسېدی، خاص بيا د پلارني حق د را وتلو سره ورو ورو په موروثي سلطه واوښتی. دا سلطه چې وار د واره د خلګو له خوا وزغمل سوه، وروسته يې غواړي او بالآخره يې غصبوي. په دې ډول نو د موروثي سلطنت او موروثي اشرافيت خښته کښېښوول سوه. له دې لاري څخه نو د ښيري نظام اورګانونه ورو ورو په اولس، ښير، فريټري او قبيله کې له خپلو ريښو وختله او ټوله ښيري نظام

پر دا بله خوا را واوښتی؛ د قبیلو هغه تشکیل، چې د خپلو چارو د آزادي اداري دپاره يې را ایستلی وو، د داړه ماری او خپلو ګاونډیانو د ځورولو په یو تشکیل واوښتی. له دې سره سم نو د هغه تشکیل اورګانونه له دې حالته څخه، چې د خلګو اراده يې تمثیلوله، په دې حالت واوښته، چې په خپله پر دغو خلګو باندي د ظلم کولو او حکومت کولو مستقل اورګانونه ځني جوړ سوه. که د ثروت دپاره سرابښی د بهیر غړي پر بډای او خوار باندي نه وای سره وېشلي، که «په بهیر کي د جایداد تفاوتونو د بهیر د غړو تر منځ د مفاد توحید په تخاصم نه وای اړولی» (مارکس) او که د غلامۍ د ترویج په نتیجه کي په خپلو متو د روزۍ د برابرولو کار د مرئي لایقه چاره، داسي چاره چې تر داړه‌ماری ننګینه ده، نه وای منل سوې، نو نه سوای کېدلای، چې داسي خبري پېښي سي.

***

د دې جریان په سلسله نو اوس موږ د مدنیت دروازې ته دریږو. دا مرحله په دې سره را شروع کیږي، چې د کار په تقسیم کي نور پرمختګ منځ ته راغی. په کښتنۍ مرحله کي انسانانو صرف د خپلو ممستقیمو اړتیاوو د پوره کولو دپاره تولید کاوه او کله کله چې به حاصلات اتفاقاً تر ضرورت زیات سوه، نو وخت ناوخته به مبادله کېدله. د بربریت په منځنۍ مرحله کي وینو، چې چوپاني اقوامو د څارویو په صورت کي د ملکیت یو داسي شکل درلود، چې د رمو او ګلو له ټاکلي مقدار څخه يې په منظم ډول تر

خپلو ضروریاتو علاوه اضافي محصولات تهیه کوله او همدارنګه وینو، چي د چوپاني اقوامو او بیرته پاته قبیلو، چي رمې یې نه درلودې، په منځ کي د کار یو تقسیم موجودیت درلود. په دې اساس نو هلته د تولید دوې مختلفي مرحلې اړخ پر اړخ رواني وې، چي د منظمي مبادلې دپاره یې شرایط منځ ته را وسته. د بربریت پورتنۍ مرحلې د کرهڼي او لاسي صنایعو په منځ کي د کار تقسیم نور هم زیات کړ او دې جریان دا نتیجه ور کړه، چي د هغو مالونو تولید، چي خاص د مبادلې په نیت سر ته رسېدی، پرله پسې زیاتوب کاوه، څو چي نو د انفرادي مولدینو په منځ کي مبادله داسي ټکي ته ورسېده، چي د ټولني دپاره حیاتي ضرورت وګرځېده. مدنیت نو هغه تقسیمات، چي د کار په ساحه کي منځ ته راغلي وه، نور هم ټینګ کړه او زیاتوب یې پکښي را وستی. په تېره بیا دغه کار هغه وخت سر ته ورسېد، چي د ښار او کلي تر منځ توپیر (یا هغه راز چي ښار په اقتصادي لحاظ پر کلي تفوق درلود، لکه په لرغوني زمان کي او یا هغه شان چي کلي پر ښار تفوق درلود لکه په منځنیو پېړیو کي) د شدت حال ته ورسېد. په دې لړ کي نو د کار د تقسیماتو په سلسله کي اضافه سو، یعني مدنیت یوه داسي طبقه موجوده کړه، چي په تولید کي یې هیڅ برخه نه اخیسته، خو یوازي د تولیداتو د مبادلې په چارو اخته وه. دا نو د سوداګرو طبقه وه. تر دې مهاله پوري د طبقاتو د تکوین سببونه په مطلق ډول له تولیده سره تړلي وه. د دغو سببونو نتیجه دا سوه، چي په رهبرانو او مجریانو او هم په

لویو او کوچنیو مولدینو باندي په تولید کي د مصروفو وګړو وېش را پیدا سو. لاکن اوس دلته د لومړي پلا دپاره یوه داسي طبقه منځ ته را ځي، چي هغه په تولید کي هیڅ برخه نه اخلي، اما له یوه مخه د تولید اداره په خپل لاس کي نیسي او مؤلدین په اقتصادي لحاظ تر خپل حاکمیت لاندي راولي. دا یوه داسي طبقه ده، چي د منځګړي په توګه په حتمي او لازمي صورت د دوو مؤلدو ډلو په منځ کي ځان را اچوي او دواړي خواوي استثماروي. په دې پلمه چي مؤلدین د مبادلې له تکلیف او خسارې څخه وساتي او په دې پلمه چي هغه د خپلو پیداوارو د خرڅولو دپاره د لیرو بازارو د پیدا کولو له سرګردانۍ څخه وژغوري، نو په ټولنه کي ځان یوه ډېره ګټوره طبقه ګڼي. خو په اصل کي د طفیلي عناصرو یوه طبقه ده، چي سوچ اجتماعي مفت‌خواره دي او د هغو کارو په بدل کي، چي حقیقتاً ډېر بې‌اهمیته کارونه دي، په داخل او خارج کي د تولید پیروی (قیماق) ټولوي او په چټکۍ سره فوق العاده ثروت را غونډوي او له دې سره سم اجتماعي نفوذ پیدا کوي او په همدې دلیل نو هر کله د مدنیت په دوران کي نوي عزتونه حاصلوي او پر تولید باندي خپل زیاتېدونکی کنټرول په لاس راولي، څو په آخر کي په خپله هم یو تولید وکړي، چي هغه متناوب تجارتي بحرانونه دي.

د انکشاف په دغه مرحله کي چي زموږ تر خبرو لاندي ده، پر ځوانه سوداګره طبقه باندي د هغو لویو خبرو هیڅ نخښي نه وې معلومي، چي

په دې طبقه کي پټې وې او وروسته د دې پر لاس باندي راغلې. خو دې طبقې ځان ته شکل پیدا کړی او خپل موجودیت یې حتمي وګرځاوه او دا هم کافي کار وو، چي په سر یې ورساوه. خو له دې سره یو ځای فلزي پیسې، چي سکه پر ووهل سوه، تر استعمال لاندي راغلې او دا نو یوه داسي نوې وسله وه، چي د هغې په مرسته نامؤلد وکړای سول، چي پر مؤلد او د هغه پر تولیداتو باندي حاکمیت وکړي. دا د ټولو مالونو پر ځای مبادله کېدونکی مال چي کشف سو، نور ګرده مالونه په خپل ځان کي دننه پټ ساتي او دا هغه د جادوګرۍ طلسم دی، چي څنګه وغواړي او خوښه یې وي، هغسي خپل ځان تبدیلولای سي. دغه شی چي هر چا په لاس کي درلودی، هغه د تولید پر نړۍ حکومت کاوه او دا نو څوک وو، چي دغه شی یې تر نورو ټولو زیات په لاس کي درلودی؟ دا سوداګر وو! د ده په لاس کي د پیسو نمانځنه خوندي وه. ده زیار ایستی، دا خبره روښانه کړي، چي ټوله مالونه او له همدې جهته د مالو ګرده مؤلدین باید د پیسې په مخ کي سر پر خاورو باندي کښته کښېږدي او سجده ورته وکړي. ده په عمل کي ثابته کړه، چي د ثروت نور ټوله شکلونه د ثروت د دغه تجسم یعني پیسې په مقابل کي تش تمثالونه دي. د پیسې قدرت د خپلي ځوانۍ په دوره کي داسي د ابتدایي خامۍ او شدت مخ ښکاره کړی، چي تر هغه را په هیسته یې بیا نه دی ښکاره کړی. د پیسې په مقابل کي د مالونو د خرڅېدو تر سلسلې وروسته د پیسو پور منځ ته راغی، چي د ګټې

او سود (سلاپور) خبره هم ور سره وه. د وروستنۍ زمانې هيڅ قانون پوروړی په دونه بېرحمۍ او بېچارګۍ سره د سودخور په پښو کي نه اچوي، لکه څونه چي يې د لرغوني آتن او روم قوانين ور اچوي او د دې دواړو ځايو قوانين خود په خوده منځ ته راغلي عرفي او تعاملي قوانين دي، چي پرته له اقتصادي جبره بل عامل منځ ته نه دي راوړي.
پر هغه ثروت سربېره، چي له مالونو او مريانو څخه جوړ سوی وو او پر هغه ثروت سربېره، چي له پيسو څخه عبارت وو، د مځکي په شکل ثروت هم منځ ته راغی. د مځکي په ټوکرو کي د ځانګړو افرادو حقوق چي وار د واره د بهير يا قبيلې له لاري ورته ټاکل سوي وه، اوس تر دې حده ټينګ سول، چي دغه ټوکرې د دوی موروثي ملکيت وګرځېدی. تر دې دمخه دوی په دې خبره پسي ډېري هلي ځلي کولې، چي د بهيري جمعيت له دې ادعاء څخه آزادي لاس ته راولي، چي د دوی د مځکي ټوکرې يې د خپل ځان بللې او دا يوه داسي ادعاء وه، چي د دوی دپاره ځنځير ګرځېدلی وو. دوی له دې ځنځيره څخه خلاص سول، خو لږ موده وروسته له خپل نوي مځکني جايداد څخه همدا رنګه خلاص سول. د مځکي پوره او آزادانه مالکيت نه يوازي دا امکانات برابر کړل، چي سړی نامحدوده او زياته شتمني لاس ته راوړلای سي، بلکي دا امکانات يې هم برابر کړل، چي سړی پر يوه مخ ټوله شتمني له لاسه څخه ور کړي. تر هغه وخته چي مځکي په بهير اړه درلوده، نو د دې راز خبرو دپاره امکان نه وو موجود،

چي منځ ته را سي. خو کله چي نوي زمیندار د بهیر او قبیلې د عالي استحقاق ځنځیران وشلول، همدا رنګه یې هغه وانښکی پرې کړی، چي تر اوسه یې دی په مځکه پوري ټینګ تړلی وو. د دې جریان نتیجه نو ده ته هغو پیسو ور وښووله، چي په مځکه کي د خصوصي ملکیت له پیله سره په یوه وخت کي را وتلي وې. اوس نو مځکه یو مال وګرځېده، چي هم خرڅېدلای سوای او هم ګرو کېدلای سوای. مځکه لا تر خصوصي ملکیت لاندي پوره نه وه راغلې، چي بیا سمدستي د مځکي د ګروۍ معاملات ور سره پیدا سوه. (آتن وګورئ). لکه څنګه چي هیټایریزم او فحشاء د مونوګامۍ په ښخ پوري موښتي ضمیمې دي، همدا رنګه نو سر له اوسه د ګروۍ معاملات د مځکي په مالکیت پوري وموښته. تاسي د مځکي بشپړ، آزاد او سلبېدونکی مالکیت غوښت؛

- هن، دغه دی، در وا یې خلئ! «tu I'as voulu, George Dandin![1]»

د تجارتي پراختیا، پیسو، سود، مځکني جایداد او ګروۍ سره له یوې خوا د خبره ملګرې وه، چي ثروت د یوې کوچنوټې طبقې په لاس کي خورا ژر را غونډ او متمرکز سو او له بلې خوا بیا د وګړو لویې پرګنې په زیاتېدونکي ډول سرې خوارۍ ته را وتلې او د خوارانو شمېر زیاتوب کاوه. د ثروت په اساس منځ ته راغلې نوې بډایه اشرافي طبقه که چیري له همدغه لومړي سره څخه یې د زاړه قبیلوي اشرافیت سره سمون نه خوړله، نو یې هغه د

1 - ژورژ داندینه، تا همدغه غوښتل! (مولییر. «ژورژ داندین»، لومړی اکټ، نهمه صحنه). –ت. هـ.

تل دپاره (په آتن کې، په روم کې او د جرمنیانو تر منځ) په زور شا ته وواهه. د ثروت له مخې چې آزاد خلګ طبقاتو ته ووېشل سوه، نو د دې تقسیمه سره، په تېره بیا په یونان کې د هغو غلامانو[1] شمېر فوق العاده زیات سو، چې د دوی اجباري کار هغه لاندې بنسټ تشکیلاوه، چې د ګرده ټولنې ودانۍ (روبنا) پر ولاړه وه.

راسئ اوس نو وګورو، چې د دې اجتماعي انقلاب په نتیجه کې بهیري نظام کوم حال ته ورسېدی او څه شي ځني جوړ سو. دا نظام د هغو نوو عناصرو په مقابل کې مغلوب سو، چې دغه نظام یې په تکامل کې برخه نه درلوده؛ ځکه د دې نظام موجودیت خو دا شرط غوښتی، چې د یو بهیر یا اقلاً یوې قبیلې غړي باید یو ځای په یوه سیمه کې اوسي او د هغه ځای اوسېدونکي یوازې همدوی وي. لاکن دا حالت خو وختې لا پای ته رسېدلی وو. بهیرونه او قبیلې هر چیري پر له ګډې سوي وې او هر ځای غلامان، تر حمایې لاندې وګړي او خارجیان د ښاریانو په منځ کې ګډ اوسېدله. د ځایي کېدو سلسله چې صرف د بربریت د منځنۍ مرحلې په آخر کې منځ ته راغله، کله ناکله شکېدله، ځکه د خلګو په ترکیب کې بدلون راته، ټاټوبي الیشبېده او خلګ له یوه ځایه بل ځای ته تله او د دې

---

۱- د دې دپاره چې د آتن د غلامانو شمېر در معلوم سي، نو ۱۱۷ مخ (د اوسني چاپ ۱۷۳ مخ – ت.هـ.) وګورئ. د کورنثه (Corinth) د ښار د برم په زمانه کې د غلامانو شمېر ۴۶۰۰۰۰ ته رسېده او د ایجینا (Aegina) په ښار کې ۴۷۰۰۰۰ وو. په دواړو ښارو کې د غلامانو شمېر د آزادو ښاریانو تر هغې لس چنده زیات وو.

سبب دا وو، چې په تجارت، حرفوي معاملاتو او د مځکې د ملکیت په انتقالي چارو کې تغیرات پېښېدله. د بهیري اتحادیو غړو نور نه سوای کولای، چې د خپلو ګډو چارو د پوراینې دپاره یو ځای را غونډ سي. صرف هغه خبري لا په ګډه پر ځای کېدې، چې ډېر اهمیت یې نه درلودی، لکه مذهبي اخترونه، خو هغه هم په مات زړه. سربېره پر هغو احتیاجاتو او منافعو، چې د پاملرنې دپاره یې بهیري اتحادیو وظیفه درلوده او هم د دغه کار دپاره مناسب جوړ سوي وه، نوي احتیاجات او منافع د هغه انقلاب په وجه را پیدا سوه، چې د تولید په شرایطو کې منځ ته راغی او په نتیجه کې یې د ټولنې جوړښت پر بل حال واوښتی. دا نوي احتیاجات او منافع نه یوازې دا چې لرغوني بهیري نظام ته بېګانه شیان وه، بلکه له هره پلوه یې په مخالف قطب کې واقع وه. صنعتکاري ډلې چې د کار د تقسیم په اساس منځ ته راغلې وې، نو د دوی منافعو او هم د کلي په مقابل کې د ښار مخصوصو اړتیاوو ایجابوله، چې نوي اورګانونه جوړ سي. خو د دغو ډلو هره یوه د مختلفو بهیرونو، فریټریو او قبیلو له وګړو څخه جوړه سوې وه. دې ډلو حتی پردي او بېګانه کسان لا هم شاملوله. نو ځکه بایده وه، چې دغه نوي اورګانونه ارو مرو تر بهیري نظام دباندې، د هغه سره موازي او له دې سره جوخت د هغه سره ښکر په ښکر، یعنې د هغه په مقابل کې شکل واخلي. بیا نو په هره بهیري اتحادیه کې په خپل وار د منافعو تر منځ دغه اختلاف احساس سو او دا اختلاف په هغه ځای کې خپل اوج ته ورسېدی،

چي هلته په یوه بهیر او قبیله کي دننه بډای او خوار، سودخواره او پوروړي سره ګډ سوي وه. بل دا چي هلته د نوو اوسېدونکو پرګنه موجوده وه، چي له بهیري اتحادیو او جمعیتو څخه بېګانه وه او هغه شان لکه په روم کي، دا غټ شمېر خلګ په هیواد کي په یو قدرت اوښتلای سو او شمېر یې دونه ډېر وو، چي نه سوای کېدلای، ورو ورو په کانسنګویني بهیرو او قبیلو کي مدغم او منحل سي. بهیري ټولنو د خلګو د دې لویو پرګنو په مقابل کي د ترټلیو او ممتازو جمعیتو په توګه وضعیت کاوه. هغه څه چي په لومړي سر کي د طبیعت له لاري راغلې ډموکراسي وه، په یوه منفوره ارستوکراسي واوښته. د پای خبره دا ده، چي بهیري نظام له هغي ټولني څخه وده را کړې وه، چي هیڅ ډول داخلي تخاصم او تضاد یې نه پېژندی او یوازي د همدغسي یوې ټولني دپاره موزون وو. دې ټولني پرته له عامه رایي بل اجباري قدرت نه درلود. خو اوس یوه داسي ټولنه وجود ته راغلې وه، چي د خپل موجودیت د ګردو اقتصادي شرایطو په قوه حتمي وه، چي باید ساهوګانو او مریانو، استثماروونکي بډایانو او استثمار سوي خوارانو ته سره تجزیه سوې وي. دې ټولني نه یوازي دا چي دغه تخاصمات یې یو د بله سره روغولای نه سوای، بلکي باید وه، چي نور یې هم ډېر مخ ته بوځي. دغسي یوه ټولنه نو صرف یا په داسي حالت کي پائېدلای سوای، چي د دغو طبقاتو تر منځ یو د بل په مقابل کي ښکاره مبارزې چالاني وای او یا خو د یو دریم قدرت تر حاکمیت لاندي را سي، چي هغه قوت په ظاهري

توګه د جنګېدونکو طبقاتو پر سر ولاړ وي او د دوی ښکاره شخړې یې بندي کړي وې، اما یوې داسي طبقاتي مبارزې ته یې لار خلاصه کړې وي، چې تر ډېري اندازې په اقتصادي ساحه کي وې او تش په نامه قانوني شکل ولري. بهیري نظام خپل عمر وخوړ. کله چې کار تقسیم سو او د هغه په نتیجه کي ټولنه پر طبقاتوووېشل سوه، نو بهیري نظام ټوکرۍ ټوکرۍ او تاش په تاش سو. د ده ځای نو دولت ونیو.

***

په تېر بیان کي مو د بهیري نظام پر کنډوالو باندي د دولت د را ودانېدو درې عمده شکلونه په جلا جلا توګه وڅېړل. آتن یې د ډېر سوچه او ښېخي کلاسیک شکل څرګندوی وو. دلته دولت سیده او اکثراً له هغو طبقاتي تخاصماتو څخه را وپاڅېدی، چې په خپله د بهیري ټولني په دننه کي یې وده را کړې وه. په روم کي بهیري ټولني یوې تجرید سوي اشرافي طبقې (ارستوکراسي) ته تحول وکړ، چې د دغي طبقې نه ګردچاپېره هغه زیات شمېر عوامو (اوپره‌وو) (Plebs) ځای نیولی وو، چې له دغي ټولني څخه بهر ولاړ وه. دې عوامو حقوق نه درلود، لاکن وظایف یې پر غاړه پراته وه. عوامو چې بری لاس ته را وستی، نو زوړ بهیري نظام یې ربز مربزه کړی او د دې نظام پر کنډوالو یې د دولت خښته کښېښودله، په دې دولت کي هم د بهیر اشرافي طبقه او هم اوپره وګړي ټوله ژر په ژره منحل سوه. په آخره کي د رومي امپراطورۍ د جرمني فاتحانو تر منځ د دولت مؤسسه د

لويو خارجي هيوادو د نيولو په نتيجه کي مستقيماً منځ ته راغله. بهيري نظام داسي وسايل نه درلوده، چي د هغو په ذريعه پر دې هيواد باندي حکومت وسي. خو څه رنګه چي د دې هيوادو په نيولو کي دا ضرورت نه سو پېښ، چي يا يې د پخوانيو اوسېدونکو سره سخته مبارزه وسي يا دې هلته د کار د تقسيم يو مترقي شکل منځ ته را سي او هم په دې سبب، چي فاتح او مفتوح دواړو تقريباً د اقتصادي انکشاف په يوه مرحله کي وه او هم يې د ټولني اقتصادي بنسټ کټ مټ د پخوا په شان پاته وو، نو ځکه بهيري نظام وکړای سوه، چي په يو متحول، منطقوي شکل يعني د يو مارکي نظام په بڼه د ډېرو پېړيو دپاره دوام وکړي او حتی د يو څه وخت دپاره يې لا د وروستيو کلو په اشرافي او پټريشي او حتی بزګري کورنيو کي د ديتمارشين (Dithmarschen)[1] په صورت په يو کمزوري حالت کي خپل ځان له سره بيا ژوندی کړی.

نو ځکه دولت له هيڅ پلوه يو داسي قدرت نه ګڼل کيږي، چي پر ټولنه باندي له بلي خوا څخه په زور تپل سوی دی او نه هم «د اخلاقي نظريې واقعيت» يا «د عقل تخيلي صورت او واقعي حقيقت» دی، لکه هيګل (Hegel) چي تاکيد کوي، بلکي دولت د ټولني د انکشاف د يوې ټاکلي

---

۱- نيبور لومړنی مؤرخ وو، چي د بهير د ماهيت په باره کي يې اقلاً تقريبي معلومات درلودل. دی هم د دې او هم د خپلو هغو اشتباهاتو په اثر، چي نېغ په نېغه يې له هماغه ځايه مرتکب سوی وو، د ديتمارشين له بهيرونو سره د خپلي پېژندګلوۍ مديون دی.

مرحلې محصول دی. په یوه ټولنه کې د دولت موجودیت د دې خبرې دلیل دی، چې دغه ټولنه په خپل ځان کې په داسې تضادو اخته ده، چې نه سره حل کېږي او داسې نه پخلا کېدونکو شخړو تجزیه کړې ده، چې له منځه وړه یې د دې له وسه وتلې دي. خو د دې دپاره چې دغه شخړې او ښکر په ښکر طبقات، چې اقتصادي ګټې یې یو د بله سره تضاد لري، په بې‌هوده او خوشې مبارزو کې نه ځانونه برباد کړي او نه ټولنه، نو لازمه سوه، چې یو داسې قدرت، چې په ظاهره تر ټولنې پورته ایسې، د طبقاتي شخړو د سړېدو او د نظم په ساحه کې د هغو د ساتنې په منظور منځ ته را سي او دا قدرت، چې له ټولنې څخه را وپاځېدی، خو خپل ځان تر هغې پورته ساتي او ورځ په ورځ له ټولنې څخه بېګانه کېږي، دولت دی.

له پخوانې بهیري تشکیل څخه د دولت لومړی فرق دا وو، چې خپل رعیت یې د سیمې په اساس ووېشله. لکه دمخه چې مو ولیدل، پخوانۍ بهیري اتحادیې، چې د وینې د رګې په اساس جوړې سوې وې او په همدې رابطه تړلې وې، نور یې نو کفایت نه کاوه. د دې خبرې وجه تر ډېره حده دا وه، چې بهیري اتحادیو دا ایجابوله، چې غړي به یې په یوه ټاکلې سیمه پورې تړلي وي، خو دا هغه رابطه ده، چې د وخته لا پای ته رسېدلې وه. سیمه ځای پر ځای پاته وه، لاکن خلګ یې له ځایه څخه ښورېدلي وه. نو ځکه د سیمې له مخې تقسیمات د اساس نقطه وګرځېده او اهالي دې ته ایله سوه، چې خپل حقوق او وظایف بې‌له دې څخه چې بهیري او قبیلوي

ملحوظات په نظر کې ونيسي، هر چيرې چې اوسي، هلته يې سر ته ورسوي. دغه د محل او سيمې په اساس د اهاليو تشکيل د ټولو دولتو تر منځ يو مشترک خاصيت دی. دغه سبب دی، چې دغه جريان موږ ته طبيعي غوندې را معلوميږي، اما موږ خو وليدله، چې په آتن او روم کې د دې دپاره چې د بهير پر اساس پخوانی تشکيل له منځه واخيستل سي، خورا ډېرې اوږدې او سختې مبارزې په کار وې.
دوهم فرق يې دا وو، چې د يو داسې عامه قدرت خښته يې کښېښووله، چې هغه نو نور د اولس له داسې تشکيله سره سمون نه خوري، چې ځان يې د يوې وسله‌والې قوې په توګه جوړ کړی وو. دغه خاص عامه قدرت له دې سببه ضروري سو، چې تر طبقاتي تجزيې وروسته دا ناممکنه سوه، چې د اولس وسله‌وال پخوانی تشکيل، چې په خپله چلېدی، نور هم وچليږي. مريان همدا رنګه په اولس ګډ سول. په آتن کې ۹۰۰۰۰ ښاريانو د ۳٦۵۰۰۰ مريانو په مقابل کې يوه امتياز لرونکې طبقه تشکيل کړې وه. د آتن د ډموکراسۍ اولسي اردو د مريانو په مقابل کې يو اشرافي عامه قدرت وو، چې دوی يې تر کنټرول او ادارې لاندې ساتله. خو د ښاريانو د ادارې دپاره لکه دمخه چې مو وويل، يوې ژاندارمې (Gendarmerie) ته هم ضرورت پيدا سو. داسې عامه قدرت په هر دولت کې موجود دی. دا قدرت يوازې له وسله‌والو وګړو څخه عبارت نه دی، بلکې همدا رنګه مادي لوازم، بنديخانې او د هر ډول جبر او فشار مؤسسات لري، چې بهيري

ټولني د دغو شیانو له جملې څخه یو لا هم نه پېژندی. په هغو ټولنو کې چي طبقاتي شخړو لا تر اوسه پوره انکشاف نه دی کړی او په هغو ځایو کي چي له لاري وتلي گوښه دي، دا قدرت هلته ښخي بې‌اهمیته وي او تقریباً پر هیڅ بلل کیږي، لکه یو وخت چي د امریکا د متحده ایالاتو په ځینو سیمو کي خبره همدغه راز وه. خو څونه چي طبقاتي شخړي او تضادونه په دولت کي دننه شدت اخلي او یو بل ته ور څېرمه دولتونه غټیږي او نفوس یې ډېریږي، هغونه دغه عام قدرت زور اخلي او غښتلی کیږي؛ د دې خبرو یوازنی مثال موږ ته د نن ورځي اروپا ده، ځکه دلته طبقاتي مبارزې رواني دي او د هیوادو په نیولو کي سیالي کیږي. دې جریان نو عامه قدرت دونه غټ کړی دی، چي د درستي ټولني او حتی په خپله د دولت د اېبللو (بلع) خطر یې منځ ته راوړی دی.
د دې دپاره چي دغه عامه قدرت وساتل سي، نو لازمه ده، چي د ښاریانو له خوا څخه مرستي، یعني مالیات تادیه سي. دا مالیات په بهیري ټولنه کي کورټ چا نه پېژنده. خو نن ورځ موږ په دې موضوع باندي کافي معلومات لرو. څه رنگه چي مدنیت مخ ته ځي، نو دا مالیات بسیده نه کوي. دولت پر آینده حوالې کوي او د پورو، یعني عامه قرضو تړونونه کوي. بوډۍ اروپا د دغو جریاناتو په باب کي هم پوره داستانونه لري.
حکومتي ماموران چي له عامه قدرت څخه برخوردار دی او د مالیات اخیستلو حق د دوی په لاس کي دی، اوس د ټولني د اورگانونو په حیث

د ټولنې د پاسه ځرګندېږي. هغه آزادانه او خوښ په رضا احترام، چې د بهیري نظام د اورګانو کېدی، حتی که دې مامورانو ته حاصل هم سي، ورته کفایت نه کوي. څه رنګه چې دوی د یوه داسې قدرت د چلاو وسایل دي، چې هغه له ټولنې څخه بېګانه دي، نو د دوی احترام باید د هغو فوق العاده قوانینو په وسیله تحمیل سي، چې د هغو په موجب له مخصوص تقدس او مصؤنیت څخه برخورداره وي. په مدني دولت کې ادنی پولیس دونه صلاحیت لري، چې د ګرده بهیري اورګانونو صلاحیت سره یو ځای سي، لا یې هم په سر نه دی. خو ښایي د مدنیت د دورې د هغه ښځې واکمن پاچازاده او ښځې ستر سیاستمدار یا سپه سالار په هغه عزت ډېر حسد وسي، چې بې‌له اجباره او بې‌له شخړې به د بهیر یو ادنی سرخېل ته ور کول کېدی. دا سرخېل د ټولنې له منځه څخه را پورته سوی دی او هغه واکمن خو د یوه داسې شي د نماینده‌ګې مجبوریت لري، چې هغه له ټولنې وتلی او باندې سربېره دی.

څه رنګه چې دولت د دې ضرورت له پلوه منځ ته راغی، چې طبقاتي دښمني اداره کړي او مخه یې ونیسي، اما په عین زمان کې هغه وخت وجود ته راغی، چې طبقاتي شخړې رواني وې، نو طبیعي خبره ده، چې دولت د ښځې واکمني او په اقتصادي لحاظ د مسلطې طبقې دولت دی. دا طبقه نو د دولت له لاري په سیاسي لحاظ هم تسلط پیدا کوي او په دې ډول نو د مظلومې طبقې د تابع کولو او استثمارولو دپاره نوي وسایل

لاس ته راوړي. دغه شان نو د لرغوني زمانې دولت سربېره پر ټولو خبرو د هغو مالکانو دولت وو، چې مریان یې درلوده او هدف یې دا وو، چې په دې وسیله مریان تر لاس لاندې وساتي. کټ مټ همدغسې فیودالي دولت د شرافي خانانو هغه وسیله وه، چې د مملوکینو او سرواژي بزګرو د تابع ساتلو دپاره یې کار ځنې اخیستی او همداسې د نن زمانې نماینده دولت یوه داسې آله ده، چې د هغې په وسیله سرمایه د مزدورۍ کار تر خپل استثمار لاندې ساتي. خو په استثنایي ډول داسې دورې هم سته، چې په هغو کې دښمن طبقات یو د بل سره په داسې موازنه کې را ځي، چې دولتي قدرت په ظاهره د یو منځګړي په توګه د څه وخت دپاره د دواړو طبقاتو تر منځ تر یوې اندازې بې‌طرفه پاتېږي. د اوولسمې او اتلسمې پېړۍ مطلقې پاچاهۍ دغه راز وې، چې د اشرافي طبقې او د بورژوازیانو (Burghers) د طبقې تر منځ یې موازنه ساتلې وه. د فرانسې د لومړي او خاص بیا دوهمې امپراطورۍ بوناپارتیزم (Bonapartism) همدغه شان وو، چې پرولتاریا یې د بورژوازیانو او بورژوازیان یې د پرولتاریا په مقابل کې ولوبول. د داسې ننداري تازه مثال چې په هغه کې حاکم او محکوم دواړه یو ډول غوندي د خندا وړ او رشخندي معلومېږي، د بیسمارک د ملت نوې «جرمني امپراطوري» ده. دلته سرمایه‌داران او کارګران یو د بل په مقابل کې متوازن دي او د پروس (Prussia) د مفلسو تنګ‌نظرو یونکرانو (Junkers) یعنې زمیندارو د ګټې دپاره یو شانې غولېدلي دي.

سربېره پر دې په اکثرو تاریخي دولتو کې د ښاریانو حقوق د ثروت له درجې سره سم ټاکل سوی دی او له دې څخه نو مستقیماً دا خبره څرګندیږي، چې دولت د مالکي طبقې یو تشیکل دی، چې د نامالکي طبقې په مقابل کې ځان په ساتي. په آتن او روم کې له وختي څخه لا خبره دغسې وه، چې اهالي د ملکیت سره سم تصنیف سوی وو. د منځنیو پېړیو په فیودالي دولت کې هم خبره دغه شان وه، ځکه هلته هم د سیاسي قدرت طبقه‌بندي د مځکې د ملکیت له اندازې سره مطابقه وه. د اوسني نماینده دولتو په انتخابي شرایطو کې هم دا خبره سته. اما د ملکیت پر اساس د امتیازاتو او فرقو دغه په سیاسي لحاظ په رسمیت پېژندل کورټ مهم نه دي. د دې په عکس، دغسې کار د دولتي انکشاف د یوې کښتي مرحلې نخښه ګڼل کیږي. د دولت هغه ښځي لوړ شکل، یعني ډموکراټیک جمهوریت، چې زموږ تر اوسنیو اجتماعي شرایطو لاندي ورځ په ورځ یو حتمي ضرورت ګرځي او د دولت هغه شکل دی، چې د پرولتاري طبقې او بورژوا طبقې اخرینه قاطع مبارزه ور پکښې سر ته رسیږي. دا ډموکراټیک جمهوریت نو نور په رسمي ډول د ملکیت له پلوه امتیازات نه پېژني. خو ثروت په غیرمستقیم ډول، اما په ډاډه توګه په دې دولت کې له خپل قدرت څخه کار اخلي. له یوې خوا نو د مامورینو د مستقیمو رشوت‌خورینو په شکل کې خپل زوره ښکاره کوي، چې امریکا یې کلاسیک مثل ګڼل کیږي، له بلې خوا د حکومت او بورس (Stock Exchange) تر

منځ د اتحاد په شکل کې خپل قدرت څرګندوي. ځکه څونه چې عامې قرضې ډېرې زياتيږي او څونه چې سهامي شرکتونه نه يوازې د حمل و نقل چارې، بلکې په خپله د توليد واګې هم په لاس کې اخلي او له بورس څخه د خپل مرکز په شاني استفاده کوي، نو هغونه همدغه اتحاد په زياته آسانۍ سره تر سره کيږي. د امريکې پر متحده آيالاتو سربېره، وروستنۍ فرانسوي جمهوريت د دغسې جرياناتو ښکاره مثالونه دي او حتی نېکسيرته سويس هم په دې ساحه کې خپله برخه واخيستله.

خو د حکومت او بورس په منځ کې د دوستانه يووالي دپاره ارو مرو ډموکراټيک جمهوريت ضروري امر نه دی. دا خبره د انګلستان له مخې ثابته ده او همدا رنګه د نوي جرمني امپراطورۍ له مخې ثابتيږي، چې هلته سړی دا نه سي ويلای، چې آيا بيسمارک او که بلايشرودر (Bleichroder) د عامې رايې ګيرۍ په نتيجه کې لوړ حيثيت تر لاسه کړ. د پای ټکی دا دی، چې مالکه طبقه مستقيماً د عامې رايې ګيرۍ په وسيله حکومت کوي. تر هغه وخته چې مظلومه طبقه، چې زموږ په وخت کې پرولتاره طبقه ده، دونه پخوالي ته نه وي رسېدلې، چې خپل ځان آزاد کړي، نو تر هغو به په خپل اکثريت سره موجود اجتماعي نظام ته په داسې سترګه ګوري، لکه يوازنی ممکن نظام چې وي او په سياسي لحاظ به د سرمايه‌دارانو د طبقې په لکۍ پسې روان وي او د هغې افراطي کيڼ اړخ به تشکيل کاندي. خو څونه چې دغه طبقه د خپل ځان د آزادۍ دپاره

پوخوالي ته رسيږي، هغونه به د خپل ځان‌ته ګوند په توګه تر تشکيل لاندي را ځي او خپل داسي مستقل نماينده‌ګان به انتخابوي، چي د سرمايه‌دارانو له جملې څخه نه وي. په دې ډول نو عامه رايي‌ګيري د کارګرو د طبقې د پوخوالي د معلومولو مقياس دی. د نن ورځي په دولت کي تر دې زيات نه څه کېدلای سي او نه به هم وسي، خو دا قدر هم کفايت کوي. لاکن هغه ورځ چي د عامي رايي‌ګيرۍ ترماميتر دا وښيي، چي کارګر د جوش درجې ته رسېدلی دی، نو دوی به هم د سرمايه‌دارانو په څېر په دې پوه سي، چي څه بايد وکړي.

دولت نو داسي شی نه دی، چي له ازله څخه را پيدا سوی وي. يو وخت داسي ټولني موجودي وې، چي بې‌له دولته يې خپلي چاري سر ته رسولې او د دولت يا دولتي قدرت هيڅ فکر يې نه درلودی. د اقتصادي انکشاف په يوه ټاکلې مرحله کي ټولنه په لازمي ډول طبقاتو ته ووېشل سوه او د دې وېش په نسبت دولت يو ضروري شی وګرځېد. اوس د توليد د انکشاف په ساحه کي په خورا چټکۍ سره يوې داسي مرحلې ته ور نژدې کيږو، چي په هغه کي به نه يوازي د دغو طبقاتو د موجوديت ضرورت پای ته ورسيږي، بلکي دا طبقات به د توليد په مخ کي يو خنډ وګرځي. دا طبقات به په هغه شان ارو مرو له منځه ووځي، لکه څنګه چي ارو مرو په يوه پخوانۍ مرحله کي منځ ته راغلي وه. د دوی د سقوط سره سم به دولت هم ارو مرو سقوط وکړي. هغه نوې ټولنه چي توليد به د مؤلدينو د آزاد او

مساوي‌الحقوق اشتراکیت په اساس په نوې روحیه تنظیم کړي، د دولت ټوله دستگاه به په هغه ځای کي کښېږدي، چي هغه وخت به یې حقیقي ځای وي؛ یعني د عتیقه شیانو په موزیم کي به یې د ربشلو د څرخې او د ژړو د تبر له اړخه سره کښېږدي.

***

په دې ډول نو له تېرو بیانو څخه دا خبره را وځي، چي مدنیت د ټولني د انکشاف هغه مرحله ده، چي دلته د کار تقسیم او د هغه په نتیجه کي د افرادو تر منځ مبادله او د مبادلوي اموالو تولید، چي دا دواړه (یعني د کار تقسیم او مبادله) سره یو ځای کوي، خپل بشپړ انکشاف ته رسیږي او تر دې آنه را رسېدلې ټولنه گرده انقلابي گرځوي.
د ټولنیز پرمختگ په ټولو پخوانیو مرحلو کي، تولید په اساسي توگه جمعیتي (اشتراکي) شی وو او پیداوار همداراز د لویو یا کوچنیو اشتراکي جمعیتونو په دننه کي د مستقیمي توزیع په حساب په مصرف رسېدله. د دې گډ او اشتراکي تولید دایره ډېره محدوده وه. خو دا خبره ور سره وه، چي مؤلدین په اقتصادي لحاظ د خپل تولید او د خپلو پیداوارو د جریان مالکان وه، دوی پوهېده، چي پیداوار یې څه په کیږي؛ ځکه دوی هغه په خپله مصرفوله او له لاسه یې نه وتله او تر کومه وخته چي تولید پر دغه اساس باندي سر ته رسېدی، نو د هغه جریان د مؤلدینو له واک او اداري څخه نه سوای وتلای او نه یې هم کولای سوای، چي د مؤلدینو په مقابل

کي هغه نامريي او بېگانه قدرتونه را برسېره کړي، لکه د مدنيت په دوره کي چي په منظمه او ناگزيره توگه منځ ته راغلي دي.

خو د کار تقسيم ورو ورو د توليد دغه جريان ته را وځکېدی (وځخېدی).

دې تقسيم نو د توليد او تصرف اشتراکي ماهيت ته د تخريب پی واچاوه او د انفرادي تصرفاتو جال يې په عام ډول خپور کړی او په دې ډول يې نو د افرادو تر منځ مبادله را پيدا کړه. دا چي دغه خبري څه رنگه په سر ورسېدې، دمخه مو وڅېړلې. ورو ورو نو د مبادلوي اموالو توليد غالب شکل وگرځېد.

د مبادلوي اموالو د توليد له رواجېدو سره نور نو توليد د خپل استهلاکي ضرورت دپاره نه کيږي، بلکي د مبادلې په منظور سر ته رسيږي او په دې سلسله نو پيداوار ارو مرو له يوه لاسه بل لاس ته ور وځي. مؤلدين چي د مبادلې په دوران کي له خپلو پيداوارو څخه جلا کيږي، نو نور په دې نه پوهيږي، چي په هغو باندي څه کيږي. کله چي پيسه او له دې سره ملگری سوداگر د مؤلدينو منځ ته د يو منځگړي په شان را لويږي، نو د مبادلې د جريان پېچومي نور لا هم پسي زياتيږي او د پيداوارو نهايي سرنوشت نور هم پسي مجهول کيږي. د سوداگرو شمېر خورا زيات دی او له دوی څخه يو هم په دې نه پوهيږي، چي هغه بل څه کوي. مالونه نو اوس نه يوازي دا چي له يوه لاسه بل لاس ته وځي، بلکي همدا رنگه له يوه بازاره څخه بل بازار ته تېريږي. اوس نو مؤلدينو د خپل ژوند د ضروري

شیانو پر مجموعي تولید باندي کنټرول له لاسه ور کړی دی او تاجرانو هم هغه لاس ته نه دی راوړی. له پیداوارو او تولیدي جریاناتو څخه نو د تصادف د لوبو سامان تیاریږي.
خو تصادف د یو له بله روابطو یوازي یو قطب دی. هغه بل قطب یې د ضرورت (جبر) په نامه یادیږي. دا مو پخوا لا په بېلابیلو ساحو کې اثبات ته رسولې ده، چې په طبیعت کې هم هر چیري چې تصادف حکومت کوي، هلته په ختّه کې اخښلی ضرورت او قانونمندی سته، چې د همدغه تصادف په چوکاټ کې ځان ته لاره هواروي. هغه څه چې د طبیعت په باب کې صحت لري، د ټولني په باب کې هم صادقیږي. څونه چې یو اجتماعي فعالیت، یعني د اجتماعي جریاناتو یوه سلسله دونه زور واخلي، چې د بشر تر شعوري کنټرول لاندي نه را ځي او د بشري واک له اداري څخه وځي، په هم هغه اندازه دا فعالیت داسي ایسي، لکه د خالص تصادف محصول چې وي او هغونه د دې فعالیت یا سلسلې خپل خاص او ذاتي قوانین د دغه تصادف په چوکاټ کې خپل ځان ته لاره بیا مومي، لکه د یو طبیعي ضرورت په حکم چې کیږي. همدغسي قوانین دي، چې د تولید او د مالونو د مبادلې تصادفات هم اداره کوي. دا قوانین انفرادي مؤلدینو او مبادله کوونکو ته یو عجیب او په لومړي سر کې حتی د نامعلومو او مجهولو قدرتونو په شان ایسېده، چې باید وار د واره یې د ماهیت پلټنه او څرگندونه په ډېر زیار سر ته ورسیږي. د مبادلوي اموالو د تولید دغه

اقتصادي قوانین د تولید د همدغه شکل د انکشاف په مختلفو مرحلو کي تغیر خوري، خو د مدنیت ټوله دوره په یو مخیزه توګه د دې قوانینو تر جریان لاندي ده. تر نن ورځي پیداوار د مؤلد پر سر باداري کوي او تر دا نن ورځي د ټولني مجموعي تولید د یو داسي سنجول سوي پلان په اساس نه اداره کیږي، چي په هغه کي د ټولني خیال ساتل سوی وي، بلکي دا تولید داسي ړانده قوانین اداره کوي، چي هغه په طبیعي قوه چلیږي او په آخر کي نو د متناوبو تجارتي بحرانو په طوفانو کي ځان ښکاره کوي.

دمخه مو ولیدل، چي په څنګه ډول د کار بشري قوې د تولید د انکشاف په نسبتاً ابتدایي مرحله کي د دې قابلیت پیدا کړی، چي تر هغه څه چي د مؤلد د ساتني او ګذارې دپاره ضروري وي، ډېر زیات تولید وکړي. دا مو هم ولیدل، چي دغه مرحله اساساً د کار د تقسیم او د افرادو د مبادلې له لومړني ظهور سره په یوه وخت کي منځ ته راغله. ډېره زمانه لا نه وه تېره سوې، چي دا ستر حقیقت کشف سو، چي له انسانه څخه هم د مبادلې د جنس په توګه کار اخیستل کېدلای سي. دا خبره هم څرګنده سوه، چي بشري قوه له دې لاري، چي له انسانه څخه مریی جوړ سي، د مبادلې په جریان کي اچول کېدلای سي او کار ځني اخیستل کېدلای سي. انسانانو چي فقط دې ته شروع وکړه، چي په مبادله لاس پوري کړي، دوی په خپله

هم تر مبادلې لاندې راغلل. انسان که غوښته او که یې نه غوښته، خو هغه څوک چې فاعل وو، هغه منفعل سو.

د مرئیتوب له جریانه سره چې د مدنیت په دوره کې د پوره انکشاف حد ته ورسېدی، په ټولنه کې د لومړې پلا دپاره دا غټ چړاخ منځ ته راغی، چې ټولنه په استثماروونکو او استثمارسوو طبقاتو ووېشل سوه. دغه چړاخ د مدنیت په ټوله دوره کې پاته دی. مرئیتوب د استثمار لومړنی شکل وو، چې د لرغوني زمانې له خصوصیاتو څخه دی او په منځنیو پېړیو کې مملوکیت پسې راغی او په نن عصر کې یې د مزدورۍ کار ځای ونیوی. دا د عبودیت او بندګۍ هغه درې غټ شکلونه دي، چې د مدنیت د درو غټو دورو مشخصات دي. غلامي چې په وار د واره کې ښکاره او بیا وروسته تر پردې لاندې سوه، د مدنیت ټینګه ضمیمه ګڼله کېږي.

د مبادلوي اموالو د تولید مرحله، چې په هغې سره مدنیت را شروع سو، اقتصادي خصوصیات یې دا دي: ۱- فلزي پیسه را ووتله او په دې ډول نو پولي سرمایه، ګټه او سلاپور منځ ته راغلل. ۲- اوس نو سوداګران را پیدا سول، چې د مؤلدینو تر منځ د منځګړو په شاني ښوري. ۳- د مځکې خصوصي مالکیت او د ګروۍ معاملات را پیدا سول. ۴- د تولید د معمول او متداول شکل په حیث غلامانه کار را ووتی. د کورنۍ کوم شکل چې د مدنیت سره سمون خوري او تر ده لاندي معلومداره متداول شکل څني جوړېږي، هغه مونوګامي ده، چې په هغې کې نر پر ښځه باندي غلبه لري

او ځانګړې انفرادي کورنۍ د ټولنې اقتصادي يونټ جوړوي. له مدني ټولنې سره موښتې قوه دولت دی او په ګردو مواردو کې اساساً د مظلومې او استثمار سوي طبقې د تابع ساتلو دپاره د يو ماشين په توګه کار کوي. د مدنيت نوري نخښې دا دي: له يوې خوا د اجتماعي کار د کُلي تقسيم د اساس په توګه د ښار او کلي تر منځ تضاد ټينګښت پيدا کوي او له بلې خوا وصيت‌نامې رواجيږي، چې د هغو په وسيله د جايداد مالک حتی تر خپل مرګ وروسته لا کولای سي، چې په خپل جايداد کې تصرف وکړي. دا رواج چې د زاړه بهيري نظام په مقابل کې يوه مستقيمه ضربه وه، په آتن کې د سولون تر زمانې پوري چا نه پيژندی. خو په روم کې ښېخې وختې لا منځ ته راغلی وو، اما موږ ته نه را معلوميږي، چې له کومه وخته يې هلته وجود پيدا کړی وو[1]. د وصيت دود د جرمنيانو تر منځ د روحانيانو په ذريعه

۱- د لاسال (Lassalle) هغه کتاب، چې «د اکتسابي حقوقو نظام» نوميږي، په دوهمه برخه کې يې پر دې موضوع باندي بحث سوی دی، چې په روم کې وصيت‌نامه دونه قديم شی ده، لکه په خپله روم چې دی. دی ليکي، چې د روم په تاريخ کې «داسي زمانه نه سته، چې په هغه کې وصيت‌نامې نه وي» او وصيت‌نامې د روم څخه په مخکني زمانو کې د مړو د نمانځني په سبب منځ ته راغلي دي. لاسال لکه د هيګل د پخواني مکتب يو پياوړی شاګرد، رومي حقوقي موازين د روميانو د اجتماعي وضع پر بناء نه را باسي، بلکي د اداري د «تصوري مفهوم» پر اساس يې را ايستلي او په دې ډول نو پورته بيان سوي فکر ته رسېدلي دي، چې په بشپړه توګه د تاريخ سره مباينت لري. دا د حيرانتيا بره نه ده، چې په يو دغسي کتاب کې، چې د روم د وراثت په نظام کې د جايداد انتقال بالکل يو دوهم او فرعي حيثيت درلود. لاسال نه يواري دا چې د رومي قانون‌پوهانو، په تېره بيا د قديمي زمانو د قانون‌پوهانو اوهامو ته معتقد دی، بلکي حتی تر دغو اوهامو لا وړاندي ځي.

په دې منظور منځ ته راغی، چې ذکي جرمنی بايد بې‌له ممانعته خپل جايداد کليسا ته د وصيت له لارې ور پرېږدي.
مدنيت چې دغه اصول خپل اساس وګرځول، نو له دې لارې څخه يې هغه کارونه بشپړ کړه، چې زړې بهيري ټولنې په هيڅ توګه نه سوای کولای، چې سر ته يې ورسوي. خو دغه کارونه يې په دې وسيله انجام کړه، چې د انسان له ډېرو پستو غرايزو او تمايلاتو څخه يې کار واخيست او هم يې د دې غرايزو د انکشاف دپاره د انسان نور ملکات قرباني کړه. وچه سرابښي ده، چې د مدنيت د منځ ته راتلو له لومړۍ ورځې څخه بيا تر نن زمانې پورې ده ته حرکت ور کوې او ثروت، هغه هم ډېر ثروت او بيا هم ثروت، د ټولنې ثروت نه، بلکې د دغه خسيس فرد ثروت د ده يوازنی او اساسي هدف ګڼل کيږي. دا چې دې هدف ته د رسېدو په دوران کې ساينس زياته ترقي وکړه او د هنر د انتهايي برم مکررې دورې پکښې منځ ته راغلې، دا صرف په دې سبب وه، چې د ثروت په را غونډولو کې د اوسنۍ زمانې زيات برياليتوبونه د ساينس او هنر د دغسې انکشاف په پرته سر ته نه سوای رسېدلای.
څه رنګه چې د يوې طبقې له خوا د بلې استثمارېده د مدنيت اساس دی، نو د مدنيت ټوله انکشاف د يوه دايمي تضاد په لار کې را تېرېږي. په توليد کې هر پرمختګ په عين حال کې د مظلومې طبقې، چې غټ اکثريت تشکيلوي، په حالت کې يو پر شا تګ دی. هغه څه چې د يوه دپاره نعمت

دی، هغه ارو مرو د بل دپاره مصيبت دی. د يوې طبقې هره نوې آزادي هر کله د هغې بلې دپاره يوه نوې بربادي ده. د دې خبري خورا ښکاره ثبوت د ماشينانو په را وتلو سره ليدل کيږي، چي نن ورځ د هغو اثرات خورا ښه معلوم دي. لکه څنګه چي مو وليدل، د بربريانو تر منځ په مشکله د حقوقو او وظايفو په منځ کي کوم فرق کېده، لاکن مدنيت بيا يوې طبقې ته تقريباً د ټولو حقوقو ور کولو او بلي طبقې ته تقريباً د ټولو وظايفو ور کولو په عمل سره، د حقوقو او وظايفو په منځ کي فرق او تضاد داسي روښانه کړی، چي حتی يو ډېر کوټهذهنه سړی هم لا ښه په پوهيږي.
خو داسي بايد نه وي. هغه څه چي د حاکمي طبقې دپاره خير وي، بايد د ګرده ټولني دپاره، چي له هغې سره حاکمه طبقه ځان ته شباهت ور کوي، په خير وګڼل سي. نو ځکه څونه چي مدنيت مخ ته ځي، هغونه مجبوره دی، چي هغه فسادونه، چي له ده څخه خامخا را پيدا کيږي، د مينې او محبت تر کوچي لاندي پټ کړي او رنګ و روغن ور کړي يا يې پر سر کورټ منکره سي. لنډه دا چي په نتيجه کي نو منافقت په عادي شکل منځ ته راولي، چي نه د ټولني په پخوانيو اشکالو او نه هم د مدنيت په لومړنيو مرحلو کي چا پېژندی او په دې اعلاميه منتهی کيږي: استثماروونکې طبقه د مظلومي طبقې استثمار صرف او خاص په خپله د استثمار سوي طبقې د ګټې دپاره کوي او که مظلومه طبقه دا کار نه

ستايي او حتی بغاوت کوي، نو د خپلو خير رسوونکو؛ يعني استثماروونکو په مقابل کي پسته ناشکري ځني کيږي[۱].

اوس نو په پای کي د مدنيت په باب د مورگان قضاوت راوړمه، چي وايي: «د مدنيت د را وتلو راهيسي د ملکيت وده دونه زياته سوه، د ده شکلونه دونه متنوع سوه، له ده څخه د استفادې لاري چاري دونه پراخي سوې او د ده د مالکينو د مفاد پر اساس د ده اداره او انتظام دونه ډېره بامهارته سوه، چي دغه ثروت د وگړو په نسبت يو تر اداري وتلی قدرت وگرځېد. بشري ذهن د خپل مخلوق په مخ کي هک پک دريږي، خو له دې سره سره داسي وخت به را سي، چي بشري عقل د ملکيت جريان تر اداري لاندي راولي او دولت چي د ملکيت ساتندوی دی، د هغه په نسبت د دولت روابط وټاکي او همدا رنگه د ملکيت د خاوندانو مکلفيتونه او د حقوقو حدود ور معلوم کړي. د ټولني منافع د فرد تر منافعو لوړ دي او دا دواړه بايد د عادلانه او متوازني رابطې حد ته را وستل سي. که د تېري زمانې په شان د راتلونکي زمانې قانون هم پر ترقۍ او پرمختگ بناء وي،

---

۱- په سر کي زما اراده وه، چي د مدنيت پر دوره شانداره انتقادات، چي د فوريه په آثارو کي په پاشلي صورت ليکلي دي، د مورگان او زما هغې سره يو ځای ترتيب کړم، لاکن متأسفانه ما وخت پيدا نه کړی. غواړم دا ووايم، چي فوريه پخوا لا مونوگامي او د مځکي ملکيت د مدنيت له مشخصاتو څخه گڼلي او مدنيت يې د خوارانو په مقابل کي د بډايانو د جنگ په حيث تعبير کړی دئ. همدا رنگه د ده په کتابو کي وينو، چي دې حقيقت ته يې په اهميت کتلي دي، چي په ټولو ناقصو ټولنو کي، چي متضادو منافعو سره جلا کړي وي، انفرادي کورنۍ (les famills incoherntes) اقتصادي يونټونه دي. (د انگلس يادداښت)

نو صرف د ملکیت په لاس راوړل د بشریت آخرنی سرنوشت نه ګڼل کیږي. هغه زمانه چې د مدنیت د شروع له وخته څخه تېره سوې ده، د انسان د موجودیت د تېري زمانې یوه نشتوکې برخه ده او همدا رنګه د هغو زمانو، چې تر دې وروسته را ځي، یوه نشتوکې برخه ګڼل کیږي. د اوسنۍ تاریخي مرحلې فرجام، چې یوازنی او وروستنی هدف یې بډایي ده، موږ د ټولني په هلاکت تهدیدوي، ځکه چې دغه مرحله د انتحار عناصر په ځان کي نغښتي لري. په حکومت کي ډموکراسي، په ټولنه کي ورورګلوي، په حقوقو او امتیازاتو کي برابري او عمومي تعلیم د راتلونکي ټولني د هغې عالي سطحي علامې دي، چې تجربه، عقل او پوهنه په ټینګه ورته جوغښدلي دي. دا به نو په عالي شکل د پخوانیو بهیرونو، د حریت، مساوات او ورورګلوۍ بیا را ژوندي کېدل وي» (مورګان، «پخوانۍ ټولنه»، ۵۵۲ مخ).